# ساینس

# او

# د قرآن علمي اعجاز

حکمتیار

بسم الله الرحمن الرحيم

# د ناشر مقدمه

دا کتاب د ورور حکمتیار د څو کلونو ژورو تحقیقاتو او څېړنو نتیجه ده، تر چاپ وړاندې ګڼ شمېر جیدو علماوو له نظره تېر کړی او هغه ئې د قرآن د اعجاز په اړه تر ټولو جامع او دقیق کتاب ګڼلی.

تاسو پوهېږئ چې د قرآن د اعجاز په اړه هغه څوك د څه لیکلو جرأت کولی شي چې هم په قرآن او حدیث پوه وي او هم له ساینسي علومو سره آشنا وي، الحمد لله د دې مهم کتاب لیکونکی په دغو دریو برخو کې کافي علمي زېرمه لري، د قرآن یو جامع تفسیر ئې لیکلی چې دا کتاب د همدې تفسیر ځیني اړوند اقتباسات دي، په بخاري ئې ډېره جامع او خوندوره او ډېره ګټوره شرح لیکلې، په دیني علومو کې له تحصیل او تحقیق وړاندې ئې په ساینسي علومو کې زده کړه پیل کړې، لیکلي او چاپ شوي کتابونه او رسالې ئې تر اتیا اوښتي. دا د ده وروستی چاپ شوی کتاب دئ او دا ښیي چې په دې کتاب کې د ده د ټولو مخکنیو تحقیقاتو، څېړنو او لیکنو خلاصه راغونډه شوې. یقیناً چې دا کتاب د اسلامي فرهنګ او پښتو ادب لپاره یوه درنه، ارزښتناکه او اغېزمنه علمي او ادبي پانګه ده چې پښتنو ته د قرآن په ځلانده حقیقت او علمي اعجاز د لاښه پوهېدو دره پرانېزي او ټولو هغو

پوښتنو ته ځواب وايي چې د قرآن او ساينس په اړه د کينه کښو دښمنانو او غرضي او مرضي کړيو له لوري مطرح کېږي.

د اسلام د لارې ټولو متعهدو او زړه سواندو داعيانو، په ځانګړې توګه ځوان نسل ته د دې کتاب د ژورې مطالعې توصيه کوو، د علمي او تعليمي مؤسساتو مسئولينو ته سپارښتنه کوو چې دا کتاب حتماً په خپل تعليمي او درسي نصاب کې شامل کړي او په دې توګه له ځوان نسل سره د قرآن په حقيقت او اهميت د پوهېدا مرسته وکړي او په قرآني علومو مجهز پوهان ټولنې ته وړاندې کړي.

د ميثاق ايثار خپرندويه اداره

بسم الله الرحمن الرحيم

# سریزه

ځیني د ساینس او قرآن تر منځ د مقایسې له موضوع سره ډېره مینه او علاقه لري، غواړي په دې پوه شي چې د ساینس او قرآن تر منځ مناسبت او تړاو څنګه دئ، آیا ساینس یو څه وایي او قرآن بل څه؟ آیا په قرآن کې داسي څه شته چې ساینس ئې نه مني او د هغه خلاف حکم کوي؟ آیا قرآن د هغو موضوعاتو په اړه څه ویلي چې له ساینسي پلوه ډېر ارزښت او اهمیت لري او انسان ته پر هغه پوهېدل ضروري او ګټور دي؟ له دې بحثونو سره یا هغه خلك زیاته علاقه لري چې هر څه د عقل په تله تلي او یوازي هغه خبره مني چې له انساني عقل سره اړخ لګوي او یا هغه ځوانان چې تر شدید او پراخ فکري، فرهنګي او اخلاقي یرغل لاندي دي، دښمن غواړي د هغه ایمان، دین، مذهب، اخلاق، ملي هویت، فرهنګي تشخص او د آزادۍ جذبه غارت کړي، یو بې هویته، لاابالي، په اخلاقي فساد کې غرق، د خېټي او شهوت بنده ترې جوړ کړي، داسي چې هر څوك ئې نس ورډك کړي نو کولی شي خپل زنځیر د هغه په غاړه کې واچوي، خو دا با همته او عزتمن ځوان مقاومت کوي، نه غواړي دښمن ته تسلیم شي، د دوی په دام کې ونښلي او خپل ایمان، عقیده، ملي هویت او فکري تشخص له لاسه ورکړي، غواړي د ټولو هغو پوښتنو ځواب پیدا کړي چې دښمن ئې د ده د ایمان او عقیدې په اړه لري او ورته وایي: قرآن د زړې زمانې کتاب دئ، د هغه مهال چې انسان له علمي حقائقو خبر نه وو، په قرآن کې یوازي د داسي ابتدائي مسائلو په اړه بحث شوی چې په قبائلي

ژوند کې خلك ورسره مخامخ ول، لکه نکاح، طلاق، خیرات، صدقات، د مېلمه او ګاونډي حق، د ماشوم په غوږ کې آذان او دې ته ورته قضایاء، نن چې د کلیوال ژوند ټغر ټول شوی، ټوله نړۍ په یوه کلي بدله شوې، ساینس او ټیکنالوژي وده کړې، ډېر اسرار کشف شوي، انسان په ډېرو هغو خبرو پوه شوی چې پرون هره یوه ورته یوه معما وه، اوس د دین ضرورت منتفي شوی، د دین ډېري خبري د ساینس او علم خلاف ثابتي شوې!! دا هره خبره د ده پر دماغ د سخت ګوزار په څېر درنه پرېوځي، مشوش دئ، ځواب ورته لټوي، نو ځکه له داسي بحثونو سره علاقه لري.

ځیني نور له دې بحثونو سره حساسیت لري، وجه ئې یا دا ده چې په پېچلو او ژورو علمي خبرو ئې سر نه خلاصېږي، ساده پیاده خبري ئې خوښېږي، یا ئې وجه دا ده چې ساینس ته د شك په سترګه ګوري، ګمان کوي چې د ساینس خبري قطعي نه دي، نن یو څه وایي او سبا بل څه، داسي نه چې نن د ساینس یوه پرېکړه معیار وګڼو او د قرآن یوه وینا له هغې سره پرتله کړو، یو رنګوالی ئې په ګوته کړو او سبا د ساینس وینا غلطه ثابته شي او موږ او د قرآن د وینا تفسیر له ستونزي سره مخامخ کړي او شبهات راولاړ کړي!! یا ئې وجه دا ده چې ده داسي زړې او غیر علمي خبري اورېدلې دي چې قرآن ته منسوب شوې دي، هغه ورته سپېڅلې او انکار نه منونکې خبري برېښي، تردید ئې ورته کفر او ارتداد برېښي، که څه هم دا خبري نه یوازي له قرآن سره قطعاً او په هیڅ توګه اړخ نه لګوي بلکي په صریح توګه د قرآن خلاف وي، نو ځکه ئې له ساینس سره د مخالفت لار غوره کړې.

لکه څومره چې دا صحیح نه ده چې څوك د قرآن آیتونه د ساینس په تله وتلي او په تکلف سره داسي تعبیرونه وړاندي کړي چې له ساینس سره تطابق رامنځته کړي، همداراز له ساینس سره حساسیت او هغه ته د شك په سترګه کتل هم ستره

غلطي ده، د عقل او ايمان غوښتنه دا ده چې هره وينا په شفاف ذهن او له تعصب او حساسيت پرته واورو او تر ټولو غوره او صحيح ئې ومنو، څوك چې دا عالم د الله تعالی مخلوق او د ده د علم او قدرت مظهر ګڼي او قرآن د هغه له لوري لېږل شوی کتاب، څنګه به دا خبره مني چې په دې عالم کې د تحقيق او څېړنې په ترڅ کې به انسان ته داسې يو حقيقت په لاس ورځي چې هغه به د قرآن له ويناوو سره تعارض لري؟!! نه ساينس او علم تر نن پورې داسې خبره کړې چې د قرآن خلاف وي او نه ئې له دې وروسته کولی شي او نه په ټول قرآن کې داسې څه موندلی شي چې د علمي څېړنو، تحقيقاتو او اکتشافاتو خلاف وي.

قرآن د مخکنيو په اړه وايي: پيغمبرانو آيات بينات ورته وروړي، يعنې داسې روښانه دلائل ئې وړاندې کړي چې حقيقت څرګندوي، (بينات آيات) څرګندوونکې ښکاره او روښانه نښې، خو هغوی خارق العاده کارونه او معجزې ترې غوښتې، دلائلو ته ئې اعتناء نه ده کړې، داسې معجزې او خارق العاده کارونه ئې ترې غوښتي چې انسان ئې له کولو عاجز وي او وښيي چې دا د الله تعالی له لوري ترسره شوي، يوازې په دې صورت کې به دا ومني چې دی پيغمبر دئ او پيغام ئې د الله تعالی پيغام!! پيغمبر ته ئې ويلي: دا ډبره په ژوندۍ اوښې بدله کړه، آسمان ته وخېژه، له آسمانه ليکلی کتاب موږ ته راوړه، د سرو او سپينو زرو کور ځان ته جوړ کړه، داسې ښېرازه او په ډول ډول ونو سمسور بڼ ځان ته له ځمکې راوټوکوه چې ښکلې ښکلې چينې په کې بهېږي، خدای او فرشتې موږ ته مخامخ راوله!!

ځينې داسې ګمان کوي چې ګواکې قرآن يوازې د ادبي لوړ او اغېزناك ترکيب له پلوه معجز کتاب دئ او هيڅوك نشي کولی دې ته ورته کتاب وړاندې کړي، حال دا چې قرآن تر دې زيات له نورو زاويو يو معجز کتاب دئ، د هغو ژورو علمي مطالبو له پلوه چې قرآن څېړلي، د عادلانه احکامو او حکيمانه لارښوونو له پلوه، د

منصفانه پرېکړو او قضاوتونو له پلوه، د الله تعالی، انسان او ټول عالم د جامع او دقیقي معرفي له پلوه، د داسي پراخو علمي اعجازونو له پلوه چي انسان ورو ورو او د خپلو علمي پرمختگونو په تناسب پرې پوهېږي او حقیقت ئې ورته څرگندېږي، د خپلو وړاندوینو له پلوه، د هغو سترو سترو سیاسي، فکري، اخلاقي او اجتماعي انقلابونو او بدلونونو له پلوه چي قرآن رامنځته کړل، د هغه جامع نظام له پلوه چي قرآن وړاندي کړ او د هغو سترو سترو شخصیتونو له پلوه چي د قرآن په غېږ کي وروزل شول او له هر یوه ئې یو زړه سواند او مدبر لارښود جوړ شو او د ډېرو نورو امتیازاتو له پلوه داسي معجز کتاب دئ چي هیڅوك ئې مثل نشي وړاندي کولی. د دې خبري په حقیقت هغه څوك پوهېدی شي چي قرآن له نورو مذهبي کتابونو سره مقایسه کړي، د طبیعت په اړه د قرآن څرگندوني د هغو علمي څېړنو خوا ته کېږدي چي انسان د ساینس په ډگر کي تر سره کړې او د طبیعت مهم اسرار ورته جوت شوي.

قرآن د الله تعالی یو ستر نعمت دئ، دومره ستر چي د انسان له پیدایښت او ده ته د رزق او روزي له برابرولو وروسته، تر ټولو نعمتونو ستر دئ، یقیناً چي پر انسان باندي د الله تعالی تر ټولو ستره پېرزوینه دا ده چي د ده د لارښوونې لپاره ئې د قرآن په څېر باعظمته کتاب رالېږلی، داسي کتاب چي د هغه په حقانیت هر سالم الفطرت انسان په ډېره آسانۍ پوهېدی شي، له دقیقو څېړنو او ژورو بحثونو ئې ډېر ژر پوهېدی شي چي دا د الله له لوري راغلی کتاب دئ، هري پوښتني ته ئې ځواب وایي او هر شك ئې ختموي. قرآن په وار وار خپلو مخاطبینو ته وېلي: که تاسو په دې کتاب کي شك لرئ او گمان مو دا وي چي دا به د الله له لوري نه وي، نو د یوې وړې سورې په څېر ئې کوم څه راوړئ که رښتیني یاست. ځیني خلك داسي گمان کوي چي دلته یوازي د قرآن اوچت ادبي اړخ ته اشاره شوې او مقابل لوری یوې ادبي مقابلې او مبارزې ته رابلل شوی او ورته ویل شوي چي د قرآن د

کومي وړې سورې په څېر ادبي ټوټه نه شئ وړاندي کولی، دا سمه ده چي قرآن له ادبي پلوه هم داسي لویه معجزه ده چي څوک ئې مقابله نشي کولی، خو قرآن له داسي علمي اعجازو ډك دئ چي هر یو ئې ستره معجزه ده، هغه ژور علمي بحثونه چي د انسان، زمکي، آسمان، لمر، سپوږمۍ، ستورو او ټول عالم په اړه ئې کړي، هغه اسرار چي قرآن په ډاګه کړي، هغه ضوابط چي د انسان د فردي او اجتماعي ژوند د سمون لپاره ئې وضع کړي، د قرآن عمیق او جامع مطالب، د حق او باطل، روا او ناروا، حلال او حرام په اړه د قرآن دقیق او عادلانه معیارونه او له ډېرو نورو اړخونو هم قرآن معجزه ده، دا د عربو پر شعراوو او لیکوالانو سربېره د نورو قومونو لپاره هم او تر قیامته معجزه ده.

الله تعالی فرمایي چي ژر به خپل آیتونه په آفاق او فضاء کي هم او د دوی په بدن کي هم وروښیم تر څو ورته څرګنده شي چي هغه حق دئ.

**سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلۡأٓفَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّۗ أَوَ لَمۡ يَكۡفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ٥٣**

**فصلت: ٥٣**

د دې مبارك آیت مدعاء دا ده چي الله تعالی به خلکو ته د قرآن د آیتونو مصداق او حقیقت هم په آفاق کي جوت کړي او هم د انسان د نفس په بېلو بېلو برخو کي، یعني قرآن چي د عالم او انسان په اړه کومي څرګندوني کړې دي د دغو څرګندونو حقیقت به دوی ته جوت شي او په دې به پوه شي چي الله تعالی حق دئ او د ده کتاب رښتینی او له حقائقو ډك کتاب دئ. او دا ښیي چي د قرآن علمي اعجاز به ورو ورو خلکو ته جوتېږي. دغو حقائقو ته په پام سره ده چي نن په غربي نړۍ کي هر کال په لکونو خلك ایمان راوړی او په دوی کي ډېری ئې داسي څېړې دي چي په ساینسي علومو کي ئې څېړني او مطالعات کړي او په ترڅ کي ئې د قرآن

حقيقت ورته څرګند شوی او ایمان ئې راوړی.

د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې د عالم، آسمانونو، زمکې، لمر، ستورو، شپه، ورځ، د انسان پیدایښت، نباتاتو، حیواناتو، حشراتو، وریځو، بارانونو، بادونو، غرونو، سیندونو، سمندرونو او نورو طبیعي شیانو په اړه داسي دقیق او علمي بحثونه تر سترګو کېږي چې انسان ډېر وروسته پرې پوه شوی، انسان له اوږد علمي سفر وروسته او د ډېرو پرمختللو وسائلو په مرسته توانېدلی دغه حقائق درك کړي او نن هغه خبره وکړي چې قرآن څوارلس پېړۍ وړاندي کړې وه.

راشئ د قرآن ځینو هغو آیتونو ته ځېر شو چې هر یو ئې د ساینس او طبیعي علومو په تله کې یو ستر علمي اعجاز دئ، په دې کتاب کې به تاسو د قرآن یو شمېر آیتونه وګورئ چې حقیقت ئې په شلمې پېړۍ کې او د ډېرو علمي څېړنو او تحقیقاتو په ترڅ کې انسان ته جوت شوی، ساینس نن هغه خبره کوي چې قرآن څوارلس پېړۍ وړاندي کړې، د نړۍ ستر ستر ساینسپوهان د هغو قضایاوو په اړه چې قرآن څېړلې دي همغه څه وایي چې قرآن ویلي!! دا آیتونه داسي دي چې کله ئې انسان په حقیقت پوه شي نو سینه ئې له ایمان او علم ډکه شي، د قرآن په عظمت پوه شي او د زړه سلول سلول ئې په دې شهادت ورکړي چې دا کتاب یقیناً او له شکه پرته د الله تعالی له لوري رالېږل شوی.

اللهم ارنا الحق حقاً وارزقنا اتباعه

و ارنا الباطل باطلا و ارزقنا اجتنابه

بسم الله الرحمن الرحیم

# ساینس او د قرآن علمي اعجاز

لکه څنګه چې په شلمي پېړۍ کې د هغه ستر علمي او تخنیکي انقلاب شاهد وو چې د کمپیوټر په اختراع سره رامنځته شو، همداراز په دې پېړۍ کې د ګڼ شمېر داسي سترو سترو علمي اکتشافاتو شاهد وو چې د هر یوه ارزښت د کمپیوټر تر اختراع کم نه وو، د زمکې، فضاء او انسان په اړه ژور تحقیقات وشول او ډېر داسي حقائق خلکو ته څرګند شول چې تر دې وړاندي هیچا د هغوی تصور هم نشو کولی، په دې پېړۍ کې د هغو دریو سترو علمي نظریاتو هم شاهد وو چې د عالم د پیدایښت او سترو سترو بدلونو په اړه وړاندي شوې، یوه ئې د بیګ بینګ ( **big bang**) په نامه یاده شوه او بله ئې د عالم د سریع او مسلسل پراخېدو په اړه وه او دربیمه ئې د بلیك هول (**black hole**) په نامه یاده شوه، لومړۍ ئې وایي چې دا عالم د یوې ستري چاودني په ترخ کې راپیدا شو، آسمانونه او زمکه سره نښتي او یوه وړه کتله وه، چې لویه چاودنه وشوه او د عالم هر څه، ستوري، ستور لیکې، لمر، سپوږمۍ او زمکه راپیدا شول، ماده په مجموع کې له دې چاودني وروسته رامنځته شوې، عناصر او مرکبات له دې وروسته پیدا شوي، د بیګ بینګ دا نظریه هسي یوه انګېرنه نه ده چې پر تخمینونو او حدسیاتو ولاړه وي، د دې لپاره همدا د یوویشتمي میلادي پېړۍ په ۲۰۱۰ کال کې د اروپا ډېر محققین او ساینسپوهان راغونډ شول، په فرانسه کې ئې د همدې نظریې پر بنسټ د یوې عملي تجربې کار پیل کړ، په یوه تونل کې چې اوږدوالی ئې نږدې دېرش کیلومتره وو داسي نسبي

شرائط برابر کړل چې د بيګ بينګ هغې چاودنې ته ورته چاودنه ترسره کړي. د دې پېړۍ دوهمه علمي نظريه وايي چې له يوې خوا د مادې د خلقت او پيدايښت دا لړۍ همداسې روانه ده او له بلې خوا د عالم او کائنات ځن په ډېر سرعت او چټکتيا سره په خورېدو ده، دې علمي نظريو هغه زړه انګېرنه له بنسټه رد کړه چې ويل ئې: ماده ازلي ده، نه پيدا شوې او نه له منځه ځي.

همداراز په دې پېړۍ کې کائنات څېړونکو د هغو تحقيقاتو په لړ کې چې د دې پېړۍ په وروستيو لسيزو کې ترسره شول، داسې ستر ستر ستوري وموندل چې د جاذبې قوه ئې دومره زياته او ځواکمنه ده چې خپل نور ئې هم نه شي ترې وتلی، د نور وړانګې ئې بهر نه شي خورېدی او د قوي جاذبې له منګولو ئې بهر نه شي وتلی، موږ دا ستوري په عادي سترګو نه شو ليدلی، ځکه چې نور ئې نه خورېږي، دغو ستورو ته ئې د بليك هول (**black hole**) يعني توره سوړه، نوم ورکړی، دا توري کندې په حقيقت کې تش او تور ځايونه نه دي بلکې ستوري دي چې جرم ئې ډېر ستر او کتله ئې ډېره متکاثفه او درنه ده، د جاذبې قوه ئې دومره قوي او ځواکمنه ده چې د نور وړانګې ترې خورېدی او تښتېدی نه شي، د نور هره وړانګه چې ترې وتل وغواړي د همدې جاذبې په وسيله بېرته جذب کېږي. تحقيقات وايي چې ستر ستر ستوري په خاص حالت کې په دې برخليك اخته کېږي.

راشئ وګورو چې قرآن د دغو دريو علمي نظرياتو په اړه څه وايي؟ آيا قرآن د عالم د پيدايښت په اړه څه ويلي؟ آيا وينا ئې له علم سره اړخ لګوي؟ آيا همغه څه ئې ويلي چې ساينس ئې وايي؟ د دې پوښتنو ځواب په اختصار سره دا دئ: هو؛ قرآن نه يوازې د دغو دريو نظريو په اړه په ډېرو واضحو او څرګندو الفاظو هغه څه ويلي چې علم او ساينس په شلمې پېړۍ کې او څوارلس سوه کاله له قرآن وروسته وويل، بلکې قرآن د شلمې پېړۍ د ډېرو نورو مهمو اکتشافاتو او علمي

لاسته راوړنو په اړه داسي څه ويلي چي د قرآن د نزول پر مهال نه چا د دې تصور کولی شو، نه څوك پرې پوهېدو او نه چا په دې اړه څه ويلي وو!!

زه ستاسو مخي ته لومړی او تر نورو خبرو وړاندي هغه آيتونه ږدم چي دا قضاياء په کي څېړل شوي، بيا ئې شرح وړاندي کوم، بيا قضاوت تاسو ته پرېږدم چي ووايئ د قرآن څرګندوني څومره جامع، پراخي، عالمي شمول او علمي دي او له ساينسي څېړنو سره ئې تړاو او مناسبت څنګه دئ!!

# قرآن او د عالم پيدايښت

قرآن د عالم د پيدايښت په اړه فرمايي:

**أَوَ لَمۡ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ كَانَتَا رَتۡقٗا فَفَتَقۡنَٰهُمَاۖ وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّۚ أَفَلَا يُؤۡمِنُونَ ٣٠** الانبياء: ۳۰

آيا کافران په دې نه پوهېږي چي آسمانونه او زمکه سره (نښتي) وو، نو موږ سره (بېل) کړل او هر ژوی مو له (اوبو) پيدا کړی، نو آيا ايمان نه راوړي؟!

د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

- دا مبارك آيت په ډېر صراحت او وضاحت سره وايي چي په سر کي ټول کائنات، زمکه، لمر او د آسمان ټول اجرام يوه کتله وه او الله تعالی په يوې چاودني سره دوی بېل بېل کړل او اوسنی بڼه ئې ورکړه. د (رتق) معنی پيوستون او يو له بل سره نښتل دي، او د (فتق) معنی بېلتون او جلا کېدا ده، يعني د عالم هر څه که دا په آسمانونو کي دي او که په زمکي کي سره پيوست او نښتي ول او الله تعالی سره جلا جلا او بېل بېل کړل.

• د ټولو ژوو د پيدايښت لومړۍ او اساسي ماده اوبه دي، الله تعالی ټول ژوي له اوبو پيدا کړي.

• د ایمان راوړو لپاره دغه دوه دلائل کافي دي، آیا د دغو دوو څرګندو دلائلو له ليدو او اورېدو سره سره کافران ایمان نه راوړي؟!! (افلا يؤمنون؟!!)

که څوك په شفاف ذهن سره دې آيت ته ځير شي نو له الفاظو ئې څو نتائج تر لاسه کوي:

• په سر کې به دا زمکه، لمر، سپوږمۍ او ټول ستوري سره نښتي وو، د بېلېدو پر مهال به زمکه، سپوږمۍ او نور ستوري داسي ځلانده او تاوده ول لکه لمر، ځينو به ورو ورو خپله رڼا او تودوخه له لاسه ورکړې وي!!

• لابد به زموږ زمکه له نورو د رابېلېدو په وخت کې د لمر په څېر ګرمه او سره وه، دا ځکه چي دواړه يو ځای وو او په يوه وخت کې سره بېل شوي. لمر چي ستر دئ خپل حرارت ئې تر ننه حفظ کړی، خو زمکه چي تر لمر ډېره وړه ده، ورو ورو سړه شوې، سر ئې سوړ او زړه ئې لاتراوسه تود او سخت ګرم پاته شوی، هومره تود چي هرڅه په کې ويلي دي، د قرآن په اصطلاح هر څه په کې (نحاس: ويلي) دي. او دا هغه څه دي چي هم ئې زموږ عقل راته وايي او هم ئې ساينس د تجربو او مشاهداتو له مخې کوي. د زمکي پر سر هره ورځ د داسي صحنو شاهد يو چي دلته او هلته د زمکي له زړه دغه نحاس او ويلي تاوده او داغ مواد راوځي، بهېږي او د اور د سکروټو په څېر شيندل کېږي او موږ د زمکي د زړه له تودوخي خبروي، تحقيقات ښيي چي د زمکي د زړه تودوخه د سانتي ګرېډ په حساب څو زره درجې ده.

• د دې وينا بله طبيعي نتيجه دا ده چي د زمکي بهرنی قشر به له سړېدو وروسته د ډېرې په څېر کلك وو، داسي لکه د اورشيندو په ترڅ کې چي د زمکي د

زړه ویلي مواد راوځي او د زمکي پر سر له بهېدو وروسته کلکه ډبره ترې جوړېږي، د زمکي دا ډبرين پوستکی به ورو ورو په خاوري بدل شوی وي، دا هم هغه څه دي چي زموږ عقل ئې راته وايي او د ساينسي څېړنو په ترڅ کې ثابت شوي، د زمکي اصلي برنی پوستکی ډبرين دئ، دا پوستکي په ځينو برخو کې په ډېري خاوري او په ځينو کې په لږ خاوري پوښل شوی، دغه پوستکي د زمکي د زړه ويلي او تاوده توکي داسي په خپلي غېږ کې راتم کړي لکه د بخار په ديګ کې خوټېدونکي مواد، د زمکي پر سر اورشيندي هغه مهال او په هغه سيمه کې راڅرګندېږي چي دا پوستکی وچوي او له چاودونو ئې د زمکي د زړه ويلي مواد بهر راووځي.

مخکي له دې چي د قرآن دا وينا وڅېړو بايد ووايو چي دا څه عادي او معمولي خبره نه ده، د دې خبري په ارزښت او اهميت هغه څوك ښه پوهېږي چي د عالم د پيدايښت په اړه ئې ژور علمي تحقيقات او څېړني کړې، د ډېرو ساينسپوهانو نظريات او تحليلونه ئې لوستلي، تجربې ئې کړې او له کلونو کلونو تحقيق وروسته دغي نتيجې ته رسېدلی چي د قرآن په پورتني آيت کې ورته اشاره شوې، که تاسو د قرآن دغه آيت د همداسي کوم ساينسپوه مخي ته کېږدئ او ورته ووايئ: زموږ په دغه ديني کتاب کې څوارلس پېړۍ مخکي ليکل شوي چي آسمانونه او زمکه سره نښتي او پيوست ول او الله تعالی سره بېل کړي، نو يقيناً چي هغه به يا اعتراف کوي چي دا د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب دئ، انسان نشو کولی چي له دې پېړۍ وړاندي د عالم د پيدايښت په اړه داسي علمي او دقيقه وينا وکړي، يا خو به دا خبره هغه ته لږ تر لږه دومره حيرانوونکي وي چي د څه ويلو توان به ترې سلب کړي.

د زمکي او د زمکي پر سر د ژوو د پيدايښت په اړه محققين وايي: زمکه له خپل پيدايښت وروسته سخته توده او سره وه، د زمکي قشر او پوستکی ورو ورو سوړ

شو، خو د سختي تیرې په څېر وو، لومړی اوبه راپیدا شوې، د زمکي ټولي اوبه د پرېړو وربځو په بڼه کي تر زمکي راتاو وې، د بارانونو ورېدل پیل شو، د باران او ګڼ شمېر نورو عواملو په وجه د زمکي د سر دا ډبرین پوستکی ورو ورو په خاوره بدل شوی، سیلابونو دا خاوره له ځان سره د زمکي آوارو او ژورو برخو ته انتقال کړه، د زمکي تودوخه لا هومره وه چي اوبه ئې د ځان د پاسه نه پرېښودې، د اوبو د تبخیر په نتیجه کي سېلاب راوړې ختې په کړنګېدونکې وچې ختې او کودړې بدله شوه، خو د زمکي د مزید سړېدو او مزید بارانونو په نتیجه کي داسي حالت راپیدا شو چي له یوې خوا د پرېړو وربځو پرده څېرې شي او د ملر وړانګي زمکي ته ورسي او له بلي خوا د زمکي د سر خاوره په لومړي سر کي نمجنه ختې او وروسته توره بوی ناکه ختې شي، د زمکي پر سر د ژوو پیدایښت په دغه مرحله کي پیل شو.

راشئ د محققینو او ساینسپوهانو دا وینا د قرآن د وینا په څنګ کي کېږدو او وګورو چي قرآن د دغو نظریاتو په اړه څه ویلي، آیا په قرآن کي داسي څه مومو چي دغو بېلو بېلو مراحلو او د زمکي د سر تغییراتو ته ئې اشاره کړې وي؟ که داسي وي چي قرآن دغو خبرو ته په واضح الفاظو اشاره کړې وي، همغسي لکه چي د پیدایښت د پیل او د زمکي او آسمانونو د پېوستون او بېلتون په اړه ئې ویلي، نو آیا د دې معنی به دا نه وي چي ساینسپوهان اوس په هغو حقائقو پوه شوي چي قرآن څوارلس سوه کاله د مخه ویلي وو؟!!

# قرآن او د زمکي د زړه ويلي مواد

راشئ وګورو چي قرآن د زمکي د زړه د ډېري تودوخي او په هغه کي د ويلي شوو توکو په اړه څه ويلي، د قرآن لاندي آيتونو ته لږ ځير شئ:

**يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلۡطَٰنٖ ٣٣ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٣٤ يُرۡسَلُ عَلَيۡكُمَا شُوَاظٞ مِّن نَّارٖ وَنُحَاسٞ فَلَا تَنتَصِرَانِ ٣٥**

الرحمن: ٣٣-٣٥

اې د انسانانو او پېريانو ټولګيو! که کولی شئ چي دآسمانونو او زمکي له اقطارو ووځئ نو ووځئ، وتلی نشئ مګر په ځانګړي ځواک سره، نو د خپل رب کوم کوم نعمتونه تکذيبوئ؟ پر تاسو به د اور داسي شعلې او داسي ويلي مس لېږل کېږي چي مقابله ئې نشئ کولی.

په دې آيتونو کي د قرآن دوه ستر ستر علمي اعجاز زموږ مخي ته ځلېږي: يو دا چي وايي: که آسمان ته بر ولاړ شئ نو له داسي بې دوده لمبو سره به مخامخ شئ چي مقابله ئې نشئ کولی، يعني د آسمان په برنۍ برخي کي د شهاب ثاقب تېزي او تودې لمبې دومره زياتي او زوروري دي چي تاسو ئې له مقابلې عاجز يئ!! او دا هغه حقيقت دئ چي انسان اوس او هغه مهال پرې پوه شو چي سپوږمۍ او ستورو ته ئې د ختلو لړۍ پيل کړه او متوجه شو چي دا شهاب ثاقب د فضائي سفرونو په وړاندي داسي ستر ګواښ دئ چي مقابله ئې نشي کېدی. يقيناً چي دا د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ، نن او له ډېرو ژورو تحقيقاتو وروسته انسان ته جوته

شوې چې آسمان ته د لوړ تلو په لار کې تر ټولو ستره مانع او خنډ هغه شهاب ثاقب (د اور د لمبو په څېر لوېدونکي آسماني اجرام) دي چې هره شېبه، له هر لوري راغورځي، ځان ترې ساتل او خوندي ترې تېرېدل ممکن نه دي، د دغو لمبو حرارت، سرعت، زور او فشار دومره لوړ وي چې هر څه ويلي کوي او هيڅ څه ئې مخې ته تم کېدی نشي. انسان تر نن پوري د خپل واړه شمسي نظام څو ستورو ته رسېدلی يا نږدې شوی، تر دې وړاندې تګ يوازې په هغه صورت کې ورته ممکن دئ چې وسيله ئې له شهاب ثاقب سره له تصادم کولو خوندي پاته شي.

د دې مبارك آيت بل علمي اعجاز دا دئ چې وايي: که د زمکې له يوه پلوه بل ته د وتلو هڅه وکړئ نو له (نحاس: ويلي شوي مس) سره به مخامخ شئ، يعني د زمکې په منځ او سينه کې هر څه ويلي دي، د تودوخې درجه دومره لوړه ده چې هر څه ئې ويلي کړي، تاسو نشئ کولی له دې برخې د تېرېدو توان ترلاسه کړئ. او دا هغه څه دي چې ساينس اوس پرې پوه شوی!! د قرآن بل آيت دې مطلب ته داسي اشاره کوي:

ءَأَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ أَن يَخۡسِفَ بِكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ ١٦

الملك: ١٦

آيا له هغه چې آسمان کې دئ له دې پلوه خوندي شوي يئ چې په زمکې کې مو ښخ کړي چې ناڅاپه به بيا خوځي؟

په دې مبارك آيت کې چې د قرآن يو ستر علمي اعجاز زموږ مخې ته ايښودل شوی څو اساسي مطالبو ته اشاره شوې:

الف: مګر ګمان کوئ دا آواره زمکه چې تاسو ته ئې پر خپلو اوږو ځای درکړی او ستاسو د رزق او روزي د تأمين وسيله ده، همداسي به د تل لپاره ستاسو په خدمت کې وي او دا اوسنی حالت ئې تلپاتې، مستمر او ثابت دئ او هيڅکله به تغيير په کې

نه راځي؟ مګر له دې هيڅ وېره نه لرئ چې د عالَم ټولواك رب له بره دا فرمان صادر کړي چې د زمکې دا آرام او ډاډمن حالت بدل کړي، داسې چې نه نور ستاسو په خدمت کې وي، نه تاسو پر خپلو اوږو يوسي او نه رزق او روزي درکړي، بلکې برعکس ستاسو په هدېرې بدله شي، تاسو تر خاورو لاندې کړي، سخته خوځېدا او لړزېدا ئې په خپلو سترګو وګورئ؟!! څه شي ډاډه کړي يئ؟ څه شي د داسې حالت له نه راتلو مطمئن کړي يئ؟ د دې کاذب ډاډ او اطمئنان لپاره څه دليل لرئ؟

ب: په دې آيت کې د خسف: د زمکې کښېناستل او ننوتل له (لړزېدا او خوځېدا) سره يو ځای ذکر شوي، د بيان اسلوب داسې دئ چې ښيي که د زمکې کومې برخې کې خسف رامنځته شي نو لړزېدا به ورپسې وي، او دا هماغه خبره ده چې ساينس ئې نن د زمکې د زلزلو د عواملو په اړه کوي.

علمي تحقيقات ښيي چې د زلزلې يو اساسي سبب خسف دئ، وايي چې د زمکې منځنۍ برخه، د سختې تودوخې په وجه د خوټېدو په حالت کې ده او هر څه ئې ويلې او ذوب شوي دي، دا توده او ويلې برخه په کلك پوټکي چې کلکې ډبرې ته ورته دئ، احاطه شوې، د زمکې پورتنۍ خاورينه برخه د همدې ډبرين پوټکي په ذريعه له منځنۍ برخې بېله شوې، کله چې دا ډبرين پوټکی، د زمکې په کومې برخې کې، د برني يا داخلي فشار او د نورو عواملو په نتيجه کې مات شي او د زمکې هماغه برخه د مذاب او ويلې موادو د پاسه واقع شي، هلته زلزلې پيل شي.

کوم مطلب چې په دې آيت کې د خسف او زلزلې په اړه ويل شوی، يوازې په تېرې پېړۍ کې او له ژورو څېړنو او تحقيقاتو وروسته انسان ته معلوم شو.

همدا راز دا آيت ښيي چې کله زمکه خسف شي نو داسې برخه ئې راڅرګنده شي چې خوځېږي، د زمکې د زړه ويلې او خوځېدونکې توکي راڅرګند شي، او دا هغه حقيقت ته په واضح توګه اشاره کوي چې وايي: د زمکې د زړه توکي مذاب او ويلي

دي.

# اوبه د زمکي د سر لومړی مرکب

تاسو د الانبیاء د سورې په دېرشم آیت کې ولیدل چې د آسمانونو او زمکي له پیدایښت سره متصل د اوبو او له اوبو د ټولو ژوو پیدایښت ته اشاره کوي او وايي: آیا کافران په دې نه پوهېږي چې آسمانونه او زمکه سره (نښتي) وو، نو موږ سره (بېل) کړل او هر ژوی مو له (اوبو) پیدا کړی، نو آیا ایمان نه راوړي؟!

په دې آیت کې او یو په بل پسي د زمکي او آسمان له پیدایښت سره متصل د اوبو او له اوبو د هر ژوي د پیدایښت ذکر دا مطلب په ګوته کوي چې د زمکي پر سر تر ټولو د مخه اوبه پیدا شوې. او دا هغه حقیقت دئ چې قرآن څوارلس سوه کاله مخکي بیان کړی دئ او ساینس اوس پرې پوهېدلی. نن چې ته له هر ساینس پوه د زمکي، آسمان او اوبو د پیدایښت په اړه پوښتنه وکړې، نو ځواب به ئې همدا وي چې قرآن ویلي. ساینسپوهان وايي چې د زمکي لومړي پیدا شوي عناصر هایډروجن او هیلیوم دي، هایډروجن تر ټولو سپك او ساده عنصر دئ چې یو پروټون او یو الیکټرون لري، هایدروجن د اوبو د ترکیب دوه دریېمه برخه ده، دوه مالیکول هایدروجن له یوه مالیکول اوکسیجن سره یو ځای شوي او اویه ترې جوړي شوې او دا ترکیب هغه مهال رامنځته شوی چې د زمکي د تودوخي درجه راکمه شوې او څلورو زرو درجو ته رسېدلې. نور عناصر وروسته جوړ شوي او اړوند مرکبات ئې هم وروسته راپیدا شوي.

قرآن د هود د سورې په اوم آیت کې فرمايي:

وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ وَكَانَ عَرْشُهُۥ

عَلَى ٱلۡمَآءِ لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗاۗ وَلَئِن قُلۡتَ إِنَّكُم مَّبۡعُوثُونَ
مِنۢ بَعۡدِ ٱلۡمَوۡتِ لَيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ٧

هود: ٧

او دی (الله) هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کي پيدا کړل، او عرش ئې پر اوبو وو، تر څو تاسو وآزمويي چي کوم يو مو د عمل له مخي تر ټولو غوره دئ، او که ته ووايې چي تاسو به له خپلي مړيني وروسته هرومرو راپاڅئ نو هغه چي کفر ئې کړی حتماً به ووايي: دا له څرګند جادو پرته بل څه نه دئ!!

په دې مبارك آيت کي ويل شوي چي الله تعالی آسمانونه او زمکه په شپږو ورځو کي پيدا کړل په داسي حال کي چي عرش ئې پر اوبو وو. د دې آيت په تفسير کي د درنو مفسرينو تر منځ ژور اختلاف تر سترګو کېږي، هم په دې اړه چي آيا له شپږو ورځو همدا زموږ اوسنۍ ورځي مراد دي او که شپږ تکويني مرحلې؟ او هم په دې اړه چي د دې فقرې معنی څه ده چي د آسمانونو او زمکي د پيدايښت پر مهال د الله عرش پر اوبو وو؟ آيا عرش او اوبه د زمکي او آسمانونو له پيدايښته مخکي پيدا شوي؟ آيا عرش داسي شی دئ چي د بل څه پر سر ولاړ وي همغسي لکه د زمکي کوم تخت؟ او که معنی ئې دا ده چي هغه مهال يوازي اوبه د الله تعالی تر واکمنۍ لاندي وې او نور څه نه وو؟ آيا له اوبو مراد همدا زموږ اوسنۍ د څښلو اوبه دي که دا چي هغه مهال آسمانونه او زمکه د اوبو په څېر (ويلي او مايع) وو؟

د دې مبارك آيت په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

- دلته د الله تعالی په اړه د (عرش) او (ورځي) يادونه شوې، انسانانو دا دوه نومونه د خاصو شيانو لپاره وضع کړي، کله چي دې ته ورته نومونه د الله تعالی په اړه راځي نو موږ ئې په هغه متبادره معنی نشو اخيستی چي انسانان ئې ورته

کاروي، نه عرش داسي شی دئ چي د زمکي کوم تخت ته ورته وي او نه دا ورځ هغه موده ده چي زموږ له دولسو ساعتونو سره برابره وي، په کومو آيتونو کي چي داسي الفاظ د غيبي امورو لپاره راشي هغوی ته متشابه آيتونه ويل کېږي، په هغوی کي داسي غيبي شيان چي انسان ورته نوم نه لري په داسي الفاظو ياد شوي چي انسان د ليدل کېدونکو شيانو لپاره وضع کړي، په دې سره موږ ته د غيبي شيانو په اړه نسبي معلومات راکول کېږي، د دې يو مثال همدا د (ورځ) اصطلاح ده چي قرآن ئې يو ځای د داسي مودې لپاره راوړي چي زموږ له زرو کلونو سره برابره ده، او بل ځای ئې د پنځوسو زرو کلونو اوږدې مودې لپاره کاروليږ، نو دا شپږ ورځي هم دا زموږ شپږ ورځي نه دي چي نږدې دوه اويا ساعتونه کېږي بلکي شپږ تکويني مراحل دي چي اوږدوالی ئې يوازي الله تعالی ته معلوم دئ. د دې تفصيل د قرآن پلوشې تفسير د الاعراف د سورې د ٥٤ آيت په تفسير کي ولولئ.

د آيت د دې فقرې (وکان عرشه علی الماء) په اړه درنو مفسرينو بېل بېل آراء وړاندي کړي، د ځينو له تعبيرونو داسي معلومېږي چي ګواکي د الله تعالی عرش به د زمکي د سر کوم تخت ته ورته شی وي او پر اوبو باندي ئې اوسېدا همغسي وه لکه د اوبو پر سر د کوم تخت ودرېدا!! په داسي حال کي چي نه د الله تعالی عرش د زمکي کوم تخت ته ورته دئ او نه ئې پر اوبو اوسېدا داسي ده لکه پر اوبو د زمکي د کوم تخت ودرېدا، نه عرش ازلي شی دئ او نه اوبه، نه د دغو الفاظو مراد او معنی دا ده چي د الله تعالی عرش د اوبو له پاسه وو او نه د الله تعالی عرش داسي شی دئ چي د ودرېدو لپاره کومي آواري سطحي ته ضرورت لري، الله تعالی دا آسمانونه له کومي ستني پرته ودرولي نو عرش به ئې څنګه داسي څه ته اړ وي؟! دا غلطي انګېرني او ناسم تصورات د هغه چا د تنګ او تياره ذهن زېږنده دي چي الله تعالی او عرش ئې د زمکي د سر له مخلوقاتو سره تشبيه کوي، د آيت معنی دا نه ده چي د آسمانونو او زمکي د پيدايښت پر مهال د الله تعالی عرش د اوبو پر سر

داسي ولاړ وو لکه د زمکي کوم تخت چي پر اوبو ولاړ وي!! څوك چي د دې آيت په تعبير کي دغه غلط اسلوب غوره کوي له داسي پوښتنو سره مخامخ کيږي چي هيڅ ځواب ورته نشي موندلی، لکه دا چي: عرش تر اوبو مخکي چيري وو او پر څه ولاړ وو؟ الله تعالی تر عرش مخکي چيري وو او پر څه ئې استوی کړې وه؟

د يوه آيت په اصلي مطلب هغه مهال ښه پوهېدی شو چي وګورو په کوم مناسبت راغلی؟ د بحث اصلي موضوع ئې څه ده؟ تر هغه مخکي او وروسته څه ويل شوي؟ که دلته لږ ځير شو نو راته جوته کيږي چي دا آيت له مخکني آيت سره ژور ارتباط لري، په مخکني کي ويل شوي چي د ټولو ژوو او ساکښو روزي د الله تعالی پر ذمه ده، همغه الله چي د دوی د پيدايښت او مړيني له نېټې خبر دئ، وروسته ويل شوي چي الله همغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړي، تاسو پوهيږئ چي د رزق او روزي اصلي اسباب آسمان او زمکه دي چي له يوه باران راوريږي او لمر ئې زمکي ته رڼا او تودوخه ورکوي او بله ئې دانه او مېوه راشنه کوي، او بيا په آسمان او زمکي کي د رزق تر ټولو مهم او اساسي توکی اوبه دي چي وريدا، ذخيره کيدا، د زمکي پر سر روانېدا ئې د الله تعالی په حکم دي، چي خبره داسي ده نو بايد پوه شې چي واقعاً الله تعالی د ټولو ژوو د رزق او روزي ذمه وار دئ، او دا همغه مطلب دئ چي په همدې توګه د العنکبوت په سوره کي په دې بڼه راغلی:

وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٍ لَّا تَحۡمِلُ رِزۡقَهَا ٱللَّهُ يَرۡزُقُهَا وَإِيَّاكُمۡۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ
ٱلۡعَلِيمُ ٦٠ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ
وَٱلۡقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٦١ ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ
عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٦٢ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ
مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ

**لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ٦٣ العنكبوت: ٦٠-٦٣**

**او څومره ژوي داسي دي چي خپله روزي نه وړي، الله هغوی ته روزي ورکوي او تاسو ته هم، او هغه پوه اورېدونکی دئ، او که ئې وپوښتې چي آسمانونه او زمکه چا پيدا کړي او لمر او سپوږمۍ چا مسخر کړي؟ حتماً به ووايي: الله؛ نو څنګه دوکه کېږئ، دا خو الله دئ چي په خپلو بندګانو کي هغه چا ته روزي پراخه کوي چي دی ئې غواړي او يا ئې ورته محدوده او تنګه کوي، يقيناً چي هغه پر هر څه ښه پوه دئ، او که ئې وپوښتې چي له آسمانه څوك اوبه راکوزوي او په همدې سره زمکه له خپلي مړيني وروسته راژوندۍ کوي؟ حتماً به ووايي: الله؛ ووايه: ستايني ټولي الله لره دي خو د دوی ډېری نه پوهېږي.**

**په دې آيتونو کي هم ګورئ چي لومړی ژوو ته د رزق او روزي ورکولو خبره شوې او بيا د آسمانونو او زمکي د پيدايښت، د لمر، سپوږمۍ د تسخير (چي شپه او ورځ په ګوته کوي او دا دواړه د رزق او روزي مهم اسباب دي)، بيا له آسمانه د اوبو راورېدا او بيا په زمکي کي د ژوندون پيلېدا ته اشاره شوې او په دې توګه موږ ته ويل شوي چي رزق او وسائل او اسباب ئې د الله له لوري پيدا شوي او ذمه وار ئې الله تعالی دئ، هغه دا پرېکړه کوي چي چا ته څومره رزق او روزي ورکړي. که لږ ځير شئ نو درته جوته به شي چي د دغو دواړو سورتونو په دغو آيتونو کي بشپړ ورته والی او يو د بل شرح او تفسير دئ.**

- دې ته مو هم بايد پام وي چي لکه په (على الله رزقها) کي (على) د فوقيت او بروالي په معنی نشو اخيستی او داسي نه شو ويلی چي رزق ئې د الله د پاسه دئ بلکي وايو رزق ئې د الله پر (ذمه) دئ، همداسي په (كان عرشه على الماء) کي نه شو ويلي چي عرش ئې د اوبو له پاسه ولاړ وو، بلکي بايد ووايو: اوبه د الله تعالی د واکمنۍ تر عرش لاندي وې. ځکه دلته د بحث اصلي موضوع همدا ده چي د

رزق او روزي وسائل د الله تعالی په واك كي دي.

**دې ته مو هم باید پام وي چې که دا آیت په بل ځای کې راغلی وی او هلته د بحث موضوع د عرش څرنګوالی وی نو قرآن موږ ته وایي چې د متشابه آیتونو د الفاظو داسي تأویل چې د مجازي معنی په ځای ئې په حقیقي معنی د پوهېدا هځي او لټې ته ورته وي د هغه چا کار دئ چې زړونه ئې بیمار وي، د ایمان او علم خاوندان د دغو آیتونو د الفاظو له تأویل ډډه کوي او وایي چې په تأویل ئې له الله تعالی پرته هیڅوك نه پوهېږي، هیڅوك نه پوهېږي چې د عرش او پر اوبو ئې د ودرېدا کیفیت څنګه دئ، خو دلته په حقیقت کې په دې الفاظو سره موږ ته د هغه حالت کیفیت نه دئ انځور شوی بلکې دا مطلب ویل شوی چې د آسمانونو او زمکې له پیدایښته وروسته د الله تعالی په ملك کې او د ده د واکمنۍ تر عرش لاندي لومړۍ پیدا شوې ماده هغه اوبه دي چې انسانان او نور ژوي ترې پیدا شوي (څکه قرآن وایي چې هر ژوی مو له اوبو پیدا کړی: و جعلنا من الماء کل شیء حی)، تر دې مخکنی آیت هم د ژوو د پیدایښت او مرګ او رزق په اړه بحث کوي او دا آیت هم د ټول عالم پیدایښت ته اشاره کوي، او تاسو پوهېږئ چې اوبه د ژوو د رزق تر ټولو مهمه برخه ده، دانه، مېوه او واښه هم په اوبو راټوکېږي، په دې آیت سره موږ ته لارښوونه شوې چې الله تعالی د ژوو له پیدایښته مخکې د دوی روزي پیدا کړې، داسي لکه د ماشوم له پیدا کېدو مخکې چې د مور په تي کې شیدې ورته پیدا کوي.**

**ځینو درنو مفسرینو ویلي چې دا عالم د آسمانونو او زمکې له پیدایښته مخکې د مایع (اوبو) په څېر وو، که څه هم دا تعبیر تر یوه حده د پام وړ دئ، خو دا تعبیر به یوازي په هغه صورت کې د منلو وړ وو چې د بحث اصلي موضوع د عرش د څرنګوالي بیانول وی، نه ژوو ته روزي ورکول.**

ځيني بيا په دې عقيده دي چي په سر کې زمکه په پرېړو وربځو پوښل شوې وه، پر له پسې زورور بارانونه پیل شوي دومره چي ټوله زمکه په اوبو کې پټه شوې، او همدا د قرآن د دې آيت مصداق ګڼي چي وايي: و کان عرشه على الماء، ځکه دا مهال د زمکي پر سر له اوبو پرته بل هيڅ څه نه وو، نه نباتات وو، نه حيوانات او نه لوړه او وچه تر سترګو کېده. هغوی وايي: د زمکي په ټولو مرکباتو کې د اوبو مقدار تر ټولو زيات دئ، که دا نن د زمکي سطح آواره وی او لوړي ژوري ئې نه درلودی او ټولي اوبه د مايع په بڼه کې وی نو د ټولي زمکي مخ به ئې داسي پوښلی وو چي د اوبو ژور والی به نږدې دوه ميله وو. خو تر ټولو دقيق تعبير همغه دئ چي اوبه د زمکي لومړنی پيدا شوی مرکب دئ.

# اوبه او بوټي له زمکي راپيدا شوي

قرآن وايي چي الله تعالی د زمکي دا اوبه او بوټي په خپله له دې زمکي راپيدا کړي، له بل ځای زمکي ته نه دي راوړل شوي، په دې اړه د قرآن آيت دا دئ:

**وَٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ٣٠ أَخۡرَجَ مِنۡهَا مَآءَهَا وَمَرۡعَىٰهَا ٣١**

**النازعات:٣٠-٣١**

او له دې وروسته ئې زمکه خوره کړه، د هغې اوبه او د هغې واښه ئې ترې راوايستل,

دا آیتونه د زمکي درې ځانګړتیاوي په ګوته کوي:

الف: زمکه ئې د آسمان له تسویې او برابرولو وروسته آواره کړه، ځینو مفسرینو دا ګمان کړی چي د (بعد ذلك) ښايي مراد دا وي چي زمکه او آسمان یو له بل وروسته په یوه زماني تفاوت سره پیدا شوي، لومړی یو او ورپسې بل، ځینو دا مخکي ګڼلی او ځینو بل، دا په داسي حال کي چي قرآن په ډېر صراحت سره فرمايي چي زمکه او آسمان سره جوخت او یوه کتله وه او وروسته سره بېل شوي او په یوه وخت کي راپیدا شوي، داسي نه ده چي لومړی یو او بیا بل پیدا شوی وي، کوم آیتونه چي تأخیر او تقدم افاده کوي هغه د زمکي او آسمان د تسویې د څرنګوالي بېلو بېلو پړاوونو ته اشاره کوي، نه د دوی د پیداېښت نېټې ته، یعني تسویه او برابرول ئې یو په بل پسي ترسره شوی، لکه چي دلته په۳۰ آیت کي ویل شوي چي د زمکي آوارول د آسمان له برابرولو وروسته ترسره شوي.

ب: په زمکه کي ئې اوبه خلق کړې او هغه ئې د زمکي له زړه راوایستې، د دې معنی دا ده چي اوبه له بل ځای او له کومي بلي سیارې زمکي ته نه دي راانتقال شوې، بلکي په خپله په زمکه کي راپیدا شوې.

ج: په زمکه کي ئې د نباتاتو د راټوکولو استعداد اېښی، د اوبو له پیداېښت وروسته ئې د هغې نباتات راشنه کړل، نو دا نباتات هم له بله ځایه زمکي ته نه دي راوړل شوي، بلکي د زمکي له زړه راټوکېدلي.

دې ته مو باید پام وي چي دا دوه مسئلې (د زمکي پر سر اوبه څنګه راپیدا شوې او نباتات څنګه راشنه شوي) له هغو مسائلو دي چي له اوږدې مودې راایسي تحقیقات ورباندي روان دي او ساینس نن هغې نتیجې ته رسېدلی چي قرآن څوارلس سوه کاله د مخه بیان کړې، ساینس نن همغه خبره کوي او وايي چي اوبه او نبات په خپله په زمکه کي راپیدا شوي او له بلي سیارې زمکي ته نه دي راانتقال

شوي.

# د غرونو پیدایښت

قرآن په زمکې کې د غرونو د پیدایښت په اړه داسې فرمایي:

**وَأَلْقَىٰ فِي ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَٰرًا وَسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ١٥ وَعَلَٰمَٰتٍ وَبِٱلنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ ١٦** النحل: ١٥-١٦

او په زمکې کې ئې لنگرونه (غرونه) واچول چې تاسو ونه لړزوي، او نهرونه او داسې لارې چې (له یوې سیمې بلې ته) لار پیدا کړئ. او نښې، او په ستورو سره خو دوی لار مومي.

د دې مبارکو آیتونو په ژورو مطالبو د ښه پوهېدو لپاره دا مطالب په پام کې ولرئ:

- دلته د غرونو د پیدایښت په اړه د (القی: واچول) صیغه کارول شوې، ولې د جوړولو او پیدا کولو پر ځای دا صیغه راغلې؟ ولې د غرونو لپاره د جبال پر ځای د (رواسي: لنگرونه) نوم راوړل شوی؟ آیا د غرونو تر پیدایښت وړاندې زمکه خوځېده؟ غرونو څنگه د هغې خوځښت له منځه یووړ؟ ولې نهرونه او لارې څنگ په څنگ ذکر شوې آیا د نهرونو او لارو تر منځ کوم تړاو شته؟ دې پوښتنو ته باید دقیق او علمي ځوابونه ولټوو.
- علمي څېړنې ښیي چې غرونه د زمکې له زړه راټوکېدلي، ډېره برخه ئې د زمکې په زړه کې وي او لږ ئې بهر راوتلې وي، دا غرونه هغه مهال راوټوکېدل چې د زمکې بهرنی قشر سوړ او د ډبرې په څېر کلك شو، خو نازك وو او د زمکې په سینه کې د

متراكمي انرژۍ د فشار په وړاندې ئې مقاومت نشو کولی او په پر له پسې توګه چاودېدو، له دغو چاودونو ویلي مواد بهر شیندل کېدل او همدا ورو ورو په غرونو بدلېدل، اوس هم دا لړۍ روانه ده او د اورشیندو په ترڅ کې غرونه د جوړېدو په حال کې دي خو په لږ پیمانه، دا ښيي چې د غرونو لپاره د (القی) صیغه کارول ډېر ستر علمي حقیقت افاده کوي او د قرآن یو ځلانده علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي. د زمکې پر سر د غرونو د جوړېدو څرنګوالی له دې سره شباهت لري چې څوك هګۍ په جوش اوبو کې کېږدي، د هګۍ زېړ او سپین ورو ورو ګرم شي او وپړسېږي، د داخلي فشار له کبله د هګۍ پوستکی وچوي، د هګۍ سپین له چاودونو بهر راووځي او د چاودونو په امتداد لوړ پاتې شي، غرونه د زمکې پر سر همداسې جوړ شوي.

د علمي څېړنو په ترڅ کې دا حقیقت هم ثابت شوی چې زمکه د پیدایښت په لومړیو مراحلو کې او هغه مهال چې بهرنی قشر ئې لا مضبوط او پرېړ شوی نه وو او غرونه لا نه وو پیدا شوي، د دغو چاودنو له کبله له شدیدو او پر له پسې زلزلو سره مخامخ وه، دا غرونه د دې باعث شول چې د زمکې بهرنی قشر مضبوط او دروند شي، ببلې ببلې ټوټې ئې سره وصل او کوشېر (ویلډینګ) شي او د زلزلو مخه ونیول شي، دا داسې وګڼئ لکه چې د یخو اوبو پر سر د مات کنګل ټوټې له کوم لوی او دروند او ډېر سوړ کنګل سره ونښلي او په دې توګه ئې ماتېدا او خوځېدا متوقف شي. د غرونو لپاره د لنګر نوم غوره کول په حقیقت کې دغه ستر علمي حقیقت ته اشاره کوي او یقیناً چې دا د قرآن یو بل قاطع او ښکاره علمي اعجاز دئ.

# غرونه د زمکي مېخونه دي

آیا دا غرونه هسي د زمکي د سر لوړي دي، که داسي څه چي مېخونو ته ورته دي، ډېره برخه ئې په زمکي کي ننوتې ده او لږ بهر راوتلې ده؟ قرآن په دې اړه وايي:

أَلَمۡ نَجۡعَلِ ٱلۡأَرۡضَ مِهَٰدٗا ٦ وَٱلۡجِبَالَ أَوۡتَادٗا ٧ النبأ: ٦-٧

آیا نه مو ده گرځولې دا زمکه یوه زانگو؟ او دا غرونه، څو مېخونه؟

دا مبارك آيتونه موږ ته وايي:

- لږ دغي زمکي ته وگوره چي په غېږ کي ئې ژوند کوې او پر اوږو ئې درومې، ستا لپاره یوه زانگو، نه ډېره سخته او کلکه، هومره چي د استفادې وړ نه وي او نه هومره نرمه او پسته چي نه پرې تگ ممکن وي او نه د اوسېدو وړ، نه ډېره توده او نه له اندازې زياته سړه، ستا له طبيعي جوړښت سره متناسبه، هوا ئې معتدله، ستا د اوسېدو لپاره جوگه، تياره یوه زانگو، داسي چي که ئې وضعيت لږ تر دې بدل وی، د تودوخي درجه ئې زياته يا کمه، فشار ئې لږ يا ډېر، د ورښت اندازه ئې زياته يا کمه او بله هره عادي تبديلي او تغيير ئې نظم له منځه وړي، ستا ژوند له جدي گواښ سره مخامخ کوي او دا زانگو ستا لپاره گور گرځوي!!
- د زمکي له اوارو لږ د لوړو په لور، غرونو ته سترگي واړوه، آيا دې ته دي پام شوی چي دا غرونه ستا د زمکي مېخونه دي او ونډه ئې د زمکي د زانگو په راټينگولو او ټملو کي هومره ده لکه د کيږدۍ په درولو کي د مېږويو او د یوه صندوق په جوړولو کي د مېخونو، هو دا د زمکي مېخونه دي، په څو معنی وو:

الف: داسي مه انگېره چي دا غرونه یوازي د زمکي پر سر لوړي دي، گمان مه کوه

چې د زمکې پورتنۍ برخه ګونځې شوې او دا لوړې او ژورې په کې راپیدا شوې، تا ته په غرونه د خاورو او تیږو لوړې غونډۍ برېښي، خو حقیقت داسې نه دئ، غرونه د مېخونو په څېر د زمکې په زړه کې ننوتې، لویه برخه ئې د زمکې په زړه کې او وړه برخه ئې راوتلې او د زمکې پر سر ده. او آیا پوهېږئ چې دا د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز دئ، انسان اوس او په شلمه پېړۍ کې په دې پوه شو چې واقعاً غرونه هسې د زمکې د سر لوړې نه دي، بلکې د مېخونو په څېر ئې لویه برخه د زمکې په زړه کې او وړه برخه ئې د زمکې پر سر ده.

ب: دغو سترو او درنو غرونو د زمکې بېلې بېلې برخې په خپلو کې سره کلکې نښلولې دي، داسې لکه د اوسپنې تختې چې د ولډنګ په ذریعه په خپلو کې سره ونښلي، دا غرونه د زمکې پر سر هغه درانه پېټي وګڼئ چې نه پرېږدي د زمکې هغه کلك او ډبرین پوستکی چې تر خاورو څو کیلومتره لاندې دئ، د هغه فشار په وجه مات شي چې د زمکې له زړه د خوټېدونکو موادو راولاړېږي، په دې ترتیب غرونه د زمکې د زلزلو مخنیوی کوي، انسان له ډېرو علمي څېړنو وروسته نن په دې حقیقت پوه شوی چې د زمکې تر خاورین قشر لاندې، د کلکې ډبرې پرېړ پوستکی راتاو شوی او د زمکې په زړه کې د ډېر فشار او تودوخې په وجه هر څه ویلې او د خوټېدو په حالت کې دي، له دې چې کوم فشار راپیدا کېږي هغه داسې وګڼئ لکه په سره اور پروت، د خوټېدو په حال کې د بخار دېګ چې له داخله تر سخت فشار لاندې وي، د زمکې ډبرین پوستکی هم دې ته ورته د ډېر ستر فشار لاندې وي، که دا غرونه او د دوی زیات وزن نه وی نو د دې فشار په وړاندې به ئې د مقاومت تاب نه درلود او دلته هلته به یو په بل پسې ماتېدو او زلزلې به راولاړېدې. دا د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز دئ چې غرونه ئې د (مېخونو) او (لنګر) په نامه یاد کړي او دا هغه حقیقت دئ چې انسان فقط په دې پېړۍ کې ورباندې پوه شو. قرآن دا حقیقت هم بیان کړی چې د غرونو له راپیدا کېدو د مخه زمکه خوځېده، له پرله پسې زلزلو سره

مخامخ وه، الله تعالی غرونه ورباندي راپیدا کړل او دا خوځښت ئې سنبال شو او دا هم د غرونو په ارتباط یو بل ستر علمي حقیقت دئ چي انسان اوس ورباندي پوه شوی.

ج: په دې هم پوهېږو چي غرونه د اوبو زېرمي په خپلي سینې کي ساتي، د واوري ستر ستر ذخائر له فوري ویلي کېدو ساتي، نهرونه، چینې او کارېزونه له همدې غرونو رابهېږي، د مختلفو سیمو د هوا او موسم په تغییر او د رنګ رنګ نباتاتو په زرغونېدو کي د غرونو ونډه ډېره اساسي او ټاکونکي ده، نو غرونه له دې پلوه هم د زمکي د خیمې لپاره د مېخونو حیثیت لري چي د ژوند د بقاء او ژوندیو ته د رزق او روزي په برابرولو کي مؤثره ونډه لري.

# په شپږو ورځو کي د عالم پیدایښت

ځیني داسي ګمان کوي چي دا کائنات به له لومړۍ ورځي داسي پیدا شوی وي لکه چي همدا اوس ئې ګورو، کمونیستانو ویل: ماده ازلي او ابدي ده، نه پیدا شوې او نه له منځه ځي، تر دوی وړاندي مزدك وویل: عالم یوه تلپاتې لمبه ده. د ډېرو له بدلون سره جوړه نه وي، نه تر دې وړاندي بدلون مني او نه تر دې وروسته، هر څه ورته ثابت، دائمي او تغییر نه منونکي برېښي، خو د علمي څېړنو په ترڅ کي جوته شوې چي د عالم اوسنی جوړښت د ډېرو سترو سترو تغییراتو او بدلونونو نتیجه ده، نه زمکه په سر کي دغسي وه، نه لمر او نه د آسمان نور ستوري، نه ماده وه او نه ئې عناصر او مرکبات، د عالم هر څه په بېلو بېلو مراحلو کي او د جلا جلا تحولاتو په ترځ کي پیدا شوي. دا زمکه، سپوږمۍ او ځیني ستوري چي نن ئې د

جامدو کتلو په توګه ګورو یو مهال نه ول، بیا د ګاز په څېر کتله وه، بیا عناصر او مرکبات په کي جوړ شوي او له اوږدې مودې وروسته ئې اوسنی حالت غوره کړی، د لمر په شمول په ګڼ شمېر ستورو کي همدا اوس دغه لړۍ روانه ده. څېړني وايي چي د دې عالم عمر نږدې دیارلس نیم ملیارده کاله دئ، د لمر عمر ٤,٧ ملیارده کاله دئ، لمر به نږدې پنځه ملیارده کاله نور دغه ځلانده حالت حفظ کړی شي، بیا به ئې د سوند توکي ختم شي او خپله ځلا او تودوخه به له لاسه ورکړي. او د دې خبري معنی دا ده چي زموږ دغه لمر د عالم له پیدایښت نږدې ٨,٨ ملیارده کاله وروسته پیدا شوی!! راشئ د ساینسپوهانو دغه علمي لاسته راوړني د قرآن په څنګ کي کېږدو او وګورو چي د قرآن له ویناوو سره اړخ لګوي که نه!! دغو آیتونو ته ځیر شئ:

قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِٱلَّذِي خَلَقَ ٱلْأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ لَهُۥٓ أَندَادًاۚ
ذَٰلِكَ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ٩ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِيَ مِن فَوْقِهَا وَبَٰرَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ
فِيهَآ أَقْوَٰتَهَا فِيٓ أَرْبَعَةِ أَيَّامٖ سَوَآءٗ لِّلسَّآئِلِينَ ١٠ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى
ٱلسَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٞ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهٗا قَالَتَآ أَتَيْنَا
طَآئِعِينَ ١١ فَقَضَىٰهُنَّ سَبْعَ سَمَٰوَاتٖ فِي يَوْمَيْنِ وَأَوْحَىٰ فِي كُلِّ سَمَآءٍ
أَمْرَهَاۚ وَزَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِمَصَٰبِيحَ وَحِفْظٗاۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ
١٢ فصلت: ٩-١٢

ووایه: آیا د هغه ذات په اړه کفر کوئ او هغه ته سیالان ټاکئ چي زمکه ئې په دوو ورځو کي پیدا کړه، همدا د عالمونو رب دئ، او په څلورو ورځو کي ئې په هغې کي له پاسه لنګرونه (غرونه) جوړ کړل، په هغې کي ئې برکت واچاوو، او په هغې کي ئې د غوښتونکو له حاجت سره سم روزي وټاکله, بیا ئې د آسمان لوري ته مخه کړه په داسي حال کي چي لوګی وو، نو هغه او زمکي ته ئې وویل: په خپله خوښه یا په

نه زړه راوړاندي شئ، وئې ویل: په خپله خوښه راځو، نو هغه ئې په دوو ورځو کې اوه آسمانونه کړل او په هر آسمان کې ئې د هغه اړوند چارو وحې وکړه، او نږدې آسمان ئې په ځراغونو (ستورو) سره ښایسته او خوندي کړ، همدا د پوه عزتمن رب ټاکنه ده.

په دې مبارکو آیتونو کې د دغو اساسي مطالبو شاهد یو:

- آسمانونه او زمکه په شپږو ورځو (مراحلو) کې پیدا شوي.
- په دوو مرحلو کې آسمانونه او زمکه پیدا کړی شوي او په څلورو مرحلو کې د زمکې تسویه او برابرول بشپړ شوي. چې په دې کې یوه مرحله هغه ده چې د زمکې پر سر غرونه د لنگرونو په څېر پیدا کړی شول او په همدې سره ئې د زمکې لړزېدا تم کړه، بله ئې زمکې ته داسي جوړښت ورکول دي چې د برکت ټاټوبی ترې جوړ شو، هم ئې ژوي په کې راپیدا کړل او هم ئې د هغوی رزق او روزي، دومره چې د ټولو حاجت ته په صحیح او بشپړه توگه ځوابووایي.
- ټول کائنات، آسمانونه او زمکه او څه چې د دوی تر منځ دي، تر لومړي پیدایښت وړاندي د لوگي په څېر ول.
- نږدې آسمان په ستورو ښایسته شوی او د هغه په غېږ کې ټول ستوري په خوندي او مصئون توگه ځای پر ځای شوي. دغو ستورو هم ښایست ورکړی او هم ئې خوندي کړی.
- په ټولو آسمانونو کې د یوه الله سنن او اوامر حاکم دي، چې د عالم هري برخي ته ولاړ شئ او د هغه ځای حاکم سنن او طبیعي ضوابط وڅېړئ نو وبه گورئ چې په بشپړه توگه سره ورته دي او ښيي چې منشأ ئې یوه ده او وضع کوونکی ئې یو دئ، نه دوه او یا تر دې هم زیات.
- په زمکې کې د ټولو ژوو لپاره دومره رزق او روزي تعبیه شوې چې د ټولو

حاجتونو ته ځواب وايي.

که د دغو مبارکو آيتونو اساسي مطالبو ته لږ ځير شئ نو وبه ګورئ چي فقره فقره ئې همغه څه وايي چي څېړونکي او ساينسپوهان اوس پرې پوه شوي.

دې ته مو پام وي چي په پورتنيو آيتونو کې ويل شوي چي زمکه ئې په دوو ورځو کې پيدا کړه او ورپسې ويل شوي چي په څلورو ورځو کې ئې هغه تسويه او برابره کړه، او ورپسې ويل شوي چي بيا ئې د آسمان لوري ته مخه کړه په داسي حال کې چي لوګی وو، نو هغه او زمکي ته ئې وويل: په خپله خوښه يا په نه زړه راوړاندي شئ، وئې ويل: په خپله خوښه راځو، نو هغه ئې په دوو ورځو کې اوه آسمانونه کړل، د قرآن په نورو آيتونو کې د ټول عالم د پيدايښت موده شپږ ورځي ښودل شوې او دا ښيي چي د زمکي د پيدايښت لومړۍ دوه ورځي همغه دي چي په ترڅ کې ئې آسمانونه او زمکه پيدا شوي او اړوند جوړښتونه ئې په برخه شوي، دې ته مو هم پام وي چي قرآن د آسمانونو او زمکي پيدايښت هممهال بولي او وايي چي دواړه سره نښتي ول او په يوه وخت سره بېل شوي، نو د دې معنی دا ده چي نه آسمان تر زمکي وړاندي پيدا شوی او نه زمکه تر آسمان وړاندي، دا بحث غلط او بې بنسټه دئ چي څوك د يوه پيدايښت تر بل وړاندي ګڼي، دواړه په يوه وخت پيدا شوي، البته د زمکي تسويه او برابرول د دواړو له يو ځايي پيدايښت وروسته پيل شوې او څلور بېل بېل پړاوونه پرې تېر شوي چي اوسنی حالت ئې غوره کړی.

نن ساينسپوهان وايي:

- په سر کې د عالم ټول اجرام سره نښتي ول او يوه متکاثفه کتله وه، دا کتله لوګي ته ورته وه، د يوه انفجار په ترڅ کې سره بېل شوي، ورو ورو د لوګي دغو جلا شوو کتلو مادي بڼه غوره کړې، د لمر په څېر ځيني ستر اجرام لا تر اوسه د لوګي په

بنې کې پاته شوي.

- د زمکې پر سر غرونه ډېر وروسته راپیدا شوي، د غرونو تر پیدا کېدو وړاندې زمکه ډېره خوځېدله، بهرنی ډبرین قشر او پوټکی ئې په پر له پسې توګه ماتېدو او د همدې ماتېدلو له کبله زلزلې راتلې، خو د همدغو غرونو له پیدایښت وروسته دا خوځښت او زلزلې راکمې شوې او زمکې اوسنی حالت غوره کړ.
- په دغو غرونو سره نه یوازې د زمکې هغه پر له پسې خوځښت او زلزلې متوقف شوې بلکې په زمکې کې داسې شرائط برابر شول چې بېلې بېلې سیمې ئې د بېلو بېلو ژوو د پیدایښت لپاره جوګه شي، په زمکې کې د ژوو او د دوی د رزق او روزې د پیدایښت لړۍ له دې وروسته پیل شوه.

او دا ټول هغه څه دي چې قرآن په دغو او نورو آیتونو کې څوارلس پېړۍ وړاندې ویلي!!

# د ټول عالم او کائنات یو رنګوالی

قرآن وایي چې دا ټول عالم سره ورته دئ، بنسټ ئې یو دئ، د دې خور عالم په هیڅ برخې کې تضاد، تفاوت او توپیر نشئ موندلی:

ٱلَّذِي خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗاۖ مَّا تَرَىٰ فِي خَلۡقِ ٱلرَّحۡمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٖۖ فَٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ هَلۡ تَرَىٰ مِن فُطُورٖ ٣ ثُمَّ ٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ كَرَّتَيۡنِ يَنقَلِبۡ إِلَيۡكَ ٱلۡبَصَرُ خَاسِئٗا وَهُوَ حَسِيرٞ ٤ الملك: ٣-٤

هغه ذات چې اوه آسمانونه ئې پوړ پوړ پیدا کړل، د رحمن په مخلوقاتو کې بېلوالی لیدی نه شې، نو سترګې وغړوه، آیا کوم چاود ګورې؟ بیا هم سترګې په وار وار وغړوه، ستا سترګې به ستا په لوري نامراده راګرځي او ارمانجنې به وي.

د دې مبارکو آیتونو په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

- قرآن کله د زمکي برنۍ فضاء د آسمان په نامه یادوي او کله آسمان د ټول کائنات د چت او سقف په توگه یادوي، یعني آسمان هم د زمکي مربوط مدارونه او هم هغه اوه گوني طبقات دي چي دا ټول کائنات ئې احاطه کړی. له وروستي آیته په صراحت سره معلومېږي چي دلته له اوو آسمانونو مراد هغه اوه طبقې دي چي یوه لاندني او زمکي ته تر ټولو نږدې ئې ټول سماوي اجرام په خپلي غېږ کي نیولي، او نور شپږ ئې تر دې بر او یو د بل د پاسه، خو قرآن فرمایي چي ټول سره ورته دي، او په خپلو کي ئې توپیر او تفاوت نشته.
- دا خبره د ډېر دقت او تأني وړ ده چي قرآن وایي: د عالم ټول مخلوقات د آسمانونو په شمول ورته والی لري او په هیڅ ځای کي ئې توپیر او چاود نه شې موندلی!!
- ساینسي تحقیقاتو ښودلې چي زموږ له زمکي تر ټولو لري ستوری او تر ټولو لري ستور لیکی، په خپل جوړښت او د هغو ضوابطو له مخي چي پرې حکومت کوي، زموږ زمکي او ستور لیکي ته ورته دي، او دا د قرآن یو بل علمي اعجاز دئ، د قرآن له نزول څوارلس پېړۍ وروسته انسان په دې پوه شو چي د کائنات په هري برخي کي د عالم په ټولو مخلوقاتو کي د توپیر او تفاوت په ځای یووالی او مطابقت شته.

# کائنات ګرد دئ که مسطح؟

یو مهال خلکو داسي ګمان کولو چي زمکه د عالم مرکز دئ، او ټول ستوري ئې پر محور راڅرخي، د عالم په اړه ئې داسي ګمان کولو چي دا به توپ ته ورته ګرد وي، په شلمي پېړۍ کي کائنات څېړونکو ته د قوي تلسکوپونو په مرسته معلومه شوه چي د عالم د جوړښت په اړه دا انګېرنه ډېره سطحي او د حقیقت خلاف ده، نه زموږ شمسي نظام د توپ په څېر ګرد دئ او نه زموږ اړوند ستور لیکی او نه ټول عالم، زموږ شمسي نظام هم یوې داسي صفحې ته ورته دئ چي لمر ئې په منځ کي او ستوري ئې په یوې سطحي کي پر محور راڅرخي، بیا زموږ ستور لیکی همداسي جوړښت لري او بیا ټول ستور لیکي په ګډه!! راشئ وګورو چي قرآن په دې اړه څه ویلي! د قرآن دغو آیتونو ته ځیر شئ:

**يَوْمَ نَطْوِي ٱلسَّمَآءَ كَطَيِّ ٱلسِّجِلِّ لِلْكُتُبِۚ كَمَا بَدَأْنَآ أَوَّلَ خَلْقٖ نُّعِيدُهُۥۚ وَعْدًا عَلَيْنَآۚ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ ١٠٤** الانبیاء: ١٠٤

هغه ورځ چي آسمان به داسي راونغاړو لکه د لیکل شوو پاڼو نغاړل، لکه چي لومړی پیدایښت مو پیل کړ بیا به ئې اعاده کړو، دا زموږ پر ذمه یوه ژمنه ده، یقیناً چي موږ ئې کوونکي یو.

د دې مبارك آیت مهمي لارښووني دا دي:

- الله تعالی به د قیامت په ورځ آسمان داسي راونغاړي لکه د لیکل شوو پاڼو نغاړل.
- بیا به الله تعالی د لومړي پیدایښت په څېر یو ځل بیا نوی آسمان او نوې زمکه پیدا کړي.
- الله تعالی دا په خپله ذمه اخیستې ده چي قیامت به راولي، د عالم دا خور ټغر

به ټولوي او نوی عالم به پیدا کوي، دا د ده قطعي ژمنه ده، هرومرو به ئې ترسره کوي.

دې ته مو پام وي چي دلته د آسمانونو رانغاړل د لیکل شوو پاڼو له رانغاړلو سره تشبیه شوي، په سطحي نظر سره خو دا تشبیه داسي برېښي لکه چي د خور آسمان ټغر به ټول شي او له منځه به ولاړ شي، خو د قرآن په دغي تشبیه کي یو ستر علمي اعجاز مضمر دئ، او هغه داسي: زموږ شمسي نظام او اړوند ستوري ئې یوې داسي دائرې ته ورته دي چي ملر ئې په منځ کي او ستوري ئې پر شاوخوا په یوې آواري سطحي کي خوځي، مثال ئې داسي دئ لکه چي تاسو څو پړي درواخلئ، چي اوږدوالی ئې توپیر لري، د هر پړي په سر کي یوه گرده ډبره وتړئ، بیا دا پړي په زور سره داسي تاو کړئ چي ستاسو شاوخوا وڅرخي، وبه گورئ چي ټول په یوې سطحي کي څرخي، هم د پړو استقامت او سطح یوه ده او هم د ډبرو، د ملر اړوند ستوري همداسي د ملر شاوخوا څرخي، بیا زموږ شمسي نظام په مجموع کي د یوه بل محور شاوخوا همداسي څرخي، زموږ اړوند ستور لیکی همداسي جوړښت لري، ټول ستوري ئې په یوې سطحي کي پراته دي، د عالم ټول ستور لیکي دې ته ورته هیئت لري، یعني په ډبري پراخي مستوی په یوې سطحي کي خوځي، نه زموږ شمسي نظام د توپ په څېر گرد دئ او نه زموږ ستور لیکی او نه د عالم ټول ستور لیکي په گډه، د دوی لپاره تر ټولو دقیقه او غوره تشبیه همدا ده چي له غوړېدلو پاڼو سره تشبیه شي، او رانغاړل ئې د پاڼو له رانغاړلو سره. که تاسو د شپې له لوري آسمان ته ځېر شئ نو د ستورو یوه داسي کرښه به وگورئ چي لیندۍ ته ورته برېښي، دا د ستور لیکو مجموعه ده، که ستور لیکي د یوې صفحې په څېر پراته نه وی نو داسي کرښه به نه تر سترگو کېده!! که دا آسمان له یوه حوض سره تشبیه کړو، نو د عالم د ټولو اجرامو د خوځېدو او خورېدو هیئت ئې دې ته ورته دئ چي تاسو د حوض په منځ کي کومه ډبره واچوئ، دا ډبره په اوبو کي د دائرې په بڼي کي څپې رامنځته کړي،

چي هم ئې شمېر ورو ورو زياتېږي او هم ئې د دائرې پراخوالی، د اوبو پر سر چي د څپو کوم هيئت جوړېږي؛ دا عالم او ستور ليکي ئې دې ته ورته هيئت لري. د قرآن د دغي وينا په اهميت او عمق هغه څوك پوهېږي چي د سترو سترو تلسکوپونو په مرسته ئې د ستور ليکو هيئت د يوې سطحي او صفحې په بڼې کې موندلی.

# په عالم کې د تفاوت نشتوالي معنی

د الملك د سورې د درېيم آيت د دې شطر (ما ترى في خلق الرحمن من تفاوت ...) په اړه څو تعبيرونه مومو:

لومړی: د الله تعالی په مخلوقاتو کې نه (تفاوت: توپير) موندی شو او نه (فطور: چاود او ترخ)، په مخلوقاتو کې تفاوت نه شو موندی يعني داسي څه نه شو ليدی چي وښيي دا د کوم بېل لاس محصول دئ، پيدا کوونکی ئې بېل دئ، د پيدايښت ماده ئې بېله ده، له نورو په خپل جوړښت کې ژور بېلوالی لري، او فطور يعني تشه، خلاء، نقص او کمی، يعني دا چي په عالم کې کوم تش ځای، کوم کمی، د يوه داسي ضروري شي نشتوالی چي د نقص باعث شوی، که هرڅومره په دې پراخ او بې انتهاء عالم کې د کوم عيب او نقص د موندو لپاره لټه وکړو، هري خوا ته سترگي وغړو، د دې تکل وکړو چي کوم (تفاوت) او (فطور) ومومو، خپلي سترگي دومره يوې خوا بلي خوا ته وغړوو چي ستړې او ستومانه بېرته راوگرځي، هيڅکله به نه کوم تفاوت وموندی شي او نه فطور، خپل مراد ته به ونه رسېږي او لټه به ئې بې حاصله وي.

دا آيت ښيي چي زموږ کائنات يوه داسي متحده مجموعه ده چي ټول اجزاء ئې يو له بل سره دقيقه رابطه لري، د يوه شته والی د بل د بقاء سبب دئ، هيڅ

بېهوده او بې هدفه شی په دې پراخ عالم کې نه موندل کېږي، هر څه سم او دقيق پيدا شوي، د هر څه موجوديت يوه خلأ او تشه ډکوي او يوه ضرورت ته ځواب وايي، او نشتوالی ئې د يوې تشي او خلأ سبب کېږي، هيڅ داسي څه نه شې موندلی چي وښيي پيدايښت ئې د بېل لاس او د بېلي منصوبې نتيجه او محصول وي، او داسي پيدا شوی وي چي د عالم له نورو توکو سره توپير ولري. د دې ستري او مهمي ادعاء په اهميت او پراخو ابعادو ئې هغه وخت ښه پوهېدی شو چي د مخلوقاتو د جوړښت اصل ته ځير شو، له دې ظاهري توپيرونو لږ مخکي ولاړ شو، د هر څه د جوړښت بنسټ او بنياد ته پام وکړو، نن د طبيعي علومو پوهانو ته معلومه شوې چي د عالم دا بېل بېل او رنګ رنګ توکي يوازي په ظاهر کي يو له بله توپير لري، په اصل کي ټول له يوه شي پيدا شوي، که د ماليکولونو او د هغوی د ترکيب په حد کي توپير لري، د اتم او له اتم مخکي حد کي کاملاً سره ورته دي، په حقيقت کي يو شئ، د يوې منصوبې له مخي، په مختلفو شکلونو کي جوړ شوی.

دوهم: ځينو نورو مفسرينو (تفاوت) د تضاد او عيب په معنی اخيستی او دا آيت داسي ترجمه کوي: د الله تعالی په مخلوقاتو کي تضاد او عيب نه شې موندلی. په دې تعبير کي څو اشکاله شته:

۱ـ د تفاوت لفظ په اصل کي نه د تضاد په معنی دئ او نه د عيب په معنی.

۲ـ که د دغه تعبير له مخي ووايو چي په مخلوقاتو کي توپير او تفاوت نشته، دا تعبير له واقع سره سمون نه خوري، عملاً توپيرونه تر سترګو کېږي، او که ووايو چي د الله تعالی په مخلوقاتو کي تضاد او عيب نشته دا يو ګونګ تعبير دئ، په پيدايښت کي د تضاد نشتوالی واضح او روښانه مفهوم نه لري، پر دې برسېره موږ د الله تعالی مخلوقات ګورو، نه د دوی پيدايښت، موږ خو دا ګورو چي دانه د زمکي له زړه د بوټي په څېر راټوکېږي، او نيالګی ترې جوړ شي، خو زموږ سترګي دا توان نه لري

چي د بوټي د راټوکېدو او له خاوري د نيالګي د جوړېدو څرنګوالی په خپله وګوري!! له همدې کبله د دې آيت دقيق تعبير هماغه لومړنی تعبير دئ، په دې معنی چي د الله تعالی په مخلوقاتو کي له دې بابه توپير او تفاوت نه شته موندلی چي يو ئې د يوه پيدا کوونکي د لاس او بل ئې د بل پيدا کوونکي د لاس زېږنده او محصول وګڼو، داسي نه دي چي د دوی په پيدايښت کي بېلابېلي منصوبې کارول شوې وي.

# اوه آسمانونه او اوه زمکي

قرآن وايي چي الله تعالی اوه زمکي او اوه آسمانونه پيدا کړي، نن د علمي ژورو تحقيقاتو په ترڅ کي انسان ته معلومه شوې چي زمکه اوه طبقې لري او د زمکي پر سر د زمکي مربوطه فضاء هم اوه طبقې ده. انسانانو ته دا هم جوته شوې چي د اتم د مدارونو اعظمي شمېر هم اوه دي، له دې معلومېږي چي دا کائنات او مربوط ستوري او کهکشانونه ئې يوه داسي مجموعه ده چي اوه آسمانونه پرې راتاو دي. خو دا چي آيا ممکنه ده انسان د خپلو څېړنو په نتيجه کي يو وخت په دې حقيقت هم پوه شي چي دا پراخ عالم يوه داسي مجموعه ده چي اوو آسمانونو احاطه کړې؟ بايد ووايو چي لاتراوسه د دې حقيقت له درک ډېر ډېر لري دئ.

قرآن وايي چي بر اوه مضبوط آسمانونه دي، بايد وګورو چي د دې خبري معنی څه ده او علم د دې وينا په اړه څه وايي؟ په دې اړه د قرآن يو آيت دا دئ:

**وَبَنَيۡنَا فَوۡقَكُمۡ سَبۡعٗا شِدَادٗا ١٢** النبأ: ١٢

او له تاسو بر مو جوړ کړل مضبوط اوه ګوني.

دا او تر دې مخکې آیت او ځیني نور موږ ته وایي: د ځمکې پر سر ستاسو دا ټمځی داسې دئ چې د ځمکې سطح ئې ستاسو د کور فرش، اوه آسمانونه ئې چت، کهکشانونه او ستوري ئې فانوس، لمر ئې څراغ او سپوږمۍ ئې د شپې شمع ده. قرآن دې ته په اشارې سره چې ستاسو له پاسه مو مضبوط اوه گوني پیدا کړي، څو اساسي خبرو ته اشاره کوي:

الف: یا خو زموږ دا ځمکه اوه فضائي مدارونه لري او یا دا ټول عالم د آسمانونو په نامه اوه طبقو احاطه کړی. په قرآن کې کله گورو چې له ځمکې بري فضاء ته آسمان ویل شوي او فرمایي چې باران له آسمانه وروو او معلومه ده چې باران له هغو وریځو راوریږي چې فاصله ئې زموږ له ځمکې تر لسو کیلومترو کمه وي. او کله د ستورو موقعیت ته آسمان ویل شوي او وایي چې په ستورو سره مو د دنیا نږدې آسمان ښایسته کړی، یعني ټول ستوري تر لومړي آسمان رالاندې دي.

ب: گورو چې دا اوه گوني طبقې ډېر مضبوط او دقیق نظام لري، ټول سماوي اجرام ئې په خپلې غېږ کې کلك نیولي، یو له بل سره د دوی له ټکر او تصادم مخنیوی کوي، نه پرېږدي چې یو د بل په مدار کې ننوځي، ستر ئې ووړ جذب کړي، هر یو په منظمه توگه، په خپل خپل مدار کې خوځي، هر یو په خپل خپل ځای کې ساتي، د دغو بې شمېره سماوي اجرامو دا دقیقه ساتنه ښیي چې زموږ په فضاء کې یو مضبوط، څواکمن او دقیق نظام حاکم دئ.

ج: الله تعالی د ځمکې فضاء داسې جوړه کړې چې له یوې خوا د هغو مضر او تاواني وړانگو او پلوشو مخنیوی وکړي چې له لمر د ځمکې په لور رادرومي او له بلي خوا د یوه مضبوط چت په څېر پر ځمکې د شهاب ثاقب له راپرېوتو مانع شي، کوم شهابونه چې د ځمکې په لور راځي له دغې متکاثف او پرېړي فضاء سره له ټکر او تصادم وروسته یا ویلي شي او یا ئې مسیر بدل شي او له ځمکې ئې مخه بل لوري ته

واوړي او د هوا همدا طبقه د زمکي تودوخه ساتي او په لايتناهي فضاء کي ئې د خوربدو مخه نيسي، هغه ستوري چي داسي متکاثفه او پربړه فضاء نه لري له يوې خوا په پر له پسې توګه شهابي تيرې وربانديي راپربوځي او له بلي خوا ئې د شپې له پلوه هوا ډېره سړه شي.

# د آسمان غير مرئي ستني

قرآن وايي چي الله تعالی آسمان په داسي ستنو ودرولی چي نه ليدل کېږي:

ٱللَّهُ ٱلَّذِي رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ ...الرعد: ۲

هغه الله چي آسمانونه ئې له داسي ستنو پرته لوړ کړل چي تاسو ئې وينئ،

دا آيت وايي: دا کتاب د هغه الله له لوري نازل شوی چي دا لوړ آسمان ئې له داسي ستنو پرته لوړ کړی چي ليدی شي، ستني شته خو نه ليدل کېږي، او دا هغه ستر علمي حقيقت دئ چي د قرآن بل علمي اعجاز زموږ مخي ته ږدي، انسان نن په دې حقيقت پوه شوی چي د آسمان د ټولو ستورو تر منځ د جذب او دفع داسي نامرئي ځواك شته چي که دا نه وی او يا له اوسني حالت نه ځواکمن او کمزوری وی نو د عالم دا موجود نظام پايښت نشو موندلی، يا به يوه بل جذبولو او يا به داسي خواره واره کېدل چي ټول نظام به له منځه تلو. که تاسو يوه ساينسپوه ته ووايئ چي زموږ په هغه مذهبي کتاب کي چي څوارلس پېړۍ وړاندي نازل شوی راغلي چي آسمان په داسي ستنو لوړ ساتل شوی چي نه ليدل کېږي، نو يقيناً هغه به له ځنډ پرته تاسو ته ووايي: پر دې حقيقت انسانان په نولسمي پېړۍ کي پوه شول، تر دې د مخه هيڅوك په دې حقيقت نه پوهېدو او د آسمان د ستورو تر منځ د داسي ځواك د شته والي تصور ئې هم نشو کولی.

# د زمکي بېلي بېلي ټوټې

قرآن وايي چي د زمکي سر له بېلو بېلو متصلو ټوټو جوړ شوی:

**وَفِي ٱلۡأَرۡضِ قِطَعٞ مُّتَجَٰوِرَٰتٞ وَجَنَّٰتٞ مِّنۡ أَعۡنَٰبٖ وَزَرۡعٞ وَنَخِيلٞ صِنۡوَانٞ وَغَيۡرُ صِنۡوَانٖ يُسۡقَىٰ بِمَآءٖ وَٰحِدٖ وَنُفَضِّلُ بَعۡضَهَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلۡأُكُلِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ٤** الرعد: ٤

**او په زمکي کې څنګ په څنګ پرتې ټوټې دي او د انګورو باغونه او کښتونه او د کجورو ګډبنستي او بېل بنستي وني چي په يو ډول اوبو خړوبېږي، په داسي حال کې چي ځينو ته مو پر ځينو نورو د خوراك له پلوه فضيلت ورکړی، يقيناً چي په دې کې د تعقل کوونکو وګړو لپاره څرګندي نښي دي.**

د دې مبارك آيت مهمي لارښووني دا دي:

- **ځوك چي په سطحي نظر د زمکي مخ ته ګوري داسي انګېري چي ټوله زمکه به د جوړښت او ترکيب له پلوه سره ورته وي، خو که په علمي نظر او دقت سره د زمکي د بېلو بېلو برخو ترکيب ته ځير شو نو دا حقيقت راته جوت کېږي چي د زمکي برنۍ سطح له داسي بېلو بېلو ټوټو جوړه شوې چي د ترکيب له پلوه يوه له بلي سره ژور توپيرونه لري، دا هغه حقيقت دئ چي قرآن په پورتني آيت کې ورته اشاره کړې او انسان هغه مهال پرې پوه شو چي د خاوري د ترکيب معلوموولو پر مخ تللي وسائل او پوهه په لاس ورغله، او يقيناً چي دا د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز دئ. په نولسمي پېړۍ کې انسان له علمي پلوه هغه پوړ ته ورسېد چي په دې حقيقت پوه شي، اوس ورته جوته شوې چي د زمکي ځيني برخي داسي دي چي په ترکيب کې ئې يو عنصر زيات دئ او د بلي په ترکيب کې بل عنصر، په ځينو کې مس زيات دي،**

په ځينو کې اوسپنه زياته ده او په ځينو کې سره او سپين زر، او دې ته ورته د نورو عناصرو د تناسب له پلوه توپيرونه، همدغه توپيرونه د دې باعث شوي چې په يوې سيمي کې يو ډول بوټي او وني راټوکېږي او وده کوي او په بلي کې بل ډول، د يو ډول ونو مېوې به په يوې سيمي کې يو ډول خوند لري او په بلي کې بل ډول، نه يوازي د خوند له پلوه به يوه له بلي توپير لري بلکې د ګټې له پلوه يوه پر بلي فضيلت لري. د خوند په توپير هر څوك پوهېدی شي خو د ګټې له پلوه د دوی تر منځ توپيرونو باندي پوهېدا نه يوازي ګران کار دئ بلکې له نولسمي پېړۍ مخکې انسان ته قطعاً ممکنه نه وه، د قرآن دا وينا له شکه پرته يو بل ستر علمي اعجاز دئ چې وايي: ځينو مېوو ته پر نورو د خوراك له پلوه فضيلت ورکوو او يقيناً چې د عقل خاوندانو ته په دې وينا او دې حقيقت کې ډېري نښې دي.

د دې لپاره چې دا موضوع لازياته واضح شي دوه مثاله ئې وړاندي کوم: د کابل په جنوب کې د عينك په نامه د زمکې يوه ټوټه ده چې په ترکيب کې ئې د مسو کچه ډېره لوړه ده، د دې ټوټې طول، عرض او ضخامت معلوم دئ، د ټولو موادو او په هغوی کې د مسو تخميني اندازه هم معلومه شوې، د همدې معلوماتو له مخي يوې چينايي کمپني د مسو د رايستلو معاهده امضاء او عملاً ئې کار پيل کړ، بل مثال ئې د کابل په شمال غرب کې د حاجي ګك سيمه ده چې د اوسپني ستر کان په کې موندل شوی، د دې سيمي اوږدوالی، سور او پرېړوالی هم معلوم شوی او د اوسپني تخميني اندازه هم معلومه شوې، دا معلومات د نړۍ سترو سترو شرکتونو ته وړاندي شوی، چې له مخي به ئې د اوسپني د استخراج معاهده لاسليك کېږي، د دې دواړو ټوټو تر منځ د زمکې نوري ټوټې دي چې ترکيب ئې له دوی دواړو ځانګړي توپيرونه لري. خو دا چې دا بېلي بېلي ټوټې د زمکې د لومړني پيدايښت په وخت کې رامنځته شوې که وروسته، بايد ووايو چې په لومړي سر کې د زمکې برنۍ سطح يو ډول وه، ورو ورو په هغې کې تغييرات راغلي، دا بېلي بېلي ټوټې د هغو

**چاودنو په لړ کې رامنځه شوې چې د زمکې برنۍ قشر ئې مات کړی، د زمکې د زړه ویلې مواد بهر راوتلې، د زمکې پر سر خواره شوي او یوه خاصه سیمه ئې لاندې کړې، په دې ویلې موادو کې کله د یوه عنصر کچه زیاته وه او کله د بل، له همدې کبله یوه سیمه او د موادو ترکیب ئې له بلې توپیر لري. دې ته مو پام وي چې د زمکې درانه مواد د زمکې په زړه کې راغونډ شوي او سپك ئې د زمکې پر سر، دا درانه مواد د چاودنو او اورشیندو له کبله د زمکې سر ته راوتلي.**

# د اوبو د ذخیره کولو انتظام

**د الحجر د سورې په ۲۲ آیت کې د اوبو د ذخیره کولو هغه مهم انتظام ته اشاره شوې چې که دا نه وی نو د زمکې پر سر ژوند ممکن نه وو، په زمکې کې د اوبو د ذخیره کولو دقیق انتظام یو له هغو امورو دئ چې د زمکې پر سر د ژوو بقاء ورته ضرورت لري، له دې پرته نه انسان او نه بل ژوي دلته ژوند کولی شو.** ګورو چې دا د څښاك اوبه مو له استعمال وروسته؛ یا د نهرونو له لاري د لویو لویو بحرونو په لور وخوځیږي، تروې او تېزابي شي او یا په زمکه کي ننوځي او انسان ته ئې هم له زمکي راایستل ګران شي او هم ئې له بحرونو بېرته راوړل محال شي، خو ګورو چي د لمر د وړانګو په ذریعه د بحرونو همدا تروې او تېزابي اوبه تبخیر او تصفیه شي، دا بخارات د بادونو په ذریعه د آسمان په لوري اوچت کړی شي، هلته د سړې هوا په وجه په وریځو بدل شي، مؤظف بادونه دا وریځي پر سر واخلي، ناڅاپي ووېشل شي، هر یو، خپله خپله برخه، په خپل خپل خاص سمت، خاصي منطقې ته د رسولو لپاره وخوځوي، په بیدیا او د آواري په محتاجو او باران ته سترګي په لاره خلکو باندي باران وورو‌ي او په غرونو باندي

واوري. چې د دنگو دنگو غرونو په ژورو او پراخو لمنو کې، د واورې کافي ذخیره، د دوبي لپاره خوندي وساتي او بیا د دوبي په سختي گرمۍ کې چې انسان، حیوان او نبات اوبو ته سخت اړ وي، همدا ذخیره شوې واوره ورو ورو ویلې شي او په نهرونو، کاریزونو او چینو کې د دوی د خړوبولو لپاره راوخوځېږي او د هر یوه ضرورت رفع کړي. آیا دا بهیر نه ښيي چې بې شکه ټولې ستاینې هغه رب لره دي چې په دې عالم کې د ده د بې انتهاء رحمت او پېرزوینې وسیع آثار او نښې هرې خوا ته خورې گورو، هغه چې دا بادونه ئې پیدا کړي او د اوبو د ذخیره کولو دا انتظام ئې رامنځته کړی؟!! آیا د قرآن دا وینا یو ستر علمي اعجاز نه دئ؟!!

- الله تعالی د همدې دقیق الهي انتظام په نتیجه کې زمکه په ډول ډول بوټو سمسوره کړه، ټول هغه ضروري شیان ئې په کې راپیدا کړل چې انسان او د زمکې پر سر مېشت ټول ژوي ورته اړ دي، په زمکه کې ئې د انسان د معاش او ژوند ژواك ټول ضروري اسباب او ذرایع تأمین کړل، هغه حیوانات ئې هم راپیدا کړل چې انسان ورته اړ او محتاج دئ، د دغو ژوو د روزي انتظام هم الله تعالی کوي، تاسو هغوی ته روزي ورکوونکي نه یئ.

# غرونه او خوندوري اوبه

**تاسو به هرو مرو په بازار کې د اوبو داسې بوتلونه لیدلي وي چې د غرونو او په هغوی کې د روانو اوبو عکس پرې لگېدلی چې جوړوونکی او پلورونکی ئې غواړي په دې سره تاسو ته ووایي: دا ډېرې خوندورې او گټورې اوبه دي!! آیا د غرونو او د**

اوبو د خوند او ګټي تر منځ څه تړاو شته؟!! ساینس دې پوښتني ته دا ځواب وايي: هو؛ د دوی تر منځ ژور تړاو شته، اوبه کله چي له وریځو راوریږي نو په بشپړه توګه خالصي وي، یوازي هایدروجن او آکسیجن لري، خو کله چي له لوړو غرونو رارغړي، له ډول ډول ډبرو، مینرالونو، شګو، خاورو تېرېږي نو کافي مقدار هغه مینرالونه له ځان سره وړي چي انسان ورته ضرورت لري، دا ضروري توکي په اوبو کي حل شي، او د انسان لپاره ئې د همدې اوبو له لاري جذبول آسان شي، که داسي نه وی او اوبه له لوړو غرونو نه رابهېدی او له ډول ډول ډبرو سره ئې خپل سر نه وهلی او دغه ضروري مواد ئې نه حل کولی نو انسان ته به ډېره ګرانه وه چي دغه مواد له نورو لارو ترلاسه کړي. دا چي انسان له هغو اوبو خوند اخلي چي له لوړو غرونو او چینو رابهېږي وجه ئې دا ده چي انسان له هغه څه زیات خوند اخلي چي د ده اړتیاوو ته ځواب وايي، هر څومره چي انسان یوه شي ته زیات اړ وي همدومره زیات ورته خوندور وي، څه چي انسان ته مضر وي یا ئې ګټه لږ وي، یا انسان ورته ضرورت نه لري نو د ده حواس ئې ورته بې خونده، تریو او تریخ کړي، کله چي تږی وي نو له اوبو خوند اخلي که نه نو له خوندورو اوبو هم کرکه کوي. اوس چي تاسو ته د خوندورو اوبو او غرونو تر منځ دقیق او ژور تړاو معلوم شو راشئ وګورو چي قرآن په دې اړه څه وايي؟! د قرآن دې وینا ته ځیر شئ:

**أَلَمۡ نَجۡعَلِ ٱلۡأَرۡضَ كِفَاتًا ٢٥ أَحۡيَآءٗ وَأَمۡوَٰتٗا ٢٦ وَجَعَلۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ شَٰمِخَٰتٖ وَأَسۡقَيۡنَٰكُم مَّآءٗ فُرَاتٗا ٢٧ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ٢٨**

المرسلات: ٢٥-٢٨

آیا زمکه مو راغونډونکې نه ده ګرځولې، د ژوندیو او مړو؟ او آیا دنګ دنګ غرونه مو په کي نه دي جوړ کړي او خوندوري اوبه مو نه دي درباندي څښلې؟ افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال.

دا مبارك آيتونه وايي: چا دا زمكه داسي گرځولې چي په خپلي غېږ کي ئې مړه او ژوندي توکي راغونډ کړي او په هغې کي ئې د ژوند امكانات او شرائط برابر کړي؟ څوك د زمكي له دنگو دنگو غرونو خوندوري اوبه درکوي، هماغسي لکه د مور له تيو خوندوري شيدې؟؟ كه دا دنگ دنگ غرونه نه وی نو ستا د څښاك اوبه به هم خوندوري او صفا نه وې!!

آيا هغه ذات چي زمكه ئې د (ژوند مهد او زانگو) کړه او د ژوند امکانات ئې په کي ځای په ځای کړل؛ په دې قادر نه گڼئ چي ستاسو د مجدد پيدايښت لپاره بله زانگو او ټاټوبی راپيدا کړي؟!! افسوس په دې ورځ د تكذيبوونكو په حال.

گورئ چي قرآن د عالم په اړه په خپلو ويناوو کي څومره دقيق دئ او څنگه ئې هغو حقائقو ته په وار وار او د هري قضيې په ارتباط اشاره کړې چي انسان ډېر وروسته پرې پوه شوی.

بې مناسبته به نه وي چي د خوند او ضرورت تر منځ د تړاو يو بل مثال هم وړاندي کړم: هغه مهال چي مهاجرين پاکستان ته ولاړل او په لومړي ځل ئې د امروت مېوه مخي ته راغله، نو د دغي مېوې د بوی په وړاندي به ئې داسي حساسيت ښودو چي خپلي پزي ته به ئې دسمال يا د څادر پيڅه ونيوله او په منډه به ترې تېر شول!! پېرودل او خوړل خو ئې لري پرېږده حتی د هغه خوا ته ئې تېرېدل هم نه خوښول، خو دا حساسيت به ئې ورو ورو کمېدو او داسي وخت به راورسېدو چي امروت به ئې تر ډېرو نورو مېوو زيات خوښېدو!! د دې وجه دا وه: په خپل هېواد کي دوی هغو موادو ته ضرورت نه درلود چي په امروت کي شته، د دوی وجود داسي تنظيم شوی وو چي په امروتو کي تعبيه شوي موادو د گټي په ځای دوی ته تاوان درلود، نو ځکه ئې په لومړيو کي له هغه سره حساسيت ښودو، خو د پاکستان هوا او اوبو په دوی کي داسي تغييرات رامنځته کړل چي نه يوازي دا

حساسيت له منځه ولاړ شي بلکې د هغو موادو خوړلو او جذبولو ته اړ شي چې په امروتو کې شته، نو ځکه به ئې څو مياشتې وروسته په مزه مزه خوړل. بل مثال ئې دا دئ چې د سړو سيمو اوسېدونکې داسې مېوې خوښوي چې غوړي وي، لکه ځنغوزي، غوزان، بادام، او د گرمو سيمو هستوگن د مالتې، کينو او کيلې په څېر مېوې، الله تعالی په هري سيمې کې هغه مېوې راپيدا کوي چې انسانان ورته ضرورت لري، غوزان او ځنغوزي په غرنيو سړو سيمو کې او مالتې په تودو سيمو کې، د هري سيمې خلك خپلې خپلې مېوې خوښوي، دا ځکه چې همدا مېوې او ځانگړی ترکيب ئې د دوی اړتياوو ته ځواب وايي.

# غرونه د ورېځو په څېر خوځي؟!!

راشئ د دې مبارك آيت په خوا کې لږ توقف وکړو او وگورو چې د غرونو په اړه ئې وينا څومره حيرانوونکې ده او وگورو چې ساينس د دې حيرانوونکې وينا په اړه څه وايي!!

**وَتَرَى ٱلۡجِبَالَ تَحۡسَبُهَا جَامِدَةٗ وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِۚ صُنۡعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ أَتۡقَنَ كُلَّ شَيۡءٍۚ إِنَّهُۥ خَبِيرُۢ بِمَا تَفۡعَلُونَ ٨٨** النمل: ۸۸

او غرونه گورې چې د ولاړ گمان پرې کوې حال دا چې هغه د ورېځو د خوځېدو په څېر خوځي، د الله هغه جوړونه چې هر څه ئې استوار (او مضبوط) کړی، يقيناً چې دی په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

- دا لوړ لوړ غرونه چې تا ته ډېر کلك او مضبوط برېښي او گمان کوې چې ستر

ستر طوفانونه او تېزي تونديسيلۍ ئې نه خوځولی شي او نه لړزولی، د قيامت په ورځ به داسي خوځي لکه د وربځ خوځېدا. که څه هم دا آيت د قيامت په ارتباط راغلی او د قيامت په ورځ د غرونو حالت ئې زموږ په وړاندي انځور کړی، خو د آيت الفاظ داسي دي چي ښيي همدا اوس هم موږ غرونه ولاړ ګورو خو په حقيقت کي د وربځو په څېر خوځي!! او دا يقيناً چي د قرآن يو ستر علمي اعجاز دئ، نن او له ډېرو علمي تحقيقاتو وروسته ساينسپوهانو ته جوته شوې چي دا جامده ماده په حقيقت کي له داسي وړو وړو توکو جوړه شوې چي تل د خوځېدو په حال کي وي، ماده له ماليکولونو او ماليکولونه له اټمونو جوړ شوي، خو د مادې د وجود دا لومړنۍ او اساسي خښته د هغو پروټونونو او الکټرونونو مجموعه ده چي په پر له پسې او دائمي توګه او له هرراز توقف پرته يو د بل پر شاوخوا څرخي، د دې حقيقت د بيان لپاره تر بل هر بيان جامع او کامل بيان همدا د قرآن وينا ده چي وايي: غرونه داسي ګورې چي د ولاړ ګمان پرې کوې حال دا چي هغه د وربځو د خوځېدو په څېر خوځي. نو دا غرونه هسي موږ ته ولاړ، راکد او جامد برېښي خو په اصل کي له داسي خوځنده اجزاوو جوړ شوي چي په مسلسله توګه د خوځېدو په حال کي دي او خوځېدا ئې د وربځو د خوځېدا په څېر. وربځي د زمکي پر محور په دائروي توګه خوځي، همغسي لکه الکټرون چي د اتم د زړه پر محور څرخي، توپير ئې د الکټرون له خوځښته سره يوازي په دې کي دئ چي وربځي له منځه ځي خو الکټرون په خپل حال پاته کېږي او خپل حرکت ته دوام ورکوي.

- دا د هغه الله تعالی جوړونه او پيدايښت دئ چي هر څه ئې استوار او مضبوط پيدا کړي.
- يقيناً چي الله تعالی په هغه څه ښه خبر دئ چي تاسو ئې کوئ.

# هر څه د ضرورت په اندازه پيدا شوي

د الحجر د سورې په ۲۱ آيت کې دې حقيقت ته اشاره شوې چې الله تعالی د عالم هر څه په يوه ثابت او معين مقدار کې او د ضرورت په اندازه پيدا کړي، وايي: د هر شي خزانې له الله تعالی سره دي، د خزانو کيلي ئې د الله تعالی په واك کې دي، د زياتولو او کمولو پرېکړه ئې د ده له لوري کېږي، هر څه ئې په هغه اندازه پيدا کړي چې ورته ضرورت وو، نه تر خپلې ضروري اندازې زيات او نه کم، دومره چې انسان او د زمکې د سر نور ژوي ورته ضرورت لري، که په دې اندازه کې معمولي تغيير راشي مثلاً د باد حرکت لږ تېز او اضافه شي، له موجوده معمول او طبيعي سرعت ئې سرعت لږ اضافه شي، نو د زمکې په سر به هر څه سره ټکوي، هر څه به نسکوروي او د ژوندانه امکانات به ختموي، که باران لږ اضافه شي، که واوره لږه زياته شي، که ورځ لږ اوږده او طولاني شي، که شپه لږه لنډه شي، که نور او حرارت لږ زيات شي او دا هر څه چې ګورئ، له معين حد نه زيات يا کم شي، د انسان ژوند تهديدوي، خو الله جل شأنه هر څه په معينه اندازه کې راپيدا کړي، د هر شي لپاره يو معين قدر او اندازه ټاکل شوې، هيڅ شی له خپلې اندازې اضافه نه دئ، هيڅ شی له خپل ضروري اندازې لږ نه دئ. چې هر څه له خپلې اندازې لږ اضافه شي ګورئ چې بيا څنګه ترې تنګ شو، باران، دا د ژوند تومنه او وسيله چې لږ له خپلې اندازې اضافه شي بيا دعاګانې کوو چې الله ئې متوقف کړي، واوره، بادونه، چې کله له خپلې طبيعي اندازې لږ اضافه شي ګورئ چې بيا ترې تنګ يو، سوکالي مو تهديد او ژوند راته ګران کړي. نن ساينس همدا خبره کوي چې د زمکې د سر د ټولو توکو اندازه ثابته او تغيير نه منونکې ده، تغيير ئې د دې عالم په اضمحلال منتج کېږي، کوم تغييرات چې موږ ئې ګورو، لکه دا چې بوټي وسوزي او ايرې شي، اوبه بخار

شي، لرګي، پاڼې او هډوکي وراسته شي، په دې سره د شيانو په ثابت مقدار کې تغيير او تبديلي نه راځي بلکي له يوه حالته بل ته بدلېږي، که تاسو يوه فزيك پوه ته دا خبره وکړئ چي قرآن وايي: هر څه په ثابت مقدار کې پيدا شوي نو هغه به فوراً تا ته ووايي: دا يو ستر او ثابت شوي علمي حقيقت دئ.

# د زمکي او آسمان تر منځ تنسيق

په لانديني آيت کې د زمکي او آسمان تر منځ هغه ژور تنسيق ته اشاره شوې چي وايي: له آسمانه د اوبو وربېدل او په دغو اوبو سره د زمکي د سر ژوو اړتيا رفع کول او دانې او مېوې ورته راټوکول ښيي چي د زمکي او آسمان پالونکی رب يو دئ، دغه رب د دواړو تر منځ دا تنسيق رامنځته کړی. قرآن د زمکي او آسمان تر منځ ژور تنسيق، يووالي او ګډ کار داسي انځوروي لکه يو چي د انسان د کور چت وي او بل ئې فرش او دواړو په ګډه ده ته خوندي او مصئون کور جوړ کړی وي، فرمايي:

**يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ٢١ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فِرَٰشٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ فَلَا تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٢٢** البقره: ٢١-٢٢

اې خلکو! د خپل هغه رب عبادت وکړئ چي تاسو ئې هم پيدا کړي يئ او تر تاسو مخکني ئې هم، ترڅو مو ځان ساتلی وي. هغه چي زمکه ئې تاسو ته فرش او آسمان ئې چت کړ او له آسمانه ئې اوبه راکوزي کړې او په هغه سره ئې مېوې

راوایستې، ستاسو لپاره روزي، نو الله لره سیالان مه نیسئ په داسي حال کي چي پوهېږئ (هغه سیال نه لري).

د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- د هغه ذات عبادت وکړئ چي تاسو او تر تاسو مخکي ټول انسانان ئې پیدا کړي.
- همغه ذات چي زمکه او آسمان ئې داسي پیدا کړي او د دواړو ترمنځ ئې داسي تنسیق او یووالی راپیدا کړی چي یو ئې ستاسو د کور د فرش او بل ئې د چت په څېر دئ، له یوه اوبه راورېږي او بل په همدغو اوبو تاسو ته دانه او مېوه راشنه کوي او تاسو ته روزي برابروي.
- ښه پوهېږئ چي نه ستاسو په پیدایښت کي او نه له آسمانه د باران په ورولو او له زمکي د دانې او مېوې په راایستلو کي له الله پرته بل څوك څه ونډه لري.
- ښه پوهېږئ چي الله سیالان نه لري.

دلته درې نوري خبري هم دقت او غور غواړي:

# آسمان زموږ د کور محفوظ چت دئ

پورتنی آیت وایي: زمکه ستاسو د کور فرش ده، نه د تیږي په څېر سخته او نه د ختې په څېر نرمه، نه ډېره سړه او نه ډېره توده، نه ئې فشار ډېر زیات نه ډېر کم او آسمان د دې کور لپاره چت دئ، دقرآن په ګڼ شمېر آیتونو کي آسمان د چت

او محفوظ سقف په نامه یاد شوی، نن او له څوارلس پیړیو وروسته انسانان په دې پوهېږي چې د دوی د زمکې په فضاء کې داسې څه شته چې د زمکې لپاره د یوه محفوظ چت او سقف حیثیت لري، چې هم ئې د لمر له ځینو خطرناکو وړانګو خوندي ساتي او هم له شهاب ثاقب چې په ډېر سرعت سره د زمکې په لوري خوځي خو له دغه سقف سره د تصادم په نتیجه کې یا ذره ذره شي او یا ئې مسیر بدل او په بل لوري مخه کړي. که یوه باانصافه ساینس پوه ته ووایئ چې زموږ په یوه کتاب کې چې څوارلس پېړۍ وړاندې تېرې شوې، څو ځایه راغلي چې دا آسمان ستاسو د زمکې لپاره محفوظ سقف او چت دئ، خو یو وخت به په دې کې چاودونه او سوري راپیدا شي! همغه خبره چې تاسو ئې نن کوئ، د زمکې فضاء د هغې خوندي سقف ګڼئ او د اوزون پرده ئې د لمر له مضرو وړانګو د خوندي پاته کېدو وسیله، همغه پرده چې اوس د کاربن ډای اکسایډ ګازونو د زیاتېدو په وجه ځای ځای کې سولېدلې او سوري په کې راپیدا شوي، ما ته ووایئ چې د هغه عکس العمل به څه وي؟ د دې دقیقي علمي وینا او وړاندوینې په اړه به څه وایي؟ د قرآن او د هغه د راوړونکي په اړه به څه قضاوت کوي؟ آیا له دې پرته د بلې خبرې مجال ورته شته چې ووایي: دا خبره د یوه انسان خبره نشي کېدی، هغه څوك ئې کولی شي چې زموږ د فضاء له ډېرو اسرارو خبر وي. او په قرآن کې د دغسې خبرو په استناد ویل شوي چې د دې کتاب رالېږونکی هغه ذات دئ چې د زمکې او آسمانانو په اسرارو پوه دئ.

همدا راز د آسمان او زمکې ترمنځ دا دقیق یووالی او تنسیق ښیي چې د انسان او د آسمان او زمکې پیدا کوونکی او پالونکی یو ذات دئ، له یوه اوبه راوروي او په همدغو اوبو له بلې ښایسته بوټي او دانې او خوندوري مېوې راپیدا کوي او په دې سره د انسان اړتیا ته ځواب وایي او هغه ته رزق او روزي برابروي. دا تنسیق چا راوستی او د کومې خبرې شهادت ورکوي؟ آیا همدا کافي نه دئ چې ووایئ: الله

سيالان نه لري.

# د وربځو په اړه د قرآن علمي وينا

د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې د وربځو د جوړېدا، آسمان ته پورته کېدا، په بېلو بېلو برخو وېشل کېدا، د بادونو په واسطه لرو لرو سيمو ته د دوی انتقال، د واورو، باران او ږلۍ په څېر ورېدا، د همدې په سبب د مړې زمکې ژوندۍ کېدا ته اشاره شوې، د وربځو په اړه د قرآن هر آيت ځان ته يو علمي اعجاز دئ، د وربځو ټولو علمي برخو ته په ډېري جامع او علمي توګه اشاره کوي. په دې اړه لاندي آيتونو ته ځیر شئ:

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُزْجِي سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُۥ ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ رُكَامًا فَتَرَى ٱلْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَٰلِهِۦ وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن جِبَالٍ فِيهَا مِنۢ بَرَدٍ فَيُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ وَيَصْرِفُهُۥ عَن مَّن يَشَآءُ ۖ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهِۦ يَذْهَبُ بِٱلْأَبْصَٰرِ ٤٣

**النور: ٤٣**

آيا نه ګورې چي الله وربځي روانوي، بيا ئې په خپلو کې سره پيوست کوي، بيا ئې سر په سر کوي، نو د باران څاڅکي به ګورې چي له منځه ئې راوځي، او په آسمان کې د يخ له غرونو ږلۍ وروي او هغه چا ته ئې رسوي چي دی ئې وغواړي او له هغه چا ئې بلي خوا ته وړي چي دی ئې غواړي، نږدې وي چي د برېښنا رڼا ئې سترګي له منځه يوسي.

په دې مبارك آيت كې زموږ پام هغو وريځو ته اړول شوی چې كه هغه نه وی نو د زمكې پر سر به هيځ ژوی نه وو، هغه چې د ژوند تومنه ده او د ژوو لومړۍ اړتيا. آيا نه گورې چې الله تعالی وريځې جوړوي، د هغو سيمو په لور ئې روانوي چې هستوگن ئې اوبو ته اړ دي، هره برخه ئې په ځانگړي لوري خوځوي، خپلې خپلې سيمې ته له رسېدو وروسته ئې په خپلو كې سره پيوست كړي، بيا ئې سر په سر كړي، په خپل ځای او په خپل وخت كې د باران څاڅكي ترې راووځي، تر دې وړاندې او له جوړېدو سره سم نه ښځېږي، د لارې په اوږدو كې نه ښځېږي، له لوښې پرته او د هوا پر اوږو اوبه انتقالوي، په خپل ټاكلې ځای كې به گورې چې خاص تغييرات په كې راشي او له منځه ئې د اوبو څاڅكي راووځي، په يوې سيمې كې باران ترې راوورېږي، په بلې كې واوره او په بلې كېږلۍ، ږلۍ له هغو وريځو راوروي چې د يخ غرونو ته ورته وي، دا خطرناكه ږلۍ تل نه بلكې كله كله ئې وروي او هغه چا ته ئې رسوي چې دی ئې وغواړي او له هغه چا ئې بلې خوا ته وړي چې دی ئې غواړي، دا د اوبو له بخاراتو جوړې شوې وريځې د برېښنا منفي او مثبت بارونه لري، كله چې د وريځو بېل بېل ځپري سره نږدې يا سر په سر شي نو د برېښنا دا مثبت او منفي بارونه سره شارټ شي، او په دې سره ډېره زياته تودوخه رامنځته شي، رڼا ئې دومره زياته وي چې سترگې وړي، همدا باعث شي چې له وريځو د باران څاڅكي وورېږي. كوم څه چې دلته د وريځو د تشكيل، د باران او ږلۍ د ورېدو په اړه په دې آيت كې ويل شوي ټول همغه څه دي چې ساينس ئې وايي. د قرآن په گڼ شمېر آيتونو كې د وريځو د جوړېدا، آسمان ته پورته كېدا، په بېلو بېلو برخو وېشل كېدا، د بادونو په واسطه لرو لرو سيمو ته د دوی انتقال، د واورو، باران او ږلۍ په ځېر ورېدا، د همدې په سبب د مړې زمكې ژوندۍ كېدا ته اشاره شوې، د وريځو په اړه د قرآن هر آيت ځان ته يو علمي اعجاز دئ، د وريځو ټولو علمي برخو ته په ډېرې جامع او علمي توگه اشاره كوي.

دې بل آيت ته هم ځير شئ:

وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡمُعۡصِرَٰتِ مَآءٗ ثَجَّاجٗا ١٤ لِّنُخۡرِجَ بِهِۦ حَبّٗا وَنَبَاتٗا ١٥
وَجَنَّٰتٍ أَلۡفَافًا ١٦ النبأ: ١٤-١٦

او اوبه مو کړې راتوی له نښتېځونکو پرله پسې. چې راوباسو په دې سره څه بوټي څه دانې. او سمسوره ګڼ باغونه.

په دې مبارك آيت كې، وربځي د معصرات يعني زبېښبېدونکې په نامه يادې شوې، په دې پوهېږو چې وربځي د اوبو متكاثف او راغونډ شوي بخارات دي، چې د هوا د فشار او تودوخي په تغيير سره د اوبو په څاڅکو واوړي او د باران، واوري او ږلۍ په څېر وربېږي، د ډېر وړانګي د دې باعث شي چې د سيندونو اوبه تبخير شي، په وربځو واوړي، بادونه ئې په خپل سر واخلي، لرو لرو سيمو ته ئې انتقال کړي، د غرونو پر جګو څوکو د واوري په څېر او په آوارو او معتدلو برخو د باران په څېر وورېږي، که دا نظام نه وی نو زمکه به د ژوند لپاره وړ نه وه، د دې موضوع په اهميت هلته ښه پوهېدی شو چې څو اساسي ټکيو ته پام وکړو:

لومړی- که د بحرونو اوبه تبخير نه شي او د وربځو په توګه فضاء ته پورته نه شي، ځيني برخي ئې په فضاء کې، ځيني ئې په غرونو او سړو سيمو کې د واورو د سترو سترو زېرمو په شکل کې او ځيني ئې د زمکې لاندي برخي کارېزونو او چينو کې او يوه برخه ئې د زمکې پر سر د نهرونو په څېر خوندي نه شي، ټوله زمکه به په اوبو کې غرق او ټولي وچې به تر اوبو لاندي شي.

دوهم- د څښاك هيڅ پاکې اوبه به مو نه درلودې، له لنډې مودې وروسته به ټولي اوبه د سيندونو د اوبو په څېر تروې، ناولې او تېزابي کېدې او د څښلو وړ به نه وې.

دريېم- د انسانانو، حيواناتو او نباتاتو لپاره چې هره ورځ څومره اوبه په کار دي، دا

لوی مقدار صافي او د استفادې وړ اوبه برابرول له بلي هيڅ لاري او په بلي هيڅ عمليې سره ممکن او مقدور نه دي، د (ثجاج) لفظ چي د پرېمانه او پر له پسې په معنی دئ د همدې لپاره په دې مبارك آيت کي راغلی او همدغه حقيقت ته اشاره کوي.

ځلورم- محتاجو او اړو سيمو ته د دې مقدار اوبو انتقال هومره پراخو امکاناتو ته ضرورت لري چي د انسان له توانه ډېر ډېر اوچت دئ، آيا په دې پوهېږئ چي يوه واړه ښار ته پاکي اوبه رسول، څومره ګران کار دئ او څومره مصارف غواړي، د دې پوښتنه له هغو ملکونو وکړئ چي د بحر خوا ته پراته او د ځمکي لاندي اوبه ئې تروې دي او دې ته اړ چي د بحر اوبه تصفيه کړي ترڅو خپلو خلکو ته د څښاك صافئ اوبه برابري کړي.

پنځم- دا ورښت دئ چي د ځمکي هوا تصفيه کوي، فضاء له زهرجنو او مضرو ګازونو، مکروبونو او ګندګيو تصفيه کوي او استنشاق او تنفس ته ئې تياروي، له ورښت پرته له بلي لاري د ځمکي د سر د ټولو حيواناتو او انسانانو د ضرورت وړ دومره زياته صفا هوا برابرول ممکن نه ده، په بلي هيڅ عمليې دا کار نه شي کېدی.

په ١٥او١٦آيتونو کي د ورښت هدف ته داسي اشاره شوې: له آسمانه په دې ورېدونکو اوبو سره ستاسو له ځمکي بوټي او وني او دانې او مېوې راباسو، آسمان ستاسو لمر په خپلي غېږ کي نيولی، د ځمکي په لور خپلي وړانګې خوروي اوبه تبخيروي، دا بخارات په ورېځو بدل شي، لرو لرو سيمو ته انتقال شي، له بره پر تاسو باران وروي او په همدې باران سره د ځمکي له زړه دانه او مېوه راپيدا کوي، آيا دا تاسو ته په ډېر صراحت او وضاحت سره نه وايي چي د ځمکي او آسمان تر منځ دقيق يووالی او تنسيق حاکم دئ، دواړه يو بل ته لاس ورکوي او د يوې دقيقی منصوبې او طرحي له مخي په ګډه کار کوي او ستاسو اړتياوو ته ځواب وايي، بوټي

او وني د زمکي ختڼه زيږښي، ستاسو د ضرورت وړ توکي جذبوي او له هغه داسي ښکلې دانې او مېوې جوړوي چي رنګ ئې ښايسته، خوند ئې لذيذ، بوی ئې ښکلی، شکل ئې جذاب او هضم ئې آسانه او همدا ستا غذا! دا بهير موږ ته ښيي چي د زمکي او آسمان د چارو تدبير له يوې مرجع ترسره کېږي او له دې بهيره ثابتېږي چي څه په آسمان کي ترسره کېږي او څه پر زمکه واقع کېږي، دا ټول د يوې دقيقي او منظمي منصوبې له مخي ترسره کېږي، دلته هر حرکت هدفمن دئ، دلته هرڅه سم پيدا شوي او په سم لور خوځي، نه څه خوشی او عبث پيدا شوی او نه په خپل سر او بې مقصده لګيا دئ.

## ډبري سوزي!!

لکه څنګه چي د بقرې د سورې په پورتني آيت کي د قرآن د علمي اعجاز يوه بېلګه زموږ مخي ته راغله په ورپسې آيت کي يوه بله بېلګه زموږ په وړاندي

ځلېږي، هلته چي فرمايي:

فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ وَلَن تَفۡعَلُواْ فَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِي وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُۖ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ ٢٤ البقره: ٢٤

...له هغه اور نه ځان وساتئ چي سوند ئې خلك او ډبري دي، چي كافرانو ته تيار كړی شوی.

د قرآن د نزول په وخت كې هيچا دا خبره نه شوی منلی چي تيږي هم د اور سون كېدی شي، معلومه نه ده چي مخالفينو به هغه وخت په دې خبري باندي څومره تمسخر كړی وي، څومره به ئې په خپلو مجالسو كې ويلي وي چي دا ليونيان اوس دا خبره هم مني چي تيږي سوزي، هيڅ عاقل انسان د تيږي سوزيدل نه مني!! خو تاسو اوس يوه فزيك پوه ته ووايئ: جنابه! آيا تيږي سوزي؟ هغه به ډېر ژر او له كوم تأمل او ځنډ پرته درته ووايي: هو؛ سوزي، يوازي تيږي نه بلكي هرڅه، حتى اوسپنه هم، هرڅه د اور په اوچتو درجو كې سوزي، دغه اوبه او دا خاوره هم چي ته ئې د اور وژلو لپاره كاروې. او كه هغه ته ووايئ: زموږ په دغه كتاب كې چي څوارلس پېړۍ وړاندي تېري شوې راغلي چي تيږي به د اور سوند وي، هغه وخت زموږ د كتاب په دې خبري مخالفينو ملنډې وهلې او دا ئې ستر دروغ ګڼلو، ما ته ووايئ: د دې فزيك پوه غبرګون به څه وي او د دې كتاب او د هغه د وړاندي كوونكي په اړه به څه فكر كوي؟!! او د هغو خلكو په اړه به څه وايي چي د قرآن په دې وينا ئې ملنډې وهلې؟!!

# په ډبرو کې اوبه

قرآن د ډبرو د ترکیب په اړه فرمايي:

**... وَإِنَّ مِنَ ٱلۡحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنۡهُ ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ وَإِنَّ مِنۡهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخۡرُجُ مِنۡهُ ٱلۡمَآءُۚ ...** البقره: ۷۴

او د تيږو ځيني داسي دي چي ويالې ترې بهېږي او ځيني داسي چي ټوټې ټوټې شي نو اوبه ترې راوځي...

په دې مبارك آيت کې يو داسي حقيقت توضيح شوی چي انسان فقط په شلمه پېړۍ کې او د قرآن له نزول څوارلس سوه کاله وروسته او له ډېرو علمي تحقيقاتو بعد ورباندي پوه شو او هغه دا چي د سختو تيږو (مينرالونو) په ترکيب کې د اوبو ماليکولونه شته، په دې حقيقت هلته پوه شو چي تيږي او منرالونه ئې تجزيه کړل او د ټولو په ترکيب کې ئې د اوبو ماليکولونه وموندل او دا همغه حقيقت دئ چي قرآن په دې الفاظو سره بيان کړی: او له تيږو ځيني داسي دي چي ويالې ترې بهېږي او ځيني داسي چي ټوټې ټوټې شي نو اوبه ترې راوځي!! چي کله قرآن دا خبره کوله هيچا دا گمان هم نه شو کولی چي د کلکو ډبرو په ترکيب کې به د اوبو ماليکولونه وي!!

# تريو سمندر د خوږ سمندر په څنگ کې

په شلمي پېړۍ کې او هغه مهال چي انسانان وتوانېدل ستري ستري او سريع ببړۍ جوړي کړي او د سمندر ډېري برخي تر خپل واك لاندي راولي، د زمکي هغو سيمو ته ورسېږي چي د واورو او کنگلونو سترو سترو غرونو پوښلې دي، شمالي او

جنوبي قطبونو ته ورسېږي، په بحر کې ئې داسي سيمي وموندې چي دوه بېل بېل سمندرونه يو د بل خوا ته پراته دي، د يوه اوبه مالگيني او تروې او د بل خوږې او خوندوري، تر منځ ئې د اوبو داسي پرده او حجاب چي دوی سره بېل ساتي او د يوه اوبه په بل کي نه ننوځي، په هر يوه کي ئې د ژوو داسي بېل بېل ډولونه وموندل چي د بل اوبو ته له ننوتو ډډه کوي، دا يو عجيب کشف وو، ساينسپوهانو پرې تحقيقات پيل کړل چي وگوري د دې بحرونو منشأ څه ده او د بېلوالي وجه ئې څه، ورته معلومه شوه چي اساسي عوامل ئې دوه دي: ۱- د تودو سيمو سمندرونه د تودوخي له کبله تبخير کېږي، د اوبو بخارات لوړ ځي، د اوبو د برنۍ برخي د املاح (ډول ډول مالگو) کچه او ترپووالی او تيزابيت ئې ورو ورو زياتېږي، له لوړو چي دغو بحرونو ته د دريابونو له لاري کومي اوبه راځي له ځان سره ډېر املاح رانتقالوي او ورځ په ورځ د بحر د املاح او مالگو کچه زياتوي. ۲- د واوري کوم غرونه چي د زمکي په شمالي قطب کي دي او په دوبي کي ورو ورو ويلي کېږي، د دې ويلي شوې واوري اوبه د عادي اوبو په څېر خوندوري وي او هيڅ ترپوالی نه لري، دا اوبه د سمندر د نورو سيمو په لوري خوځېږي، هلته د دغو اوبو او د سمندر د اوبو تر منځ د داسي اوبو يوه اوږده گاره جوړېږي چي د کثافت او ترپووالي کچه ئې د دواړو لوريو اوسط اندازه کي وي، نه د بحر د اوبو په څېر ډېري تروي او نه د ويلي شوو واورو د صافو اوبو په څېر خوندوري، دا گاري دا دواړه تروې او خوندوري اوبه سره بېلوي، د اوبو په دغو دريو بېلو بېلو ډولونو کي بېل بېل ډولونه ژوي ژوند کوي!!

همداراز کوم لوی لوی دريابونه چي په سمندر کي توئېږي، تر اوږدې مسافې پوري همداسي وړاندي درومي او د خپلو اوبو کيفيت او خوند له لاسه نه ورکوي، د مثال په توگه د امازون درياب له هغه وروسته چي د اطلس سمندر ته رسېږي نو نږدې دوه سوه کيلومترو پوري په سمندر کي وړاندي درومي او تر همغه ځايه د

خپلو اوبو د خوند کيفيت خوندي ساتي.

اوس چې د ساينسپوهانو دا کشف تاسو ته واضح شو راشئ وګورو چې آيا قرآن دې حقيقت ته اشاره کړې که نه؟ په دې اړه د قرآن دغو آيتونو ته ځير شئ:

وَهُوَ ٱلَّذِي مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ هَٰذَا عَذۡبٞ فُرَاتٞ وَهَٰذَا مِلۡحٌ أُجَاجٞ وَجَعَلَ بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٗا وَحِجۡرٗا مَّحۡجُورٗا ٥٣ الفرقان: ٥٣

او الله هغه ذات دئ چې دوه سمندرونه ئې داسې پرېښي چې دا ئې خوږ او خوندور دئ او دا (بل) ئې مالګين او تريو، او د دوی تر منځ ئې داسې پرده او مانع اچولې چې (د دوی د ګډېدو) مخنيوی کوي.

أَمَّن جَعَلَ ٱلۡأَرۡضَ قَرَارٗا وَجَعَلَ خِلَٰلَهَآ أَنۡهَٰرٗا وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِيَ وَجَعَلَ بَيۡنَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ حَاجِزًاۗ ... النمل: ٦١

هغه څوك دئ چې زمکه ئې ټمځی ګرځولې او د هغې په منځ کې ئې نهرونه جوړ کړي او هغې ته ئې لنګرونه (غرونه) جوړ کړي، او د دوو سمندرونو تر منځ ئې پرده او مانع جوړه کړې.

مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ يَلۡتَقِيَانِ ١٩ بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٞ لَّا يَبۡغِيَانِ ٢٠ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٢١ يَخۡرُجُ مِنۡهُمَا ٱللُّؤۡلُؤُ وَٱلۡمَرۡجَانُ ٢٢ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٢٣ وَلَهُ ٱلۡجَوَارِ ٱلۡمُنشَـَٔاتُ فِي ٱلۡبَحۡرِ كَٱلۡأَعۡلَٰمِ ٢٤

الرحمن: ١٩-٢٤

دوه سمندرونه ئې داسې سره پرېښي چې مخامخ کېږي، تر منځ ئې داسې پرده چې تېرى (تېرې) نه کوي، نو د خپل رب کوم کوم نعمتونه تکذيبوئ؟ له دوی دواړو مرغلرې او مرجان راوځي، نو د خپل رب کوم کوم نعمتونه تکذيبوئ؟ او په سمندر کې ئې داسې جوړې شوې تلونکې (بېړۍ) دي چې د غرونو په څېر دي. نو د خپل

رب کوم کوم نعمتونه تکذیبوئ؟

دلته څو خبري توجه او دقت غواړي:

- دې ته مو پام وي چي دلته د پیدا کولو (خلق) او جوړولو (جعل) پر ځای د (مرج) لفظ کارول شوی چي د پرېښودو معنی ورکوي، یعني الله تعالی دا دوه بحرونه په داسي حال کي پرېښېدي چي د یوه اوبه په بل کي فوراً ګډېږي او خلط نشي، تر منځ ئې پرده او مانع راپیدا کړي او هر یو خپله ځانګړتیا تر اوږدې مودې خوندي وساتي.
- په دې مبارکو آیتونو کې نه یوازي هغه حقیقت ته اشاره شوې چي د دوو بېلو بېلو بحرونو په اړه انسان ته په شلمي پېړۍ کې معلوم شو بلکي د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز هم زموږ په وړاندي ځلېږي، او هغه دا: دومره ستري ستري بېړۍ چي غرونو ته ورته وي، تر شلمي پېړۍ وړاندي نه وې جوړي شوې، په دغي پېړۍ کې داسي کښتۍ جوړي شوې چي د یوه لوی هوائي ډګر په څېر د فوځ یو لوی مجهز غونډ، له ګڼ شمېر جنګي جهازونو، هلیکوپټرو او توپونو سره حمل کوي، یقیناً چي دا د قرآن یوه وړاندوینه وه چي مصداق ئې اوس په خپلو سترګو ګورو، دې حقیقت ته د قرآن په یوه بل آیت کې داسي اشاره شوې:

وَءَايَةٌ لَّهُمۡ أَنَّا حَمَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ٤١ وَخَلَقۡنَا لَهُم مِّن مِّثۡلِهِۦ مَا يَرۡكَبُونَ ٤٢ یس: ٤١- ٤٢

او دوی ته یوه څرګنده نښه دا ده چي د دوی زامن مو په ډکي کښتۍ کې سپاره کړل او دوی ته مو دې ته ورته داسي څه (بېړۍ) راپیدا کړې چي پرې سپرېږي.

دلته په ٤١ آیت کې د نوح علیه السلام کښتۍ ته اشاره شوې او وروسته په ٤٢ آیت کې داسي کښتیو ته اشاره شوې چي وروسته وروسته به ئې انسانان جوړوي.

اوس ما ته ووایئ: رسول الله صلی الله علیه و سلم څنګه په هغو حقائقو پوه

شوی وو چي انسانان څوارلس پېړۍ وروسته پرې پوه شول؟ آیا یو عقلمن او منصف انسان کولی شي دا ستر حقیقت له پامه وغورځوي، عادي خبره ئې وګڼي او د رسول الله  صلی الله علیه و سلم د نبوت واضح او څرګنده نښه ئې ونه ګڼي؟!!

# د نړۍ تر ټولو تیاره ځای

محققین او کائنات پېژاندي د خپلو څېړنو په ترڅ کې دې نتیجې ته رسېدلي چي د زمکي پر سر تر ټولو تیاره ځای د سمندر تل دئ، په ځانګړې توګه هغه مهال چي سمندر څپانده وي او پر سر ئې پرېړي ورېځي وي، دا ځکه چي له یوه پلوه ورېځي نه پرېږدي چي د لمر ټوله رڼا زمکي ته راشي، ډېره لږ سلنه ئې توانېږي چي له پرېړو ورېځو تېره شي، له بلي خوا د سمندر د سر څپې د دې مانع کېږي چي رڼا په مستقیمه توګه لاندي تېره شي، د سمندر د برنۍ برخي په څېر په لاندنیو برخو کې هم بېلي څپې رامنځته کېږي، د دغو دواړو برنیو او لاندنیو څپو د حرکت لوري هم په خپلو کې توپیر لري، او دا د وړانګو د تېرېدو په وړاندي مزید موانع رامنځته کوي، نه پرېږدي چي د رڼا وړانګي په مستقیمه کرښه لاندي لاړې شي، څپې ئې جهت وربدل کړي، په دې توګه د سمندر تل ته د لمر د وړانګو د رسېدو ټول امکانات له منځه ځي. نو ځکه وایي چي د زمکي د سر تر ټولو تیاره ځای د ژور سمندر تل دئ. راشئ وګور چي آیا قرآن هم دې حقیقت ته اشاره کړې که نه؟! دې مبارك آیت ته ځیر شئ:

**أَوۡ كَظُلُمَٰتٖ فِي بَحۡرٖ لُّجِّيّٖ يَغۡشَىٰهُ مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ سَحَابٞۚ ظُلُمَٰتُۢ بَعۡضُهَا فَوۡقَ بَعۡضٍ إِذَآ أَخۡرَجَ يَدَهُۥ لَمۡ يَكَدۡ يَرَىٰهَاۗ وَمَن لَّمۡ يَجۡعَلِ ٱللَّهُ لَهُۥ نُورٗا فَمَا لَهُۥ مِن نُّورٍ ٤٠** النور: ٤٠

او يا لکه په ژور سمندر کې هغه تيارې چې له پاسه ئې څپې سر په سر وي، او ترې بره وريځ، تيارې يوه د بلې د پاسه، که خپل لاس راوباسي نشي کولی وئې وګوري، او چا ته چې الله نور نه وي په برخه کړی نو هيڅ رڼا به ئې په برخه نشي.

دلته کافر له داسې چا سره تشبيه شوی چې د ژور سمندر په تل کې لوېدلی، د سمندر لاندې برخې کې هم اوبه څپانده دي او برنۍ برخه کې ئې هم، د بحر پر سر پرېړو وريځو خپل تور وزر خور کړی، په دې توګه پرېړو پرېړو تيارو احاطه کړی، نه يوازې خپله شاوخوا نشي ليدلی بلکې خپل لاس هم نه ويني، يعنې هم د ځان له پېژندا عاجز دئ او هم د خپل ماحول له پېژندا!!

پوښتنه دا ده چې د مکې په بيديا کې ستر شوی امي پيغمبر صلی الله عليه و سلم، هغه چې په خپل ټول ژوند کې ئې په سمندر کې سفر نه وو کړی، د بحر سترې سترې څپې ئې نه وې ليدلې، څنګه پوه شو چې د بحر په ژورو برخو کې هم اوبه څپانده وي، دا څپې له برنيو څپو سره توپير لري، څنګه پوه شو چې د زمکې د سر تر ټولو تياره ځای د ژور سمندر تل دئ؟!! څنګه ئې د بحر په اړه داسې وينا وکړه چې ساينسپوهان په شلمې پېړۍ کې پرې پوه شول؟! دې ته مو پام وي چې د سمندر د لاندينو برخو څپې يوازې هغه مهال انسان ته معلومې شوې چې پرمختللې اوبتلونه ئې جوړ کړل او د سمندر په تل کې د سفر مجال په لاس ورغی او وئې ليدل چې هلته هم اوبه څپانده وي!!

# لمر هم د حرکت ځانګړی مسیر لري

یو مهال خلکو داسي انګېرله چي زمکه ولاړه ده او لمر خوځي، بیا کله چي د لمر پر محور د زمکي چورلېدا ورته څرګنده شوه داسي ئې انګېرله چي لمر ولاړ دئ او زمکه خوځي، وروسته وروسته ورته جوته شوه چي لمر هم له ټولو هغو اجرامو سره چي د ده پر محور څرخي په یوه ستر مدار کي منظم او مسلسل خوځي، له خپلو دغو اقمارو سره: عطارد، زهرة، زمکه، مریخ، مشتری، زحل، أورانوس، نپتون او پلوتون، چي ځیني د زمکي په څېر اقمار او سپوږمۍ هم لري، چي دوی په یوې سطحي کي خو په بېل بېل مدار او فلك کي د لمر پر محور څرخي، له لمر د هر یوه واټن هم د ریاضي د یوې ثابتي قاعدې مطابق دئ، داسي چي ستورپېژاندو ویلي: که د دغو ستورو لپاره په ترتیب سره ۰، ۳، ٦، ۱۲، ۲٤، ٤۸، ۹٦، ۱۹۲، ۳۸٤ شمېرې وټاکو، بیا د هر ستوري د واټن معلوملو لپاره د هغه له شمېرې سره څلور جمع کړو او بیا ئې په نهو میلونو ضرب کړو، نو د ضرب حاصل به له لمر د دغه ستوري واټن وي، د مثال په توګه د زمکي شمېره شپږ ده، ٦+٤=۱۰کېږي، اوس که لس له نه میلیونه سره ضرب کړو نو نوي ملیونه کېږي او د دې قاعدې له مخي زمکه له لمر نوي ملیونه میله لري ده، همدا راز زهره له لمر(۳+٤)x ۹۰۰۰۰۰۰= ٦۳۰۰۰۰۰۰ میله. خو دې ته مو پام وي چي د مریخ او مشتري تر منځ ګڼ شمېر واړه ستوري موقعیت لري چي د دې قاعدې له مخي ئې شمېره ۲٤ ده، دا ټول په خپل مدار کي له لمر سره یو ځای په یوه ستر مدار کي خوځي، د دې شمسي نظام سرعت په هر ساعت کي اوه سوه زره ۷۰۰۰۰۰ کیلومتره دئ. دا مدار په نږدې دوه سوه پنځوس ملیونه کلونو کي یو ځل پلي کوي، دې ته مو پام وي چي لمر هم د نورو ستورو او زمکي په څېر پر خپل محور هم څرخي، لمر پر خپل محور په اته ویشتو

ورځو، شپږ ګنټو او دري څلوېښت دقيقو کې يو ځل څرخي. لمر نږدې نيمايي عمر خوړلی او همدومره نور ورته پاته دئ چې د نورو ستورو په څېر خپله ځلا او نور له لاسه ورکړي. لمر له خپلو ستورو او زمکې سره يو ځای د هغه مرکز پر شاوخوا څرخي چې $10^{17} x2.7$ يعني: $(10)^{17} x2.7 = 270000000000000000$ کيلومتره ترې لري دئ. دا مسير په دوه سوه پنځوس مليونه کاله کې پلې کوي. لمر نږدې ٤,٧ مليارد کاله وړاندې پيدا شوی او تر اوسه ئې خپل مسير اتلس ځلې پلې کړی، زموږ شمسي نظام له اړوند ستور ليکې سره يو ځای د يوه بل مرکز په شاوخوا څرخي. دا حقائق د شلمې پېړۍ په وروستيو کې ستور پېژاندو ته څرګند شو.

راشئ وګورو چې قرآن په دې اړه څه وايي، د قرآن دغو آيتونو ته ځير شئ:

**وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ٣٨ وَٱلۡقَمَرَ قَدَّرۡنَٰهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ كَٱلۡعُرۡجُونِ ٱلۡقَدِيمِ ٣٩ لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ ٤٠** يس: ٣٨-٤٠

او لمر په خپل مستقر او ځای کې دورمي، دا د يوه ځواکمن ذات مقدر ټاکنه ده، او سپوږمۍ ته مو منازل ټاکلي تر هغه چې د کجورې د وچې زړې څانګې په څېر شي، نه لمر ته ښايي چې سپوږمۍ لاندې کړي او نه شپه پر ورځ وړاندې کېدونکې ده، او هر يو په خپل خپل فلك کې لامبي (په فضاء کې دورمي).

دا مبارك آيتونه څو ستر ستر علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي:

- لمر د حرکت ثابت او ټاکلی مدار لري. او دا هغه حقيقت دئ چې انسان په شلمې پېړۍ کې پرې پوه شو. قرآن دې مدار ته د مستقر او فلك نوم ورکړی، وايي لمر دورمي خو په يوه ثابت مستقر او مدار کې، او دا هغه علمي حقيقت دئ چې ساينس اوس پرې پوه شوی.

- سپوږمۍ د حرکت ټاکلي پړاوونه لري، په هر پړاو کې موږ ته په یوې بڼې کې راښکاري، د نرۍ سپینې ګارې په څېر راڅرګندېږي، ورو ورو ستره شي، بشپړه شي، بیا ورو ورو وړېږي، تر هغه چې له سترګو پټه شي.

دا دئ ګورئ چې د لمر او نورو ستورو د حرکت په اړه د قرآن وینا څومره دقیقه ده چې وایي: کل في فلك یسبحون: هر یو په یوه فلك او مدار کې خوځي!!!

# په سپوږمۍ کې د ژوند آثار ونه موندل شول

که تاسو ورته ځیر شوي وئ نو ګورئ چې د یس د سورې په ۳۹ آیت کې د سپوږمۍ لپاره د (عرجون القدیم) الفاظ کارول شوي، عرجون القدیم زړې وچې څانګې ته وایي، د سپوږمۍ لپاره دا الفاظ کارول ډېر عجیب برېښي، په سطحي او ظاهري نظر خو دا مطلب ترې اخیستل کېږي چې سپوږمۍ د میاشتې په آخري شپو کې د خرما د وچې څانګې په څېر نرۍ شي، خو ولې دا مطلب په نورو الفاظو سره نه دئ بیان شوی؟ د دې پوښتنې ځواب د هغو څېړنو په نتائجو کې ترلاسه کولی شئ چې سپوږمۍ ته د انسان له ختلو وروسته ترلاسه شول، کله چې انسان د سپوږمۍ پر سر کوز شو، ډېرې ئې زمکې ته راکوزې کړې، د سپوږمۍ د ډبرو د ترکیب په اړه ئې تحقیقات وکړل، د سپوږمۍ ډېرې برخې ئې له نظره تېرې کړې، ورته معلومه شوه چې په سپوږمۍ کې نه اوکسیجن شته، نه اوبه، نه نباتات او نه ژوي، تر دې وړاندې ئې داسې انګېرله چې ښایي د سپوږمۍ جوړښت او د سطحې او فضاء د موادو او غازاتو ترکیب به ئې زمکې ته ورته وي، خو هلته ئې حالات د خپلو انګېرنو او انتظار خلاف وموندل، د مزیدو تحقیقاتو په ترڅ کې دا هم ورته ثابته شوې چې سپوږمۍ له سره او په ابتداء کې داسې نه وه، په لومړیو کې ئې اوبه

درلودې خو ورو ورو ئې دا اوبه له لاسه ورکړې دي او اوس يوه داسي کُره ده چي نه د ژوند آثار په کي تر سترگو کېږي او نه د اوبو!! لکه هغه څانگه چي وچه شوې وي هم ئې خپل لوندوالی له لاسه ورکړی وي او هم د ژوند نښي او آثار!! ما ته ووايئ: آيا د سپوږمۍ په اړه د قرآن دا علمي وينا يو ستر علمي اعجاز نه دئ.

په دې آيت کي دا هم راغلي چي ورځ له شپې راباسو!! راشئ وگورو چي د دې وينا مطلب څه دئ.

ورځ د شپې په پرتله داسي ده لکه د يوه شي له پاسه د هغه پوستکی، شپه هغه مهال رامنځته کېږي چي د ورځي د رڼا دا روڼ پوښ ورو ورو ترې وايستل شي، شپه او تياره د زمکي اصلي حالت دئ، زمکه تياره ده، له ځانه رڼا نه لري، د لمر رڼا ئې روښانه کوي، رڼا کول ئې داسي دي لکه چي د نور پرده ورو ورو پرې غوړېږي او تياره کېدا ئې داسي لکه دا د رڼا پرده چي ورو ورو ترې لري کېږي، د شپې او ورځي په اړه د قرآن دا علمي تعبير دومره دقيق او په زړه پوری دئ چي په اهميت او ارزښت ئې هغه څوك ښه پوهېږي چي د شپې ورځي د تلو راتلو حالت د فضاء له لوړو وگوري، هلته انسان ته څرگندېږي چي رڼا د زمکي له يوې برخي بلي ته په داسي بڼې کي وځي لکه له يوه تور رنگي شي چي سپينه رڼه پرده ورو ورو ايستل کېږي.

# لمر نشي کولی سپوږمۍ جذب کړي

په پورتنيو آيتونو کي دا هم ويل شوي چي لمر نشي کولی سپوږمۍ د ځان لوري ته جذب کړي، سره له دې چي د لمر جاذبه دومره ځواکمنه ده چي لس داسي اجرام په خپل مدار کي ساتي چي هر يو ئې تر سپوږمۍ څو څو ځلي ستر دئ، الله تعالی د زمکي، لمر او سپوږمۍ تر منځ فاصله او جاذبه داسي ټاکلې چي لمر نشي کولی

سپوږمۍ جذب کړي.

- لمر د سپوږمۍ د جذبولو، له خپل ځانګړي مداره د هغې د ایستلو فرصت نه ترلاسه کوي، یو د بل په مدار کې نه ننوځي، هر یو په خپل مسیر کې خوځېږي، د دوی ترمنځ ټکر او تصادم نه رامنځته کېږي، په دې وسیع کائنات کې دا بې شمېره اجرام، هر یو په یوه معین مدار کې خوځېږي، یو بل نه مومي چې له هغه سره ټکر وکړي او هغه جذب کړي، هر یو خپل حد پېژني، له هغه تېری او تجاوز نشي کولی، نه لمر له خپل ټاکلي مدار او مستقر بل لوري ته خوځېدلی شي او د سپوږمۍ په مدار کې داخلیدلی شي او نه هغه جذبولی شي، نه د دغو دواړو ترمنځ تصادم او ټکر راځي او نه هم شپه په ورځ باندې سبقت کولی شي، برعکس هره یوه په خپل وخت او نېټه راځي، دا د سپوږمۍ او لمر لپاره معین حدود چا وضع کړي چې له هغه د یوې ذرې په اندازه د تجاوز او تېري توان نه لري، دا څنګه او د چا د ارادې په وړاندې محکوم او مقهور دي؟

ګورئ چې لمر، زرګونه کاله په پرله پسې او منظمه توګه، له یوه ځایه طلوع کوي او په یوه ځای کې غروب کوي!! دغه معین مسیر طوعاً او کرهاً پلي کوي او له هغه یوه خوا بله خوا د انحراف قدرت نه لري، دا څوك اداره کوي؟ دا په وسیع آسمان کې د ستورو ترمنځ ټکر او تصادم ولې نه راځي؟ ولې یو د بل مسیر ته نه داخلېږي؟ دا هر یو په خپل خپل مسیر کې څوك اداره کوي؟ د دې تر شا د چا اراده ده؟ د چا د ارادې په وړاندې محکوم او مقهور دي چې په داسې منظم ډول او په ټول انقیاد سره په خپل معین مدار کې خوځېږي او یو انچ، له هغه یوه او بل لوري ته انحراف نشي کولی؟!

همدا راز شپه او ورځ خپل هغه حد پېژني چې ورته ټاکل شوی، له هغه تېری نشي کولی، نه اوږدېږي او نه هم لنډېږي، یوه له بلې سبقت نه کوي چې د شپې پر

ځای ورځ راشي یا د ورځې پر ځای شپه راشي او یوه له بلې سبقت وکړي، بلکې هره یوه خپل حد پېژني او په خپل وخت کې راځي.

په دغې مقدمې سره دوو حقائقو ته اشاره شوې: لومړی دا چې د عالم ټول اشیاء او اجزاء محکوم او مقهور دي او دا چې تحولات د معینو ضوابطو او سننو سره سم تر سره کېږي، له خپلو حدودو تېری نشي کولی، په خپل وخت کې راځي، په خپل ځای کې راځي. او دوهم دا چې شپه او ورځ د طبیعت دوه حالته دي او لمر، سپوږمۍ د طبیعت دوه اجزاء، ګورئ چې دا دواړه مقهور او محکوم دي، خپل مدار طی کوي، یو د بل مدار ته نه داخلېږي، یو له بل سره ټکر او تصادم نه کوي، مالك الملك الله هر یو په خپل مسیر او مدارکې ساتي، د هغه ساتنه کوي او د دغو په حرکت باندې چې کوم نتائج مرتب کېږي، کوم تحولات چې په عالم کې راځي دا هم د معینو سننو او ضوابطو سره سم، یو په بل باندې سبقت نشي کولی، آیا دا دلیل د دې خبرې د ثبوت لپاره کفایت نه کوي چې دا هر څه یو مالك ټولواك اداره کوي، او هر څه د هغه مالك الله د ارادې په وړاندې محکوم او مقهور دي؟

په دې آیت کې د لمر او سپوږمۍ د حرکت لپاره د (سبح: لامبو) صیغه کارول شوې او ښیي چې هر یو په خپل خپل فلك کې د لامبو په څېر خوځي، او دا همغه څه دي چې نن ئې ساینس د دوی د حرکت په اړه وایي. داسې نه ده چې د آسمان ستوري په آزاده توګه د دې پراخ آسمان په غېږ کې خوځي، بلکې هر ستوری ځان ته د حرکت ثابت او ټاکلی مدار او مسیر لري او د قرآن په اصطلاح هر یو په خپل خپل فلك کې دروميي.

# سپوږمۍ خپله رڼا له لاسه ورکړې

د شلمي پېړۍ ستورپیژاندو ته دا حقیقت جوت شو چي سپوږمۍ په سر کي ځلانده وه او ورو ورو ئې خپله رڼا له لاسه ورکړې، او دا هغه حقیقت دئ چي قرآن څوارلس پېړۍ وړاندي ورته اشاره کړې وه، د قرآن دغه آیت ته لږ ځیر شئ:

وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ءَايَتَيْنِۖ فَمَحَوْنَآ ءَايَةَ ٱلَّيْلِ وَجَعَلْنَآ ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ مُبْصِرَةً لِّتَبْتَغُوا۟ فَضْلًا مِّن رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوا۟ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلْحِسَابَۚ وَكُلَّ شَىْءٍ فَصَّلْنَٰهُ تَفْصِيلًا ١٢ الاسراء: ١٢

او شپه او ورځ مو دوه څرګندي نښي وګرځولې، نو د شپې نښه مو له منځه یووړه او د ورځي نښه مو د لیدو وسیله وګرځوله، د دې لپاره چي د خپل رب فضل ولټوئ او د دې لپاره چي د کلونو په شمېر او حساب پوه شئ، او هر څه مو په تفصیل سره بیان کړي.

د دې مبارك آیت لارښووني دا دي:

- تلوار او عجله مه کوئ، د الله تعالی هر څه د دقیق نظم او محاسبې له مخي په خپل خپل وخت ترسره کېږي، لکه دا شپه او ورځ چي هره یوه ئې په خپل خپل وخت راځي په داسي دقیقه او منظمه توګه چي تاسو د هغې له مخي د کلونو شمېر او حساب معلوموﻟﯽ شئ.
- دلته د شپې په اړه ویل شوي چي د شپې نښه مو محوه کړه خو د ورځي په اړه ویل شوي چي د ورځي نښه مو د هر څه د لیدو او پېژندو وسیله وګرځوله چي په ترڅ کي ئې د خپل رب فضل ولټوئ، د بیان له فحوی معلومېږي چي دلته کفر له شپې سره تشبیه شوی، او ایمان له رڼا او ورځي سره، کافرانو ته ویل شوي چي الله

تعالی د رسول الله  صلی الله علیه و سلم په بعثت سره د کفر تیاره شپه پای ته رسوي او د ایمان په رڼا روښانه شوې ورځ راولي، په دې کې تاسو د خپل رب فضل او پېرزوینه ترلاسه کوئ، عجیبه ده چې تاسو د رڼا پر ځای په تیاره کې پاته کېدا خوښوئ او د الله تعالی له ستر فضل او پېرزویني ځان محروموئ.

- خو دا خبره لږ دقت او غور ایجابوي چې ولې دلته د (محونا آیة اللیل) الفاظ راغلي، که محو د نابودي او له منځه تلو په معنی واخلو نو شپه خو له منځه نه ځي، تل د زمکې پر سر وي، له یوې سیمې ئې پېښې بلې ته ورو ورو خوځېږي، نو یقیناً چې معنی ئې له منځه وړل نه بلکې تیاره کول دي، ځکه په ورپسې فقره کې ورځې ته مبصرة ویل شوي نو معنی ئې دا شوه چې شپه مو تیاره کړه او ورځ مو لید مهال، خو دا پوښتنه راولاړېږي چې دلته د لیل پر ځای آیة اللیل راغلي یعني ویل شوي چې آیة اللیل مو تیاره کړ!! د دې ځواب دا دئ چې د الفاظو په دغه ترکیب کې د قرآن یو ستر علمي اعجاز مضمر دئ، تاسو پوهېږئ چې لمر د ورځې نښه ده او سپوږمۍ د شپې نښه، نو د دې آیت دقیقه معنی دا ده چې الله تعالی د شپې دغه نښه (سپوږمۍ) تیاره کړه!! او د ورځې نښه (لمر) ئې د لیدو وسیله وګرځوله، او دا هغه ځلانده حقیقت دئ چې ساینسپوهان په شلمې پېړۍ کې پرې پوه شول او وئې ویل: سپوږمۍ په سر کې د لمر په څېر ځلانده وه او خپله رڼا ئې درلوده خو ورو ورو ئې دا رڼا له لاسه ورکړې او اوسنی حالت ئې غوره کړی.

علي رضی الله عنه او عبدالله بن عباس رضی الله عنه ته منسوب ګڼ شمېر روایات لرو چې د محونا آیة اللیل په اړه ئې همدا تفسیر وړاندي کړی او ویلي ئې دي چې په سپوږمۍ کې تور تور ټپونه د همدې نښه ده، او تاسو پوهېږئ چې د سپوږمۍ دا تور تور ټپونه په حقیقت کې هغه ځایونه دي چې د لمر رڼا نه وررسېږي او کوم سیوری پرې غوړېدلی دئ، که سپوږمۍ له ځانه رڼا درلودی نو

داسي تور ټپونه به نه په کې تر سترګو کېدل.

# د آسمان او زمکې له اقطارو وتل ممکن نه دي

قرآن په دې اړه وايي:

**يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلۡطَٰنٖ ٣٣ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٣٤ يُرۡسَلُ عَلَيۡكُمَا شُوَاظٞ مِّن نَّارٖ وَنُحَاسٞ فَلَا تَنتَصِرَانِ ٣٥**

**الرحمن: ۳۳-۳۵**

اې د انسانانو او پېريانو ټولګيو! که کولی شئ چې دآسمانونو او زمکې له اقطارو ووځئ نو ووځئ، وتلی نشئ مګر په ځانګړي ځواك سره، نو د خپل رب کوم کوم نعمتونه تکذيبوئ؟ پر تاسو به د اور شعلې او داسي ويلي مس لېږل کېږي چې مقابله ئې نشئ کولی.

په دې آيتونو کې د قرآن دوه ستر ستر علمي اعجاز زموږ مخې ته ځلېږي: يو دا چې وايي: که آسمان ته بر ولاړ شئ نو له داسي بې دوده لمبو سره به مخامخ شئ چې مقابله ئې نشئ کولی، يعني د آسمان په برنۍ برخې کې د شهاب ثاقب تېزي او تودې لمبې دومره زياتي او زوروري دي چې تاسو ئې له مقابلې عاجز يئ!! او دا هغه حقيقت دئ چې انسان اوس او هغه مهال پرې پوه شو چې سپوږمۍ او ستورو ته ئې د ختلو لړۍ پيل کړه او متوجه شو چې دا شهاب ثاقب د فضائي سفرونو په وړاندې داسي ستر ګواښ دئ چې مقابله ئې نشي کېدی.

ښايي ځينو ته به د قرآن د دې آيت له دغې فقرې (لاتنفذون الا بسلطان) دا وهم راپيدا شي چې انسان کولی شي د وسائلو او امکاناتو په مرسته د آسمان له اقطارو ووځي، له يوې څنډې ئې بلې ته ورسېږي او زمکه داسې سورۍ کړي چې له مرکزه ئې تېر شي او بل لوري ته ووځي!! دا واهمه به ئې هغه مهال يقين ته نږدې شوې وي چې انسان سپوږمۍ ته ورسېدو، خو بايد متوجه وو چې سپوږمۍ زمکې ته تر ټولو نږدې کُره ده، له زمکې ۲٤۰۰۰۰ کيلومتره واټن کې پرته ده، زموږ لمر دغه تر نورو زمکې ته ډېره نږدې کُره په دومره واټن کې پروت دئ چې که يو راکټ په ساعت کې ٦۰ کيلومتره لوړ ځي، نو لږ تر لږه ۳۰۰ کاله به شپه او ورځ مزل کوي چې لمر ته ورسېږي!! يوازې د يوه کهکشان قطر دومره اوږد دئ چې يو اړخ له بله څو سوه مليونه نوري کاله فاصله لري، حال دا چې په آسمان کې زموږ د ستور ليکې (کهکشان) په څېر نږدې يو سل شل مليارډه ستور ليکې (کهکشانونه) شته!!

لمر له زمکې پنځه سوه نوري ثانيې فاصله لري، او ورپسې تر ټولو نږدې ستورى له زمکې نږدې څلور نوري کلونو واټن کې دئ، او نوري کال هغه واټن ته ويل کېږي چې نور ئې په يوه کال کې وهي، په داسې حال کې چې د نور سرعت په هره ثانيه کې درې سوه زره کيلومتره دئ. نو اوس ووايئ: آيا د آسمان له قطر وتل ممکن دي؟

همدا راز د زمکې د منځنۍ مرکزي برخې د تودوخې درجه دومره لوړه ده چې د زمکې ټول فلزات په کې ويلي دي او سوزي، انسان داسې مواد نشي موندلی چې د دغې لوړې تودوخې په وړاندې مقاومت وکړي او انسان ته له دغه ځايه د تېريدو مجال ورپه برخه کړي.

# لمر رڼا او تودوخه لري او سپوږمۍ د لمر نور منعکسوي

انسانان په شلمي پېړۍ کې په دې حقیقت پوه شول چې لمر له ځانه رڼا او تودوخه لري او سپوږمۍ د زمکې په څېر ده نه خپله رڼا لري او نه تودوخه، دواړه له لمره اخلي، راشئ وګورو چې قرآن په دې اړه څه ویلي:

وَجَعَلۡنَا سِرَاجٗا وَهَّاجٗا ١٣ النبأ: ١٣

او روڼ او تود څراغ مو جوړ کړی دئ.

د دې مبارك آیت لارښووني دا دي:

هغه حکیم ذات چې دا کائنات ئې پیدا کړي، لمر ئې داسي ګرځولی او فاصله ئې له زمکې دومره ټاکلې چې زموږ دوو اړتیاوو ته ځواب ووېلی شي: موږ ته رڼا او تودوخه راکړي، زموږ دا د زمکې کور هم تود کړي هم روښانه، لمر ئې (سراج او وهاج) یعني (تود او ځلانده څراغ) ګرځولی، زموږ دواړو جدي او حیاتي اړتیاوو ته ځواب ویونکی، د لمر د نور او حرارت په مقدار کې ډېر لږ تغییر او د زمکې او لمر ترمنځ په اوسني واټن کې ډېره لږه تبدیلي او د شپې او ورځې په اوسنۍ اندازې او د زمکې په خپل محور چورلېدو او د لمر په محور خوځېدو کې ئې معمولي تبدیلي د دې باعث کېږي چې د زمکې پر سر دا موجود تعادل له منځه ولاړ شي او په هغې کې ژوند ناممکن شي.

زموږ زمکه له لمره ٩٣ ملیونه میله فاصله لري، د لمر حجم د زمکې د حجم ١٠٩ برابره دئ، د لمر د برنۍ سطحې د حرارت درجه ٦٠٠٠ سانتي ګرېډه او د منځنۍ برخې حرارت ئې ١٥ ملیونه درجې ده، دا رڼا او تودوخه په زرګونو کیلومتره لرې ستورو ته رسي، سره له هغه اوږده واټنه چې له لمره ئې لرو، نه شو کولی په عادي

سترګو څو ثانيې لمر ته وګورو، د زمکې په ځينو برخو کې چې د لمر وړانګې پر له پسې پرې لګيږي د حرارت درجه کله کله ۱٤۰درجې سانتي ګريډ ته ورسيږي، که زموږ زمکه لږ لمر ته نږدې وی نو تودوخه به ئې هومره وه چې نه به انسان او حيوان پرې ژوند کولی شو او نه به بوټي ورباندې راشنه کېدی شول او که ئې فاصله له لمره تر دې زياته وی نو سختې يخنۍ به د زمکې پر سر د ژوند مجال له منځه ووړ، خو دا فاصله داسې تنظيم شوې چې موږ د لمر له نور او حرارت د ضرورت په اندازه ګټه واخيستی شو.

دغه مطلب د قرآن په بل آيت کې په دې توګه راغلی:

**هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ ٱلشَّمۡسَ ضِيَآءٗ وَٱلۡقَمَرَ نُورٗا وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ لِتَعۡلَمُواْ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلۡحِسَابَۚ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۚ يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ٥** يونس: ٥

دی هغه ذات دئ چې لمر ئې رڼا ګرځولی او سپوږمۍ ئې روښنائي، او هر يوه ته ئې د ټيکې ځای ټاکلی ترڅو د کلونو په شمېر او حساب پوه شئ، الله دا نه دي پيدا کړي مګر په حقه سره، هغو وګړو ته چې پوهيږي آيتونه په تفصيل سره بيانوي.

دلته بايد څو خبرې په پام کې ولرو:

- دلته ويل شوي چې لمر ئې رڼا ګرځولی او سپوږمۍ ئې روښنائي، يعني لمر له ځانه روڼ دئ او سپوږمۍ د بل په نور روښانه شوې. آيا د قرآن دا وينا يو علمي اعجاز نه دئ چې د لمر رڼا ته کله د وهاج نوم ورکوي او کله د ضياء او سپوږمۍ د نور په نامه يادوي او په دې سره همغه خبره کوي چې انسان په شلمې پيړۍ کې پرې پوه شو؟!!

د يونس د سورې په مخکنيو آيتونو کې ويل شوي چې الله تعالی هر څه په حقه پيدا کړي، د هر څه په پيدايښت کې حکمت او مصلحت مضمر دئ، دلته د

همدې مدعاء د اثبات لپاره ځمر او سپوږمۍ د بېلګي په توګه وړاندي کوي او وايي: دا دئ ګورئ چي يو ئې د ورځي له لوري تاسو ته رڼا او تودوخه درکوي او بل ئې ستاسو تيارې شپې روښانه کوي، هر يوه ته ئې د ټېکي ځاى ټاکلى، داسي چي له ټاکلي ځايه خوځي او په ټاکلې نېټې وروستي منزل ته رسي، حرکت ئې دومره دقيق چي د هغه له مخي د شپو ورځو، مياشتو او کلونو حساب معلومولى شئ.

نو څوك چي له بياژوندون، قيامت، حساب و کتاب او مکافات او مجازات انکار کوي دا انکار ئې په دې معنى دئ چي ګواکي انسان خوشى او بې هدفه پيدا شوى، نه د فساد، ظلم او کفر سزا ورکول کېږي او نه د ايمان او نېك عمل اجر او بدله!! کوم د عقل او شعور خاوند به دا خبره ومني چي د دې خور او پراخ عالم هر څه دي هدفمن پيدا شوي وي، د هر څه خوځښت او حرکت دي د دقيق حساب له مخي وي خو انسان دي د دغي عامي قاعدې خلاف او د يوې استثناء په توګه داسي پيدا شوى وي چي نه ئې پيدايښت کوم هدف لري، نه پوښتنه ترې کېږي، نه د ښه او بد عمل محاسبه ورسره کېږي او نه سزا او جزاء ورکول کېږي؟!! نور مخلوقات داسي دي چي له خپل ټاکلي مسير يوه ذره ښي او کيڼ لوري ته انحراف نه کوي او معمولي انحراف ئې د زوال او تباهي باعث کېږي، آيا سمه ده چي ووايو: انسان نه د حرکت لپاره ثابت او ټاکلى مسير لري او نه د انحراف سزا ګوري؟!!

# زمکه کروي او ګرده ده

دا حقيقت اوس ټولو ته جوت شوى چي زمکه د آسمان د نورو ستورو په څېر ګرده ده، که تاسو په داسي شپې کي بهر ووځي او آسمان ته وګورئ چي هوا صافه وي او په آسمان کي نه وريځ وي او نه ګرد او غبار، آسمان به له داسي ستورو ډك

وموئ چي ټول گرد دي، نه د مکعب په څېر کوم ستوری په نظر درځي او نه د مخروط په بڼې کې، زمکه د آسمان یو ستوری دئ او د نورو په څېر گرده ده، که خلك په طیارې یا کښتۍ کې له آسیا امریکا ته تگ غواړي نو هم د شرق له لاري امریکا ته رسېدی شي او هم د غرب له لاري، او دا ښیي چي زمکه گرده ده، که تاسو د کوم سمندر په ساحل کې ودرېږئ او د قوي دوربین په مرسته وغواړئ چي له شرق یا غرب لوري راتلونکي کښتۍ وگورئ نو متوجه به شئ چي لومړی به د کښتۍ دود او دود کښ په نظر درشي بیا ئې بیرغ او ورو ورو ټوله کښتۍ، دا ښیي چي زمکه سره له خپلو اوبو گرده ده، کله چي انسان له زمکې بر د نورو ستورو په لور ولاړ خپله زمکه ئې د نورو ستورو په څېر گرده ومونده خو د اوبو د بخاراتو له کبله ئې د هغې رنگ د سپین یا ژېړبخن پر ځای فیروزه یي وموند. راشئ وگورو چي قرآن د زمکې د گردوالي په اړه څه ویلي؟ دې مبارك آیت ته ځیر شئ:

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۖ يُكَوِّرُ ٱلَّيۡلَ عَلَى ٱلنَّهَارِ وَيُكَوِّرُ ٱلنَّهَارَ عَلَى ٱلَّيۡلِۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمًّىۗ أَلَا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفَّٰرُ ٥ الزمر: ٥

آسمانونه او زمکه ئې په حقه پیدا کړي، شپه پر ورځ تاووي او ورځ پر شپې تاووي، او لمر او سپوږمۍ ئې مسخر کړي، هر یو د ټاکلې نېټې مطابق درومي، خبردار چي هغه عزتمن بخښونکی دئ.

د دې مبارك آیت لارښووني دا دي:

- الله تعالی آسمانونه او زمکه په سمه توگه پیدا کړي.
- شپه پر ورځ تاووي او ورځ پر شپې تاووي، دلته د شپې او ورځي د تلو راتلو لپاره د (کور) لفظ کارول شوی، چي معنی ئې تاوول دي، د دغه لفظ لغوي معنی ته په پام سره د دې فقرې معنی دا ده چي الله تعالی شپه پر ورځي داسي راتاووي

لکه څوك چې خپله پګړۍ پر سر راتاو کړي. او دا دقیقاً همغه مطلب افاده کوي چې زمکه ګرده ده او شپه او ورځ داسې پرې راتاوېږي لکه څوك چې خپله اوږده پګړۍ پر سر راتاووي.

- لمر او سپوږمۍ خپلې مخې ته آزاد نه دي پرېښودل شوي چې په خپل سر او په کوم نامعلوم لورې خوځي، بلکې مسخر دي او په ثابت او ټاکل شوي مسیر او لورې درومي.

- هر یو د ټاکلې نېټې مطابق درومي، او دا هغه حقیقت دئ چې انسان ته اوس معلوم شوی، اوس پوه شوی چې زمکه، سپوږمۍ، لمر او ټول ستوري خپل خپل مدار د ټاکلې نېټې مطابق بشپړوي.

# زمکه د آسمان د نورو ستورو په څېر ده!!

راشئ وګورو چې قرآن زمکه د آسمان د نورو ستور په څېر ګڼي که بېل او ځانګړی توکی!! دې آیت ته ځیر شئ او خپل ځواب ترلاسه کړئ:

**وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن تَقُومَ ٱلسَّمَآءُ وَٱلۡأَرۡضُ بِأَمۡرِهِۦۚ ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمۡ دَعۡوَةٗ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ إِذَآ أَنتُمۡ تَخۡرُجُونَ ٢٥** الروم: ٢٥

او له آیتونو ئې یوه (څرګنده نښه) دا ده چې آسمان او زمکه د ده په حکم قائم دي، بیا کله چې تاسو له زمکې وروبلي ناڅاپه به راوځئ.

دا مبارك آیت موږ ته وایي: تاسو په آسمان او زمکې کې د یوه دقیق، مضبوط او پر

حکمت مبتني نظم شاهد يئ، هر څه ئې په خپل خپل ځای کې او په منظمه توګه ساتل کېږي، اداره کېږي او له بې نظمۍ او تصادم ئې مخنيوی کېږي، آيا دا نه ښيي چې آسمانونه او زمکه د يوه ځواکمن رب تر بشپړي سلطې لاندي اداره کېږي؟ آيا دا د الله تعالی د آيتونو يوه ځرګنده نښه نه ده چې آسمان او زمکه د ده په حکم قائم دي؟! آيا هغه ذات چې دا پراخ عالم اداره کوي له دې عاجز ګڼئ چې تاسو له مړيني وروسته بياراژوندي کړي؟! يقيناً چې د داسي ځواکمن او مقتدر ذات يوازي يوه بلنه کافي ده چې تاسو له زمکي ژوندي راووځئ.

په دې مبارك آيت کې ويل شوي چې آسمان او زمکه د الله تعالی په حکم قائم (ولاړ) دي، د آسمان په اړه د (قائم او ولاړ) مطلب واضح دئ خو د زمکي په اړه دا صيغه څنګه کارول شوې او څه مطلب افاده کوي؟ او څنګه د آسمان او زمکي ودرېدا سره ورته ده او د دواړو لپاره يوه صيغه کارول شوې؟ آيا له دې وينا په ډېر وضاحت سره نه معلومېږي چې زمکه د آسمان په څېر ولاړه ده؟ د آسمان په غېږ کې چې کوم واړه او ستر ستوري دي ټول په فضاء کې معلق ولاړ او هر يو ئې په خپل خپل مسير کې خوځي، زمکه هم يو له دغو بې شمېره ستورو ده او ودرېدا ئې د نورو په څېر ده، انسانانو ته دغه حقيقت اوس او له ډېرو علمي څېړنو وروسته معلوم شوی، خو په دغه مبارك آيت کې څوارلس سوه کاله وړاندي دغه علمي حقيقت ته اشاره شوې او يقيناً چې دا د قرآن بل علمي اعجاز دئ.

متأسفانه په مفسرينو کې داسي خلك هم مومو چې نه يوازي د قرآن دا صريح او واضح لارښوونه ئې له پامه غورځولې او داسي څه ئې ويلي او ليکلي چې سل په سلو کې د قرآن د دې وينا خلاف دي بلکې تر دې هم وړاندي تللي او د نورو غلطو او خرافي مذاهبو د غلطو افکارو او عقائدو تر اغېز لاندي ئې د قرآن آيتونه په غلطه توګه تعبير او تفسير کړي، يوه بېلګه ئې د زمکي په اړه د ځينو مفسرينو دا

خرافي رأيه ده چي وايي: زمکه د غوايي پر ښکر ولاړه ده، دا غوايی د کب پر شا ولاړ دئ او کب په اوبو کې دئ!! ډيره ډېره عجيبه ده چي څوك د الله تعالى د کلام په اړه داسي جسارتونه کوي او داسي خرافي او د عقل خلاف چټي خبري د قرآن د تفسير په توګه وړاندي کوي!! شيعه وو همدا خرافي رأيه امام جعفر صادق ته منسوب کړې!!

# په زمکي کي پاکي او صافي اوبه څنګه پيدا کېږي؟

د زمکي پاکي او صافي اوبه يا له استعمال وروسته ګنده شي، يا په زمکي کي ننوځي، يا د دريابونو له لاري لويو لويو سمندرونو ته کوزي شي، هلته دومره تروې شي چي نه ئې انسان څښلی شي او نه نباتات پرې راشنه کېدی شي. د سمندر دغه تروې اوبه د لمر د وړانګو له کبله تبخير شي، بخارات لوړ ولاړ شي، وربځي ترې جوړي شي، بادونه دا وربځي يوه او بل لوري ته وخوځوي، پر لوړو او د غرونو پر سرونو واوره واوروي او په آوارو باندي بارانونه، د واوري او باران دا اوبه له ټولو ګندګيو صافي او پاکي وي، که دغه الهي نظام نه وی نو موږ به د زمکي پر سر پاکي اوبه نه درلودې!! دغه علمي حقيقت ته قرآن په دغو الفاظو سره اشاره کړې:

**وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦۚ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ طَهُورٗا ٤٨** الفرقان: ٤٨

او الله هغه ذات دئ چي بادونه تر خپلي پېرزويني (باران) وړاندي د زېري په توګه لېږي، او له آسمانه پاکي اوبه نازلوي (وروي).

علم نن د قرآن همدغه خبره کوي او وايي چي د باران او واوري اوبه د جوړېدو پر مهال په بشپړه توګه صفا وي او هيڅ څه ورسره ګډ نه وي.

# د اوسپني اهميت

علمي څېړني وايي چي په زمکي کي د اوسپني مقدار تر ټولو نورو فلزاتو زيات دئ، نن د وسلو او نورو آلاتو په جوړولو کي له اوسپني تر بل هر فلز زياته استفاده کېږي، د اوسپني ځانګړتياوو دا امتياز ورکړی چي په صنعت کي زياته استفاده ترې وشي، خو د اوسپني دا اهميت هغه مهال جوت شو چي انسان له علمي پلوه ډېر وړاندي ولاړ او د ډول ډول وسائلو د جوړولو پوهه او امکانات ئې په برخه شول، که څوك اوس د اوسپني په اړه ووايي چي د جنګي وسائلو په جوړولو کي د اوسپني لويه ونډه ده او د انسان جنګ ته ئې شدت او پراخ ابعاد ورکړل او انسان تر نورو فلزاتو زياته ګټه ترې اخلي نو دا نه د تعجب خبره ده او نه د حقيقت خلاف، خو که چا دا خبره دوه درې پېړۍ وړاندي کړې وی، نه چا ورسره منله او نه ئې صحيح ګڼله!! خو قرآن څوارلس پېړۍ وړاندي وويل:

**... وَأَنزَلۡنَا ٱلۡحَدِيدَ فِيهِ بَأۡسٞ شَدِيدٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥ وَرُسُلَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٞ ٢٥** الحديد: ٢٥

او اوسپنه مو نازله کړه چي په هغې کي شديد جنګ دئ او خلکو ته (ډېري) ګټې، او چي الله هغه خلك معلوم کړي چي په غياب کي د ده او د ده د پيغمبرانو ملتيا کوي، يقيناً چي الله عزتمن ځواکمن دئ.

دا آيت نه يوازې د اوسپني په اړه يوه وړاندوينه ده بلکي د هغو مجاهدينو په اړه هم يوه دقيقه وړاند وينه ده چي دغه مهال به د الله تعالی په لار کي جهاد کوي، څکه دلته د هغو مجاهدينو يادونه شوې چي د پيغمبر په غياب کي او هغه

مهال به د الله تعالی په لار کې جهاد کوي چې اوسپنه به د سختو جګړو مهمه وسیله وي!!

دې ته مو هم پام وي چې اوسپنه د انسان د ویني یو مهم عنصر دئ، د چا په وینې کې چې دا ماده له ضروري حده کمه شي په سختو ناروغیو اخته کېږي، دا عادي خبره نه ده چې قرآن د اوسپني ګټو ته اشاره کوي او د قرآن یوه سوره په همدې نامه (الحدید) یاده شوې.

# د اوسپني د کشف نېټه

د علمي څېړنو په ترڅ کې معلومه شوې چې انسانانو اوسپنه تر مېلاد ۱۰۰۰-۱۲۰۰کاله وړاندې کشف کړه، راشئ وګورو چې آیا قرآن په دې اړه څه ویلي که نه! د قرآن دغو آیتونو ته ځیر شئ:

**وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ مِنَّا فَضۡلٗاۖ يَٰجِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُۥ وَٱلطَّيۡرَۖ وَأَلَنَّا لَهُ ٱلۡحَدِيدَ ١٠ أَنِ ٱعۡمَلۡ سَٰبِغَٰتٖ وَقَدِّرۡ فِي ٱلسَّرۡدِۖ وَٱعۡمَلُواْ صَٰلِحًاۖ إِنِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ١١** سبا: ۱۰-۱۱

او داؤد ته مو له خپل لوري فضل ورپه برخه کړ، (ومو ویل:) اې غرونو! له ده سره همغږي کوئ او مارغانو ته هم، او اوسپنه مو ورته نرمه کړه، چې زغري جوړي کړه او کړۍ په اندازه ولګوه، او نېك عمل کوئ، یقیناً چې زه په هغه څه پوهېږم چې تاسو ئې کوئ.

له دې مبارکو آیتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د اوسپني کشف او د جنګي مقاصدو لپاره له هغې استفاده او زغري ترې جوړول د داؤد علیه السلام په وخت کې پیل شوي، تاریخي څېړنې ښيي چې د داؤد علیه السلام د بعثت زمانه

همدغه تر میلاد زر دولس سوه کاله وړاندي ده.

# ستوري د لار موندو علامات دي

قرآن په دې اړه فرمايي:

**وَأَلۡقَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمۡ وَأَنۡهَٰرٗا وَسُبُلٗا لَّعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ١٥ وَعَلَٰمَٰتٖۚ وَبِٱلنَّجۡمِ هُمۡ يَهۡتَدُونَ ١٦** النحل: ۱۵-۱٦

**او په زمکي کي ئې لنگرونه (غرونه) واچول چي تاسو ونه لړزوي، او نهرونه او داسي لاري چي (له يوې سيمي بلي ته) لار پيدا کړئ. او نښي، او په ستورو سره خو دوی لار مومي.**

**د دې مبارکو آيتونو يوې برخي ژورو مطالبو ته تر دې عنوان (د غرونو پيدايښت) لاندي اشاره وشوه، دلته ئې ځينو نورو برخو ته پام وکړئ:**

- **د علمي څېړنو په ترڅ کي دا حقيقت هم ثابت شوی چي د زمکي د سر نهرونه د غرونو په وجه راپيدا شوي، دغه نهرونه د دې باعث شوي چي خوړونه او درې رامنځته شي، د اوبو د مسير ډبري وسولېږي او خوړونه او درې په کي جوړ شي، او بيا په همدغو درو کي انسان ته له يوې سيمي بلي ته د تلو لاري پرانيستل شي، تاسو که دا نن د لويو غرونو په سيمو کي تېرو شوو لارو ته ځير شئ نو وبه گورئ چي ټولي لاري د نهرونو په ژۍ کي او په هغو درو کي تېري شوې چي دغو نهرونو رامنځته کړې دي. او دا له شکه پرته د قرآن بل ستر علمي اعجاز دئ چي غرونه، نهرونه او لاري ئې ځنگ په ځنگ ياد کړي.**

- زمکه داسي جوړه شوې چې هري خوا ته علائم او نښي زموږ مخي ته ځلېږي، د همدغو علائمو له مخي موږ د خپل سرمنزل لورى او د تگ سمت ټاکلى او پېژندلى شو، که دا علائم نه وى نو انسان ته به گرانه او حتى محال وه چې له يوې سيمي بلي ته د سفر په دوران کي د خپل هدف لورى او د تگ مسير تعيين کړي او لار ترې غلطه نشي. کله د غرونو څوکي ورته نښه شي، کله نهر، کله وچ خوړ، کله ځنگل، کله يوه ستره ونه، په لويو بيدياوو، بحرونو او فضاء کي هم د دغو علائمو له مخي خپل مسير تعيينوي، که دا د زمکي د سر نښي ئې له سترگو غائبي شي نو بيا د ستورو له مخي خپل لورى او سمت ټاکي او لار مومي، لکه دا چې د شمالي قطب په ستوري سره د شمال او غرب لورى داسي ټاکي چې ښۍ اوږه د دې ستوري لوري ته برابره کړي، همدا لوري ئې شمال شي او مخامخ ئې غرب. د شمالي قطب ستورى له زمکي نږدې درې سوه نوري کاله لري پروت دئ، خو سره له دې حيرانوونکي لري واټن، موږ ئې نه يوازي ځلانده گورو بلکي تل ئې په همغه ثابت ځاى کي گورو!!

# آسمانونه ولي د لارو په نامه ياد شوي؟

قرآن آسمان د لاري په نامه ياد کړى، راشئ وگورو چې دا نومونه څه مطلب افاده کوي او له علمي او ساينسي پلوه څه اهميت لري که نه؟ د قرآن دغه آيت ته ځير شئ:

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا فَوۡقَكُمۡ سَبۡعَ طَرَآئِقَ وَمَا كُنَّا عَنِ ٱلۡخَلۡقِ غَٰفِلِينَ ١٧

**المؤمنون: ١٧**

او يقيناً چي ستاسو له پاسه مو اوه لاري پيدا کړې دي او موږ له پيدايښت غافل نه يو.

(١٧)- د دې مبارك آيت په وړاندي بايد لږ توقف وکړو او وگورو چي زموږ له پاسه د اوو لارو د پيدا کولو معنی څه ده؟ آيا مراد ئې اوه آسمانونه دي؟ ولي آسمانونه د لارو په نامه ياد شوي؟ او ولي تر دې وروسته ويل شوي چي موږ له پيدايښت غافل نه يو؟ د دې خبري ئې له مخکني سره څه تړاو؟

د دغو پوښتنو ځوابونه دا دي:

- له اوو لارو مراد اوه آسمانونه دي، ځکه تر دې آيت وروسته ويل شوي چي له آسمانه مو اوبه نازلي کړې. خو له آسمانونو مراد د زمکي اوه مدارونه دي، ځکه دلته د زمکي هغي فضاء ته د آسمان نوم ورکړی شوی چي وريځي په کي خوځېږي او باران ترې ورېږي.

- د زمکي مدارونه د لارو په نامه يادول ډېره دقيقه او علمي نومونه ده او په ارزښت او اهميت ئې هغه څوك پوهېږي چي د فضاء په اړه څېړني کوي، يقيناً چي دا نومونه د قرآن يو ستر علمي اعجاز دئ. لکه چي هر اتم په خپلي شاوخوا کي مدارونه لري او په دې مدارونو کي اليکترونونه خوځېږي، د اتم د مدارونو شمېر حد اعظمي اوه وي، تر دې نه زياتېږي، هر اليکترون خپله خپله تگلاره لري، زموږ زمکه او د آسمان هر ستوری همداسي په خپلي فضاء کي مدارونه لري، د دغو مدارونو لپاره تر ټولو غوره او دقيق نوم (طرائق يعني لاري) دئ، سپوږمۍ پر زمکي راڅرخي، د څرخېدو خاص او ټاکلی مدار لري، دا مدار د هغې لپاره يوه ځانگړې لار ده، وريځي د زمکي په فضاء کي خوځي، د خوځېدو مدار ئې د هغوی لپاره ځانگړې

لار ده، سپوږمکۍ د زمکې شاوخوا څرخي، د هري سپوږمکۍ لپاره ځانګړی مدار ټاکل کېږي چي همدا ئې لار وي. دا مدارونه د هغه جاذبې او دافعې تر منځ د ځانګړي تناسب له مخي ټاکل کېږي چي د زمکي او د هغې پر محور د چورلېدونکي توکي تر منځ راپيدا کېږي، زمکه ئې ځان ته راکاږي او د چورلېدونکي جرم حرکت هغه ته د لري تلو ځواك وربخښي، د جذب او تېښتي د دغو ځواکونو تر منځ يو خاص تناسب د دې باعث شي چي دا چورلېدونکی توکی په خاص مدار کې خوځېدو ته اړ شي، چي همدا ئې تګلاره شي.

- د آيت په پای کې دا فقره (**وَمَا كُنَّا عَنِ ٱلۡخَلۡقِ غَٰفِلِينَ**: او موږ له پيدايښت غافل نه يو) ښيي چي د دې مبارك آيت د نزول په وخت کې انسانان له دې حقيقته غافل ول، نه پوهېدل چي د زمکي اوه آسمانونه لارو ته ورته مدارونه دي، دا حقيقت نن او د دې آيت له نزوله نږدې څوارلس پېړۍ وروسته انسان ته جوت شو.

# د فضاء په لوړو کې نفس تنګي

کله چي انسان ته داسي وسائل په لاس ورغلل چي فضاء ته لوړ ولاړ شي، سپوږمۍ ته ورسېږي، د دغو فضائي سفرونو په ترڅ کې ورته معلومه شوه چي هر څومره له زمکي لوړ درومي د نفس تنګۍ له ستونزي سره مخامخ کېږي، چي دوه وجهې لري: د فشار او آکسيجن کموالی، قرآن دغه حقيقت ته څوارلس پېړۍ وړاندي اشاره کړې او ويلي ئې دي: د

فضاء په لوړو کې انسان د سا تنګۍ له ستونزي سره مخامخ کېږي، دا خبره ئې هغه مهال کړې وه چې لا انسان فضاء ته نه وو لوړ شوی، داسي ساتنګي ئې عملاً نه وه ليدلې، په مکه او مدينه کې هم دومره لوړ لوړ غرونه نه وو چې په څوکو کې ئې آکسيجن لږ وي، قرآن فرمايي:

**فَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يَهۡدِيَهُۥ يَشۡرَحۡ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِۖ وَمَن يُرِدۡ أَن يُضِلَّهُۥ يَجۡعَلۡ صَدۡرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجٗا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي ٱلسَّمَآءِۚ كَذَٰلِكَ يَجۡعَلُ ٱللَّهُ ٱلرِّجۡسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٢٥** الانعام: ١٢٥

الله تعالی چې د چا لارښوونه وغواړي نو سينه ئې اسلام ته پرانيزي او د چا بې لاريتوب چې وغواړي نو سينه ئې ورتنګه کړي، داسي لکه آسمان ته چې خېژي، همداراز الله پر هغو ناپاکي تپي چې ايمان نه راوړي.

په دې مبارک آيت کې د هدايت او ضلالت په اړه د الله تعالی سنت داسي بيان شوی:

- الله تعالی چې څوك د هدايت وړ ومومي، په هغه کې د لار موندلو او هدايت تلوسه، د حق په لوري انابت، له جهل، شرك، فساد او ظلم کرکه او نفرت وګوري نو سينه ئې اسلام ته پرانيزي.
- څوك چې د هدايت وړتيا ونه لري، د بې لاريتوب له تيارو د وتلو اراده ونه لري، په زړه کې ئې له باطل کرکه او د حقيقت موندلو تلوسه نه وي، نو الله تعالی ئې سينه ورتنګه کړي، داسي لکه آسمان ته چې خېژي، د حق په لوري تګ ورته داسي برېښي لکه آسمان ته ختل.

د دې مبارك آيت دا وروستنۍ فقره د قرآن يو ستر علمي اعجاز دئ، اوس او د دې آيت له نزوله څوارلس سوه کاله وروسته او هغه مهال چې انسان له زمکي لږ د آسمان په لوري لوړ ولاړ او فضاء ته وخوت، دا حقيقت ورته معلوم شو چې آسمان

ته د تلو په مهال د انسان سینه تنګېږي، دا ځکه چي هر څومره لوړ ځي اوکسیجن کمېږي او د همدې په وجه انسان نفس تنګي احساسوي. اوس معلومه شوې چي انسان د بحر له سطحي تر ۱۰۰۰ فټ پوري د تنفس له اړخه له کومي ستونزي سره نه مخامخ کېږي، له ۱۰۰۰ تر ۲۵۰۰۰ فټ پوري هم تنفس کولی شي خو تر دې لوړي ارتفاع کي تنفس ورته ممکن نه وي، او د انسان په مرګ منتج کېږي. وجه ئې د فشار کموالی او د آکسیجن نشتوالی وي. کله چي انسان تر دې لوړ ولاړ شي نو هلته له یوې خوا د فضاء فشار داسي شي چي د زمکي له سطحي زیات توپیر لري او له بلي خوا د اکسیجن نشتوالی د دې باعث شي چي انسان په خپلي سینې کي تنګي احساس کړي، سا کښته پورته کول ورته ګران شي او حتی له خبرو کولو ولوېږي، که موږ نن دا خبره د باانصافه او باضمیره ساینس پوه په وړاندي یاده کړو چي زموږ په قرآن کي څوارلس پېړۍ مخکي ویل شوي چي آسمان ته د ختلو په مهال د انسان سینه تنګېږي، ځواب به ئې څه وي؟ آیا د دې خبري په اورېدو سره به حیران نه شي؟ او د دې خبري کولو ته به اړ نشي چي دا یو ستر علمي حقیقت دئ، د هغه مهال انسان ته په دې حقیقت پوهېدا محال وه، دا د هغه مهال د یوه عادي انسان وینا نشو ګڼلی.

# د عالم تېزه او سریع پراخېدا

ساینس وایي چي دا عالم له هغې لومړنۍ چاودني وروسته تر نن پوري په سریع او مسلسله توګه پراخېږي، ځیني ستوري زموږ له زمکي په دومره سرعت سره لري کېږي چي نور ئې تر موږ نه رارسېږي. یعني د لري کېدو سرعت ئې د نور تر سرعت زیات دئ!! راشئ وګورو چي آیا قرآن په دې اړه څه ویلي که نه؟!!

**د قرآن دې آیت ته ځیر شئ:**

﴿وَٱلسَّمَآءَ بَنَيۡنَٰهَا بِأَيۡيْدٖ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ٤٧﴾ **الذاريات: ٤٧**

**او آسمان مو په خپل لاس جوړ کړ او موږ ئې پراخوونکي یو.**

**دا آیت وايي چې الله تعالی دا آسمان جوړ کړ او هغه ئې پراخوونکی دئ، یعني په پر له پسې او مسلسله توګه پراخوالی ورکوي!!**

**هر با انصافه عالِم او هر باشعوره انسان به په دې اعتراف وکړي چې دا د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز دی، دا هغه حقیقت دئ چې قرآن څوارلس پېړۍ مخکې ویلی او انسان د شلمې پېړۍ په وروستیو کې پرې پوه شوی.**

**دې ته مو باید پام وي چې دا نظریه ځیني لوازم لري او موږ دې ته اړ کوي چې په ځینو داسې خبرو باور وکړو چې بنسټ ئې همدا نظریه ده، یوه ئې دا چې یو مهال به د عالَم د اجرامو تر منځ موجود واټن ورو ورو زیات شي او داسې پړاو ته به ورسېږي چې د دوی تر منځ جاذبه به کمزورې شي او دا به د دوی په بېلېدو او جلا کېدو منتج شي، او دا همغه حالت دئ چې قرآن ئې د قیامت په نامه یادوي او وايي چې ستوري به توی شي، د جاذبې هغه ځواك به کمزوری او له منځه ولاړ شي چې دا ستوري ئې په خپل خپل مدار کې ساتلي او د شلېدو او پرېوتو مخه ئې نیولې. د دې نظریې بله تقاضا او نتیجه دا ده چې که موږ هر څومره له نن ورځې شا ته درومو نو عالَم به تر نن ووړ او محدود مومو. محققین او د ژور علمي نظر خاوندان او څېړونکي دې حقیقت ته په پام سره چې کائنات په مسلسل او پرله پسې توګه پراخېږي، دې نتیجې ته رسېدلي چې که موږ هر څومره شا ته نظر وکړو او څو ملیونه کاله وړاندې د کائنات حجم معلوم کړو نو دا به راته جوته شي چې هر څومره شا ته درومو د کائنات پراخوالی او حجم ووړ مومو، په دې شا ته تګ کې به سلګونو او زرګونو ملیونه کاله مخکې ټول کائنات د یوې وړې ګرې په اندازه او تر**

هغه مخکي د فټبال د یوه توپ په اندازه او د بیګ بینګ له هغي ستري چاودني څو ثانیې وړاندي به ئې د یوې منې په اندازه ومومو. ښایي دا خبره به ځینو ته ډېره حیرانوونکي او حتی د نه منلو وړ وبرېښي، قرآن وایي چي د زمکي او آسمان د اوسني نظام له متلاشي کېدو وروسته به نوی آسمان او نوې زمکه پیدا کړی شي، په نوي نظام کي به له یوې خوا زمکه اواره وي او له بلي خوا تر اوسنۍ کچي ډېره پراخه، راشئ د دې مطلب په وړاندي هم لږ توقف وکړو او وګورو چي نننی علم او ساینس په دې اړه څه وایي؟ آیا له اوسني مقداره د زمکي د مزید پراخېدو امکان ردوي او که ئې تائیدوي؟!!

ساینسپوهان وایي: که د اتم د زړه (مرکز) او هغو الکترونونو تر منځ چي په چاپیر ئې راچورلي، موجود او اوسنی واټن لږ زیات کړی شي، نو زموږ د زمکي حجم به له اوسني مقداره په ملیونونو ځله زیات شي او که دا واټن لږ له اوسني مقداره راکم کړو نو حجم به ئې د اوسني حجم ملیونمه برخه شي. په اتم کي د الکترون او پروتون تر منځ اوسنی واټن د پروټون د جاذبې له ځواك او د الکترون د فرار له ځواك سره تړاو لري، د دغو دواړو ځواکونو تر منځ موجود تناسب په دې منتج شوی چي تر منځ ئې اوسنی واټن وي، په دې ځواك کي تغییر د اتم په حجم کي د تغییر باعث کېږي، او د اتم په حجم کي معمولي تغییر د اجسامو د حجم د ډېر زیاتوالي او کموالي باعث کېږي.

# شپه او ورځ د زمکې له حرکته راپیدا کېږي که د لمر؟

دا اوس یو داسې مسلم حقیقت دئ چې هیڅوک ترې انکار نشي کولی چې شپه او ورځ د زمکې له حرکته راپیدا کېږي نه د لمر له حرکته، زمکه په هرو څلرویشتو ساعتونو کې یو ځل پر خپل محور څرخي او له همدې حرکته شپه او ورځ راپیدا کېږي، خو آیا قرآن په دې اړه هم څه ویلي؟ دې پوښتنې ته د ځواب موندلو لپاره د قرآن دغو آیتونو ته ځیر شئ:

وَٱلشَّمۡسِ وَضُحَىٰهَا ١ وَٱلۡقَمَرِ إِذَا تَلَىٰهَا ٢ وَٱلنَّهَارِ إِذَا جَلَّىٰهَا ٣ وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَغۡشَىٰهَا ٤ الشمس: ١-٤

قسم په دغه لمر او په غرمه ئې. قسم په دې سپوږمۍ چې ورپسې شي. قسم په دغې ورځ چې څرګند ئې کړي. قسم په دغې شپې چې په تیاره کې ئې راونغاړي.

تر دې وړاندې چې د دې قسمونو او د هغوی د ځواب په اړه څه ووایو غوره ده چې د درېیم او څلورم آیتونو د الفاظو ترکیب ته ځیر شو چې د شپې او ورځې په اړه ځانګړې وینا لري، د دې پر ځای چې ووایي: د لمر په تلو راتلو سره شپه او ورځ راځي، برعکس وایي: ورځ لمر راڅرګند کړي او شپه ئې پټ کړي؟! د بیان په دغه اسلوب سره قرآن یوه داسې ستر حقیقت ته اشاره کړې چې انسان یوازې څو کاله د مخه په ۱۹ پېړۍ کې پرې پوه شو. انسان مخکې په دې نه پوهېدو چې شپه او ورځ په اصل کې د زمکې دوه خاص حالتونه دي چې د زمکې په حرکت پورې ارتباط لري، نه د لمر په حرکت پورې، دا د زمکې حرکت دئ چې کله د لمر د څرګندېدو باعث شي او کله ئې د پټېدو، د بیان دا دقیق اسلوب نه یوازې د قسمونو له ځواب سره ژور ارتباط لري بلکې له یوه ستر علمي حقیقت هم پرده

اوچتوي. لکه چي د زمکي د شپې او ورځي باعث په خپله زمکه ده، ستا د نفس د شپې ورځي باعث هم په خپله ستا نفس دئ.

د دې سورې د لومړيو اتو آيتونو د قسمونو په اړه وضاحت به دا حقيقت تاسو ته مزيد جوت کړي. دلته په څو شيانو لوړه شوې او وروسته ويل شوي:

فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَىٰهَا ٨ قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ٩ وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ١٠ [١] الشمس: ٨-١٠

نو د ده فجور او تقوی ئې ورالهام کړه، بې شکه بريالی شو هغه څوك چي پاك ئې کړلو، او بې شکه نامراد شو هغه څوك چي وئې لړلو.

بايد وګورو چي د دغو قسمونو او ځواب تر منځ ئې څه رابطه شته؟ د لمر، سپوږمۍ، شپې او ورځي ارتباط د انسان له نفسي او روحي حالت سره څه دئ؟ دا قسمونه څنګه دا خبره ثابتوي چې: هغه کس بريالي شو چي خپل نفس ئې تزکيه کړ او هغه نامراد شو چي ککړ ئې کړ؟ ځواب دا دی:

کله چي ته غواړې يو څوك ستا پر خبري باور وکړي نو يا کوم دليل او شاهد وړاندي کوې او که شاهد ونه مومې نو قسم کوې، د دې معنی دا ده چي قسم د شاهد ځای ناستی دئ، پر الله تعالی د قسم معنی دا ده چي ته الله تعالی پر خپلي وينا شاهد نيسې، قسم د دې لپاره نه وي چي ګواکي ته د کوم ستر شي نوم اخلې او په همدې سره مقابل لوري ته وايي چي اوس نو زه رښتيا وايم!! که قسم په دې معنی وی نو له الله تعالی پرته پر نورو سپېڅلو او سترو شيانو به هم قسم جائز وو، لکه پر کعبې قسم، پر قرآن قسم، خو داسي قسمونه له شرعي پلوه ناجائز دي او له اصولي پلوه ناسم، ځکه نه قرآن ستا د خبري شاهد کېدی شي او نه کعبه، دلته پر دغو شيانو د قسم معنی دا ده چي الله تعالی دغه د شاهد په توګه وړاندي کوي او هغه مدعا پرې ثابتوي چي د قسمونو په پای کي راغلې، چي دغي مدعاء ته

د قسم ځواب ویل کېږي، دلته د قسمونو ځواب دا دئ: بې شکه بریالی شو هغه څوك چي نفس ئې پاك کړلو، او بې شکه نامراد شو هغه څوك چي وئې لړلو. باید وګورو چي دغه شیان څنګه پر دې خبري شهادت ورکوي.

- لکه څنګه چي د دې د عالم حکیم او علیم خالق، ستا د زمکي د روښانه کولو لپاره داسي لمر پیدا کړی چي نه یوازي ستا د زمکي (کور) ته رڼا ورکوي بلکي حرارت هم ورکوي، د لمر له (حرارت) او (نور) پرته به ستا په تیاره او سړې زمکي باندي ژوند ممکن نه وو، همداراز ئې ستا د لارښووني لپاره ستا په نفس کي د سالم فطرت او حساس ضمیر روڼ څراغ اېښی، داسي لارښود چي هم تا ته (فجور) درښیي او هم (تقوی)، ښه درته ښایسته او آشنا کړي او بد درته منکر او کرکجن.

- ته په آسمان کي ګورې چي سپوږمۍ د (لمر) له پرېوتو وروسته راڅرګنده شي، دا سپوږمۍ چي د شپې ښه ده، نه له ځانه نور لري او نه حرارت، که له دې ستا د زمکي په لور د نور پلوشې رادرومي، نو دا په خپله د دې نه بلکي د لمر وړانګي دي چي دا ئې د یوې هینداري په څېر زمکي ته منعکس کوي. که لمر پرېووت سپوږمۍ راځي او د شپې راتګ اعلانوي، همداراز که ستا د ضمیر څراغ خړ او مړ شو، نو نامراده شوې او تیاره دي په برخه شوه.

- ته ورځ ګورې چي لمر راڅرګند کړي، ورځ د زمکي هغه حالت دئ چي لمر ته مخه کړي، په دې سره روښانه شي، رڼا او حرارت ئې په برخه شي، هر څه په کي وینښ شي، وده، حرکت او خوځښت په کي پیل شي. او ته شپه ګورې چي لمر پټ کړي، شپه د زمکي هغه حالت دئ چي لمر ته شا کړي او په دې سره له نور او حرارت محرومه او تیاره ئې په برخه شي، د خوځښت او حرکت ځای رکود او جمود ونیسي، ستا د (نفس) هم دغه حالت دئ، که دي (تزکیه) کړ او پاك صاف دي وساتو، بریالی شوې او که دي (ولړلو) نو ناکام او نامراد شوې. که تا د خپل نفس لمر

(دا حساس ضمیر) او (دا لاربنود څراغ) روښانه کړ نو (رڼا)، (ژوندون)، (وده) او (ویښتیا) به دي په برخه شي او که دي خړ، تت او دپ کړ نو (تیاره)، (خوب) او (رکود او جمود) به درته مخه کړي.

- همدا راز ته په خپلې فضاء کې لوړ او اوچت آسمان ګورې او تر خپلو پښو لاندې پرېوتې زمکه، ستا نفس هم دې ته ورته دوه حالته درلودی شي، یا به لوړ درومي یا به له زمکې سره نښلي، یا به د ارتقاء او رشد لار نیسي او عزت، رفعت او سرلوړۍ ته به رسي، یا به د ځوړ، سقوط، هبوط او پرېوتو لار غوره کوي او د ذلت او سپکاوي په کنده کې به پرېوځي. قرآن په ډېرو نورو ځایونو کې هم دې ته ورته د زمکې په لوري دروند کېدل، په زمکې پسې نښتل او د هبوط او سقوط اصطلاحات هلته کارولي چې ذلت، رذالت او سپکاوی افاده کړي، ذلت ته غاړه ایښودل او په سپک ژوند د انسان رضایت تمثیل کړي او پورته تګ ئې د معنوي ارتقاء او روحي رشد لپاره کارولی.

دا دئ ګورئ چې دا قسمونه له یوې خوا موږ ته وایي چې شپه او ورځ د زمکې په خوځښت پورې تړلې حالتونه دي او له بلې خوا موږ ته لارښوونه کوي چې د انسان سقوط او ارتقاء، پرېوتا او لوړېدا د ده په نفسي او روحي حالت پورې تړلي حالتونه دي.

د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې به وګورئ چې د خپلو سترو او اساسي مدعاوو د اثبات لپاره ئې همدا اسلوب کارولی او د قسم په توګه ئې شواهد او دلائل د مخاطب مخې ته ایښي دي، د بیان دا اسلوب دومره دقیق او له علمي او ادبي پلوه دومره لوړ او اغېزناك دئ چې د انسان عجب او حیرت پاروي او د قرآن پر عظمت ئې اعتراف ته اړ کوي، دومره اغېزناك چې له ډېره حیرته د انسان پوستکی ورته ځیږ شي، څوك چې لږ علمي او ادبي سلیقه لري د قرآن قسمونه به د

علم او ادب په آسمان کې د ډېرو ځلاندو ستورو په څېر ومومي. باور وکړئ چې د قرآن هر قسم يو ستر علمي او ادبي اعجاز دئ، که د دې کتاب د ضخيم کېدو وېره راسره نه وی نو ما به د قرآن ټول قسمونه په دې کتاب کې ستاسو مخې ته اېښي وو. ما (د قرآن قسمونه او د اساسي قضاياوو اثبات) په نامه يو کتاب ليکلی چې څو کاله وړاندې چاپ شوی، څوك چې د قرآن د علمي اعجازو دا کتاب لولي مشوره ورکوم چې هغه کتاب هم له نظره تېر کړي.

# زمان نسبي معيار دئ نه مطلق

يوه له هغو خبرو چې د بيا ژوندون په اړه د انسان ذهن تر خپل سيوري لاندې نيسي او باور کول ورته گرانوي، د اوږدې زمانې تېرېدل دي، که په يوه مړي يوه دوه ورځې تېرې شوې وي بياژوندې کېدل ئې ورته دومره گران نه برېښي لکه د هغه چې اوږده موده وروباندې تېره شوې وي، قرآن د دوو قصو په ترځ کې موږ ته دا حقيقت څرگندوي چې زمانه نسبي معيار دئ نه مطلق، د يوه مؤمن بنده په هغه خوب يا مرگ کې چې سل کاله پرې تېر شوي وو خو کله چې راپاڅېدو وئې ويل: يوه ورځ يا د يوې ورځې يوه برخه راباندې تېره شوې، بله ئې د اصحاب کهف قصه ده چې دوه درې سوه کاله ئې په خوب کې تېر کړي ول خو چې راويښ شول په خپلو منځونو کې ئې وويل: دلته به څومره موده ځنډېدلي يو؟ ځينو ئې وويل يوه ورځ او ځينو وويل د يوې ورځې يوه برخه!! په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه

کوي چې زمانه نسبي امر دئ، له يوه تر بل او له يوه حالت تر بل ئې وضع بدلېږي، ويښ او ويده، مړ او ژوندى، لټ او تېز ته يو شان نه وي، هغه زمانه چې يوه ته په يوه حالت کې بې انتهاء بربښي بل ته د څو ثانيو او دقيقو وي، کومه فاصله چې مېږي ته بې انتهاء بربښي د يوې مرغۍ لپاره د څو ثانيو وي، که په يوه اطاق کې له يوه ويده او ويښ چې ټوله شپه ئې په خوب او ويښه تېره کړې، پوښتنه وکړئ، ويښ به درته وايي: ډېره اوږده شپه وه، لټ په لټ اوښتم، سخته راباندي تېره شوه او ويده به درته وايي: زه نه يم پوهېدلی چې شپه څنګه تېره شوه او څومره خوب مي کړی، دې مؤمن بنده ته عملاً وښودی شو چې سل کاله ورته يوه ورځ او حتی تر هغه هم کم، د يوې ورځې څو ګنتې معلوم شول، قرآن همدغه حقيقت ته په څو نورو مواردو کې هم اشاره کړې او فرمايي: د الله لپاره يوه ورځ هومره ده لکه ستاسو پنځوس زره کاله، دا تاسو يئ چې کلونه او پېړۍ درته اوږده زمانه بربښي او په واړه ذهن مو د دې سيورى پروت دئ چې په مړو باندي د اوږدې مودې له تېرېدو وروسته به څنګه بيا راژوندي کېږي. د نسبيت په اړه د قرآن دغه خبره دولس پېړۍ وروسته، د الماني يوه ساينس پوه انشټين، د ساينس په ژبه وکړه او په دې سره ئې د فزيك د پلار نوم وګاټو.

قرآن د هغو خلکو په ځواب کې چې قيامت (بعيد: لري) ګڼي وايي: د قيامت منکرين بې ځايه قيامت لري ګڼي، دا ځکه چې دوى خپلې لنډې ورځې او اونۍ معيار نيولې او د خپلو دغو وړو او محدودو معيارونو له مخې قيامت ورته ډېر لري بربښي، په داسي حال کې چې الله تعالی ته او په الهي معيارونو کې ډېر نږدې دئ، انهم يرونه بعيداً و نراه قريباً: دوى ئې لري ګڼي او موږ ته نږدې ښکاري)، که دوى خپل واړه واړه معيارونه پرېږدي، له خپل تنګ چاپېرياله راووځي او د قيامت موضوع ته د داسي معيارونو له مخي وګوري چې د دې عالم له ستروالي او عظمت سره ښايي نو حتماً به متوجه شي چې په خپلو تنګ نظره قضاوتونو کې ئې اشتباه

کړي او د يوه عجول انسان په څېر ئې چلن کړی، د دوی په معيارونو کې قيامت لري برېښي خو په الهي معيارونو کې، هلته چې يوه ورځ د پنځوس زره کلونو په اندازه ده، نږدې دئ. قرآن همدغه حقيقت ته په څو نورو مواردو کې هم اشاره کړې، چې د ټولو مقصد دا دئ: زمانه نسبي امر دئ، له يوه تر بل او له يوه حالته تر بل ئې وضع بدلېږي، د دې وينا په اهميت هغه وخت ښه پوهېدی شو چې وګورو د شلمې پېړۍ ساينس پوهان، د ستور ليکو تر منځ د واټن او فاصلې ټاکلو لپاره دې ته اړ شول چې د ورځې، اونۍ، مياشت، کال او پېړۍ معيار پرېږدي او په ځای ئې هغه واټن معيار وګڼي چې نور (رڼا) ئې په يوه کال کې پلې کوي، او دې ته ئې د نوري کال نوم ورکړ، او وئې ويل: دا ستور ليکی (کهکشان) له هغه بله څو سوه مليونه نوري کاله فاصله لري. وئې ليدل چې د سپوږمۍ او مريخ ورځې د زمکې له ورځې توپير لري، هر ستوری خاصه ورځ، مياشت او کال لري، موږ د زمان لپاره ورځ د واحد په توګه کاروو، له لمر ختو تر لوېدو پورې موده د ورځ په نامه يادوو، خو که موږ سپوږمۍ ته ولاړ شو نو هلته به دوه اونيو ته د ورځ نوم ورکوو، هلته زموږ زمکنی واحد او معيار د اعتبار وړ نه دئ، که د زمکې کال ۳۶۵ ورځې دئ، لمر ته د نږدې ستورو کال لنډ دئ، د بېلګې په توګه د عطارد کال اته اتيا ورځې دئ. او دا د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ، پيغمبر عليه السلام څنګه په دې پوه شو چې هر مقام او مکان ځانګړی زماني معيار لري، کوم معيارونه چې موږ ئې د زمکې په سر کاروو دا په بل ځای کې نه شي تطبيقېدی؟

# سپوږمۍ د لمر په رڼا سره روښانه کېږي

دا اوس يو څرګند او هر چا ته معلوم حقيقت دئ چې سپوږمۍ روڼ او

ځلانده ستورى نه دئ، د زمکي په څېر بې نوره ده، د لمر رڼا ئې ځلانده کوي، يوازي هغه برخه ئې موږ ته رڼه ښکاري چي د لمر پلوشې پرې لګېږي، هغه مهال زموږ له سترګو غائبه شي چي د لمر په پلوشو روښانه شوې برخه ئې بل لوري ته واوړي. راشئ وګورو چي قرآن په دې ړه څه وايي!! دې آيت ته ځېر شئ:

وَجَعَلَ ٱلۡقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ ٱلشَّمۡسَ سِرَاجًا ١٦ نوح: ١٦

او سپوږمۍ ئې په کې يوه رڼا وګرځوله او لمر ئې يو څراغ وګرځاوو؟

دا آيتونه د قرآن يو بل علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي، او ښيي چي قرآن په خپلو بحثونو او څېړنو کې څومره دقيق دئ او د انسان تر علمي لاسته راوړونو څومره مخکې!! په دې آيت کې د سپوږمۍ لپاره د نور او د لمر لپاره د څراغ لفظ راغلی او ښيي چي لمر د څراغ په څېر له ځانه نور او رڼا توليدوي او سپوږمۍ د بل په نور رڼا کېږي، او د هينداري په څېر د نور وړانګي منعکس کوي، او دا هغه حقيقت دئ چي انسان اوس او له ډېرو څېړنو او تحقيقاتو وروسته پرې پوه شوی.

سپوږمۍ د زمکي تابع ستورى دئ، زمکه اتيا ځلي تر سپوږمۍ ستره ده، په څه کم دېرشو ورځو کې د زمکي پر محور راڅرخي، سرعت ئې په هر ساعت کې ٣٣٠٠ ميله دئ، له زمکي ٢٤٠٠٠٠ کيلومتره فاصله لري، سپوږمۍ پر خپل محور ډېره سسته څرخي، له همدې کبله ئې هره ورځ او شپه د زمکي له دوو اونيو سره برابره وي، يعني د سپوږمۍ مياشت يوه شپه او يوه ورځ وي، له همدې کبله د ورځي له لوري ئې د حرارت درجه تر ١٥٠درجو پوري ورسېږي او شپه ئې دومره سړه وي چي منفي ١٥٠ درجو ته ورسېږي.

# سیوري هم د ضوابطو تابع دي

**قرآن وایي چې د عالَم هر څه او د دوی سیوري هم الله تعالی ته سجده کوي!! راشئ وګورو چې د دې خبرې معنی څه ده او له علمي پلوه ئې ارزښت څومره دئ!! د قرآن دې آیت ته ځیر شئ:**

وَلِلَّهِ يَسۡجُدُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ طَوۡعٗا وَكَرۡهٗا وَظِلَٰلُهُم بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ۩ ١٥ **الرعد: ١٥**

او الله ته هر هغه څه چې په آسمانونو او زمکې کې دي او د دوی سیوري هم، په خوښه او ناخوښه، سبا او ماښام سجده کوي.

**د دې مبارك آیت په وړاندې لږ توقف په کار دئ، په مطلب ئې سم پوهېدا دقت او غور غواړي، باید وګورو چې څنګه د آسمانونو او زمکې هر څه او د دوی سیوري د الله تعالی په وړاندې په خوښه او ناخوښه، سبا او ماښام سجده کوي؟ په دې اړه څو خبرې باید په پام کې ولرو:**

- **دا مطلب د آل عمران د سورې په ۸۳ آیت کې په دې توګه راغلی:** أَفَغَيۡرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبۡغُونَ وَلَهُۥٓ أَسۡلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ طَوۡعٗا وَكَرۡهٗا وَإِلَيۡهِ يُرۡجَعُونَ ٨٣

- **آیا د الله له دین پرته (بل دین) لټوي، حال دا چې د آسمانونو او زمکې هرڅه، طوعاً اوکرهاً، (په خوښه او ناخوښه) ده ته غاړه ایښې او د ده لوري ته ورګرځول کېږي. یعني د زمکې او آسمان هر څه الله ته تسلیم دي، د ټولو دین اسلام دئ، هغه څه کوي چې الله پرې ګمارلي، په همغه لار درومي چې الله ورته ټاکلې، لمر، سپوږمۍ، ستوري په خپل خپل مدار کې خوځي، په خپل خپل وخت او له خپل خپل**

ځایه راخېژي او پرېوځي، وني، بوټي او حیوانات د خپل فطرت مطابق په خپل کار لګیا دي، په ټولو مخلوقاتو کې یوازي کافر او عاصي انسان داسي دئ چي د الله له دین پرته د بل څه په لټه کې شي، هم د الله د دین په نسبت کافر شي او هم د خپل فطرت په نسبت، دی ستر باغي دئ، له هغه دین ئې بغاوت کړی چي د زمکي او د آسمان د هر څه دین دئ.

په دې آیت کې د سجدې معنی همغه ده چي د آل عمران د سورې په آیت کې د (اسلم) په لفظ سره بیان شوې، چي مراد ئې د الله تعالی حکم ته انقیاد او تسلیمېدا ده، که سجده له دې پرته په بله معنی او تندی پر زمکه اېښودل تعبیر شي نو نه یوازي د هغو مخلوقاتو په اړه صدق نه کوي چي نه تندی لري، نه ملا، نه کوږېدی شي او نه تندی پر زمکه اېښودی شي، بلکي د هغو انسانانو په اړه هم صدق نه کوي چي پر الله تعالی ایمان نه لري او سجده نه کوي. د دغو مخلوقاتو د سیوري په اړه هم صدق نه کوي.

نو د دې آیت معنی دا ده: نه یوازي ټول مخلوقات د الله تعالی تکویني حکم ته منقاد دي او د عالم هیڅ څه له هغو ثابتو الهي سننو او تکویني احکامو سرغړاوی نشي کولی چي الله تعالی وضع کړي، بلکي د دوی سیوري هم د دغو الهي سننو او تکویني احکامو مطابق په داسي دقیقه توګه رامنځته کېږي، لویېږي، وړېږي او له سترګو پټېږي، چي موږ کولی شو د یوه شي د سیوري له مخي دا وټاکو چي د دې شي او د نور د منبع تر منځ څومره واټن دئ، سیوري ته په پام سره ویلی شو چي اوس غرمه، که ماپښین که مازدیګر، او څو بجې دي، د سیوري له مخي د لمر او زمکي تر منځ فاصله معلومولی شو.

دا یقیناً چي د قرآن یو بل علمي اعجاز دئ چي وایي د عالم هر څه او سیوري ئې هم د خاصو تکویني ضوابطو تابع دي. د دې علمي اعجاز په اهمیت او ارزښت

هغه څوك پوهېږي چي په طبيعي علومو کي په تحقيق بوخت وي.

## د عالم هر څه ټاکلی او ثابت مقدار لري

قرآن وايي چي الله تعالی د عالم هر څه په ثابت او ټاکلي مقدار کي پيدا کړي، راشئ وگورو چي د قرآن دا وينا د ساينسپوهانو په لابراتورونو کي څنگه ارزول کېږي، ورسره موافق دي که ئې مخالفت کوي؟!! د قرآن دې مبارك آيت ته ځير شي چي همدا خبره کوي:

**وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٖ مَّعۡلُومٖ ٢١**

الحجر: ٢١

او هيڅ داسي شی نشته چي خزانې ئې له موږ سره نه وي او نه ئې نازلوو مگر په معلومي اندازې سره.

يعنی الله تعالی هر شی په يوه معلومه او معينه اندازه کي پيدا کړی، که دا عناصر دي، که د زمکي مرکبات دي، که ونې، بوټي او حيوانات دي، که هوا، باد، باران، واوره او اوبه دي، که گرمي او يخني ده، د هر څه لپاره ثابت مقدار او حد ټاکل شوی، دومره چي دلته ورته ضرورت وي، نه تر ضرورت زيات او نه کم، هر څه ئې په همغه اندازه پيدا کړي چي د ژوو ژوند او ژواك او د زمکي او آسمان بقاء او دوام ئې غواړي. دا هم د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز زموږ مخي ته ځلوي، نن انسان په دې پوه شوی چي د زمکي هر څه ثابت مقدار لري، سره له ټولو هغو تغييراتو چي هره شېبه په زمکي کي رامنځته کېږي، يو شی په بل بدلېږي، ځيني سره ترکيب شي او نوی شی رامنځته کړي، ځيني په خپلو اجزاوو تجزيه شي، ځيني

وسوزي ايرې او دود شي، ځيني وشړېږي، وراسته شي، په خاوره تجزيه شي، خو نه په دې ترکيب سره د اشياوو په اصلي او ثابت مقدار کې تغيير راځي او نه ئې په تجزيې سره، دا د ساينسپوهانو د ژورو څېړنو وروستۍ پرېکړه ده چي که د عالَم په دې ثابتو مقاديرو کې معمولي تغيير او بدلون راشي نه به د زمکي پر سر انسان ژوند کولی شي او نه نور ژوي او نه د عالَم موجود نظم او نظام دوام کولی شي. دا تعادل او توازن ښيي چي د دې ټول عالَم پيدا کوونکی او پالونکی يو دئ، که عالَم د تصادفي تخليق زېږنده وی يا ئې له يوه خالق پرته نور پيدا کوونکي درلودی نو نه به دا تعادل او توازن تر سترګو کېدو او نه د ټولو مخلوقاتو تر منځ دا موجود تنسيق، يووالی او همغږي.

# د هر څه سم او په ټاکلې اندازه پيدايښت او لارښوونه ئې

قرآن وايي چي الله تعالی د عالَم هر څه په سمه توګه پيدا کړي، هر څه ئې په ټاکلې اندازه پيدا کړي، هر څه ته ئې لارښوونه کړې چي څه به کوي، کومه دنده به سر ته رسوي او په کوم لوري به درومي!! راشئ وګورو چي د قرآن دا وينا څومره علمي ارزښت لري او زموږ له مشاهداتو سره څومره اړخ لګوي!! لاندي مبارکو آيتونو ته ځېر شئ:

سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ١ ٱلَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ٢ وَٱلَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ ٣
وَٱلَّذِيٓ أَخۡرَجَ ٱلۡمَرۡعَىٰ ٤ الاعلی: ١-٤

د خپل اعلی رب نوم په پاکۍ سره ياد کړه. هغه چي پيدا ئې کړل (هرڅه) او برابر

ئې کړل. او هغه چې اندازه او هدایت ئې کړل. او هغه چې دا بوټي ئې راوایستل.

دا مبارك آیتونه څو مطالبو ته اشاره کوي:

- ستا پالونکی رب (لوړ) دئ، لوړ تر هر هغه څه چې په دې عالم کې ستا تر سترګو کېږي، لوړ تر دې چې ستا په خیال، وهم او ګمان کې وګرځي، په دې پراخ عالم کې هیڅ څه هغه ته ورته نه شې موندلی.
- د خپل لوړ رب نوم په پاکۍ یادکړه، په څو معنی: اولاً: پام چې د الله جل شأنه په اړه د بحث په دوران کې کوم عیب او نقص ورته منسوب نه کړې، الله تعالی تر دې لوړ دئ چې په ذات او صفاتو کې ئې څه کمی او عیب وي. ثانیاً: الله تعالی په داسي نامه مه یادوه چې د ده له عظمت او شأن سره نه ښایي، الله تعالی غوره نومونه لري، په دغو غوره نومونو سره ئې یادوه، باید پوره محتاط وې چې د الله د یادولو او ذکر په وخت کې داسي نوم ونه کاروې چې د الله تعالی په شأن کې بې ادبي ګڼل کېږي، د الله ذکر خاص ادب او ځانګړی فرهنګ او قاموس لري، د ځان پاکوالی، د زړه حضور او د روح خشوع، د دې مقدس مقام آداب دي، څوك چې له دې پرته بل حالت ولري، بې ادبي ئې کړې، همداراز د ذکر په دوران کې هغه نومونه کارول چې له دې خاص او ځانګړي قاموس نه وي اخیستل شوي، الحاد او له اصلي لارې کږېدل دي، څوك چې د مستۍ او بې خودۍ په حالت کې، له جذبې او ساز او سرود سره الله یادوي بې ادبي کوي، څوك چې الله د ساقي، صنم، دلبر، معشوق، پیرمغان او ... په نامه یادوي بې فرهنګه دئ، د الهي ذکر له قاموسه بې خبره او د الله تعالی د ذکر له آدابو بې برخي.
- ستا پالونکی رب همغه دئ چې دا ټول پیدا شوي ئې پیدا کړي، نه یوازي دا چې هغه ئې پیدا کړي بلکې (سم) ئې پیدا کړي، د دې عالم هر څه ښه، ښایسته، موزون او دقیق پیدا شوي، له یوې خوا د دوی (وجود او شته والی) په دې دلالت

کوي چې حتماً يو (پيدا کوونکی) لري، له بلې خوا د دوی سم، دقيق او موزون خلقت په دې شهادت ورکوي چې (پيدا کوونکی) ئې (اعلی) او (لوړ) دئ. د هر څه پيدايښت له نشته پيل کړي، ورو ورو ئې کمال او د سموالي وروستي پړاو ته ورسوي.

- له (پيدايښت) او (تسويې) علاوه دوې نورې ځانگړتياوې هم د ده په مخلوقاتو کې گورو:

الف: هغه ثابته او معينه اندازه چې د دوی په (مقدار) کې مراعات شوې.

ب: هغه لارښوونې چې د هر څه په فطرت او خټه کې ايښودل شوې.

- د دې عالَم خالق او پالونکي رب هر څه د ضرورت په اندازه پيدا کړي، نه تر ضرورته کم او نه زيات، هيڅوك نه شي کولی د دې پراخ عالَم په غبږ کې کوم داسې (اضافي) او (غيرضروري) شی ومومي چې هسې او بې له کومې گټې ئې دلته کوم (ځای) اشغال کړی وي!! همداراز نه شي کولی د داسې کوم څه نوم واخلي چې په دې عالَم کې ئې ځای تش او خالي وي، د دې عالَم د توکيو په (مقدار) او د دوی ترمنځ (تناسب) کې چې کومه (اندازه) مراعات شوې دومره دقيقه ده چې په هغه کې ډېر لږ تغيير او تعديل د ټول عالَم د متلاشي کېدو باعث کېږي!! هر شئ په خپل خپل ځای او مقدار کې داسې دقيق پيدا شوی چې که له منځه ولاړ شي او يا ئې اندازه او مقدار کم او زيات شي، د ټول عالَم بقاء له گواښ سره مخامخ کوي.

- پالونکي رب چې هر څه پيدا کړی، هغه ته ئې لارښوونه او (تلقين) کړی چې دنده ئې څه ده او دلته به د خپل شتون په دوران کې کوم کوم کارونه ترسره کوي، کوم خالي ځای به ډکوي، په کوم مسير کې به خوځي، کوم نتائج به وړاندې کوي. مگر نه گورئ چې لمر په خاص وخت کې له خاص ځايه راخېژي، په معين مسير کې درومي، د يوې معينې مسافې له پلې کولو وروسته، په خاص وخت کې، په داسې

ځای کې پرېوځي چې له مخکې ورته ټاکل شوی، خپل مأموریت ترسره کوي، تاسو ته رڼا او تودوخه درکوي، ستاسو، حیواناتو او نباتاتو اړتیاوو ته ځواب وایي، ستاسو په خدمت کې دئ، د دانې او مېوې په پیدابښت کې ممد او د رزق او روزي په درکولو کې درسره مرسته کوي، سپوږمۍ د شپې رابره کېږي، ستاسو تیاره شپې روښانه کوي او ستاسو لپاره په تیارو شپو کې روښانه او څرګند تقویم، چې د شپو ورځو حساب پرې معلومولی شئ.

ونې ګورئ چې شپه ورځ په کار بوختې وي، زیار باسي، مضر ګازونه جذبوي او ستاسو د اړتیا وړ آکسیجن تولیدوي، د زمکې له خاورو په خپلو نازکو جرړو سره هغه حیاتي مواد جذبوي چې ته ورته ضرورت لرې او د لمر د وړانګو په مرسته له دغو موادو تا ته ښایسته او خوندوري مېوې جوړوي.

د شاتو موچۍ ګورئ چې له دې وړوکتوب او نازکتوب سره سره څومره منظم او ښایسته کور ځان ته جوړوي، داسې منظم کور چې د نړۍ ستر مهندسین ئې په ډېرو مجهزو وسائلو هم له جوړولو عاجز دي، له داسې توکیو ئې جوړوي چې د شاتو په څېر شی په کې تر اوږدې مودې خوندي او روغ رمټ ساتلی شي، په دې پوهېږي چې څنګه د خپلې خوښې (ملکه) او (واکمن) ځان ته غوره کړي، د زور پاچایي نه مني، په ډېر ښه شان خپل وظائف په خپلو کې وېشي او دا استعداد لري چې په خپل ملك کې دقیق نظم پلې کړي، په کوم کې چې هم د دندو وېش عادلانه وي، هم د نظافت او صفایي خیال ساتل شوی وي او هم د پردیو او د هغو موچیو له ننوتو مخنیوی وشي چې له ناپاکو وزرونو او پښو سره د دوی پاك او صفا کور ته ننوتل وغواړي، د کور په دروازه کې حساس او هوښیار پهره داران ودروي او هر ننوتونکی څاري او یوازې په هغه صورت کې د ننوتو اجازه ورکوي چې (خپل) وي او (پاك ستره) وي، په دې پوهېږي چې څنګه د ګلانو عصاره وزبېښي او شات ترې

جوړ کړي، داسي شات ترې جوړ کړي چي د کلونو کلونو په تېرېدو هم نه ګنده کېږي، د انسان د ډېرو بیماریو لپاره درمل دئ او انسان تر اوسه له خپل ټول پرمختګ او په خپلو ټولو مجهزو لابراتوارونو سره د هغه له تولیده عاجز دئ، خو همدا وړه حشره ئې هم پیدا کولی شي او هم ئې تر اوږدې مودې صفا، ستره او روغ رمتې ساتلی شي!! چا به حتماً دې ته په غوږ کې ویلي وي چي څنګه والوزي، څنګه له هغه وروسته خپل کور ته بېرته راستنه شي او لار ورکه نه کړي چي په پراخي فضاء کې څو څو کیلومتره لرې د ګلانو په لټه کې ځي، بېرته راګرځي او له کومي اشتباه او غلطۍ پرته د خپل کور دروازه پیدا کوي!!

قرآن د موچیو په اړه فرمايي:

**وَأَوۡحَىٰ رَبُّكَ إِلَى ٱلنَّحۡلِ أَنِ ٱتَّخِذِي مِنَ ٱلۡجِبَالِ بُيُوتٗا وَمِنَ ٱلشَّجَرِ وَمِمَّا يَعۡرِشُونَ ٦٨ ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ فَٱسۡلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلٗاۚ يَخۡرُجُ مِنۢ بُطُونِهَا شَرَابٞ مُّخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهُۥ فِيهِ شِفَآءٞ لِّلنَّاسِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ٦٩** النحل: ٦٨-٦٩

او ستا رب موچۍ ته وحي وکړه چي په ځینو غرونو، ځینو ونو او ځینو هغو ځایونو کې کورونه جوړ کړه چي (خلك) ئې لوړ جوړوي، بیا هر ډول مېوې وخوره او د خپل رب پر لارو منقاد درومه، له ګېډې ئې داسي څښاك راوځي چي رنګونه ئې ډول ډول دي او په هغه کې د خلکو لپاره شفاء (درملنه) ده، یقیناً چي په دې کې هغو وګړو ته څرګنده نښه ده چي تفکر کوي.

د دې مبارکو آیتونو په اړه دا اساسي خبري په پام کې ولرئ:

- الله تعالی موچیو ته په فطري توګه دا لارښوونه کړې او له داسي فطرت او جوړښته سره ئې پیدا کړې چي په غرونو، ونو، د خلکو کورونو او هغو صندوقونو کې چي خلك ئې د دوی لپاره جوړوي ځان ته کور غوره کړي.

- ټول ژوند او د ژوند ټولي کړني ئې د هغي طريقې مطابق دي چي الله تعالی ورته غوره کړې، په بشپړ انقياد سره د خپل رب له لوري وضع شوې او غوره شوې لار او طريقې باندي درومي.
- په دې فطري لار د تلو ثمره او نتيجه ئې رنګ رنګ خوندور او ګټور شات دي، د خلکو لپاره شفاء. د شاتو رنګ، ګټه او خوند ئې له يوه ګل تر بله توپير لري.
- د موچيو ژوند هومره منظم دئ چي انسان په هيڅ توګه او په هيڅ برخي کې له هغوی سره برابري نشي کولی، د کور مشره ئې ملکه ده، په واقعي معنی د کور مشره ده، د هر امر اطاعت ئې کېږي، دوی ئې په خپله غوره کوي، د هر کار لپاره ځان ته ټولګي لري، انجنيران ئې کورونه جوړوي، څوکيداران ئې د کور حفاظت کوي، د پرديو د ننوتو مخنيوی کوي، ناولې موچۍ ننوتو ته نه پرېږدي، ګنده شوې موچۍ وژل کېږي، يوه ډله دا دنده لري چي د داسي موچيو سر غوڅ کړي، يوه ډله د هګيو ساتنه او پالنه کوي، کورونه ئې شپږ ضلعي وي، ټولي اضلاع ئې سره برابري وي، په داسي خاصو او خوندي ځايونو کې کورونه جوړوي چي هم پاك وي او هم له بارانه خوندي وي، کورونو له مومو جوړوي، داسي منظم کورونه جوړوي چي ستر ستر انجنيران ئې له جوړولو عاجز دي، له داسي توکو ئې جوړوي چي شات په کې خوندي ساتل کېږي او انسان ته ئې خوراك تاوان نه رسوي، موچۍ د ګلانو رس او عصاره زبېښي، په خولې کې ئې داسي بدلون په کې راشي چي شات ترې جوړ شي، داسي شهد ترې جوړ شي چي انسان تر ننه د هغه له جوړولو عاجز دئ، د ډېرو بيماريو لپاره شفاء ده، تر کلونو کلونو له خوسا کېدو خوندي پاته کېږي، هغه شات لا تر څو کاله مخکي پوري روغ رمټ پاته وو چي څو زره کاله مخکي مصريانو د فرعون خوا ته په قبر کې ورسره ښخ کړي ول، د مصريانو عقيده دا وه چي مړي په خپلو قبرونو کې بېرته راژوندي کېږي نو ځکه ئې د هغوی خوا ته ځيني خوراکي توکي

هم ډېدول، انسان تر نن پوري نه نبات، دانه او مېوه جوړ کړي او نه د شيدو او شاتو په څېر خوراکي توکي، نه هغه شات جوړولی شي چي موچۍ ئې جوړوي او نه هغه موم چي موچۍ خپل کور ترې جوړوي، ټول کمال ئې دا دئ چي موجود خوراکي توکي په يوه او بله بڼه واړوي، له شيدو مستې، کورت، پوڅه او کوچ جوړ کړي، همدا توکي د لنډي مودې لپاره تر زمکي لاندي روغ رمټ نشي ساتلی او د خوسا کېدو مخه ئې نشي نيولی، موچۍ خپل مشر په خپله ټاکي، په زور تپل شوی مشر او ملکه نه مني، که د موچيو خاوند داسي ملکه ورته راوړي چي دوی ئې نه خوښوي نو ټول په ګډه پرې حمله کوي او هغه وژني، انسان لا تراوسه له دې محروم دئ چي په خپلي ټولني کي د خپلي خوښي صالح زعيم ولري، انتخابات ئې له ټګيو او برګيو ډک وي او همدا تقلبي انتخابات داسي خلك پرې مسلطوي چي پيسې او تبليغاتي وسائل لري، دومره حساسي دي چي څو ميله د ګلانو په لټه کي له خپله کوره لري ولاړي شي، بېرته سيده خپلو کورونو ته راستنې شي، د پراخي فضاء په غېږ کي د خپل کور لار نه ورکوي، دا واټن د دوی د بدن په تناسب دومره دئ لکه انسان چي څو زره کيلومتره له خپل کور لري ولاړ شي!! که د يوې موچۍ وزن په تخميني توګه پنځه ګرامه ونيسو، نو دوه سوه موچي يو کيلوګرام کېږي، که د انسان اوسط وزن اويا کيلوګرامه ونيسو نو د څوارلس زرو موچيو وزن د يوه انسان برابر کېږي، که يوه موچۍ له خپله کوره پنځه کيلومتره لري درومي او بېرته د خپل کور لار پيدا کوي او مخامخ ورځي، دا داسي ده لکه انسان چي له اويا زره کيلومتره (١٤٠٠٠x٥ =٧٠٠٠٠) لري واټن په هوا کي خپل کور ته مخامخ ولاړ شي!! پرته له دې چي د بل دروازه وټکوي، پوښتنه وکړي او په کوم هوايي ميدان يا هوټل کي توقف وکړي!! د موچيو په کورنۍ کي د کارونو وېش دومره منظم او عادلانه دئ چي انسانان نه په وړې کورنۍ کي داسي وېش لري او نه د موچيو د سترو کورنيو په څېر په لويو لويو ټولنو کي، انضباط ئې دومره جدي دئ چي هيڅ ګنده شوې او په

ګندګیو لړل شوې موچۍ ځالي ته نشي ننوتی، فوراً وژل کېږي، له خپلې ځالي په دفاع کې دومره زړه وري او پیاوړې دي چې د یږ په څېر لوی یرغلګر هم تېښتي ته اړ کوي او تر هغه ئې ځغلوي چې په اوبو کې ځان ترې غوټه کړي، که کومه کورنۍ چرګه کومه موچۍ په مښوکه ووهي، مړه ئې کړي یا ئې وخوري؛ ناڅاپي او د سترګو په رپ کې دومره موچۍ پر یرغلګري چرګي برید وکړي چې له تېښتي پرته بله لار ورته پاتې نشي!! ما ته ووایئ: آیا انسانان په کوم څه کې له دوی سره سیالي کولی شي؟

- یقیناً چې په دې کې هغو وګړو ته څرګنده نښه ده چې تفکر کوي. یعني اې بدمغزو کافرانو! اې چې له تفکر او تعقل پرته په کړو لارو سر شوي یئ! ولې په هغه رب ایمان نه راوړئ چې د قدرت نښې ئې په هر ګام کې او هر لوري ته ستاسو په مخ کې ځلېږي، ولې له دې څرګندو او ځلاندو نښو عبرت نه اخلئ، اې د حق منکرینو! که د خپل رب په هغه لار ولاړ شئ چې ستاسو د فطرت مطابق ده نو ژوند به مو د موچیو په څېر ستاسو لپاره بختور او د نورو لپاره ګټور شي.

موږ داسي مرغان هم مومو چې بچوني ئې هیڅکله خپله مور نه ګوري، مور ئې د زړښت په وخت کې، په یوه خوندي ځای کې، څو پوړیزه ځاله جوړه کړي، داسي چې کافي نور او حرارت وررسېدی شي، په هري برخي کې یوه هګۍ واچوي او خوا ته ئې د خپل بچوني اړتیا وړ کافي مقدار خوراك کېږدي، بیا د هري ځالي خوله وربنده کړي، دا د خپلو بچونو له راوتو مخکې ومري، بچوني ئې له هګیو راووځي، په هماغه خوراك تر هغو ګوزاره کوي چې ستر شي او د الوتو جوګه، نو د ځالي خوله پرانیزي، بهر راووځي او د خپلي مور په څېر ئې ژوند او خوی او عادت وي او د ژوند په پای کې د خپلي مور په څېر ځاله جوړه کړي، هګۍ په کې واچوي، خولې ئې وربندي کړي او ومري. ووایئ: څوك دغو مرغانو ته چې خپله مور ئې نه ده

ليدلې، معلم او استاد هم نه لري، لاربښوونه کوي او ورته وايي چي ستا د پلار نيکه د ژوند طريقه دا وه؟! يقيناً چي الله تعالی هر څه پيدا کړي او هر يوه ته ئې د خپل فطرت او طبيعت مطابق لاربښوونه کړې.

د عالم په ټولو مخلوقاتو کي يوازي انسان داسي مومو چي د هغو فطري لاربښوونو تر څنگ چي د ده په ضمير کي اېښودل شوې هم مور ته شديداً اړ وي او هم مرشد او لاربښود ته. له دې پرته نه سم ژوند کولی شي او نه کمال ته رسېدی شي.

د غرڅه بچی په دې پوهېږي چي څه وخت د واښو خوړل پيل کړي او د غرونو په پراخو لمنو او لويو دښتو کي، چي له راز راز بوټو ډکي وي، کوم بوټی وخوري او د کوم يوه له خوراکه ځان وساتي. خو د انسان (بچی) تر اوږدې مودې، نه شي کولی چي په خپل وړوکي کور کي ښه او بد وپېژني او مفيد له مضره بېل کړي، هم اور ته لاس غځوي او هم ډبره، لوټه او حتی زهر په خوله منډي. نه اور ته له ځان اچولو ډډه کوي او نه اوبو ته، (لاربښود) او مرشد ته اړتيا د ده د فطرت مقتضا ده. په يوه فيلم کي مي غرنۍ وزه له خپلو دوو بچيانو سره ليدله چي د غره په ډډي کي روانه ده، داسي ځای ته ورسېدل چي مور ئې له يوه چاود آخوا ته ټوپ کړل، بچيان ئې د چاود ژۍ ته روارسېدل، ودرېدل، مور ئې مخ ورواړاوو او د دوی ټوپ وهلو ته منتظر پاتې شوه، خو هغوی له ټوپ وهلو ډډه وکړه، خپل زور او د چاود لوی والی ئې وسنجولو، پوه شول چي دلته ټوپ وهل خطرناك دي، څو شېبې ئې مور آخوا ته او دوی دې خوا ته ودرېدل، په پای کي د دوی مور دې ته اړ شوه چي بېرته د دوی لوري ته ټوپ کړي او لار بدله کړي. يعني دوی تر خپلي مور ښه پوهېدل چي دا ټوپ خطرناکي پايلي لري!! مور ئې ترې غوښتل چي ټوپ ووهي، خو فطرت ئې ورته ويل: دلته تم شئ او له ټوپ وهلو ډډه وکړئ!!

• ستا رب هماغه ذات دئ چي بوټي راشنه کوي، هماغه ذات چي په اراده ئې د زمکي له کلك او سخت پوټکي، نازك او ښايسته بوټی راټوکوي او هيڅوك د دغو رنگ رنگ بوټو په پيدا کولو کي د ده د فعل شريك نه دئ، همدا ستا رب دئ. ته زمکه وسپړې، مړه دانه په کي وکرې او ستا رب ئې د شنه او ښايسته بوټي په څېر راوباسي چي ژوندی دئ، احساس لري، وده کوي، د خپل نسل د دوام بند وبست کوي او څو دانې په عوض کي درکوي.

# د هر څه ځانگړی جوړښت او ځانگړې دنده

نن انسان ته دا حقيقت معلوم شوی چي د دې عالم هر څه يو ځانگړی او له نورو متفاوت جوړښت لري، که څه هم د عالم د ټولو شيانو اصلي ماده يوه ده، او هر څه په دې عالم کي يو ځانگړی ارزښت لري، يوه تشه ډکوي، يو ضرورت رفع کوي او يوه ځانگړې دنده په غاړه لري، د هر ژوي په بدن کي داسي ژنونه تعبيه شوي چي هغه ته د ژوند کولو لاري او طريقې ورښيي، راشئ وگورو چي آيا قرآن هم دغه حقيقت ته اشاره کړې که نه؟ دې مبارکو آيتونو ته ځير شئ:

قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يَٰمُوسَىٰ ٤٩ قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِيٓ أَعۡطَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ٥٠ طه: ٤٩-٥٠

وئې ويل: اې موسی! نو دا ستاسو رب څوك دئ؟ وئې ويل: زموږ رب هغه دئ چي هر څه ته ئې خپل خپل جوړښت ورکړی بيا ئې لارښوونه (ورته) کړې.

دا آيتونه وايي: فرعون موسی عليه السلام ته وويل: اې موسی! نو دا ستاسو رب څوك دئ؟ موسی عليه السلام وويل: زموږ رب هغه دئ چي هر څه ته ئې خپل

خپل جوړښت او ځانګړی ځانګړی شکل ورکړی، بیا ئې لارښوونه ورته کړې، هر څه ته ئې خپل خپل مسیر ټاکلی، هر څه په هغه لار درومي او په همغه کار بوخت وي چې الله تعالی ورته غوره کړی.

# د وزن په اړه د قرآن علمي وینا

قرآن په هغه ځای کې چې انسان ته لارښوونه کوي چې په تللو او پیمانه کولو کې باید انصاف او عدالت مراعات کړي ورپسې دا خبره کوي چې الله تعالی هیڅوک تر خپل وس په زیات څه نه ګماري، دا دواړه خبري په سطحي نظر انسان ته بې ربطه برېښي، خو حقیقت دا دئ چې دا د قرآن یو بل علمي اعجاز دئ او ښيي چې د قرآن هره وینا د احکامو او لارښوونو په اړه څومره دقیقه ده، نن او وروسته له هغه چې انسان د وزن او پیمانې لپاره تر دې هم حساس وسائل جوړ کړل چې د ګرام او ملي متر تر زرمي برخي هم واړه شیان تللی او پیمانه کولی شي او ورته معلومه شوې چې په مکمله او بشپړه توګه تلل او پیمانه کول انسان ته محال او ناممکن دئ، د قرآن د دغي وینا په اهمیت پوهېدی شو، دلته قرآن همغه خبره کړې چې انسان اوس او څوارلس سوه کاله وروسته پرې پوه شوی. لاندي آیت ته ځیر شئ:

**وَلَا تَقۡرَبُواْ مَالَ ٱلۡيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ أَشُدَّهُۥۚ وَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَٱلۡمِيزَانَ بِٱلۡقِسۡطِۖ لَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۖ وَإِذَا قُلۡتُمۡ فَٱعۡدِلُواْ وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰۖ وَبِعَهۡدِ ٱللَّهِ أَوۡفُواْۚ ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ١٥٢** الانعام: ١٥٢

او د یتیم مال ته مه نږدې کېږئ، مګر په هغه توګه چې تر ټولو غوره وي، تر هغه

چي تکړه توب ته ورسېږي، پيمانه او تله په انصاف سره بشپړه کوئ، هيڅوك تر خپل وس په زيات څه نه ګمارو، کله چي خبري کوئ نو عدالت کوئ، که څه هم خپلوان وي، او د الله په ژمنو وفا وکړئ، دا هغه څه دي چي تاسو ته ئې سپارښتنه کړې، ښايي پند واخلئ.

د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

- د يتيم مال ته مه نږدې کېږئ، مګر په هغه توګه چي تر ټولو غوره وي، تر هغه چي تکړه توب ته ورسېږي.
- پيمانه او تله په انصاف سره بشپړه کوئ، هيڅوك تر خپل وس په زيات څه نه ګمارو.
- کله چي خبري کوئ نو عدالت کوئ، که څه هم خپلوان وي.
- او د الله په ژمنو وفا وکړئ. له دې نه هغه ژمني هم مراد دي چي انسان ئې له ايمان راوړو وروسته او د خپل ايمان له مخي له خپل رب سره کوي، هغه هم چي له ستونزو سره د مخامخېدو په مهال ئې له الله تعالى سره کوي، هغه هم چي د الله تعالى په نامه ئې له بل چا سره کوي.
- دا هغه څه دي چي الله تعالى ئې حکم درته کړی، ښايي تعقل وکړئ او پند واخلئ.
- دلته څو خبري په پام کي ولرئ:
- جاهلو مشرکينو حلال او حرام په وړو وړو خبرو کي راخلاصه کړي او هغه دا چي دا وخوره او دا مه خوره، په دې اړه ئې هم ډېر څه له ځانه حرام کړي، حال دا چي د الله تعالى په دين کي اساسي خبري هغه دي چي په دې آيت کي ښودل شوې.
- مسلمانانو ته ويل شوي چي د فحش کارونو او د يتيم مال ته مه ورنږدې

کېږئ، باید د حلال او جائز کارونو تر وروستۍ پولې پورې ولاړ نشئ، داسې چې که یو ګام بل واخلئ نو د فحش او ګناه په ډنډ کې پرېوځئ، هغه حد ته تر رسېدو د مخه راوګرځئ، د ګناه تر پولې مخکې مه درومئ، له دې پولې ځان لرې وساتئ، دا ځکه چې د نږدې کېدو په صورت کې په ګناه کې د پرېوتو احتمال زیاتېږي.

د تلې او پیمانې په ارتباط دا خبره کول چې الله تعالی هیڅوک تر خپل وس په زیات څه نه ګماري ښيي چې قرآن د خپلو لارښوونو د هر لفظ په اړه څومره دقیق دئ او څنګه ټول ضروري او لازم امور په پام کې نیسي.

# د میاشتو تقویم

قرآن د میاشتو د تقویم په اړه فرمایي:

**إِنَّ عِدَّةَ ٱلشُّهُورِ عِندَ ٱللَّهِ ٱثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ مِنْهَآ أَرْبَعَةٌ حُرُمٌۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُۚ فَلَا تَظْلِمُواْ فِيهِنَّ أَنفُسَكُمْۚ وَقَٰتِلُواْ ٱلْمُشْرِكِينَ كَآفَّةً كَمَا يُقَٰتِلُونَكُمْ كَآفَّةًۚ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُتَّقِينَ ٣٦** التوبه: ٣٦

یقیناً چې د الله خوا ته او د الله په کتاب کې د میاشتو شمېر دولس میاشتې دي، له همغې ورځې چې آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړل، څلور ئې حرامې (د درناوي

وړ) میاشتې دي، دا رغنده دین دئ،

دلته څو خبري په پام کي ولرئ:

- د میاشتو لپاره دوه معروف تقویمونه دي، یو ئې د لمر پر محور د زمکي په حرکت پوري او بل ئې د زمکي پر محور د سپوږمۍ په حرکت پوري مربوط دئ، زمکه په درې سوه پنځه شپېته ورځو او څه د پاسه شپږو ساعتونو کي یو ځل د لمر پر محور څرخي، دې ته ځینو د یوه کال نوم ورکړی، هغه ئې پر دولسو میاشتو وېشلی، ځیني ئې دېرش او ځیني ئې یو دېرش ورځي دي. او سپوږمۍ په څه د پاسه نه ویشتو ورځو کي یو ځل د زمکي پر محور راڅرخي، دا موده ثابته ده، که څوك علمي محاسبې ته ارزښت ورکړي نو د بشپړ کال ټولي قمري میاشتي داسي ټاکل کېدی شي چي کمی او زیاتی به په کي نه راځي، د محاسبې له مخي دا معلومېدی شي چي سپوږمۍ کله خپل میاشتنی مدار بشپړوي، په کوم ځای کي، په کوم ساعت، دقیقه او ثانیه له سترګو پټېږي او چېري، په کوم ساعت، کومه دقیقه او کومه ثانیه راڅرګندېږي او د نوې میاشتي مدار پیلوي. دا چي اسلام د میاشتي د پیل او پای لپاره رؤیت ته اعتبار ورکړی دا ډېره دقیقه او علمي وینا ده، ځکه د سپوږمۍ په لیدو سره ثابته کېږي چي هغه د نوې میاشتي مدار ته داخله شوې. څوك چي رؤیت ته اعتبار نه ورکوي او د هري سیمي لپاره د مستقل او بېل رؤیت خبره کوي ډېر کمعقله او له دین او علم بې خبره دئ. اوس او د پرمخ تللو وسائلو په مرسته خو هغه ثانیه او سیمه هم په دقیقه توګه معلومولی شو چي سپوږمۍ له محاق وځي، د مخکنۍ میاشتي مدار ئې بشپړ کېږي او د نوې میاشتي مدار پیلوي. دا هم ډېره علمي خبره ده چي د رؤیت لپاره د یوه متقي انسان شهادت هم کافي ګڼل شوی. احمقان او هغه ټګماران چي د دښمن له لوري ګمارل شوي چي په امت کي اختلافات راولاړ کړي له دې موضوع هم د اختلاف وسیله جوړوي، شیعه او

بریلویان له سعودي او سلفیانو سره د سیاسي او مذهبي اختلاف په وجه روژه او اختر یوه او حتی دوه ورځې وروسته اعلانوي، دوه ملیونه حاجیان به په عرفات کې د عرفې په ورځ راغونډ وي، په ټلویزیونو کې به د عرفې لویه غونډه، لمونځ او خطبه ګوري او اوري خو سره له دې به دوی د عرفې او لوی اختر لومړۍ ورځ یوه او دوه ورځې وروسته لمانځي!! عجیبه دا ده چې په عربي نړۍ کې به روژه او اختر وي خو د پاکستان رؤیت هلال کمیټه به یوه ورځ وروسته په کراچۍ او اسلام آباد کې غونډه کوي!! او د هغو خلکو شهادتونو ته به هم اعتبار نه ورکوي چې په پېښور کې ئې سپوږمۍ په خپلو سترګو لیدلې!! دا نه مذهبي اختلاف دئ نه علمي، بلکې سیاسي اختلاف دئ او تر شا ئې د اسلام د خطرناکو دښمنانو لاس دئ. که اوس پیغمبر علیه السلام حیات وی او په مدینه او مکه کې ئې د روژې پیل او پای اعلانولی او ټولو خلکو د ټلویزیون او راډیو له لاري دا اعلان اورېدلی نو بیا به هم دغو خلکو په خپل جاهلانه دریځ ټینګار کولو او د پیغمبر علیه السلام مخالفت ته به ئې ملاتړله.

زه همدا اوس چې دغه مطلب لیکم او د خپل کمپیوټر مخي ته ناست یم، که وغواړم ځان ته معلومه کړم چې دغه شېبه سپوږمۍ چېري ده او په کومه ورځ به له سترګو غائبېږي او کله به بېرته راښکاره کېږي، نو تا به لا تر شلو پوري شمېرل نه وي بشپړ کړي چې زما د مونیټور پر صفحه به دا ټول معلومات زما مخي ته کېښودی شي، د سپوږمۍ د غائبېدو حالت به هم راته جوت کړي، نېټه ئې هم او سیمه هم، او د ښکاره کېدو حالت او نېټه او سیمه هم. لکه څنګه چې موږ پر خپلي ګړۍ اعتماد کولی شو او له مخي ئې د لمانځه، پېشلمي او روژه ماتي وختونه ټاکلی شو همداسي د کمپیوټر پر حساب اعتماد کولی شو.

# مېوې جوړه جوړه پیدا شوې

قرآن وايي چي د نورو مخلوقاتو په څېر مېوې هم جوړه جوړ پيدا شوې، د قرآن دې آيت ته ځېر شئ:

**وَهُوَ ٱلَّذِي مَدَّ ٱلۡأَرۡضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۡهَٰرٗاۖ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ جَعَلَ فِيهَا زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ٣** الرعد: ۳

او دی همغه ذات دئ چي زمکه ئې خوره کړه او په هغې کي ئې غرونه او نهرونه جوړ کړل، او په هغې کي ئې د هري مېوې دوه گونې جوړه پيدا کړه، شپه پر ورځ راکاږي، يقيناً چي په دې کي د تفکر کوونکو وګړو لپاره نښي دي.

قرآن دلته د الله تعالی د ټولواکۍ او چارو سنبالولو د بېلگو بيانونو په لړ کي وايي چي الله تعالی هغه ذات دئ چي زمکه ئې خوره کړه، په هغې کي ئې غرونه او نهرونه جوړ کړل، په هغې کي ئې د هري مېوې دوه گونې جوړه پيدا کړه او شپه پر ورځ راکاږي.

تاسو پوهېږئ چي زمکه داسي جوړه شوې چي ځيني برخي ئې آواري دي او ځيني لوړي او غرونه، د زمکي دا جوړښت د دې سبب شوی چي هم نهرونه، چينې او کاريزونه په کي وبهېږي او آواري زمکي خړوبي کړي او هم داسي بېلي بېلي سيمي او موسمي حالات په کي راپيدا شي چي د راز راز بوټو او ونو د ټوکېدو او ودي لپاره ضروري دي، که زمکه داسي نه وی نو نه به نهرونه بهېدل او نه به بېل بېل موسمونه ول او نه رنگ رنگ بوټي او وني.

په دې مبارك آيت کې د قرآن د يوه بل ستر علمي اعجاز شاهد يو، قرآن وايي چې د هرې مېوې دوه گونې جوړه ئې راپيدا کړه، تر دې وروستيو پورې هيڅوك په دې نه پوهېدو چې د ژوو او حيواناتو په څېر په نباتاتو (ونو او بوټو) کې هم نر او ښځه شته او مېوه د نر او ښځې د نطفو له يو ځای کېدو راپيدا کېږي، دا نرينه او ښځينه نطفې ئې په گلانو او نورو برخو کې وي، د دوی القاح يا د بادونو په واسطه تر سره کېږي او يا د موچيو په څېر حشراتو په واسطه، د مختلفو نباتاتو او ونو گلان د تذکير او تأنيث له پلوه درې ډوله وي: مذکر، مؤنث، او خنثی چې په هغوی کې هم د نارينتوب خصلت وي او هم ښځينه خصلت، د دواړو له القاح مېوه رامنځته کېږي. د مثال په توگه د خرما ونې چې مذکر او مؤنث لري او د جوار په يوه بوټي کې دواړه ډوله راپيدا کېږي. که تاسو د قرآن دا وينا هم د کوم ساينس پوه مخې ته کېږدئ نو يقيناً چې دا به د قرآن يو ستر علمي اعجاز گڼي.

قرآن دلته د جوړه جوړه مېوو راپيدا کولو تر څنگ د شپې او ورځې تلو راتلو ته اشاره کوي او ښيي چې دا هم د مېوو په راپيدا کېدو کې يو مهم عنصر دئ، او دا يو بل ستر علمي حقيقت دئ چې انسان ډېر وروسته پرې پوه شوی، که د شپې او ورځې دا خاص نظام نه وی نو د زمکې پر سر به نه يو بوټی راټوکېدلی وو او نه يو ژوی، د شپې او ورځې دغه نظام د زمکې پر سر هغه شرائط برابر کړي چې بوټي او ژوي ورته ضرورت لري. که ورځ نه وی، يا لنډه يا اوږده وی نو د زمکې پر سر نه ژوند ممکن وو او نه د ژوو راپيدا کېدا، که شپه نه وی يا لنډه يا اوږده وی نو زمکه به تر ضروري حد يا ډېره توده يا ډېره سړه وه چې نه به حيوانات په کې راپيدا کېدل او نه نباتات، همغسې لکه چې د آسمان په نورو ستورو کې د شپې او ورځې تر منځ د خاص او ضروري تناسب د نشتوالي له کبله هلته د ژوند شرائط مساعد نه دي.

د علمي څېړنو په ترڅ کې دا حقائق هم ثابت شوی چې د ځمکې د سر نهرونه د غرونو په وجه راپیدا شوي، دغه نهرونه د دې باعث شوي چې خوړونه او درې رامنځته شي، د اوبو د مسیر ډبرې وسولېږي او خوړونه او درې په کې جوړ شي، او بیا په همدغو درو کې انسان ته له یوې سیمې بلې ته د تلو لارې پرانیستل شي، تاسو که دا نن د لویو غرونو په سیمو کې تېرو شوو لارو ته ځیر شئ نو وبه ګورئ چې ټولې لارې د نهرونو په ژۍ کې او په هغو درو کې تېرې شوې چې دغو نهرونو رامنځته کړې دي. او دا له شکه پرته د قرآن بل ستر علمي اعجاز دئ چې غرونه، نهرونه او لارې ئې څنګ په څنګ یاد کړي.

ځمکه داسې جوړه شوې چې هرې خوا ته ئې علائم او نښې ږمونږ مخې ته ځلېږي، د همدغو علائمو له مخې موږ د خپل سرمنزل لوری او د تګ سمت ټاکلی او پېژندلی شو، که دا علائم نه وی نو انسان ته به ګرانه او حتی محال وه چې له یوې سیمې بلې ته د سفر په دوران کې د خپل هدف لوری او د تګ مسیر تعیین کړي او لار ترې غلطه نشي. کله د غرونو څوکې ورته نښه شي، کله نهر، کله وچ خوړ، کله ځنګل، کله یوه ستره ونه، په لویو بیدیاوو او بحرونو کې هم د دغو علائمو له مخې خپل مسیر تعیینوي، که دا د ځمکې د سر نښې ئې له سترګو غائبې شي نو بیا د ستورو له مخې خپل لوری او سمت ټاکې او لار مومي، لکه دا چې د شمالي قطب په ستوري سره د شمال او غرب لوری داسې ټاکې چې ښۍ اوږه د دې ستوري لوري ته برابره کړي، همدا لوري ئې شمال شي او مخامخ ئې غرب.

دغه مطلب د الحجر په سورې کې په دې الفاظو راغلی:

وَٱلۡأَرۡضَ مَدَدۡنَٰهَا وَأَلۡقَيۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيۡءٖ
مَّوۡزُونٖ ١٩ وَجَعَلۡنَا لَكُمۡ فِيهَا مَعَٰيِشَ وَمَن لَّسۡتُمۡ لَهُۥ بِرَٰزِقِينَ ٢٠ وَإِن
مِّن شَيۡءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٖ مَّعۡلُومٖ ٢١ وَأَرۡسَلۡنَا

ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَسۡقَيۡنَٰكُمُوهُ وَمَآ أَنتُمۡ لَهُۥ بِخَٰزِنِينَ ٢٢

الحجر: ۱۹-۲۲

او زمکه مو خوره کړه او په هغې کې مو غرونه واچول او په هغې کې مو هر څه په موزون شکل کې راشنه کړل. او تاسو ته مو په هغې کې د معیشت اسباب راپیدا کړل او هغه څه ته هم چې تاسي ورته روزي ورکوونکي نه یئ. او هیڅ داسي شی نشته چې خزانې ئې له موږ سره نه وي او نه ئې نازلوو مگر په معلومي اندازې سره. او بادونه مو ولېږل چې القاح کوونکي دي، بیا مو له آسمانه اوبه را نازلي کړې او په تاسو مو وڅښلې، او تاسو ئې ذخیره کوونکي نه یاست.

د دې مبارکو آیتونو مهمي لارښووني دا دي:

- الله تعالی لومړی دا زمکه خوره او آواره پیدا کړې، بیا ئې غرونه په کې پیدا کړي، او دا یقیناً چې د قرآن یو بل علمي اعجاز دئ، ساینس همدا خبره کوي، وایي د زمکي لوړي، ژوري او غرونه وروسته راپیدا شوي، په پیل کې د زمکي سر نه لوړي ژوري درلودې او نه غرونه.

دا آیت وایي چې د زمکي د سر نباتات د غرونو له پیدایښت وروسته پیدا شوي، او دا یو څرگند حقیقت دئ چې د غرونو له کبله په زمکي کې د اوبو د ذخیره کېدو، د ویالو، کاریزونو او چینو د بهېدو شرائط برابر شوي، همدا غرونه د دې باعث شوي چې زمکه په داسي مختلفو سیمو ووېشل شي چې ځیني سړې او ځیني تودې وي، په هري سیمي کې د بېلو بېلو نباتاتو د راټوکېدا شرائط ایجاد شي، دغه غرونه د دې باعث شول چې د زمکي له یوې سیمي بلي ته د بادونو خوځېدا رامنځته شي، که غرونه نه وی نو د زمکي د سر هوا به تر ډېره حده یو شانته وه، بادونه به نه چلېدل، او ډول ډول نباتات به مو نه درلودل. د بادونو د پیدا کېدو

اساسي وجه دا ده چي کله د زمکي د یوې برخي هوا توده شي نو بره ولاړه شي، مخکنی ځای ئې تش شي، دغه تش ځای ته د هغو سیمو هوا راوخوځي چي ورڅېرمه دي، په دې توګه د هوا د چلېدو لړۍ پیل شي، یو مثال ئې دا دئ چي په دوبي کي د یوې داسي کلا منځ تود شي چي لوړ لوړ دېوالونه لري، دا ګرمه هوا لوړه لاړه شي، د کلا له لویي دروازې سړه هوا د کور منځته ننوځي، د همدې لپاره ګورئ چي خلك په ګرمیو کي د غرمې مهال د داسي کور په لویي دروازې کي خپل کټ ږدې او پرې کښېني او له سړې هوا ئې خوند اخلي، همداراز که تاسو په دوبي کي د پاکستان او افغانستان ترمنځ د کوم غره پر سر ودرېږئ نو وبه ګورئ چي د افغانستان له لوري سړه هوا د پاکستان په لوري چلېږي. دا چي قرآن دلته د غرونو له پیدایښت وروسته لومړی د ډول ډول نباتاتو یادونه کوي او ورپسې د بادونو، دغه علمي حقیقت په ګوته کوي.

- الله تعالی ټول هغه څه راپیدا کړل چي تاسو ورته اړ او محتاج یاست او په هغه سره ژوند کولی شئ، ټولو هغو ژوو ته ئې د ژواك توکي پیدا کړي چي تاسو ورته رزق او روزي نه ورکوئ بلکي الله تعالی ورته روزي ورکوي، دا مختلف حیوانات چي په یوه او بله توګه ترې ګټه اخلئ ټول الله جل شأنه پیدا کړي دي او د رزق او روزي انتظام ئې هم الله ورته کړی.

- فرعون ته د موسی علیه السلام په وینا کي هم ګورو چي هغه فرعون ته وویل: زما رب هغه دئ چي زمکه ئې تاسو ته زانګو ګرځولې او په هغې کي ئې لاري درته پرانیستې دي، او له آسمانه ئې اوبه راورولې او په دې سره ئې د ډول ډول بوټو جوړې جوړې راوایستلې، د دې لپاره چي هم ئې تاسو وخورئ او هم خپل څاروي وڅروئ، یقیناً چي په دې کي عقلمنو ته څرګندي نښي دي، ګورئ چي دلته قرآن یو ځل بیا وايي چي بوټي او نباتات مو جوړه جوړه پیدا کړي، یعني نر

او ښځه، د دوی دانې او مېوې د هغو ګردونو له یو ځای کېدا جوړېږي چې ځيني ئې نارينه خصوصيات لري او ځيني ئې ښځينه.

## د مېوو تر منځ توپير

د الرعد د سورې په ٤ آيت کې ويل شوي چې ځينو مېوو ته مو پر ځينو نورو د خوراك له پلوه فضيلت ورکړی: **وَنُفَضِّلُ بَعۡضَهَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلۡأُكُلِۚ** دا فقره لږ دقت غواړي، ځکه که څوك ووايي: دا مېوه تر بلي غوره ده، د ده دا وينا ناقصه ده، ځکه دا ئې نه دي ويلي چې له کومه پلوه غوره ده، د غوره والي وجه ئې نه ده په ګوته کړې، يو شی پر بل له ځانګړي پلوه فضيلت درلودی شي نه په عام او کلي توګه، بشپړه او صحيح وينا دا ده چې ووايو: دا مېوه تر هغي بلي انسان ته د ګټې له پلوه غوره والی لري، دلته ګورئ چې د قرآن الفاظ څومره په دقت سره غوره شوي، وايي: ځينو مېوو ته پر نورو د (خوراك) له پلوه فضيلت ورکوو!!

## بادونه او د نباتاتو القاح

په (۲۲) آيت کې څو داسي سترو سترو حقائقو ته اشاره شوې چې هر يو ئې د

قرآن یو ستر علمي اعجاز ګڼل کېږي:

● بادونه د القاح کوونکو په نامه یاد شوي، یعني د بادونو په ذریعه د نباتاتو القاح ترسره کېږي، د نباتاتو د زوجینو تر منځ القاح او په دې القاح سره د مېوو پیدایښت د بادونو یوه ستره دنده ده، که دا بادونه نه وی نو د بوټو او ونو د نارینه او ښځینه ګلانو اړوند جنسي ماده به نشوی یو ځای کېدی او مېوې او دانې به ئې نه شوی پیدا کولی، دا هغه ستر حقیقت دئ چي انسان اوس پرې پوه شوی، هغه مهال چي قرآن نازلېدو نه خلك په دې پوهېدل چي ونې او بوټي هم نر او ښځه لري او نه په دې چي د دوی د القاح یوه ستره وسیله بادونه دي، که تاسو دا خبره د یوه داسي عالِم مخي ته کېږدئ چي د نباتاتو په چارو کې تخصص لري نو یقیناً چي په دې حقیقت به له اعتراف پرته بله چاره نه لري چي ووایي: د قرآن دا وینا یو ستر علمي اعجاز دئ.

# بادونه ورېځې القاح کوي

● بادونه یوه بله ستره دنده هم ترسره کوي، د ورېځو تشکیل، له یوې سیمي بلي ته انتقال، د ورېځو یوه ټوټه له بلي سره نښلول، داسي چي د برېښنا، تالندي او ورپسې د باران ورېدو باعث شي، نو د ورېځو القاح هم د بادونو په واسطه ترسره کېږي. همدا بادونه هغه دوه ډوله ورېځې سره نږدې کوي چي یو ئې مثبت برقي بار لري او بل ئې منفي، له یو ځای کېدو ئې رعد او برق رامنځته کېږي او همدا د باران باعث کېږي، که دا بادونه نه وی نه به ورېځې جوړېدې او نه به واوره او

باران وريږدو. قرآن په پورتني آيت کې همدې حقيقت ته اشاره کړې ده. همداراز د دغې تالندې او بريښنا په ترڅ کې نايټروجن او آکسيجن سره ترکيب کېږي او دا مرکب د باران له لارې ځمکې ته انتقالېږي، ځمکه د بوټو په راټوکولو کې د نايټروجن او آکسجن دغه مرکب ته دومره ضرورت لري چې له دې پرته دا کار نشي کولی.

# زوج زوج نباتات

قرآن وايي چې د ځمکې نباتات زوج زوج يعني جوړه جوړه (نرينه او ښځينه) پيدا شوي:

**ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مَهۡدٗا وَسَلَكَ لَكُمۡ فِيهَا سُبُلٗا وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا مِّن نَّبَاتٖ شَتَّىٰ ٥٣ كُلُواْ وَٱرۡعَوۡاْ أَنۡعَٰمَكُمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلنُّهَىٰ ٥٤** طه: ٥٣-٥٤

(الله) هغه (ذات دئ) چې ځمکه ئې تاسو ته زانګو ګرځولې او په هغې کې ئې لارې درته پرانيستې دي، او له آسمانه ئې اوبه راوورولې او په دې سره ئې د ډول ډول بوټو جوړې جوړې راوايستلې، د دې لپاره چې هم ئې تاسو وخورئ او هم خپل څاروي وڅروئ، يقيناً چې په دې کې عقلمنو ته څرګندې نښې دي.

ګورئ چې دلته قرآن يو ځل بيا وايي چې بوټي او نباتات مو جوړه جوړه پيدا کړي، يعني نر او ښځه، د دوی دانې او مېوې د هغو ګردونو له يو ځای کېدا جوړېږي چې ځيني ئې نارينه خصوصيات لري او ځيني ئې ښځينه.

# د عالم هر څه جوړه جوړه پیدا شوي

ماترياليستان وايي ماده ازلي او ابدي ده قرآن او علم وايي پيدا شوې او له منځه تلونكي ده، دوی عالم د اضدادو مجوعه ګڼي او قرآن ئې د ازواجو مجموعه، دوی په تدريجي تكامل باور لري، موږ په بشپړ او كامل پيدايښت له لومړۍ ورځې، دوی له خالق انكار كوي، حال دا چې د عالم هر څه د خالق په شته والي شهادت وركوي، دوی په تصادف باور لري او قرآن او علم تصادف منتفي ګڼي. قرآن په دې اړه چې عالم د اضدادو مجموعه نه بلكې د ازواجو مجموعه ده وايي:

وَمِن كُلِّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَا زَوۡجَيۡنِ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ٤٩ الذاريات: ٤٩

او د هر څه مو دوه ګوني جوړې پيدا كړي چې پند واخلئ.

د قرآن له نظره انسان، حيوان او ټول ژوي او د عالم هر څه جوړه جوړه پيدا شوي، قرآن د طبيعت د ټولو توكو تر منځ (زوجيت) د كمال او دوام باعث ګڼي. دا دقيقه نظريه د هغه بې بنسټه او غلط تصور كاملاً خلاف ده چې د كمونستانو ماترياليستي فلسفه ئې د تكامل د عواملو په اړه وړاندې كوي، هغوی (تضاد) او د متضادو توكو ترمنځ دائمي (نزاع) د تكامل وسيله ګڼي!! دا په داسې حال كې چې ټول عالم د (ازواج) او جوړه جوړه توكو مجموعه ده، د دې خور عالم په هيڅ برخې كې د تضاد او عدم زوجيت بېلګه نه شو موندلی، د عالم په هرې برخې كې د دې حقيقت شاهد يو چې تكامل د ازواج او جوړو ترمنځ د ګډ كار او ژور تنسيق

نتيجه ده، په حيواناتو او نباتاتو کې په څرګنده ګورو چې يو ئې څه د (ورکولو) لپاره لري او بل ئې د (اخيستلو) لپاره، د يوه ورکول يوه اړتيا وي او د بل اخيستل، همدغه احساس يو بل ته نږدې کړي، يو د بل نقص او اړتيا ته ځواب وايي او ضرورت ئې رفع کړي، همدا د دواړو ترمنځ د راکړې ورکړې رابطه او تنسيق د نوي موجود د پيدايښت باعث شي او د دغې (جوړې او زوج) د نسل دوام او بقاء ميسر او ممکن کړي. د طبيعت په عناصرو کې هم ګورو چې دوه توکي يوازې هغه وخت يو له بل سره ترکيب کېدی شي او نوی او ځوان توکی رامنځته کولی شي چې يو ئې د بل مکمل وي، يو ئې د ورکړې لپاره کوم اضافي شی ولري او بل ئې د اخيستو لپاره تش ځای، دا دواړه يو بل ته لاس ورکړي، سره يو شي، يو د بل مکمِل شي، يو ئې د بل بار په اوږو واخلي او بل ئې د خپلې جوړې تشه ډکه کړي او په همدې سره نوی ترکيب رامنځته کړي، د عالم ټول مرکبات همداسې جوړ شوي، د (تضاد) نظريه، واهي او بې بنسټه ده او په عالم کې د تکامل د عواملو له توجيه سخت عاجز او ناتوانه او د هيڅ څه د تکامل د څرنګوالي په اړه صدق نه کوي.

# سمندر، تازه غوښه، ګاڼې او کښتۍ

قرآن له يوې خوا سيند او بحر د تازه غوښې ستره ذخيره بولي، له بلې خوا ئې د قيمتي ډېرو منبع او له بل لوري د تجارتي سفرونو ګټوره او آسانه لار، او دا هغه سترې خبرې دي چې په اهميت ئې د پراخ علم او ډېرو تجربو له مخې پوهېدی شو، نن د نړۍ هر اقتصاد پوه همدغه خبره کوي چې قرآن څوارلس پېړۍ وړاندې کړې!! راشئ د قرآن د دغه آيت په وړاندې لږ توقف وکړو چې وايي:

وَهُوَ ٱلَّذِي سَخَّرَ ٱلۡبَحۡرَ لِتَأۡكُلُواْ مِنۡهُ لَحۡمٗا طَرِيّٗا وَتَسۡتَخۡرِجُواْ مِنۡهُ حِلۡيَةٗ

تَلۡبَسُونَهَاۖ وَتَرَى ٱلۡفُلۡكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ١٤ **النحل: ١٤**

**او دی همغه دئ چي بحرونه ئې درته مسخر کړل چي تازه غوښه ترې وخورئ او داسي ګاڼې ترې راوباسئ چي اغوندئ ئې، او په هغه کي کښتۍ ګورې چي (وړاندي درومي په داسي حال کي چي) څیروونکي (د اوبو) دي، او دا د دې لپاره چي فضل ئې ولټوئ او د دې لپاره چي شکر وکړئ.**

**په دې مبارك آيت کي هغو الهي پېرزوينو ته د انسان توجه اړول شوې چي په سيندونو او بحرونو کي د انسان په برخه شوې، په دې توګه چي ويل شوي: الله تعالی همغه ذات دئ چي بحرونه ئې داسي درته مسخر کړي چي ډول ډول ګټې ترې اخلئ، ځيني ګټې ئې دا دي:**

# سمندر د تازه غوښي ستره ذخيره

**تاسو له سمندر د خوراك لپاره تازه غوښه ترلاسه کوئ، چي په دې اړه دوه خبري بايد په پام کي ولرو: ۱- نن او د علمي څېړنو په ترڅ کي ثابته شوې چي سمندرونه انسان ته د خوراك او په ځانګړې توګه د غوښو ورکولو ستره منبع ده، که د زمکي ټول ژوي په شلو برخو وويشو نو نولس ئې په اوبو کي او يوه برخه ئې په وچي کي ژوند کوي. ۲- دلته کب او د سيند ژوي د تازه غوښي په نامه ياد شوي، او په دې سره هغي پوښتني ته ځواب ويل شوی چي وايي: په قرآن کي يوازي هغه غوښه حلاله ګڼل شوې چي د ذبحي پر مهال ئې د الله تعالی نوم ياد شي، خو کب (ماهي) بې له ذبحي حلال دئ، آيا د دې استثناء وجه د قرآن کوم آيت دئ که د**

پیغمبر علیه السلام کوم حدیث؟ ځیني ادعاء کوي چي د دې استثناء لپاره په قرآن کي کوم شاهد نه مومو!! دا خبره هغه خلك کوي چي وايي: قرآن کافي نه دئ، ځیني احکام داسي دي چي منشأ ئې په قرآن کي نه مومو، دوی په همدې خبري استناد کوي خو دې ته ئې پام نه دئ چي دلته قرآن کب (ماهي) د لحماً طرياً يعني تازه غوښي په نامه یاد کړی او دا ښیي چي ماهي د تازه او پاکي غوښي حکم لري، پیغمبر علیه السلام ځکه ویلي چي ماهي له ذبحي پرته حلال دئ.

له سیندونو داسي توکي ترلاسه کوئ چي د ګاڼو په توګه ترې استفاده کوئ، په دې بیان سره څو حقائق زموږ مخي ته ځلیږي: ۱- له ګاڼو غالباً ښځي کار اخلي، خو دلته د ښځو یادونه نه ده شوې او دا ښیي چي د قرآن په هر عام خطاب کي دواړه (نارینه او ښځینه) شامل وي، مګر هغه مهال چي د یوه په اړه په ځانګړې توګه بحث کوي، دلته د مؤنث صیغه نه ده کارول شوې خو مقصد ترې ښځي دي. په یاایهاالذین آمنوا کي صیغه د نارینه وو ده خو دواړه مؤمنین او مؤمنات په کي مخاطب دي. ۲- په سیندونو او بحرنو کي نه یوازي مرغلري او مرجان موندل کیږي بلکي نوري قیمتي تیږي هم موندل کیږي، علمي تحقیقات ښیي چي قیمتي ډبري د زمکي په هغي منځنۍ برخي کي جوړیږي چي د حرارت او فشار درجه ئې ډېره لوړه وي، دغه توکي د چاودنو او اورشیندو په وسیله د زمکي له زړه بهر راغورځیدلي، نو ځکه د غرونو په لوړو کي موندل کیږي، د غرونو له لوړو د نهرونو له لاري لاندي سیمو ته رارغړي، هغه مهال چي خلکو د کانونو د کیندلو پرمختللي وسائل نه درلودل نو دا قیمتي تیږي ئې په سیندونو کي لټولې او موندلې. یقیناً چي دا هم د قرآن یو بل علمي اعجاز دئ چي د قیمتي ډبرو یوه منبع ئې سیندونه ښودلي.

- الله تعالی په طبیعت کي داسي سنن ایښي او داسي توکي ئې پیدا کړي چي انسان کولی شي له هغوی په استفادې سره کښتۍ جوړه کړي، اوبه ئې داسي جوړي

کړې چې ځيني توکي پر خپل سر وړي او له ډوبولو ئې ډډه کوي، انسان ته ئې د داسي کښتيو جوړولو استعداد او توفيق ورکړ چې د بحر اوبه څيري او مخکي درومي، له همدغو کښتيو په استفادې سره له يوې سيمي بلي ته ځي، تجارتي اموال وړي راوړي، په بحرونو کي د ماهيانو ښکار کوي، نن په دې يوه ويشتمي پېړۍ کي د انسان د انتقالاتو تر ټولو مهمه، ارزانه او خوندي ذريعه همدا کښتۍ دي، يقيناً چې په دې سره الله تعالی خپل ستر فضل د انسان په برخه کړی.

- الله تعالی دا نعمتونه د دې لپاره پر تاسو پېرزو کړي چې د خپل منعم رب شکر وکړئ، خو عجيبه ده چې تاسو د شکر پر ځای د کفر، عصيان او طغيان لار نيسئ!!

# قرآن او د انسان پيدايښت

لکه څنګه چې قرآن وايي الله تعالی لومړی آسمانونه او زمکه پيدا کړي، بيا ئې اوبه پيدا کړې او بيا ئې ټول ژوي له اوبو پيدا کړي، همدا راز د انسان د پيدايښت د اصلي توکي په اړه لاندي الفاظ کاروي: صلصال، صلصال کالفخار: کړنګېدونکی توکی، تراب: خاوره، طين: خټه، حمإ مسنون: توره او بوی ناکه خټه، نطفه: هغه وړه نطفه چې په سترګو نه ليدل کېږي، علقه: ځوړند توکی، مصوره مضغه: د غوښي داسي ټوټه چې شکل ورکړی شوی، غير مصوره مضغه: د غوښي داسي ټوټه چې شکل نه وي ورکړی شوی او طفل: ماشوم. د دې الفاظو اړوند آيتونه دا دي:

أَوَ لَمۡ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ كَانَتَا رَتۡقٗا فَفَتَقۡنَٰهُمَاۖ وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّۚ أَفَلَا يُؤۡمِنُونَ ٣٠ الانبياء: ٣٠

هر ژوی مو له اوبو پیدا کړی.

**وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنۡ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٞ تَنتَشِرُونَ ٢٠**

**الروم: ٢٠**

**او دا د ده (د قدرت) له نښو ده چي تاسو ئې له خاوري راپیدا کړئ، نو بیا داسي بشر شوئ چي خورېږئ.**

هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن طِينٖ ثُمَّ قَضَىٰٓ أَجَلٗاۖ وَأَجَلٞ مُّسَمًّى عِندَهُۥۖ ثُمَّ أَنتُمۡ تَمۡتَرُونَ ٢ **الانعام: ٢**

**دی همغه ذات دئ چي له خټي ئې راپیدا کړئ، بیا ئې د اجل (د مرگ د نېټې) پریکړه وکړه او نومولې نېټه له ده سره ده، خو تاسو بیا هم شك کوئ!!**

**وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن طِينٖ ١٢ ثُمَّ جَعَلۡنَٰهُ نُطۡفَةٗ فِي قَرَارٖ مَّكِينٖ ١٣ ثُمَّ خَلَقۡنَا ٱلنُّطۡفَةَ عَلَقَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡعَلَقَةَ مُضۡغَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡمُضۡغَةَ عِظَٰمٗا فَكَسَوۡنَا ٱلۡعِظَٰمَ لَحۡمٗا ثُمَّ أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا ءَاخَرَۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ ١٤** **المؤمنون: ١٢ ـ ١٤**

**او یقیناً چي انسان مو د خټي له خلاصې پیدا کړ، بیا مو هغه د ټېکي په مضبوط ځای کي یوه نطفه وگرځاوو، بیا مو دا نطفه یو راځوړند توکی کړ او بیا مو دا علقه د غوښي یوه ژوولې ټوټه کړه، نو دا د غوښي ټوټه مو هډوکي کړل، نو هډوکي مو په غوښه پټ کړل، بیا مو په بل پیدایښت کي پیدا کړ، نو مبارك دئ تر ټولو غوره خالق.**

**ٱلَّذِيٓ أَحۡسَنَ كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥۖ وَبَدَأَ خَلۡقَ ٱلۡإِنسَٰنِ مِن طِينٖ ٧** **السجده: ٧**

**هغه چي هرڅه ئې پیدا کړي نو ښه ئې پیدا کړي او د انسان پیدایښت ئې له خټي پیل کړ.**

**وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ ٢٦ وَٱلۡجَآنَّ خَلَقۡنَٰهُ مِن قَبۡلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ ٢٧** الحجر: ٢٦ ـ٢٧

او يقيناً چي انسان مو له کړنگېدونکي توکي، له بوی ناکي توري خټي پيدا کړ او جن مو تر ده د مخه له بې لوگي اوره.

**فَٱسۡتَفۡتِهِمۡ أَهُمۡ أَشَدُّ خَلۡقًا أَم مَّنۡ خَلَقۡنَآۚ إِنَّا خَلَقۡنَٰهُم مِّن طِينٖ لَّازِبِۭ ١١**

الصافات: ١١

نو پوښتنه ترې وکړه چي د دوی پيدايښت گران کار دئ او که د هغه څه چي موږ پيدا کړل، يقيناً چي موږ دوی له سرښناکي خټي راپيدا کړل.

لکه چي گورئ په دې مبارکو آيتونو کي د انسان د پيدايښت لومړۍ ماده، "اوبه"، "صلصال: کړنگېدونکی توکی "، "خاوره"، "خټه"، "د خټي خلاصه"، "د کودړي په څېر کړنگېدونکې وچه خټه"، "سريښناکه خټه" او "توره بوی ناکه خټه" ښودل شوې. گورو چي قرآن اوبه د ټولو ژوو او ژونديو شيانو د پيدايښت اصلي ماده گڼلې، داسي ژوندی شی نشته چي د جوړښت اساسي ماده ئې اوبه نه وي، د انسان د بدن نږدې اويا سلنه اوبه دي، همدا اوبه د غذا د هضم، د ده د بدن هري حجرې ته د غذا د رسولو او له بدنه د مضرو توکو د ايستلو وسيله ده، همدا اوبه له انسان سره مرسته کوي چي د بدن د حرارت درجه ئې نه لوړه شي او نه ټيټه، انسان کولی شي له خوراکه پرته تر نږدې شپېتو ورځو پوري ژوندی پاته شي خو له اوبو پرته تر يوې اونۍ زيات ژوندی نشي پاته کېدی.

له دې معلومېږي چي الله تعالی لومړی اوبه پيدا کړې بيا ئې ژوي، يعني د زمکي پر سر د ژوندون پيل له اوبو شوی، او دا هغه ستر حقيقت دئ چي انسان له ډېرو تحقيقاتو او اوږده علمي سفر وروسته پرې پوه شو، اوس په دې پوه شوی چي د زمکي پر سر ژوندون د اوبو له پيدايښته وروسته پيل شوی. يقيناً چي دا د

قرآن يو ستر علمي اعجاز دئ، که تاسو نن د بيولوژي کوم باانصافه عالم ته ووايئ چي زموږ په يوه داسي کتاب کي چي څوارلس سوه کاله پرې تېر شوي، دا خبره راغلې چي ټول ژوي له اوبو پيدا شوي، لومړی اوبه پيدا شوې بيا ژوي، هغه به درته ووايي: دا ستره علمي خبره ده، دا هغه حقيقت دئ چي ساينس فقط په روانه پېړۍ کي پرې پوه شو.

که تاسو د انسان د خلقت مربوط آيتونو ته لږ ځير شئ وبه ګورئ چي په ټولو کي (صلصال: کړنګېدونکی توکی) له (حمإ مسنون: بوی ناکه خټه) وړاندي ذکر شوی. او په يوه ځای کي خو (صلصال) د انسان د پيدايښت داسي لومړۍ ماده ګڼي لکه د اور لمبه چي د جن د پيدايښت لومړۍ ماده ګڼي او فرمايي:

**خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِن صَلۡصَٰلٖ كَٱلۡفَخَّارِ ١٤ وَخَلَقَ ٱلۡجَآنَّ مِن مَّارِجٖ مِّن نَّارٖ ١٥** الرحمن: ١٤-١٥

انسان ئې د کودړي په څېر له کړنګېدونکي توکي پيدا کړ او جن ئې له بې دوده لمبې.

دا آيت وايي چي انسان ئې له صلصال پيدا کړی، داسي لکه جن چي ئې له اوره پيدا کړی، د ده د پيدايښت اصلي ماده صلصال ده، دغسي لکه د جن د وجود اصلي ماده چي اور دئ، يعني د انسان د وجود لومړنۍ ماده په سر کي صلصال وه، خاوره شوه، خټه شوه او الله تعالی ترې انسان جوړ کړ. داسي نه دي ويل شوي چي دی ئې صلصال کړی او بيا ئې روح په کي پو کړې.

قرآن چي د انسان د پيدايښت د مختلفو پړاوونو او حالتونو په اړه څه ويلي، علم نن همدا خبره کوي او همغه څه وايي چي قرآن ويلي: د انسان نطفه له خاورو جوړېږي، هغه دانه او مېوه چي وني او بوټي ئې له خاورو او ځمکي، بوي ناکي، توري خټي جوړوي، د انسان په بدن کي نطفه ترې جوړه شي، د پلار او مور دا

نطفې د اوبو د څاڅکو په څېر د مور په رحم کې سره یو ځای شي، دوه نظفې یوه له بلې سره وصل شي، یوه ګډه او مختلطه نطفه (خلیه او سلول) ترې جوړه شي، څه موده وروسته د ځوړند توکي په څېر د مور په رحم پورې نښتې وي، بیا د ژوول شوې غوښې د یوې ټوټې بڼه غوره کړي، دلته دغه نوي مخلوق ته د صورت ورکولو لړۍ پیل شي، د ځینو برخو کار تر نورو وړاندې پیل او بشپړ شي، زړه، غوړږونه، سترګي، خوله، پزه، لاسونه، پښې، او نور غړي ورکړی شي، د هډوکو جوړیدا ئې په خاص پړاو کې پیل شي، په یوې خاصې مرحلې کې یو ژوندی او متحرك ماشوم ترې جوړ شي، په ټاکل شوې نېټه د مور له رحمه د وتلو لار ورته پرانیستل شي او له یوې تیاره او تنګې نړۍ یوې روښانه او پراخې نړۍ ته راووځي. که تاسو د قرآن دغه آیتونه د داسې چا په وړاندې کېږدئ چې د ماشوم د پیدایښت د څرنګوالي پړاوونه ئې په دقیقه توګه او په مجهز لابراتوار کې تر نظر لاندې تېر شوي وي؛ او اوس په دې پوهېږي چې انسان په لومړي سر کې د ژنونو مجموعه وي چې هر یو ئې د یوه خاص غړي د جوړولو دنده په غاړه لري، یو ئې د زړه جوړولو دنده ترسره کوي، بل ئې د غوږونو، بل ئې د سترګو، بل ئې د لاسونو، بل ئې د پښو او همداسې د هر غړي لپاره یو ځانګړی ژن، د دوی شمېر څه باندې دېرشو زرو ته رسېږي، هر یو ئې په خاص پړاو کې خپل کار پیلوي او په ډېر دقت سره ئې بشپړوي، که داسې یوه عالم ته د قرآن دا وینا واوروئ نو یقیناً چې هغه به تاسو ته ووايي: دا هغه څه دي چې ساینس اوس او د ډېرو پر مختللو وسائلو په مرسته پرې پوه شوی!!

# په مسلمانانو کې د انسان د پیدایښت اړوند

# غلط باورونه

په مسلمانانو کې ځيني خلك د بايبل تر اغېز لاندي تللي او د آدم عليه السلام د پيدايښت په اړه ئې د بايبل غلطه خبره منلې او هغه ئې د قرآن د آيتونو په تفسير کې کارولې، داسي چي ګواکې الله تعالى لومړى د آدم عليه السلام مجسمه له خټې جوړه کړې، بيا ئې پر اور ايښې چي پخه شي، بيا ئې په هغې کې روح پو کړې او هغه راژوندى شوى، بيا ئې د ده له کيڼې پوښتۍ د ده مېرمن جوړه کړې!!! دا خبري نه د قرآن په کوم آيت کې راغلې او نه په صحيح الاسنادو احاديثو کې، د دې خبرو يوازينۍ منشأ بايبل دئ، د قرآن ګڼ شمېر آيتونه د دې انګېرني ترديد کوي او وايي چي د آدم عليه السلام پيدايښت داسي وو لکه د ده د اولاد پيدايښت، توپير ئې يوازي په دې کې دئ چي اولاد ئې د مور په رحم کې له يوې وړې نطفې پيدا کېږي او آدم عليه السلام د مور له رحم بهر پيدا شوى، قرآن وايي چي د عيسى عليه السلام پيدايښت داسي وو لکه د آدم عليه السلام پيدايښت، له دې توپير سره چي دا د مور په رحم کې له پلار پرته پيدا شوى او هغه له مور او پلار پرته، د ده نطفه هم له خاوري جوړه شوې، د هغه هم او د آدم عليه السلام د ټولو اولادونو هم. قرآن وايي چي لومړى د انسان پيدايښت پيل شوى او وروسته شكل او صورت ورکړى شوى، همغسي لکه د مور په رحم کې چي انسان لومړى يو بې شكله او بې تصويره نطفه وي، ورو ورو ځانګړى شكل غوره کړي، غوړونه، سترګې، زړه، لاسونه او پښې او نور غړي ئې وروسته جوړ شي. قرآن په دې اړه فرمايي:

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَٰكُمۡ ثُمَّ صَوَّرۡنَٰكُمۡ ثُمَّ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ لَمۡ يَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ١١ الاعراف: ١١

او يقيناً چي موږ پيدا کړئ، بيا مو شكل او صورت درکړ، بيا مو ملائكو ته وويل چي آدم ته سجده شئ، نو له شيطان پرته ټولو سجده وکړه، چي (دى) له سجده

کوونکو نه وو.

د دې مبارك آیت په اړه لاندي ټکو ته پام وکړئ:

- د آیت په سر کې د ټولو انسانانو د خلقت خبره شوي خو وروسته یوازي د آدم علیه السلام یادونه شوي، د دې په توجیه کې د مفسرینو ګڼ شمېر توجیهات زموږ مخي ته راځي، تر ټولو غوره او دقیقه توجیه دا ده چي د آدم علیه السلام پیدایښت په حقیقت کې د ټولو انسانانو د پیدایښت مقدمه ده.

- د انسان (خلقت) او ده ته (شکل او صورت) ورکول بېل بېل یاد شوي، د دې معنی دا ده چي آدم علیه السلام ته له پیدایښته وروسته صورت او شکل ورکړی شوی، همداراز د ده اولاد ته له پیدایښت څه موده وروسته صورت او شکل ورکول کېږي، دواړه سره ورته دي، توپیر ئې یوازي په دې کې دئ چي آدم علیه السلام له مور پلار پرته پیدا شوی. قرآن په دې وینا سره نه یوازي یو ستر حقیقت بیان کړی، بلکي دا د قرآن یو بل علمي اعجاز دئ، انسان د پیدایښت په لومړیو شپو ورځو کې یوه نطفه وي، بیا په رحم پوري ځوړند توکی، بیا ژوول شوې غوښي ته ورته د غوښي ټوټه، ... په پای کې ورته د یوه ماشوم شکل او صورت ورکړی شي. د دې وینا په اهمیت هغه څوك پوهېږي چي د انسان د پیدایښت د مختلفو مراحلو په اړه ئې ژوري علمي څېړني او تحقیقات کړي وي.

- دا آیت د هغو خلکو غلطه انګېرنه بې بنسټه ثابتوي چي وایي: لومړی د انسان مجسمه جوړه شوې بیا په کې روح پو کړی شوې!! قرآن د دې رأیي په خلاف وایي چي انسان ته د ده له پیدایښته وروسته صورت او شکل ورکړی شوی. د دوی دا رأیه نه په قرآن کې کوم بنسټ لري او نه په صحیحو احادیثو کې، دوی دا رأیه له بایبل اخیستې ده، دوی احسن الخالقین خدای په یوه کلال قیاس کړی، بایبل په دې اړه لیکي: ... دغه وخت خدای آدم له خاوري جوړ کړ او بیا ئې د ده په پزه کې د

ژوند روح پو کړه او ده ته ئې ژوندون ورپه برخه کړ او له آدمه یو ژوندی موجود جوړ شو!

د مسیحیانو یو ډېر معروف انځورګر په خپلي مشهوري منظرې کي د دوو انسانانو او څو فرشتو انځورونه داسي رسم کړي چي فرشتې د وزر لرونکو ښځو په بڼه کي او خدای جل شأنه او آدم علیه السلام سره ورته د دوو انسانانو په څېره کي ښیي، فرشتو په خپلو وزرونو سره خدای لوړ نیولی او آدم پر زمکه پروت دئ او خدای د خپلي ګوتي له لاري آدم ته روح ورکوي!!!

# انسان څنګه پیدا شوی؟

اما دا چي آدم علیه السلام څنګه له خاورو پیدا کړی شو؟ او قرآن په دې اړه څه وایي؟ د دې په ځواب کي لاندي خبري په پام کي وساتئ:

- دا **سؤال** یوازي د لومړي انسان د پیدایښت په اړه نه دئ مطرح، د ټولو ژوو، حیواناتو او نباتاتو په اړه مطرح دئ. باید د ټولو د لومړي جد د پیدایښت په اړه ځواب ورکړی شي.

- کله چي د انسان د پیدایښت په اړه څه وایو او اړوند آیتونه ئې څېړو نو باید متوجه وو چي په دې څېړني کي د قرآن ټول هغه آیتونه په پام کي ولرو چي د انسان او نورو ژوو د پیدایښت د څرنګوالي په اړه ئې بحث کړی، د رسول الله صلی الله علیه و سلم لارښووني هم خپلي مخي ته کېږدو او د خلقت په اړه د الله تعالی عام سنت هم په پام کي ولرو. داسي تعبیر وړاندي نه کړو او وئې نه منو چي له نورو

آیتونو سره تعارض رامنځته کوي، د رسول الله  صلی الله علیه و سلم صحیح احادیث ئې ملا تړ او تأیید نه کوي او د الله تعالی له عام او مشهودو سننو سره اړخ نه لګوي.

- د انسان د پیدایښت په اړه زموږ ځواب باید داسي وي چي هم د نورو ژوو د پیدایښت په اړه صدق وکړي او هم ئې زموږ عقل ومني، داسي ځواب ناقص دئ چي د الله تعالی د کوم مشهود سنت خلاف وي او عقل ئې نشي منلی، دا ځکه چي په قرآن کي نه د الله تعالی د سننو خلاف څه شته او نه د عقل خلاف. زموږ ځواب باید دا راته روښانه کړي چي له ویروس او میکروب نیولې تر فیل او ډایناسور پوري او له بکتریا او واړه بوټي نیولې تر سترو سترو ونو پوري، دا د زمکي د سر ټول ژوي او نباتات څنګه پیدا شوي، د پیدایښت پیل ئې څنګه وو او لومړی جوړه ئې څنګه پیدا شوې. آیا لومړی د ټولو دوې دوې مجسمې (د نر او ښځي) جوړې شوې، بیا روح په کي پو شوې، ژوندي شوي او له همدغو لومړیو جوړو ئې نسل دوام کړی؟ او که داسي چي لومړی د هر ژوي یوه وړه نطفه پیدا شوې، دا نطفه په دوو برخو (نر او ښځي) وېشل شوې، ورو ورو ستر شوي، د یوې بشپړې جوړې په توګه ئې وده کړې او بیا له همدغي بشپړي جوړې د هغوی نسل دوام کړی؟ داسي لکه نن چي په خپلو سترګو ګورو چي ټول ژوي او بوټي، که ستر دي او که واړه، له داسي وړې نطفې ئې پیدایښت پیل کېږي چي په سترګو نه لیدل کېږي، ګڼ شمېر مراحل پرې تېر شي، ورو ورو د کمال او بشپړېدو په لوري وده وکړي او له څه مودې وروسته د یوه بشپړ ژوندي مخلوق په توګه راڅرګند شي. موږ په دې خور وور عالم کي د پیدایښت داسي بېلګه نه ګورو چي د دې عام او مشهود الهي سنت خلاف لومړی د هغه بشپړه مجسمه جوړه شي او بیا روح په کي پو شي، داسي ژوی مو نه دئ لیدلی چي پیدایښت ئې له یوې وړې نطفې نه وي پیل شوی. دا عام الهي سنت او زموږ عقل راته وایي چي د اوسني پیدایښت توپیر به له لومړي پیدایښت

سره یوازي په دې کې وي چي اوس له یوې جوړې او د نر او ښځي له ازدواج راپیدا کېږي او په لومړي سر کې ئې دا جوړه (زوج) له یوې نطفې جوړه شوې او له دې وروسته ئې د اوسني طرز پیدا کېدو لړۍ پیل شوې. اوس ئې نطفه د مور په رحم کې جوړېږي او هغه مهال په زمکي کې جوړه شوې، اوس ئې نطفه د نر او ښځي د نطفو له یو ځای کېدو جوړېږي او هغه مهال یوه نطفه په دوو (نر او ښځي) تقسیم شوې.

- د انسان د پیدایښت په اړه یوه دا رأیه مخي ته راځي چي ډېره معروفه ده، هم په مسلمانانو کي او هم له مسلمانانو نه مخکي په اهل کتابو کې، مسلمانانو ته هم په اصل کي له اهل کتابو راغلې، په مسلمانانو کي چا چي د لومړي ځل لپاره دا خبره کړې، هغه په حقیقت کي د اهل کتابو رأیه بیان کړې خو نورو دا د ده رأیه ګڼلې، معروفه رأیه دا ده: د آدم علیه السلام د کالبد خاوره له زمکي راغونډه کړی شوه، اوبه پرې توی شوې، خټه ترې جوړه شوه، ډېره موده پرې تېره شوه، خټه ورسته، توره او بوی ناکه شوه، له دې ئې د ده څېره او مجسمه جوړه کړه، په اور ئې کېښوده، پخه شوه او بیا الله په هغه کې روح پو کړه او ژوندی شو او د ده له ژوندي کېدو وروسته، یا د ده له اضافي خټي او یا د ده له یوې پوښتۍ ئې د ده جوړه راپیدا کړه.

- خو د قرآن په هیڅ ځای کې دا نه دي ویل شوي چي لومړی د آدم علیه السلام او د ده د زوجې هیئت او څېره جوړه شوې، بیا روح په کې پو شوې. او نه هم په هیڅ صحیح الاسناد حدیث کې دا ویل شوي، که خبره داسي وی نو هرومرو به په قرآن کې په همدې الفاظو ذکر شوې وه، نه یوازې د آدم علیه السلام په اړه بلکې د نورو ژوو په اړه به هم همداسي ویل شوي وو چي لومړی ئې د ټولو هیئتونه جوړ کړل، بیا ئې په کې پو کړل او راژوندي شول، لکه څنګه چي د عیسی علیه السلام له

قوله فرمايي:

أَنِّي أَخْلُقُ لَكُمْ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنْفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِ اللَّهِ : زه ستاسي لپاره له ختې د مرغه څېره جوړوم، بيا په هغه کې پو کوم، نو هغه به د الله په اذن سره ژوندی مارغه شي.

- قرآن د الله کتاب دئ، هر مطلب په ډېر دقت سره په کې بيان شوی، د شك مجال نه پرېږدي، يوازې د کږو زړونو خاوندان له هغه کوږ مطلب اخلي. څنګه ممکنه ده چې د آدم عليه السلام پيدايښت دې د هيئت په بڼه کې شوی وي او قرآن دې په هيڅ ځای کې هغه ته اشاره نه وي کړې؟!!

د قرآن لاندې دوو آيتونو ته لږ په دقت سره ځير شئ:

وَٱللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ جَعَلَكُمۡ أَزۡوَٰجٗاۚ وَمَا تَحۡمِلُ مِنۡ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلۡمِهِۦۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٖ وَلَا يُنقَصُ مِنۡ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِي كِتَٰبٍۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ١١ فاطر: ١١

او الله تاسو له خاورې راپيدا کړئ، بيا له نطفې، بيا ئې جوړه جوړه کړئ، نه کومه ښځينه څه حمل کوي او نه ئې زېږوي، مګر د ده په علم سره او نه د کوم عمر خاوند عمر ورزياتېږي او نه ئې عمر کمېږي مګر دا چې په کتاب کې (ثبت) دي او دا کار الله ته آسان دئ.

که دې آيت ته لږ ځير شئ نو په ډېر صراحت او وضاحت سره ترې معلومېږي چې د انسان لومړی جوړه له يوې نطفې جوړه شوې، دلته الله تعالی فرمايي چې تاسو مو لومړی له خاورې، او بيا له يوې نطفې راپيدا کړئ او بيا مو جوړه جوړه پيدا کړئ، يعني د انسان پيدايښت لومړی له خاورې د يوې نطفې په بڼه کې پيل شوی او بيا ئې د زوج زوج پيدا کېدو لړۍ پيل شوې. څوك چې له دې پرته بله رأيه وړاندې کوي د قرآن له دې څرګند آيت سره مخالفت کوي.

**خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ تَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٣ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٖ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٞ مُّبِينٞ ٤** النحل: ٣ ـ ٤

آسمانونه او زمکه ئې په حقه پيدا کړل، لوړ دئ له هغه څه نه چي ورسره شريکوي ئې، انسان ئې له نطفې پيدا کړ او هغه څرګند جګړمار شو.

له دغو آيتونو څو خبري په ډېر صراحت او وضاحت سره معلومېږي:

- د انسان د پيدايښت لومړۍ ماده خاوره ده.
- له خاوري د ده نطفه جوړه شوې.
- بيا له دې نطفې د ده جوړه پيدا شوې. يعني د زوج زوج (نر، ښځې) پيدا کېدا لړۍ ئې له نطفې وروسته پيل شوې، يوه نطفه په يوې جوړې بدله شوې. له يوې جوړې د ده پيدا کېدا له دې وروسته پيل شوې.
- په دغو آيتونو کې د انسان لومړني پيدايښت ته اشاره شوې، د آسمانونو او زمکي له خلقت وروسته او ورپسې دا خبره کول چي انسان ئې له نطفې پيدا کړ، دا مطلب په ګوته کوي چي دلته د انسان لومړني پيدايښت ته اشاره شوې، نه وروستي پيدايښت ته. ابتدائي پيدايښت ئې هم د نطفې په بڼه کې پيل شوی، ډېره عجيبه ده چي څوك د دې صريح آيتونو خلاف خبره کوي. دې ته مو هم پام وي چي اوس د انسان له نطفې يا نارينه ماشوم جوړېږي او يا ښځينه، دا پرېکړه هغه مهال کېږي چي د نارينه او ښځي د مني نطفې (سپرم او اووم) سره يو ځای کېږي، که د ښځي په بيضې کې د نارينه د مني X سپرم ځای په ځای شو نو ماشوم به هلك وي او که yسپرم ځای په ځای شو نو ماشوم به نجلۍ وي، د دې معنی دا ده چي د جنس (نر او ښځې) نوع د پيدايښت په لومړي سر کې ټاکل کېږي نه وروسته، او دا آيت وايي چي بيا له دې نطفې د ده جوړه پيدا شوې، او د دې معنی له دې پرته بل څه نشي کېدی چي دلته د لومړي انسان پيدايښت ته اشاره شوې، هغه

مهال له يوې نطفې يوه جوړه پيدا شوې.

- الله تعالی يوازې آدم علیه السلام له خاورې نه دئ پيدا کړی بلکې د ده اولاد هم هره ورځ له خاورې پيدا کوي، دا ځکه چې د هر يوه نطفه له هغو موادو جوړېږي چې له ځمکې راټوکېږي، دا خاوره ده چې په دانې او مېوې بدله شي او د انسان په وجود کې د ده نطفه ترې جوړه شي او بيا د دغو نطفو له تلفيق انسان جوړ شي. قرآن په دې اړه فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّنَ ٱلۡبَعۡثِ فَإِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٖ ثُمَّ مِن مُّضۡغَةٖ مُّخَلَّقَةٖ وَغَيۡرِ مُخَلَّقَةٖ لِّنُبَيِّنَ لَكُمۡۚ وَنُقِرُّ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى ثُمَّ نُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلٗا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمۡۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ مِنۢ بَعۡدِ عِلۡمٖ شَيۡـٔٗاۚ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ هَامِدَةٗ فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا ٱلۡمَآءَ ٱهۡتَزَّتۡ وَرَبَتۡ وَأَنۢبَتَتۡ مِن كُلِّ زَوۡجِۭ بَهِيجٖ ٥ الحج: ٥

اې خلکو! که د بيا ژوندون په اړه په شك کې يئ، نو موږ خو له خاورې راپيدا کړئ، بيا له نطفې، بيا له علقې، بيا له ژوول شوې يوې ټوټې غوښې چې انځور شوې او نه انځور شوې وي، ترڅو تاسو ته وښيو او څه چې وغواړو تر يوې ټاکلې نېټې ئې په رحم کې ځای پر ځای کوو، بيا مو د ماشوم په څېر راباسو، بيا (همداسې ستاسو پالنه کوو) تر څو خپل قوت ته ورسېږئ او له تاسو ځيني ومري او ځيني مو تر ټولو لوېدلې عمر ته ورسېږي، هومره چې له پوهېدو وروسته په څه نه پوهېږي او ځمکه گورې چې وچه کلکه ده، خو کله چې اوبه پرې نازل کړو، وخوځېږي، وده وکړي او هر راز سمسور بوټي راوټوکوي.

دلته د ټولو انسانانو د عادي او ورځني خلقت مختلفو پړاوونو ته اشاره شوې، چې له خاورې پيل او په مرگ ئې پای ته رسي، په بل ځای کې د خاورې او خټې

عصاره او خلاصه د انسان د ترکیب ماده ګڼي او دا د قرآن یوه بله معجزه ده چې وايي انسان د زمکې له خلاصې راپیدا شوی، یعنې د ده په وجود کې د ټولو هغو شیانو بېلګه شته چې په زمکه کې شته، انسان اوس په دې پوه شوی چې په رښتیا د انسان په وجود کې ټول هغه عناصر شته چې په زمکې کې شته، د ده د جسم په ترکیب کې د اوسپنې په څېر مواد هم شته، له نن سل کاله مخکې که چا دا خبره کړې وی چې د انسان په جسم کې د اوسپنې په څېر د زمکې نور مواد هم شته، خدای خبر چې د ده په خبرې به ئې څومره خندلي وو، خو علم نن په دې حقیقت پوه شوی او د انسان د جسم د ترکیب په اړه د قرآن همدا خبره کوي.

- د طٰهٰ د سورې د پنځه پنځوسم آیت په وروستۍ فقره کې راغلې: زما رب همغه دئ چې وايي: له همدې زمکې مې پیدا کړئ او همدې ته مو بیا ورګرځوم او له همدې مو یو ځل بیا راباسو!! د دې معنی دا ده چې په لومړي ځل ئې هم له دغې زمکې راایستلي یو او د قیامت په ورځ به مو یو ځل بیا له همدې زمکې راباسي، او دا همغه مطلب دئ چې د نوح د سورې په ۱۷ آیت کې داسې راغلی: وَ اللَّهُ أَنبَتَكم مِّنَ الأَرْضِ نَبَاتاً: او الله له زمکې راوټوکولئ په ځانګړې ټوکولو سره.

متأسفانه ځینې کسان د آدم علیه السلام د پیدایښت، په ده کې د روح پو کول، په جنت کې ځای پر ځای کېدل، ده ته د شیطان وسوسه او له جنته د ده د وتلو په اړه داسې څه وايي لکه چې یا هغه زموږ جد نه وي او یا موږ د ده اولاد نه وو، د ده پیدایښت، ژوند او مرګ باید همغسې وي لکه د ده د اولاد، یوازې په دومره توپیر سره چې هغه له مور او پلار پرته پیدا شوی، په ده کې د روح پو کول به همغسې وو لکه د ده اولاد ته چې په خاص وخت کې روح ورکوي، ده ته د شیطان وسوسه باید همغسې وي لکه نن چې شیطان د ده اولاد وسوسه کوي، الله تعالی خو موږ ته د آدم علیه السلام د پیدایښت په قصه کې زموږ د پیدایښت څرنګوالی

راښيي، موږ ته د انسان او د هغه ځانګړتياوي او خصوصيات رامعرفي کوي، د ده د عروج او زوال عوامل راښيي، شيطان او د هغه وسوسې را په ګوته کوي، دا زموږ د جد قصه ده، د دې قصې په هينداره کې بايد خپل مخ وګورو او خپل ځان وپېژنو. په دې اړه تفصيلي بحث د قرآن پلوشې تفسير د النساء او الاعراف په سورتونو کې وګورئ.

ما د غرب د يوه معروف ساينس پوه کتاب لوستو، دې ځای ته ورسېدم چې ليکلی ئې وو: د ژوو پيدايښت له **black soup** يعني توري شوروا پيل شوی، بې اختياره مي اوښکي توی شوې او له ځان سره مي وويل: آيا د قرآن دغه معجزه کافي نه ده، دا ساينس پوه له کلونو کلونو تحقيقاتو وروسته هغه خبره کوي چې قرآن لاډېر د مخه کړې، دی ورته **black soup** وايي او قرآن ورته توره ختهه!!

راشئ د بايبل دا ادعاء چې وايي لومړی د انسان مجسمه جوړه شوې بيا انسان ډوله خدای د هغه په پزه کې روح پو کړې!! لږ په دقت سره وڅېړو او وګورو چې دا څومره بې معنی، د حقيقت خلاف او افسانې ته ورته خبره ده!!

موږ هره شېبه په خپلو سترګو ګورو چې الله تعالی ژوندي مخلوقات څنګه پيدا کوي، څنګه ئې له مړې خاوري جوړوي، څنګه روح په کې پو کوي او ژوندی مخلوق ترې جوړوي، آيا دغه څه چې موږ ئې په خپلو سترګو ګورو له هغه څه سره مطابقت لري چې بايبل ئې د آدم عليه السلام د پيدايښت په اړه وايي؟! آيا د ژونديو شيانو په پيداکولو کې د الله تعالی سنت همداسي دئ چې لومړی د يوه شي مجسمه جوړوي، بيا ئې په پزه کې روح ور پو کوي او ژوندی مخلوق ترې جوړوي؟! آيا د بايبل ليکونکي او منونکي همداسي پيدا شوي؟! که دوی داسي نه وي پيدا شوي نو د دوی جد آدم عليه السلام به ولې داسي پيدا شوی وي؟! الله تعالی خو انسانان، حيوانات او بوټي داسي پيدا کوي چې په سر کې وړوکې نطفه وي، ورو ورو ستره

شي او يو بشپړ ژوندی مخلوق ترې جوړ شي، څنګه ومنو چې لومړی الله تعالی د ټولو ژوو مجسمې جوړې کړې، بيا ئې د دوی په پزو کې روح پو کړې او ژوند ئې ورپه برخه کړی!! دا انګېرنه خو نه له انساني عقل سره اړخ لګوي او نه په پيدايښت کې د الله تعالی له مشهود او نه بدلېدونکي سنت سره.

# انسان تر نورو ژوو وروسته پيدا شوی

که تاسو د الحجر د سورې له ۱۵ آيت تر ۲۷ آيت پورې له نظره تېر کړئ نو ډېر ژر به متوجه شئ چې الله تعالی لومړی زمکه او آسمانونه پيدا کړي، بيا ئې اوبه پيدا کړې، بيا ئې د زمکې د سر بوټي او نور ژوي پيدا کړي او په پای کې ئې انسان پيدا کړی. په ۱۵، ۱۹، ۲۰، ۲۲، آيتونو کې د آسمانونو، زمکې، غرونو، اوبو، بوټو، حيواناتو پيدايښت ته اشاره شوې او ورپسې په ۲۶ آيت کې د انسان پيدايښت ته، په ۲۷ آيت کې ويل شوي چې پېريان هم تر انسانانو مخکې پيدا شوي، دا تسلسل ښيي چې د انسان تر پيدايښت وړاندې ئې د ده د معيشيت ټول ضروري شيان پيدا کړي، او دا هغه حقيقت دئ چې ساينسپوهان اوس پرې پوه شوي، او همدغه خبره کوي چې قرآن څوارلس پېړۍ وړاندې کړې، يقيناً چې دا د قرآن يو داسې ستر علمي اعجاز دئ چې هر د بصيرت او عقل خاوند پرې اعتراف کوي. رسول الله صلی الله عليه و سلم هم د انسان او نورو ژوو د پيدايښت په اړه فرمايلي چې الله تعالی انسان د پيدايښت د مراحلو د وروستۍ شپږمې مرحلې په پای کې پيدا کړ.

ابوهريره رضي الله عنه وايي: پيغمبر عليه السلام تر لاس ونيولم او راته وئې

ويل: الله تعالی د شنبې په ورځ خاوره پیدا کړه، د یکشنبې په ورځ غرونه، د دوشنبې په ورځ نبات، د سه شنبې په ورځ مکروه، د چهارشنبې په ورځ نور، د پنجشنبې په ورځ خزندګان او د جمعې په ورځ، د پیدایښت په پای او د ورځې په آخر کې، د ماښام او مازدیګر تر منځ ئې آدم علیه السلام پیدا کړ.

عَنْ أَبِي هرېرَةَ، قَالَ أَخَذَ رَسُولُ اللهِ بِيَدِي فَقَالَ: «خَلَقَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ، التُّرْبَةَ يَوْمَ السَّبْتِ. وَخَلَقَ فِيهَا الْجِبَالَ يَوْمَ الأَحَدِ. وَخَلَقَ الشَّجَرَ يَوْمَ الإِثْنَيْنِ. وَخَلَقَ الْمَكْرُوهَ يَوْمَ الثُّلاَثَاءِ. وَخَلَقَ النُّورَ يَوْمَ الأَرْبِعَاءِ. وَبَثَّ فِيهَا الدَّوَابَّ يَوْمَ الْخَمِيسِ. وَخَلَقَ آدَمَ، عَلَيْهِ السَّلاَمُ، بَعْدَ الْعَصْرِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ. فِي آخِرِ الْخَلْقِ. فِي آخِرِ سَاعَةٍ مِنْ سَاعَاتِ الْجُمُعَةِ. فِيمَا بَيْنَ الْعَصْرِ إِلَىٰ اللَّيْلِ».

دا مبارك حديث د زمکې پر سر د پیدایښت مختلف مراحل توضیح کوي او وايي چې د زمکې پر سر د خاورې پیدا کېدل د پیدایښت مقدمه وه، له خاورې وروسته لومړی غرونه، بیا نباتات، بیا مکروه، بیا نور، بیا خزندګان او په پای کې آدم علیه السلام پیدا شوی. د دې روایت په اړه باید دا خبرې هم په پام کې ولرئ چې ځیني برخې ئې دقت ته ضرورت لري، لکه دا چې یو څه د مکروه په نامه یاد شوي چې د احادیثو شارحین بېل بېل شیان د دې مصداق ګڼي، همدا راز ویل شوي چې نور د چهارشنبې په ورځ پیدا شوی، چې ښایي مراد به ئې هغه حالت وي چې د زمکې د سر پربېړي وربځې خورې او سره بېلې شوې او د لمر پلوشې پر زمکه لګېدلې، ځکه نور تر دې ډېر د مخه پیدا شوی، لمر او زمکه د غرونو له پیدا کېدو وړاندې ځلانده ول.

په الله قسم چې د قرآن دا هره وینا او هر آیت یو ستر علمي اعجاز دئ، داسې ستر اعجاز چې که تاسو ئې د هر باانصافه عالم په وړاندې کېږدئ نو محال ده چې هغه به دې ته سر ټیټ نه کړي او دا به یوه معجزه ونه ګڼي، متأسفانه ناپوه

کسان او د اسرائيلي رواياتو تر اغېز لاندې راغلي کسان د دغو مبارکو آيتونو داسې غلط تعبير وړاندې کوي چې د قرآن له دغو معجزاتو په قرآن د اعتراض خبره جوړوي!! د قرآن کريم د دغو آيتونو په اهميت هغه څوك پوهېږي چې د زمکې د پيدايښت په اړه دقيق معلومات ولري، تاسو دا خبرې يوه ساينس پوه ته وکړئ او وګورئ چې هغه به په هره خبره څومره حيرت کوي!!

# شيعه د آدم عليه السلام د پيدايښت په اړه څه وايي؟

شيعه د آدم عليه السلام د پيدايښت په اړه يو روايت لري چې امام باقر رحمه الله ته ئې منسوب کړی او وايي: تر آدم عليه السلام مخکې په زرګونو زرګونو آدمان تېر شوي!! دا رأيه نه له قرآن سره اړخ لګوي، نه له عقل سره او نه له علم سره، قرآن په ډېر صراحت سره او په مکرره توګه فرمايي چې د انسانانو د پيدايښت لړۍ له يوه نفس او يوې جوړې (آدم او د هغه مېرمن) پيل شوې، زموږ عقل او درايت همدا خبره کوي، ساينس او علم همدا خبره کوي، نه پوهېږو په دغو خلکو څه مصيبت نازل شوی چې د قرآن او عقل خلاف روايات مني او په داسې څه باور کوي چې نه کوم عقلي دليل ورته لري او نه په ټول قرآن کې د هغه لپاره کوم شاهد!!

# آیا یو ژوندی نفس په دوو بدلېدی شي؟

دا یوه مهمه پوښتنه ده چي هر څوك ئې په خپل ذهن کي لري او وایي د انسانانو پیدایښت څنګه پیل شوی؟ له یوه مور پلار که له بېلابېلو؟ که دا لومړی جوړه یوه وي یا بېلي بېلي وي، پیل ئې څنګه وو؟ له سره یوه مکمله جوړه پیدا شوې، که ورو ورو ئې له یوه حالته بل ته ارتقاء کړې؟ له انسانه علاوه د نورو ژوو، مخصوصاً هغه چي د انسانانو په څېر له مور، پلار پیدا کېږي، د پیدایښت لړی څنګه پیل شوې؟ کوم سؤالونه چي د انسان د پیدایښت په اړه مطرح دي د نورو ژوو په اړه هم مطرح دي. آیا کېدی شي ومنو چي لومړی د ټولو ژوو نارینه پیدا شوي بیا د دوی له بدنه ښځینه ئې جوړه شوې؟ آیا یو ژوندی نفس په دوو بدلېدی شي؟ د ساینس په نړۍ کي تر نولسمي پېړۍ پوري څوك په دې نه پوهېدو چي کېدی شي یو ژوندی مخلوق په دوو ژوندیو ساکښو تجزیه شي، دا ئې محال ګڼله، خو په نولسمي پېړۍ کي په دې پوه شو چي په ژوندیو مخلوقاتو کي ځیني داسي هم شته چي تکاثر ئې د نر، ښځي د القاح له لاري نه وي، بلکي یو موجود په دوو تجزیه شي، آمیب ئې یو مثال دئ او په شلمي پېړۍ کي دا حقیقت ورته څرګند شو چي د انسان په وجود کي هم د ځینو حجراتو تکاثر د همداسي تجزیي له لاري ترسره کېږي، یوه حجره په دوو بدله شي. راشئ وګورو چي قرآن په دې اړه څه وایي، د قرآن دغه آیت ته ځېر شئ:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِي تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا ١ النساء: ١

اې خلکو! له خپل هغه رب ووېرېږئ چي له یوه نفس ئې راپیدا کړئ او له هغه ئې د ده جوړه راپیدا کړه او له دواړو ئې ډېر نارینه او ښځي خواره کړل، هم د هغه

الله په نسبت تقوی ولرئ چي په خپلو کي غوښتني پرې کوئ او هم د خپلوۍ په اړه، بې شکه چي الله ستاسو څارونکی دئ.

که د دې آیت الفاظو ته په دقت سره ځير شئ نو وبه گورئ چي دلته ټولي پورتني پوښتني ځواب شوې. له دې آیته معلومېږي چي انسان له لومړي سره انسان پيدا شوی، يو نفس په يوې جوړې بدل شوی او بيا له همدې جوړې د ده د نسل سلسله پيل شوې او دا ځواب موږ ته دا لارښوونه کوي چي د نورو ژوو د پيدايښت لړۍ به هم دې ته ورته وي، د هري نوعي لپاره به لومړی يو نفس پيدا شوی وي، بيا له دې يوه جوړه او بيا دغه جوړه ئې د توالد او تناسل ذريعه گرځېدلې.

په دې آيت کي څو اساسي مطالب راغلي:

- د ټولو انسانانو خالق او پالونکی يو دئ.
- د ټولو انسانانو پيدايښت له يوه نفس پيل شوی، له همدې يوه نفس د ده جوړه راپيدا شوې او بيا له دې دواړو د انسانانو د خورېدو لړۍ پيل شوې، د انسانانو پلار، مور يوه جوړه ده، په رگونو کي ئې يوه وينه ده، نسب ئې يو دئ، د يوې کورنۍ غړي دي، داسي نه ده چي نسلونه ئې بېل بېل او په نسب کي يو له بله بېل وي، داسي نه ده چي د نړۍ په بېلو بېلو سيمو کي بېل بېل نسلونه راپيدا شوي وي، د تور پوستو پلار بېل او د سپين پوستو بېل وي، عرب له يوه پلاره او عجم له بل پلاره پيدا شوي وي.
- د هغه چا پروا ولرئ چي ستاسو خالق او پالونکی دئ، ستاسو د ټولو غوښتنو مرجع ده، ستاسو اړتياوو ته ځواب وايي، ستاسو ضرورتونه رفع کوي، يو له بله ستاسو غوښتنه هم د ده په نامه وي.
- په خپلمنځي تعلقاتو کي بايد دې ته متوجه وئ چي تاسو ټول په حقيقت کي د

يوې کورنۍ غړي يئ، د دغي خپلوۍ خيال وساتئ. ځان تر بل لوړ مه ګڼئ، خپل ورور ته د حقارت په سترګه مه ګورئ، پرخپل ورور ظلم مه کوئ.

- معامله مو له هغه رب سره ده چي ستاسو د ټولو کړو وړو څارنه کوي.

که څه هم ځينو مفسرينو له (ارحام) هغه ذوي الارحام مراد کړي چي نږدې خپلوان ګڼل کېږي، خو د آيت له لومړۍ برخي په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي له دې مراد هغه عامه خپلوي ده چي د ګډ مور پلار په وجه د ټولو انسانانو ترمنځ شته. همدا راز (تسائلون)، يو له بل غوښتل او ډېر او مکرر غوښتل افاده کوي، موږ هر څه د الله د نامه په يادولو سره غواړو، يو له بله هم او له دې پرته هم، دا د ټولو انسانانو په فطرت کې اېښودل شوي، هندو او بودائي د بت خوا کې، مسيحي د مريم او عيسی عليهما السلام د مجسمو خوا ته، زردشتيان د اور په څنګ کې د خدای په نامه سؤالونه کوي، له خدايه **سؤال** کول ئې د فطرت په حکم سره دئ خو د الله په پېژندو کې دوکه شوي.

ځينو نفس واحد په غلطه توګه تعبير کړی او دا معنی ئې ترې رااېستلې چي تاسو ئې له يوه جنسه پيدا کړي يئ، د ټولو د پيدايښت ماده يوه ده او له يوه جنسه پيدا شوي يئ، خو دقيقه معنی ئې دا ده چي له يوه نفس ئې د هغه جوړه پيدا کړه او بيا له دوی دواړو (آدم او حواء) ئې د دوی اولاد.

د آيت له الفاظو په صراحت سره معلومېږي چي لومړی يو نفس پيدا شوی او بيا له همدې يوه نفس يوه جوړه (نر او ښځه) جوړه شوې او بيا له دې جوړې د انسانانو د تناسل او توالد لړۍ پيل شوې. د انسانانو د پيدايښت په اړه د قرآن دا بيان هغه واهي او بې بنسټه نظريه له بنياده ردوي چي انسانان په مختلفو نسلونو وېشي او د هر نسل او نژاد لپاره بېل بېل اجداد ثابتوي.

دا آيت وايي چي د انسانانو لومړۍ جوړه، آدم او حواء عليهما السلام له واحد

نفس او یوه ژوندي مخلوق پیدا شوي، داسي نه چي دوه بېلي بېلي مجسمي جوړي شوې وي او بیا په دواړو کې روح پو شوې وي!!

د دې آیت دقیقه تشریح او له (واحد نفس) د ده د جوړې د پیدایښت څرنګوالی په لاندي آیت کي بیان شوی:

**وَٱللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ جَعَلَكُمۡ أَزۡوَٰجٗاۚ وَمَا تَحۡمِلُ مِنۡ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلۡمِهِۦۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٖ وَلَا يُنقَصُ مِنۡ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِي كِتَٰبٍۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ١١** فاطر: ١١

او الله تاسو له خاوري راپیدا کړئ، بیا له نطفې، بیا ئې جوړه جوړه کړئ، نه کومه ښځینه څه حمل کوي او نه ئې زېږوي، مګر د ده په علم سره او نه د کوم عمر خاوند عمر ورزیاتېږي او نه ئې عمر کمېږي مګر دا چي په کتاب کي (ثبت) دي او دا کار الله ته آسان دئ.

له دغه آیته څو خبري په ډېر وضاحت سره معلومېږي:

- د انسان د پیدایښت لومړۍ ماده خاوره ده.
- له خاوري د ده نطفه جوړه شوې.
- بیا له دغي نطفې د ده جوړه پیدا شوې. یعني هغه (واحد نفس) دغه له خاورو جوړه شوې نطفه وه چي له هغې ئې د ده (زوج او جوړه) راپیدا کړه او بیا له دغي جوړې د ده د نسل د پیدا کېدو لړۍ پیل شوې.

د دې مبارك آیت له دغه قاطع او صریح بیان سره سره چي څوك په دې خبري کي شك کوي چي د آدم علیه السلام پیدایښت له نطفې پیل شوی، هغه به په قرآن باور نلري او د الله تعالی د قول په مقابل کي به د بل چا قول ته اعتبار ورکوي!!

# د ژوندون پسرلی

د قرآني آیتونو او د پیغمبر علیه السلام د احادیثو په رڼا کې د ژوو د پیدایښت په اړه ویلی شو چې الله تعالی د زمکې او آسمان له پیدا کولو وروسته د زمکې پر سر داسې شرائط برابر کړي چې د ژوندیو مخلوقاتو د پیدا کولو او د هغوی د رشد او ودې لپاره ضروري دي، کولی شو دا شرائط د (ژوند پسرلی) ونوموو، لکه څنګه چې په هر پسرلي کې مړه ژوي د زمکې له تل نه سر رااوچت کړي، راټوکېږي او ونه او بوټی ترې جوړ شي، همداراز د زمکې پر سر د ژوندیو مخلوقاتو د پیدایښت لړۍ ئې هم د (ژوند په هغه پسرلي) کې پیل کړې، د مختلفو موجوداتو نطفې ئې پیدا کړې، له دغو نطفو ئې د دوی ازواج او جوړې راپیدا کړي او په دې سره ئې په زمکې کې د دوی د نسل د دوام او بقاء لار آواره کړې.

قرآن د هغه چا په ځواب کې چې د قیامت بیا ژوندون نه مني، د انسان لومړنی پیدایښت او د ده هره ورځ پیدایښت او له زمکې او خاورې د نباتاتو راټوکېدل د دلائلو په توګه وړاندې کوي، له دې معلومېږي چې د پیدایښت په اړه د الله مشهود سنت د مخکني او وروستني پیدایښت لپاره دلیل دئ. په دې اساس موږ هغه چا ته چې د ابتدائي پیدایښت په اړه پوښتنه کوي، وایو: دا پیدایښت هم داسې دئ لکه دا اوس اوس چې الله ژوندي شیان پیدا کوي، هر ژوندی مخلوق له نطفې راپیدا کوي، همداسې ئې په ابتداء کې له نطفې راپیدا کړي. په سر کې د مور له رحم بهر او وروسته د مور په رحم کې. د قیامت په ورځ به ئې داسې راپیدا کوي لکه په لومړي ځل د ده پیدایښت، دا مطلب په دغه حدیث کې ډېر ښه توضیح

شوی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ **صلى الله عليه و سلم** « مَا بَيْنَ النَّفْخَتَيْنِ أَرْبَعُونَ » . قَالَ أَرْبَعُونَ يَوْمًا قَالَ أَبَيْتُ . قَالَ أَرْبَعُونَ شَهْرًا قَالَ أَبَيْتُ . قَالَ أَرْبَعُونَ سَنَةً قَالَ أَبَيْتُ . قَالَ « ثُمَّ يُنْزِلُ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً . فَيَنْبُتُونَ كَمَا يَنْبُتُ الْبَقْلُ لَيْسَ مِنَ الإِنْسَانِ شَىْءٌ إِلاَّ يَبْلَى إِلاَّ عَظْمًا وَاحِدًا وَهْوَ عَجْبُ الذَّنَبِ ، وَمِنْهُ يُرَكَّبُ الْخَلْقُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ » رواه البخاري و مسلم

له ابوهريره رضى الله عنه روايت دئ چي رسول الله **صلى الله عليه و سلم** وفرمایل: "(د قیامت د ورځي) د دوو پو کېدا تر منځ به څلوېښت وي"، چا ابوهريره ته وويل: څلوېښت ورځي؟ هغه وويل: ما ډډه وکړه، وئې ويل: څلوېښت مياشتي؟ وئې ويل: ما ډډه وکړه، وئې ويل: څلوېښت کلونه؟ وئې ويل: ما ډډه وکړه، وئې ويل: "بيا به الله تعالى له آسمانه اوبه وورو‌ي، نو په دې سره به داسي راټوکېږي لکه نباتات، د انسان هيڅ څه داسي نه وي چي وروست نشي او له منځه ولاړ نشي مگر يو هډوکى ئې چي هغه د ملا د تير وروستۍ برخه ده، او له همدې به ئې د قيامت په ورځ پيدايښت ترکيب کېږي.

# آيا د مور له رحم بهر پيدايښت ممکن دئ؟

که څوك پوښتنه وکړي چي آيا د مور له رحم بهر هم د يوه ژوندي مخلوق پيدا کېدل ممکن دي، ورته وايو؛ هو؛ دا کار ممکن دئ او هره ورځ ئې بېلگي په خپلو سترگو گورو، د ټولو بوټو او نباتاتو نطفې په زمکي کي وده کوي، مرغان او ډېر حيوانات د مور له رحم بهر له هگيو پيدا کېږي، په حيواناتو کي د مور له رحم بهر

د پیدا کېدو ډېري بېلګي شته چي یو مثال ئې د کبانو پیدایښت دئ، د کب بچیان د مور په خېټه کي نه بلکي بهر پیدا کېږي، د نر او ښځي نطفه ئې په بهر کي سره القاح شي، ښځه ئې په یوه ګوښه کي خپلي هګۍ واچوي، نارینه ئې راشي او خپله مني وربانديي وشیندي او په دې ترتیب ئې القاح ترسره شي او بچیان ئې د مور له رحم بهر راپیدا شي.

د نورو ژونديو مخلوقاتو پیدایښت هم باید د الله تعالی د عام سنت مطابق، همداسي له بېلي بېلي نطفې پیل شوی وي.

د آدم او حواء علیهما السلام د پیدایښت په اړه اسرائیلي روایات دا وایي چي: لومړی د آدم مجسمه او کالبوت جوړ شوی، بیا په اور اېښودی شوی، (داسي لکه کوم کلال چي خاوره خټه کړي، لوښي او مجسمې ترې جوړي کړي، په اور ئې کېږدي او پخې ئې کړي) کله چي د آدم مجسمه پخه شوه نو روح په کي پو شوه او آدم راژوندی شو او بیا له پاتې خټي یا د آدم له پوښتۍ د ده جوړه پیدا کړی شوه.

په عامو مسلمانانو او حتی مفسرینو کي ځیني د دغو روایاتو تر اغېز لاندي تللي او چېري چي ئې کوم متشابه لفظ تر سترګو شوی نو هغه ئې د دغو اسرائیلي روایاتو په اساس تعبیر کړی.

د مثال په توګه دغه حدیث:

إن المرأة خلقت من ضلع وإن أعوج شيء في الضلع أعلاه فإن ذهبت تقيمه كسرته وإن استمتعت بها استمتعت بها وفيها عوج.

ښځه له پوښتۍ پیدا شوې، د پوښتۍ تر ټولو کوږ ځای ئې د هغې لوړه وي، که دي دا هڅه وکړه چي هغه سمه کړې نو ماته به ئې کړې او که غواړې ګټه ترې واخلې نو په داسي حال کي به ترې ګټه اخلې چي کوږوالی به په کي وي.

دلته نه د حواء علیها السلام نوم ذکر شوی او نه دا ویل شوې چي دا د آدم

عليه السلام له پوښتۍ پيدا شوې، برعکس ويل شوي چي هره ښځه له پوښتۍ پيدا شوې او دا بديهي خبره ده چي ټولي ښځي د سړو له پوښتيو نه دي پيدا شوې، ښځي د نارينه په څېر د مور، پلار له نطفو پيدا کېږي، نو له پوښتۍ د ښځو د پيدايښت معنی دا نه ده چي د پوښتۍ هډوکی د ښځو د بدن ماده ده، بلکي په دې سره د ښځو فطري او روحي جوړښت ته اشاره شوې، د دې حديث وروستۍ برخه پخپله د دې وضاحت کوي، ټولو محققينو ويلي چي په دې سره د ښځو په طبيعت کې هغو ځانګړتياوو ته اشاره شوې چي نارينه ئې بايد تحمل کړي او دا هڅه ونکړي چي هغه حتماً رفع شي. او دا داسي ده لکه د الانبياء په سوره کې چي راغلي:

خُلِقَ ٱلۡإِنسَٰنُ مِنۡ عَجَلٖۚ سَأُوْرِيكُمۡ ءَايَٰتِي فَلَا تَسۡتَعۡجِلُونِ ٣٧ الانبياء:٣٧

انسان له تلوار او عجلې پيدا شوی، ژر به خپل آيتونه دروښيم، نو عجله مه کوئ.

هر څوك پوهېږي چي دلته له تلوار او عجلې د انسان پيدايښت هيڅکله دا معنی نلري چي عجله او تلوار کومه ماده ده او انسان له دغي مادې پيدا شوی، معنی ئې له دې پرته بل څه نه ده چي انسان عجول او بېړنی پيدا شوی، په فطرت او خټه کې ئې عجلت او تلوار ايښودل شوی، په حديث کې هم له ضلعي د ښځي پيدايښت دې ته ورته معنی لري. د ښځي عاطفه قوي ده، تر نارينه زياته حساسه ده، ژر او په ډېر کم څه خفه کېږي اوښکي ئې باڼوګانو ته نږدې دي، ژر په ژړا شي، ژر مروره شي، له ګاڼو او سينګار سره مينه لري، دې ته ورته نوري ځانګړتياوي لري، دا ئې په فطرت کې ايښودل شوې، دا له دې سره ښايي، هر څومره چي د کومي ښځي عاطفه قوي وي همدومره به هغه غوره ښځه وي، له خپل اولاد سره به ئې زياته مينه وي، ښه پالنه به ئې کوي، له خپل مېړه سره به ئې محبت زيات وي، نارينه بايد دا کوږوالی تحمل کړي او بې ځايه ئې د سمولو هڅه ونکړي. خو متأسفانه ځينو له دې واضح مطلب غلط مفهوم اخيستی، د دوی د غلطۍ سبب

هم هغه اسرائيلي روايات دي چي په دې اړه خواره شوي.

او يا لکه د يوه حديث دا الفاظ: لما صور الله آدم: کله چي الله تعالی آدم ته صورت ورکړ. دوی دا آدم ته صورت ورکول داسي تعبير کړی چي ګواکي الله تعالی د ده مجسمه جوړه کړه، همغسي لکه اسرائيلي روايات چي وايي، حال دا چي قرآن د ټولو انسانانو د پيدايښت په اړه همدغه لفظ کارولی، لکه چي فرمايي:

هوالذي يصوركم في الارحام كيف يشاء: الله هغه ذات دئ چي تاسو ته ئې د ميندو په رحم کي صورت درکړ.

آيا دلته د مور په رحم کي انسان ته صورت ورکول دا معنی لري چي د هغه مجسمه ئې جوړه کړه؟ د قرآن د آيتونو له مخي خو آدم عليه السلام ته صورت ورکول داسي دي لکه د ده اولاد ته چي الله صورت ورکوي او په ده کي روح پو کول همغسي دي لکه د ده اولاد ته چي د مور په رحم کي روح ورکوي.

ثُمَّ جَعَلَ نَسۡلَهُۥ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن مَّآءٖ مَّهِينٖ ٨ ثُمَّ سَوَّىٰهُ وَنَفَخَ فِيهِ مِن رُّوحِهِۦۖ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۚ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ٩
السجدة: ٨- ٩

بيا ئې د ده نسل د سپکو اوبو له خلاصې پيدا کړ، بيا ئې برابر کړ او په هغه کي ئې خپله روح پو کړه او تاسو ته ئې غوږ، سترګي او زړونه درکړل، ډېر لږ شکر کوئ.

آيات او احاديث خو دا خبره کوي چي د آدم عليه السلام اولاد هم داسي پيدا کېږي چي له خاوري ئې نطفه جوړه شي، دوه نطفې سره يو ځای شي يو سلول ترې جوړ شي، دا سلول علقه شي، د غوښي يوه ټوټه شي، صورت ورکړی شي، روح په کي پو شي، د ماشوم په څېر دنيا ته راشي، ځوان شي، زوړ شي او په مرګ محکوم شي. آدم عليه السلام خو د دوی جد دئ، ولي به ده ته صورت ورکول او په ده کي د روح پو کول، د ده له اولاد توپير لري؟!! قرآن خو دواړه ورته ګڼي او په ورته الفاظو ئې

بيانوي، يوازي دا توپير په ګوته کوي چي آدم عليه السلام له مور او پلار پرته پيدا شوی، دا دوی ولي له خپله ځانه د نورو توپيرونو راپيدا کولو هڅه کوئ؟!!

په دې مبارکو آيتونو کي د قرآن څو ستر ستر علمي اعجاز تر سترګو کېږي:

# نطفه د مني له خلاصې جوړېږي

په پورتني آيت کي ويل شوي چي د انسان نسل ئې د ده د مني له خلاصې او عصارې جوړ کړ، يعني داسي نه ده چي د نارينه او ښځينه ټوله توی شوې مني د مور په رحم کي سره يو ځای کېږي او په ګډه ماشوم ترې جوړېږي، بلکي د دواړو له نچوړ د ماشوم نطفه جوړه شي، او دا هغه ستر علمي حقيقت دئ چي علم اوس پرې پوه شوی، او وايي چي د نارينه انسان په توی شوې مني کي په ميلونونو سپرمونه وي، له دغو ټولو سپرمونو يو او تر ټولو تکړه او پياوړی ئې په دې وتوانېږي چي د ښځينه انسان يوه اووم ته ننوځي او د ماشوم نطفه ترې جوړه شي، يعني داسي نه ده چي د دواړو ټوله مني سره يو ځای کېږي او له ټولو ماشوم جوړېږي، بلکي د مني له خلاصې د ماشوم نطفه جوړېږي، يقيناً چي دا وينا د قرآن يو ستر علمي اعجاز دئ!!

دلته ويل شوي چي دا نطفه وروسته برابره کړی شي او داسي حد ته ورسول شي چي د يوه ژوندي انسان بڼه غوره کړي او روح په کي پو شي، او دا هم هغه څه دي چي علم ئې نن وايي.

# نطفه د علقه په نامه یادول یو علمي اعجاز دئ

قرآن وایي چې د انسان نطفه له خاورو جوړه شي، دغه نطفه په علقه بدله شي او ورپسې نور مراحل پرې راشي او نور حالتونه غوره کړي، دا مطلب په دې مبارك آیت کې داسې راغلی:

خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِنْ عَلَقٍ ٢ العلق: ٢

انسان ئې له ځوړندو پیدا کړ.

په دې اړه چې (انسان ئې له ځوړندو پیدا کړ) څو خبري د توجه وړ دي:

الف: علق د علقة جمع ده، اصلي معنی ئې ځوړند ده او دلته په دې خاطر د جمع په صیغه راغلې چې له انسان مراد ټول انسانان دي، یعني ټول انسانان ئې له ځوړندو شیانو پیدا کړي. علمي تحقیقات وایي: علقه جامده وینه نه ده، بلکې د داسي حجراتو مجموعه ده چې د انقسام له لاري ئې شمېر زیات شوی، همغه لومړنۍ جوړه شوې خلیه د انقسام له لاري نوي نوي سلولونه او خلیې راپیدا کړي، دا د ویني سلولونه نه وي، داسي سلولونه له اتلسمي ورځي وروسته راپیدا شي، بیا د مضغه (ژوول شوې غوښي) بڼه غوره کړي، په دغه مرحله کې د بېلو بېلو غړو د جوړېدو لړۍ پیل شي.

ب: قرآن د ټولو ژوو پیدابښت له اوبو او د انسان د پیدابښت لومړۍ ماده خاوره او د جوړښت پیل ئې له نطفې ګڼي، باید وګورو چې ولې په دې آیت کې د انسان د پیدابښت پیل له (علقه) ښودل شوی؟ دوه توجیه مومو:

۱ـ ادبي ترکیب د دې تقاضا کوي چې د مخکني آیت په پای کې د (خلق) صیغې ته ورته صیغه د دې آیت په پای کې راغلې وی، تر څو د دواړو فواصل او وزن یو شانته شوی وی.

۲ـ دلته د انسان د پیداښت دوه ډېر متفاوت حالتونه (کامل انسان) او (یو ځوړند توکی) یو د بل څنگ کې اېښودل شوي، ترڅو په دې سره خپل مخاطب ته ووایي: لکه څنگه چې الله تعالی انسان له یوه ځوړند توکي راپیدا کړي، وده ورکړي او بشپړ انسان ترې جوړ کړي، همداسي په (وحي)، (قرائت) او (تعلیم بالقلم) سره انسان د پوهي او علم داسي پوړ ته رسوي چې په ډېرو اسرارو پوه شي، په هغه څه چې له دې د مخه او له دې لاري پرته نه شو پرې پوهېدی.

انسان ډېر وروسته او په تېرې پېړۍ کې په دې پوه شو چې د مور په رحم کې او د انسان د جوړښت په پیل کې د ماشوم لومړۍ جوړه شوې نطفه د رحم په جدار پوري راځوړنده وي چې وروسته بیا د ژوول شوې غوښي ټوټې ته ورته بڼه غوره کړي.

د: په دې آیت کې د قرآن مجید یو بل ستر علمي اعجاز گورو: قرآن د مور په رحم کې د نطفې د ودې دوهمه مرحله د علقه په نامه یادوي، چې معنی ئې ځوړند توکی دئ، یعني دا نطفه په دوهم پړاو کې داسي حالت غوره کړي چې د رحم په جدار پوري راځوړنده وي!! او دا هغه حیرانوونکی حقیقت دئ چې انسان اوس او وروسته له هغه پرې پوه شوی چې د لېزري وړانگو په ذریعه ئې د مور په رحم کې د نطفې د ودې مختلف پړاوونه ولېدل او ورته معلومه شوه چې د نطفې د جوړېدو په لومړي پړاو کې هغه د رحم په جدار پوري راځوړنده وي. په دې حقیقت له دې د مخه انسان ته پوهېدل ممکن نه وو!!!

دا دئ گورئ چې قرآن د انسان د پیدایښت او له یوه نفس د یوې جوړې

راپیدا کېدو په اړه هغه وینا کړې چې انسان په شلمې پېړۍ کې پرې پوه شو!!!

# د انسان نطفه څنګه جوړېږي

د انسان لومړنۍ نطفه د نارینه او ښځې له نطفو جوړه شي، دا دواړه نطفې د مور او پلار په بدن کې له هغو موادو جوړېږي چې انسان ئې د خوراك له لارې ترلاسه کوي، د انسان ټول خوراکي توکي له خاورو جوړېږي، همدا خاوره ده چې ونې ترې مېوې جوړې کړې، بوټي ترې دانې او حیوانات ترې شیدې، او د انسان په بدن کې ترې نطفه جوړه شي، له دوو نطفو جوړه شوې دا نوې نطفه د خلیه، حجره یا سلول په نامه یادېږي، دا خلیه په حقیقت کې د داسې ژنونو مجموعه وي چې هر یو ئې د انسان په بدن کې خاصه دنده ترسره کوي، ځیني ئې د انسان بېل بېل غړي جوړوي، د مثال په توګه دا د خاص ژن دنده ده چې سترګه څنګه جوړه کړي، موقعیت ئې چېري وي، اندازه ئې څومره وي، رنګ ئې څنګه وي، د سپین او تور تر منځ ئې تناسب څنګه وي، باڼوګان ئې څومره وي، کوم باڼوګان ئې لوړ او کوم ټیټ وي، د باڼوګانو رنګ ئې تور وي که زېړ، د ماشوم دا لومړنۍ خلیه په سر کې یوه وي، ورو ورو ئې شمېر زیاتېږي، زیاتېدا ئې د تجزیې او انقسام له لارې وي، له همدې لارې نوي نوي سلولونه راپیدا کوي، حجم ئې زیاتېږي، تر هغه چې د یوه وړوکي څوړند شي په څېر شي، منځ ئې ګوګ وي، په دغې تشې کې وروسته د بدن داخلي جهازونه جوړ شي، بیا د غوښې او بیا د غضروف بڼه غوره کړي، د بدن غړي ئې یو په بل پسې وړاندې او وروسته رامنځته شي، تر هغه چې بشپړ ماشوم ترې جوړ شي. د نطفې دا مراحل د ډېرو پر مختللو وسائلو په مرسته لیدل شوي. د دغو

ژورو څېړنو نتیجه همغه ده چي قرآن ئې د انسان د نطفې د پیدایښت په اړه وايي!! دغو مبارکو آیتونو ته لږ ځیر شئ او وګورئ چي آیا قرآن همغه څه څوارلس پېړۍ وړاندي نه دي ویلي چي انسان اوس پرې پوه شوی؟!!

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّنَ ٱلۡبَعۡثِ فَإِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٖ ثُمَّ مِن مُّضۡغَةٖ مُّخَلَّقَةٖ وَغَيۡرِ مُخَلَّقَةٖ لِّنُبَيِّنَ لَكُمۡۚ وَنُقِرُّ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى ثُمَّ نُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلٗا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمۡۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ مِنۢ بَعۡدِ عِلۡمٖ شَيۡـٔٗاۚ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ هَامِدَةٗ فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا ٱلۡمَآءَ ٱهۡتَزَّتۡ وَرَبَتۡ وَأَنۢبَتَتۡ مِن كُلِّ زَوۡجِۭ بَهِيجٖ ٥ الحج: ٥

اې خلکو! که د بیا ژوندون په اړه په شك کې یئ، نو موږ خو له خاوري راپیدا کړئ، بیا له نطفې، بیا له علقې، بیا له ژوول شوې یوې ټوټې غوښي چي انځور شوې او نه انځور شوې وي، ترڅو تاسو ته وښیو، او څه چي وغواړو تر یوې نېټې ئې په رحم کې ځای پر ځای کوو، بیا مو د ماشوم په څېر راباسو، بیا (همداسي ستاسو پالنه کوو) تر څو خپل قوت ته ورسېږئ او له تاسو ځیني ومري او ځیني مو تر ټولو لوېدلي عمر ته ورسېږي، هومره چي له پوهېدو وروسته په څه نه پوهېږي او زمکه ګورې چي وچه کلکه ده، خو کله چي اوبه پرې نازل کړو، وخوځېږي، وده وکړي او هر راز سمسور بوټي راوټوکوي.

دلته د ټولو انسانانو د عادي او ورځني خلقت مختلفو پړاوونو ته اشاره شوې، چي له خاوري پیل او په مرګ ئې پای ته رسي. او دا همغه څه دي چي علم ئې نن وايي.

# په دریو تیارو تمځایونو کې د انسان د نطفې تمېدا

راشئ په دې اړه د قرآن دې مبارك آیت ته لږ ځیر شئ:

**خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ ثُمَّ جَعَلَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ ثَمَٰنِيَةَ أَزۡوَٰجٖۚ يَخۡلُقُكُمۡ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ خَلۡقٗا مِّنۢ بَعۡدِ خَلۡقٖ فِي ظُلُمَٰتٖ ثَلَٰثٖۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ ٱلۡمُلۡكُۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُصۡرَفُونَ ٦** الزمر: ٦

له یوه ژوي ئې پیدا کړئ، بیا ئې له هغه د ده جوړه پیدا کړه، او له څارویو ئې تاسو ته اته جوړې نازلې کړې، تاسو د خپلو میندو په بطن کې، په دریو تیارو کې، یو په بل پسې پیدایښت سره پیدا کوي، همدا ستاسو پالونکی رب دئ چې ټولواکې د ده ده او له ده پرته بل معبود نشته، نو کوم لوري ته اړول کېږئ؟!

دلته د الله تعالی د ربوبیت څو څرګندو بېلګو ته اشاره شوې:

- انسان ئې له یوه ژوي پیدا کړ، بیا ئې له هغه د ده جوړه پیدا کړه.
- د څارویو اته جوړې (اوښان، غوایان، پسونه او وزې) ئې ورته پیدا کړې.
- تاسو د خپلو میندو د بطن په دریو تیارو کې د پیدایښت په داسي لړۍ کې پیدا کوي چې په پرله پسې توګه بدلېږي، د پیدایښت له یوه پړاو بل ته درومئ.
- د چا په اراده چې دا ستر ستر کارونه ترسره کېږي همدا ستاسو پالونکی رب دئ چې ټولواکې د ده ده او له ده پرته بل معبود نشته.
- نو کوم لوري ته اړول کېږئ، پر بل معبود د باور درلودو لپاره څه دلیل لرئ؟!

په دې مبارك آیت کې ویل شوي چې د انسان پیدایښت داسي دئ چې له یوه حالته بل ته اوړي، په بېلو بېلو مراحلو کې بېل بېل خلقت او جوړښت ورپه برخه کېږي، داسي نه دئ چې لومړنی جوړښت ئې ورو ورو وده کوي او تر پایه خپل

لومړنۍ شکل او بڼه ساتي. او دا هغه ستر حقیقت دئ چي انسان اوس پرې پوه شوی.

علم ته له څوارلسو پېړیو وروسته دا خبره څرګنده شوه چي د انسان جوړښت د خاوري د اجزاوو له خلاصې دئ او د ده په وجود کي د خاوري ټول اجزاء را غونډ شوي او په دې هم پوه شوی چي په ماشوم باندي د مور په رحم کي همغه مراحل او پړاوونه یو په بل پسي راځي چي په پورتني آیت کي ذکر شوي، د نطفې په شکل کي راپیدا شي، ورو ورو دا نطفه په داسي ځوړند توکي بدله شي چي ژوري ته ورته وي او بیا د داسي یوې ټوټې غوښي شکل غوره کړي چي ژوول شوې ته ورته وي، وروسته د ده هډوکي راپیدا شي او بیا دغو هډوکو ته غوښه ورواغوستی شي او په پای کي د یوه مکمل ماشوم شکل غوره کړي او دنیا ته راشي.

علم ته داحقیقت هم جوت شوی چي د انسان نطفه د مور د بدن په دریو تیارو کي جوړېږي، د مور او پلار هغه نطفې چي له یو ځای کېدو ئې د ماشوم لومړنۍ مختلطه نطفه جوړېږي د مور د بدن په یوې ځانګړې برخي کي سره یو ځای کېږي، له هغه ځایه رحم ته ورومي، هلته په یوه ځانګړي غلاف کي ساتل کېږي، په همدې غلاف کي دا لومړنۍ نطفه د تجزیې له لاري په دوو ، څلورو، اتو، شپاړسو او ... بدلېږي، تر هغه چي په رحم پوري د ځوړند توکي بڼه غوره کړي، د تغییر او بدلون له مختلفو پړاوونو تېرېږي او له یوه حالت بل ته اوړي، ورو ورو وده کوي او په پای کي د یوه بشپړ ماشوم هیئت غوره کړي. د انسان د پیدایښت لومړی نطفه د مور په زیلنځ کي جوړه شي، د زیلنځ له منځه د هغه خولې ته انتقال شي او هلته د زیلنځ او رحم تر منځ د هغي لاري په خوا کي د القاح لپاره منتظر او تم شي چي د رحم په لوري ورومي، له القاح وروسته د رحم په لوري وخوځېږي، هلته داسي کڅوړه ترې راتاو شي چي د ملا (پېروان) په نامه یادېږي،

دلته تر هغه پاته وي چي د زېږېدو نېټه ئې راورسېږي. نو د انسان لومړنۍ نطفه د مور په بدن کي دقيقاً په دريو تياره ځايونو (زيلنځ، د زيلنځ او رحم تر منځ او رحم) کي تم کېږي، په هر موقعيت کي د هغه جوړښت او خلقت تر بل توپير لري، دا درې بېل بېل موقعيتونه او په هر يوه کي د نطفې بېل بېل حالتونه هغه مهال انسان ته جوت شول چي د ډېرو پر مختللو وسائلو په مرسته وتوانېدو د نطفې د جوړښت مختلف مراحل وگوري، تر دې وړاندي ئې گمان دا وو چي نطفه په رحم کي جوړېږي او همدلته وده کوي او بشپړ ماشوم ترې جوړېږي، زموږ مفسرينو هم دا آيت چي يقيناً د قرآن يو ستر علمي اعجاز گڼل کېږي داسي تعبيرولو چي گواکي دا درې تيارې د نس، رحم او پېروان (ملا) جدارونه او د هغوی تر شا تيارې دي. خو د قرآن الفاظ داسي دي چي وايي: تاسو د خپلو ميندو په بطن کي په دريو تيارو کي، يو په بل پسي پيدايښت سره پيدا کوي،... **يَخۡلُقُكُمۡ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ خَلۡقٗا مِّنۢ بَعۡدِ خَلۡقٖ فِي ظُلُمَٰتٖ ثَلَٰثٖۚ**او دا له شك پرته همغه علمي حقيقت ته اشاره کوي چي انسان اوس پرې پوه شوی.

# د انسان د خلقت بېل بېل پړاوونه

د انسان د پيدايښت په اړه ځينو داسي انگېرله چي ښايي د انسان نطفه به له لومړۍ شېبې د يوه وړوکي انسان شکل لري او ورو ورو به ستر کېږي، په شلمي پېړۍ کي جوته شوه چي د انسان نطفه نه يوازي په لومړي سر کي د انسان شکل او انځور نه لري بلکي تر ډېري مودي پوري غړي هم نه لري، د غړو جوړښت او خاص شکل غوره کول وروسته تر سره شي، ورو ورو د يوه بشپړ انسان شکل غوره کړي،

او دا هغه څه دي چي قرآن څوارلس پېړۍ وړاندي ويلي، دغو آيتونو ته ځير شئ:

**وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن طِينٖ ١٢ ثُمَّ جَعَلۡنَٰهُ نُطۡفَةٗ فِي قَرَارٖ مَّكِينٖ ١٣ ثُمَّ خَلَقۡنَا ٱلنُّطۡفَةَ عَلَقَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡعَلَقَةَ مُضۡغَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡمُضۡغَةَ عِظَٰمٗا فَكَسَوۡنَا ٱلۡعِظَٰمَ لَحۡمٗا ثُمَّ أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا ءَاخَرَۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ ١٤** المؤمنون: ١٢-١٤

او يقيناً چي انسان مو د خټي له خلاصې (عصارې) پيدا کړ، بيا مو په يوه مضبوط ځاي کي يوه نطفه وګرځاوو، بيا مو دا نطفه علقه وګرځوله، بيا مو دا علقه د غوښي يوه ټوټه جوړه کړه، بيا مو د غوښي دا بوټۍ هډوکي وګرځول، بيا مو دا هډوکي په غوښي وپوښل، بيا مو په يوه بل جوړښت کي پيدا کړ، نو مبارك دئ دا تر ټولو غوره پيدا کوونکی الله.

د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالی د انسان نطفه د خټي له خلاصې جوړوي، يعني د ده په نطفه کي د اوبو په شمول د خاوري ټول هغه مواد شته چي خاوره ترې جوړه شوې، له همدغي لمدې خاوري (خټي) دانه او مېوه جوړه کېږي، دغه دانه او مېوه د انسان (نارينه او ښځي) په بدن کي په مني واوړوي، د دغي مني له يوې وړې ذرې (نطفې) د ده پېدايښت پيل کېږي. علم نن همدا خبره کوي چي د انسان د بدن په ترکيب کي د خاوري ټول مواد کارول شوي. او همدا خبره کوي چي د انسان پيدايښت له يوې وړې نطفې پيل شي.

- د نارينه او ښځي له مني يوه يوه نطفه غوره شي، تر ټولو ښه او پياوړې ئې، دوی سره يو ځای شي، له همدې ځايه د انسان جوړښت پيل شي، الله تعالی ئې په يوه مضبوط، خوندي او مناسب ځای کي ځای په ځای کړي. دلته قرآن لومړی د نطفې جوړېدا يادوي او بيا ئې په يوه مصبوط ځای کي استقرار، د دې معنی دا ده

چې ګډه نطفه په رحم کې له استقرار وړاندې جوړېږي، دلته هم د قرآن يو ستر علمي اعجاز زموږ په وړاندې ځلېږي او هغه دا چې د نارينه او ښځې د دوو نطفو (سپرم او اووم) يو ځای کېدا د مور د بدن په يوې برخې کې او هلته چې اووم (هګۍ) سپرم ته په انتظار پرته وي، تر سره کېږي او بيا له يو ځای کېدا وروسته رحم ته درومي او هلته تر هغه پاتې کېږي چې د يوه بشپړ ماشوم په څېر دنيا ته راشي. د قرآن دغه وينا چې لومړی ګډه نطفه جوړه شي او بيا په مضبوط مستقر کې ځای په ځای شي هغه ستر حقيقت انځوروي چې انسان په شلمې پېړۍ کې پرې پوه شو، تر دې وړاندې عاميانه انګېرنه دا وه چې د نارينه او ښځې مني په رحم کې يو ځای کېږي او همهلته ماشوم ترې جوړېږي. خو قرآن لا د مخه ويلي وو چې په رحم کې استقرار د نطفې له جوړېدا وروسته ترسره کېږي.

- دا نطفه وده وکړي، لومړی د علقه بڼه غوره کړي، د يوه ځوړند توکي په څېر شي، بيا د ژوول شوې غوښې بڼه غوره کړي، بيا ئې د هډوکو جوړېدا پيل شي، بيا دا هډوکي د غوښې په بوټيو پټ کړی شي، قرآن هغه مخکنۍ غوښه د مضغه په نامه ياده کړې او دا ئې د لحم په نامه او دا ښيي چې د دواړو ترکيب او حالت بيل بيل دئ او په خپلو کې توپير لري.
- له دې وروسته هغه ته د يوه بشپړ ماشوم صورت او شکل ورکړی شي.

څه چې په دې مبارکو آيتونو کې ويل شوي علم نن د هغوی حرف حرف تأييدوي او د انسان د پيدايښت د بېلو بېلو مراحلو حالت همغسې ګڼې چې په دغو مبارکو آيتونو کې انځور شوي.

دې مبارک آيت ته هم ځير شئ:

**خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ ثُمَّ جَعَلَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ ثَمَٰنِيَةَ أَزۡوَٰجٖۚ يَخۡلُقُكُمۡ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ خَلۡقٗا مِّنۢ بَعۡدِ خَلۡقٖ فِي ظُلُمَٰتٖ**

ثَلَٰثٖۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ ٱلۡمُلۡكُۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُصۡرَفُونَ ٦ الزمر: ٦

تاسو ئې له يوه نفس (ژوي) پيدا کړئ، بيا ئې د هغه جوړه ترې پيدا کړه، او تاسو ته ئې د څارويو اته جوړې پيدا کړې، تاسو د خپلو ميندو په رحمونو کې په پر له پسې جوړښت او پيدايښت سره پيدا کوي، (يو پيدايښت په بل پسې) په دريو تيارو کې، همدا ستاسو رب دئ چې ټولواکي د ده ده، له ده پرته بل معبود نشته، نو کوم لوري ته گرځول کېږئ (بې لاري کېږئ)؟

په دې مبارك آيت کې هم ويل شوي چې د انسان پيدايښت داسي دئ چې له يوه حالته بل ته اوړي، په بېلو بېلو مراحلو کې بېل بېل خلقت او جوړښت ورپه برخه کېږي، داسي نه دئ چې لومړنی جوړښت ئې ورو ورو وده کوي او تر پايه خپل لومړنی شکل او بڼه ساتي.

# انسان له مختلطي نطفي پيدا کېږي

تر شلمي پېړۍ وړاندي هيڅوك په دې نه پوهېدل چې د انسان د جنين په جوړېدو کې د نارينه او ښځي نطفې په گډه برخه لري او د دوی له يو ځای کېدو جنين جوړېږي، چا به ويل چې د مور رحم داسي دئ لکه زمکه او د نارينه مني داسي ده لکه دانه، گواکې دغه دانه په هغي زمکې کې وده کوي او جنين ترې جوړېږي، چا به ويل د نارينه مني د حيض وينه په ټړلې ويني واړوي او بچي له همدې ټړلې ويني جوړ شي، خو په شلمي پېړۍ کې او د پرمختللو وسائلو په مرسته انسان ته جوته شوه چې د نارينه د مني يوه وړه ذره (چې د سپرم نوم ئې ورکړ) د ښځي په يوې وړې هگۍ کې (چې د اووم په نامه ئې ونوموله او په مياشت کې

یوازې یوه پیدا کوي) ځای پر ځای شي او له همدې د ماشوم جنین جوړ شي، دا هر یو ژوندی وي او تحرك لري، په یو ځل جنسي نږدېکت کې د نارینه په مني کې له دوه سوه تر درې سوه ملیونه سپرمه د ښځې رحم کې توئېږي، بچی په هغه صورت کې رامنځته کېږي چې له دې ټولو یو ئې وتوانېږي چې په یوه اووم کې مستقر شي او له استقرار سره سم د بل سپرم د ننوتلو لار ډپ شي.

علم وايي چې انسان له یوې داسي نطفې پیدا کېږي چې په سترګو نه لیدل کېږي، دا نطفه د نر او ښځې د یوې یوې نطفې له اختلاط او ګډېدو جوړه شي، د نارینه په هري قطرې مني کې په لکونو نطفې وي، له دغو ټولو نطفو یوه ئې د ښځې له یوازینۍ هګۍ سره یو ځای شي او یوه حجره او خلیه رامنځته کړي، دغه لومړنۍ مختلطه نطفه د ده د وجود بنسټ شي، همدا مختلطه خلیه د انقسام له لاري نوري خلیې زېږوي او شمېر ئې ورو ورو زیاتېږي، لومړی د علقې بڼه غوره کړي بیا د مضغې، بیا هډوکې په کې جوړ شي او بیا ئې د بدن د غړو د جوړېدو لړۍ پیل شي. راشئ وګورو چې قرآن په دې اړه څه وايي؟! دې مبارکو آیتونو ته ځیر شئ:

هَلۡ أَتَىٰ عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ حِينٞ مِّنَ ٱلدَّهۡرِ لَمۡ يَكُن شَيۡـٔٗا مَّذۡكُورًا ١ إِنَّا خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٍ أَمۡشَاجٖ نَّبۡتَلِيهِ فَجَعَلۡنَٰهُ سَمِيعَۢا بَصِيرًا ٢ إِنَّا هَدَيۡنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرٗا وَإِمَّا كَفُورًا ٣ الدهر: ١-٣

آیا پر انسان داسي وخت راغلی چې د یادولو وړ شی نه وو؟ دا موږ یو چې انسان مو له مختلطې نطفې پیدا کړ، چې آزمویو ئې او لیدونکی اورېدونکی مو ترې جوړ کړ. بې شکه چې موږ لار وروښوده، که شاکر وي او که بې پاسه او کفور.

لکه چې ګورئ لومړی آیت هر مخاطب ته دا پوښتنه راجع کوي چې انسان له پیدایښته مخکې څنګه وو؟ له څه پیدا شوی؟ آیا داسي کوم وخت پرې تېر شوی چې د یادولو وړ شی نه وو؟ خاوره، د سپکو او کرکجنو اوبو یو څاڅکی، د خپل پلار په

ملا کې، د خپلې مور په رحم کې، چې نه یوازې مهم او جدي نه تلقي کېدو بلکې کرکه ئې ترې درلوده!! که جواب مثبت وي (ناچار باید مثبت وي) نو په دې صورت کې باید ووایي: چا له دغه نا څیز شي پیدا کړ؟ مګر د ده پیدایښت له دغو مهین او سپکو اوبو دا حقیقت نه ثابتوي چې د ده رب به ئې بیا هم راپیدا کړي، دا دوهم ځل پیدایښت تر لومړي ځل ډېر آسان دئ!!

د دوهم آیت په اړه دوه تفسیرونه مومو:

الف: ځینو ګمان کړی چې په دې آیت کې د ابوالبشر آدم علیه السلام خلقت ته اشاره شوې، او د دې خبري چې (انسان د یادولو وړ شی نه وو) مراد هغه حالت دئ چې د ده د جد له پیدایښته مخکې ئې درلود.

ب: نور په دې باور دي چې د آیت نطاق عام دئ او د هر انسان پیدایښت ته اشاره کوي او د دې خبري مراد چې (انسان د یادولو وړ شی نه وو) هغه حالت دئ چې هر انسان ئې د خپلې نطفې له جوړېدو مخکې لري، خاوره په مني بدله شي په (مهین او سپکو اوبو) چې انسان ئې له نوم اخیستو هم حیاء کوي.

په څو دلائلو دوهمه رأیه دقیقه ده:

- د (لم یکن شیئاً مذکوراً) له الفاظو معلومېږي چې په دې آیت کې د انسان د نطفې له جوړېدو مخکې هغه حالت ته ګوته نیول شوې چې لا د مور او پلار په بدن کې وي، د سپکو اوبو په څېر، د نه یادولو، دا ځکه چې د آدم علیه السلام پیدایښت له خاورې شوی، د ده د پیدایښت لپاره داسي الفاظ نه شي کارېدی.
- په وروستي آیت کې د همدې انسان پیدایښت له (ګډې شوې نطفې) ښودل شوی چې معنی ئې له شکه پرته د مور او پلار مختلطه نطفه ده، د همدې لپاره ویلی شو چې د آیت معنی دا ده: آیا په انسان باندې داسي وخت تېر شوی چې د ذکر وړ شی نه وو؟ د پلار او مور په رګونو کې یوه قطره، مهین او بې اهمیته قطره،

چي نه يوازي جدي او مهمه ئې نه ګڼي بلکي کرکه ترې لري!! ودي وايي: چا له دې ناڅيزه او مهين شي پيدا کړ ؟ الله تعالی په خپله دې پوښتنې ته ځواب وايي او فرمايي: دا موږ يو چي انسان مو د نر ښځي له مختلطي نطفې پيدا کړ، او ډول ډول تطوراتو او تحولاتو سره ئې مخامخ کوو، له مختلفو پړاوونو ئې تېروو، هر پړاو د ده لپاره يوه آزموينه ده چي د هغې په ترڅ کې د ده د بقاء توان او طاقت آزمويل کېږي! آيا انسان له الله تعالی پرته داسي څوك مومي چي له نطفې د ده په پيدايښت او د بشپړ انسان تر پوړي د ده په رشد او ودي کې څه اغېز ولري!؟

دا دئ ګورئ چي قرآن د انسان د پيدايښت په اړه همغه خبره کوي چي ساينس په شلمي پېړۍ کې وکړه. قرآن وايي چي د انسان پيدايښت له يوې مختلطي نطفې پيل کېږي، ورو ورو وده کوي، يو په بل پسي غړي ورکړی شي، لومړی غوږونه بيا سترګي، بيا د هدايت او لارموندني نور استعدادونه.

راشئ په دې هم لږ غور وکړو چي د (هدينه السبيل: لار مو وروښوده) معنی څه ده؟ آيا مراد ئې فطري هدايت دئ او که د پيغمبرانو عليهم السلام او کتاب په ذريعه د انسان لارښوونه او هدايت؟

په څو دلائلو ويلی شو چي مراد ترې فطری هدايت دئ:

- د آيت الفاظ او ترکيب داسي دي چي ښيي هر انسان د دې الهي پېرزويني مشمول دئ او الله تعالی ئې دا هدايت په برخه کړی. دا الفاظ او ترکيب ئې يوازي په فطري هدايت منطبق کېدی شي، دا ځکه چي دا راز لارښوونه د هر انسان په برخه شوې خو د پيغمبرانو عليهم السلام په لاس لارښوونه داسي ده چي ځيني ئې مني او ګټه ترې اخلي او ځيني ئې نه مني او ترې محرومه کېږي.
- تر دې آيت وړاندي فطري هدايت ته اشاره شوې، او ويل شوي چي دا نطفه وروسته سميعاً او بصيراً کړو، چي دا د فطري هدايت اسباب دي.

راشئ وګورو چي د (اما شاکراً و اما کفوراً) معنی څه ده؟

دوه تفسيرونه مخي ته راځي:

الف: موږ لار وروښوده، کتاب مو ورولېږو او پيغمبر مو په دوی کي مبعوث کړ، اوس دا په دوی پوري اړه لري چي د دې الهي لارښووني قدر کوي او که ناشکري، انتخاب د ده په لاس کي دئ، موږ ئې نه مجبوروو.

ب: موږ دا د هدايت او لار موندو اسباب، زړه، عقل، سترګي، غوږونه، د ده په خټه کي کېښودلي، چي زموږ په اراده د ده په خدمت کي دي او د ښه او بد، سمي او خرابي لاري ترمنځ تفکيك او توپير کي د ده مرسته کوي، که څه هم دی د دغو الهي نعمتونو قدر کوي او که ناشکري، د ناشکري په حالت کي هم دا استعدادونه نه ترې سلبوو.

په دوه دليله دوهمه توجيه دقيقه ده:

الف: د آيت د الفاظو دقيقه ترجمه په کي مراعات شوې، که د آيت ترکيب داسي وی: (فمن شاء فليشکر و من شاء فليکفر) نو بيا لومړۍ توجيه سمه وه، خو ترکيب داسي دئ: (اما شاکراً و اما کفوراً: که شاکر وي که کافر)، دا ترکيب له لومړۍ توجيه سره سمون نه خوري، دقيق تعبير ئې په دوهمه توجيه کي راغلی.

ب: د لومړۍ ډلي رأيه کي د (إما شاکراً و إما کفوراً) دقيق تعبير نه دئ وړاندي شوی، دا يوازي فطري هدايت دئ چي هم د شاکر بنده په برخه وي او هم د کفور او ناشکره بنده.

# د ماشوم د غوږونو جوړېدا تر سترګو وړاندي پیل شي

قرآن وايي:

**وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنشَأَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۚ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ٧٨**
**المؤمنون: ٧٨**

**او دی همغه دئ چي تاسو ته ئې غوږونه، سترګي او زړونه درکړل!! ډېر لږ شکر کوئ.**

**دلته دوه خبري غور غواړي: د ورکړي لپاره د خلق لکم پر ځای د أنشأ لکم الفاظ راغلي، او د غوږونو یادونه ئې تر سترګو او زړونو وړاندي کړې، دا ولي؟ آیا غوږونه تر سترګو او زړونو وړاندي جوړېږي؟ آیا د غړو د پیدایښت لپاره د (أنشأ) صیغه راوړل کوم خاص مطلب افاده کوي؟ راشئ د دې ځواب له ساینسپوهانو او هغو ډاکټرانو وغواړو چي د ماشوم د پیدایښت د څرنګوالي په اړه ئې ژوري څېړني کړې دي او کلونه کلونه ئې د پرمختللو وسائلو څنګ ته تېر کړي، نن هغوی همدا خبره کوي چي قرآن څوارلس پېړۍ وړاندي کړې!! دوی وايي: د مور په رحم کي لومړی د ماشوم د غوږونو جوړېدا پیل شي، بیا ئې د سترګو او بیا ئې د زړه، او دا هغه حقیقت دئ چي علم د شلمي پېړۍ په پای کي د ډېرو پرمختللو وسائلو په مرسته پرې پوه شو. دوی وايي: دا هر غړی د یوه ځانګړي ژن له لوري په داسي توګه جوړېږي چي د هر غړي لومړنی سلول وده کوي، شمېر ئې ډېرېږي او ورو ورو بشپړ غړی ترې جوړ شي، د جوړېدا لپاره ئې تر ټولو غوره صیغه همدا د أنشأ صیغه ده، ځکه د ورو ورو ودي له لاري بشپړ غړی جوړېږي.**

همدا راز تر سترگو وړاندي د غوږ د یادولو بله وجه دا ده چي غوږ تر سترگي ډېر حساس دئ، غوږ د حجاب او پردې له شا هم خبرېږي خو سترگي دا کار نشي کولی، غوږ ستا له حکم پرته تا خبروي خو سترگي به ته په خپله یوه لوري ته اړوې او پرانیستې به ئې نیسي چي اطلاع درکړي، د دماغ پرېکړه د هغو معلوماتو له مخي وي چي د غوږونو او سترگو له لاري ئې ترلاسه کوي، تل ئې کار تر دوی دواړو وروسته پیل کېږي.

# آیا د انسان پیدایښت ځانگړی پیدایښت دئ؟

ځیني د انسان د پیدایښت په اړه داسي څه وایي چي نه د الله تعالی له هغه عام سنت سره اړخ لگوي چي د پیدایښت په اړه ئې لري او موږ ئې هره شېبه آثار او مظاهر په خپلو سترگو گورو، او نه ئې د نورو مخلوقاتو سره ورته بولي، بلکي یو استثنائي پیدایښت ئې گڼي او وایي: الله تعالی انسان په خپل لاس جوړ کړی او په دې اړه د قرآن په دغه آیت استناد کوي:

**قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسۡجُدَ لِمَا خَلَقۡتُ بِيَدَيَّۖ أَسۡتَكۡبَرۡتَ أَمۡ كُنتَ مِنَ ٱلۡعَالِينَ ٧٥** ص: ۷۵

وئې ویل: اې ابلیسه! څه شي هغه څه ته له سجدې کولو منع کړې چي ما په خپل لاس پیدا کړ.

دلته دوی د (خلقت بیدی) الفاظ د آدم علیه السلام په خاص او ځانگړي پیدایښت حمل کوي او وایي چي الله تعالی آدم علیه السلام په خپل لاس جوړ کړ!! حال دا چي په قرآن کې د نورو شیانو د خلقت په اړه هم دې ته ورته الفاظ راغلي

لکه دا آیت:

أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا خَلَقۡنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتۡ أَيۡدِينَآ أَنۡعَٰمًا فَهُمۡ لَهَا مَٰلِكُونَ ٧١
یس:٧١

آیا دې ته ئې پام نه دئ کړی چې موږ دوی ته هغه څاروي راپیدا کړل چې په خپلو لاسونو مو جوړ کړي او دوی ئې خاوندان دي.

لکه څنگه چې په دې آیت کې (ما عملت ایدینا) عام خلقت افاده کوي نه کوم ځانګړی او خاص خلقت او له دې هیڅوك دا غلطه معنی نه اخلي چې الله تعالی دغه شیان په خپلو لاسونو جوړوي، همداراز له (خلقت بیدی) دا معنی اخیستل چې الله تعالی په خپل لاس د آدم علیه السلام مجسمه جوړه کړه، لویه او قبیح اشتباه ده. دا اشتباه به هغه څوك کوي چې الله تعالی نه پېژني، په پیدایښت کې د ده سننو ته پام نه کوي، دا هره ورځ چې الله تعالی په کوم ترتیب مخلوقات پیدا کوي دا له پامه غورځوي، الله له انسان سره تشبیه کوي او هغه هم له یوه کلال سره، په خپل کچه ذهن کې ئې کلال ته ورته کوم خدای انځور کړی او گمان کوي چې هغه به آدم علیه السلام دغسي په خپل لاس جوړ کړی وي لکه کلال چې له خټې منگی جوړوي. ډېره ډېره عجیبه ده چې یو انسان هره ورځ په خپلو سترگو گوري چې الله تعالی خپل مخلوقات څنگه او په څه ترتیب پیدا کوي، څنگه ئې جوړوي، څنگه ئې له یوه حالته بل ته بیايي، خو سره له دې دومره ستره غلطي کوي او د آدم علیه السلام پیدایښت د الهي سننو خلاف او د یوه کلال له کار سره ورته گڼي. په دې نه پوهېږي چې الله تعالی نه په ذات کې مِثل لري، نه په صفاتو کې او نه په افعالو کې، د پیدا کولو په فعل کې هم باید الله له مخلوق سره تشبیه نه کړو، څوك چې د الله تعالی د پیدا کولو فعل، د انسان له فعل سره تشبیه کوي او لکه څنگه چې انسان په خپلو لاسونو یو کار ترسره کوي، خټه راواخلي، خښتي ترې

جوړي کړي، سر پر سر ئې کېږدي او دېوال ترې جوړ کړي، که څوك د الله تعالی په اړه همداسي ګمان وکړي هغه لویه اشتباه کړې او الله ئې له مخلوق سره تشبیه کړی. حال دا چي قرآن فرمايي: ليس كمثله شئ: الله ته ورته شی نشته.

کله چي ما دا برخه لیکله، د یوه معروف کشیش، ادریان روجرز وینا مي اورېده چي د ډاروین په نظریې ئې سخته نیوکه کوله، هغه ئې د کلیسا خطرناك دښمن بالو او د ده دا خبره ئې په ډېر شدت او حدت سره ردوله چي انسان له بیزو ارتقاء کړې، د (ارتقاء)، (د بقاء لپاره نزاع) او (د اصلح د پاته کېدو) هغه درې نظریې ئې له بنسټه غلطي ګڼلې چي ډاروین وړاندي کړې، ډاروین ته ئې د مجنون، لیوني او رواني بیمار خطاب کاوو او په دې خبري ئې ټینګار درلود چي الله انسان په خپلو لاسونو او خپل صورت ته ورته هیئت کې جوړ کړی، الله ئې د (پلار خدای) په نامه او عیسی علیه السلام ئې د خدای د زوی په نامه یاداوو او ویل ئې: مسیح زموږ لپاره خپلې ویني قرباني کړې او په صلیب وځړول شو چي دغه وینه او قرباني ئې د خپلو مسیحیانو د ټولو ګناهونو لپاره فدیه شي!!

له ځان سره مي ویل: ښايي ډاروین دغو کشیشانو او د دوی خرافاتو د دغي نظریې وړاندي کولو ته اړ کړی وي، هغه خدای چي دوی ئې خلکو ته ښيي، د انسان په څېر خدای، د انسان پلار، هغه چي د عیسی په څېر زوی لري او یا د عیسی په څېر وړوکی شو، دا ئې ومنله چي ویني ئې توی شي، په صلیب وځړول شي، دا ټولې ملنډې دي پر ځان یا پر خپل زوی ومني، انسان دي له خټې داسي جوړ کړي لکه کلال چي منګی او مجسمه جوړوي، داسي خدای نه د ډاروین په څېر مجنون ته د منلو دئ او نه د مسیح علیه السلام په څېر پیغمبر ته، دوی ډاروین تکفیر کړ او پلرونو ئې مسیح علیه السلام.

ډاروین او نظریه ئې په حقیقت کې د دوی د خرافاتو په ضد یو عکس العمل

وو، دوی د خرافاتو په یوې انتهاء کې او ډاروین ئې په بلې انتهاء کې، انسان نه خدای دئ او نه بیزو، خدای خدای دئ، انسان انسان دئ او بیزو بیزو، نه ئې له بیزو ارتقاء کړې او نه داسې پیدا شوی چې لومړی ئې مجسمه د الله په بڼه او هغه ته ورته جوړه شوې، په اور اېښودل شوې، پخه شوې او بیا الله د خپلې روح یوه برخه په ده کې اچولې او راژوندی شوی!! برعکس انسان، روح او جسم ئې مخلوق دي، یو ځانګړی مخلوق، له نورو ئې توپیر په انسانیت کې دئ، نه په دې کې چې د خلقت ماده ئې بېله وي. که دا انسانیت ترې واخیستل شي، نو نه یوازې یو حیوان دئ بلکې د حیواناتو ډېر بد حیوان دئ، د نورو په څېر له خاورې پیدا شوی، مرګ ژوند ئې داسې دئ لکه د نورو ژوو.

# انسان د مضر خوړو په اړه لارښوونې ته اړ دئ

که تاسو د نړۍ د ټولو ژوو د خوراك په اړه څېړنه وکړئ نو یو عجیب حقیقت به ستاسو په وړاندې وځلېږي، وبه ګورئ چې په ټولو ژوو کې یوازې انسان داسې دئ چې مجبور دئ د مفید او مضر خوراك په اړه له بله معلومات ترلاسه کړي، نور ژوي داسې پیدا شوي چې د پیدایښت له لومړیو شېبو په دې پوهېږي چې کوم څه وخوري او کوم څه نه، په دماغ کې ئې د مضر او ګټور بوټې او دانې د تشخیص استعداد اېښودل شوی، د دغه استعداد په مرسته د پیدایښت له لومړۍ ورځې سم او ناسم خوراك معلوموِلی شي، د غرڅه بچی، وری، سېرلی، وزګوړی، سخوندر، جونګی او ټول نور ژوي او بچیان ئې هغه بوټې نه په خوله کوي چې ورته مضر وي، خو د انسان بچی ډېره، خاوره، سکروټه او هر څه په خوله کوي، تر اوږدې مودې ئې باید مور سمبال کړي او د تاوانې شیانو له خوړلو ئې وساتي!! راشئ وګورو

چي آيا قرآن د انسان دغي ځانګړتيا ته اشاره کړې که نه؟!! دې مبارک آيت ته لږ ځير شئ:

وَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ ٱسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ ٱلْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٣٥ البقره: ٣٥

ومو ويل: اې آدمه! ته او مېرمن دي په دې جنت کې مېشت شئ او له کومه ځايه چي غواړئ پرېمانه وخورئ، خو دې وني ته مه نږدې کېږئ، که نه نو له تېري کوونکو به شئ.

د دې مبارک آيت څو اساسي ټکي خاصه توجه غواړي:

- انسان داسي پيدا شوی چي هغه ته بايد مفيد او مضر، حلال او حرام او ښه او بد وروښودل شي، له نورو ژونديو مخلوقاتو سره ئې يو اساسي توپير په دې کې دئ چي نورو ته په فطري توګه خپله لار ښودل شوې، د همغي فطري لارښووني مطابق ژوند کوي، د غرڅه بچی په هغه لومړۍ ورځ او له پيدايښت څو شېبې وروسته په خپلو پښو ودرېږي، په خپلي مور پسي زغلي، د هغه څه له خوړلو او د هغه کار له کولو ډډه کوي چي ورته تاوان لري، مفيد او مضر بوټي پېژني، خو انسان تر اوږدې مودې مور ته سخت اړ وي، اور، تيږي او لوټي ته لاس کوي، هر څه په خوله منډي، که ئې مور څو شېبې ترې غافله شي، يا په اور کې ځان اچوي يا اوبو کې، هغه ته بايد ښه او بد، مفيد او مضر، شهد او زهر، حلال او حرام عملاً وروښودی شي، هغه تر بل هر مخلوق دې ته زيات اړ دئ چي د ښه ژوند کولو ټولي غوښتني او مقتضيات ورزده کړی شي، فطري ښوونه ورته کافي نه ده. د ده وضع له نورو مخلوقاتو فرق کوي، دی له ځانګړو استعدادونو سره پيدا شوی، دا دئ ګورئ چي په هغه جنت کې هم ورته ويل شوي: له هر ځايه هر څه پرېمانه خوړلی شئ خو هغي خاصي وني ته به نه نږدې کېږئ. په دې سره عظيم الشأن قرآن د انسان د

فطرت همدغه مهم او اساسي اړخ ته اشاره کړې.

- د انسان لپاره دحلالو شیانو شمېر د حرامو په نسبت دومره زیات وګڼئ لکه په یوه ستر باغ کې چې راز راز وني او مېوې ولري، یوازې یوه ونه ئې داسې وي چې د مېوې خوراك ئې منع شوی وي. عجیبه ده چې انسان په دومره زیاتو حلالو اکتفاء نه کوي او حرام ته لاس غځوي!! او دا په خپله د قرآن یو بل علمي اعجاز دئ چې وايي: د حلال او ګټورو خوراکي توکو شمېر د تاواني او حرامو توکو په پرتله زیات دئ.

اما دا چې آدم علیه السلام په کوم جنت کې ځای پر ځای شو؟ د ځمکې پر سر کوم جنت کې او که په موعود جنت کې؟ کومې وني ته له نږدې کېدو منع شوی وو؟ شیطان څنګه وتوانېدو چې دې جنت ته ننوځي او آدم او حواء علیهما السلام د ممنوعه مېوې خوړلو ته وهڅوي؟ د دغو پوښتنو په ځواب باندي د پوهېدو لپاره باید لاندي خبري په پام کې ولرو:

- په دې اړه هم په روایاتو کې کافي او زیات اختلاف شته او هم د مفسرینو تر منځ، هم د جنت د موقعیت په اړه او هم د دې وني د نوعي په اړه، له دې اختلاف معلومېږي چې له پیغمبر علیه السلام صریح او صحیح حدیث نه دئ نقل شوی.

- قرطبي او ځیني نور مفسرین دا موعود جنت ګڼي، خو هیڅ دلیل ورته نه لري، ټول مفسرین ورسره موافق نه دي، ما دغه رأیه له قرآن سره موافق نه ده موندلې. په داسې حال کې چې د البقرة د سورې په یوه آیت (۳۰ آیت)کې درې ځله ویل شوي چې آدم علیه السلام به په ځمکه کې پیدا کېږي او دلته به خلیفه وي او په داسې حال کې چې نه د قرآن په کوم آیت کې صراحتاً یا اشارتاً دا مطلب راغلی چې آدم علیه السلام په آسمان کې پیدا شوی او نه په احادیثو کې، او په هیڅ آیت او حدیث کې نه دي ویل شوي چې آدم علیه السلام له پیدایښت وروسته آسمان ته

اوچت کړی شوی، نو دا ادعاء به څنګه منو چي د ده لومړی اسکان د آسمان په جنت کي وو؟ که داسي وی نو دا مطلب به په ډېر صراحت سره په قرآن کي راغلی وو چي آدم علیه السلام په آسمان کي پیدا شوی، یا په زمکه کي له پیدایښت وروسته آسمان ته بېول شوی. په قرآن د ایمان تقاضا خو دا ده چي له خپله ځانه کوم مطلب ورته منسوب نه کړو او د دې آیت مصداق ونه ګرځو (ام تقولون علی الله ما لاتعلمون: آیا د الله په اړه هغه څه وایئ چي نه پرې پوهېږئ؟!!) برعکس په همغه څه اکتفاء وکړو چي قرآن په خپله ویلي.

- آدم علیه السلام له خاوري او د زمکي پر سر او د زمکي د خلافت لپاره پیدا شوی. دلته وفات شوی او له دې به بېرته راژوندی کېږي. او همدا د ده د اولاد برخلیك هم دئ.

- ځینو د (اهبطوا) له لفظ دا مطلب اخیستی چي دوی ته له آسمانه د کوزېدو امر شوی، دا خبره په دوه دلیله ضعیفه ده: لومړی دا چي په همدې سورې کي او څو آیته وروسته، بني اسرائیلو ته په همدغه صیغه ویل شوي چي (اهبطوا مصرا: نو مصر ته کوز شئ) او د بنی اسائیلو دا قصه په حقیقت کي له جنته د آدم علیه السلام د کوزېدو لپاره بل مثال او مزیده شرح ده. دوهم دا چي د (اهبطوا: کوز شئ) امر هغه چا ته کېږي چي د کوزېدو له ځایه په خپله او په خپلو پښو کوزېدی شي. آدم علیه السلام ته له آسمانه په خپله راکوزېدل ممکن نه وو او الله تعالی به څنګه ده ته داسي امر کولو چي دی ئې له عملي کولو عاجز وو؟!! په دې صورت کي خو به الله تعالی فرشتو ته ویل چي آدم له آسمانه کوز کړئ!!

- موعود جنت ته شیطان نشي ننوتی، په موعود جنت کي ممنوعه شجره نشته، موعود جنت ته جنتیان له محاسبې وروسته ننوځي. آدم علیه السلام له پیدایښت وروسته په داسي جنت کي ځای پر ځای شوی چي هلته هم شجرة ممنوعه وه او

هم شيطان ورتلی شو. په موعود جنت کې نه شجرة ممنوعه شته او نه شيطان ورتلی شي. شيطان لادمخه رټل شوی وو، موعود جنت ته د ده ننوتل ممکن نه وو.

- د جنت لغوي معنی باغ دئ او په قرآن کې د جنت لفظ يوازې د موعود جنت لپاره نه دئ کارول شوی. په داسې حال کې چې جنت د مېوو باغ ته ويل کېږي او له دې معلومېږي چې شجره ممنوعه به د مېوې يوه ونه وه، قرآن نه ده ښودلې، موږ ته په کار ده چې په دې اړه له ځانه څه ونه وايو، خو متأسفانه ځينو په دې اړه هم له اسرائيلي رواياتو ډېر څه رانقل کړي، هغه ئې د (غنمو ونه) ګڼلې، نه ئې دې ته پام کړی چې د (غنمو نه ونه وي او نه ئې باغ)!! او نه هم دې ته چې الله تعالی يوازې هغه څه انسان ته حراموي چې ضرر ئې تر ګټې زيات وي.
- موعود جنت ته داخلېدل له محاسبې وروسته ترسره کېږي. دا جنت په اصل کې د انسان د عملونو محصول دئ، لکه چې په رواياتو کې راځي: د جنت زمکه سمسوره او اوبه ئې خوږې دي، ستاسو له تسبيح د جنت ونې او له نېکو عملونو مو د جنت قصرونه جوړېږي.

له دې دلائلو په څرګنده معلومېږي چې دا جنت د زمکې پر سر وو نه په آسمان کې، د هغو مفسرينو رأيه صحيح ده چې دا جنت د زمکې پر سر ګڼي او دا رأيه چې دا همغه موعود جنت او په آسمان کې وو له اسرائيلي رواياتو اخيستل شوې رأيه ده، د دې په تأييد کې ټول استدلالات ډېر ډېر ضعيف دي، نه په نقل سره دا خبره ثابتولی شي او نه هم په عقل سره، د دوی ځيني خبرې خو د ډېر تعجب وړ دي، مخصوصاً جنت ته د شيطان د ننوتو په اړه د دوی وينا، ځينو ئې ويلي چې شيطان د مار په خوله کې پټ ورننوتی او ځينو ويلي چې له بهره د دېوال له شا، يا د جنت په دروازه کې، يا له جنت د وتو په وخت کې او حتی له زمکې ئې د آسمان په جنت کې هغوی وسوسه کړي!! او ځينو خو هومره بې باکي کړې چې ويلي ئې دي:

شیطان د ملائکو له ډلي او حتی د دوی استاد وو!! دوی دې ته هم پام نه دئ کړی چي که آدم علیه السلام شیطان په خپلو سترګو لیدی نو نن به د ده اولاد هم هغه په خپلو سترګو لیدو او دې ته ئې هم توجه نه ده کړې چي آدم علیه السلام ته د شیطان وسوسه باید همغسي وي لکه نن چي د ده اولاد وسوسه کوي، د وسوسې له لفظه معلومېږي چي شیطان آدم علیه السلام ته ځان نه دئ ښودلی، بلکي د ده په زړه کي ئې وسوسه اچولې ده، همغسي لکه نن چي د ده د اولاد په زړه کي وسوسې اچوي. که د دوی د استدلالونو په اړه لږ غور وکړئ نو هر یو به ئې د عقل او مشاهدې خلاف ومومئ. نه پوهېږو چي ولې نه وایي: د آدم علیه السلام جنت داسي وو لکه بني اسرائیلو ته د من او سلوی ورکول او د ورېځو سیوري ورباندي جوړول، له جنته ئې هبوط داسي وو لکه د بني اسرائیلو هبوط، شیطان داسي وسوسه کړل لکه د ده اولاد چي وسوسه کوي، دا ځکه چي د آدم علیه السلام په قصه کي الله تعالی موږ ته (انسان) او د هغه ځانګړتیاوي او خصوصیات معرفي کوي، د انسان د عروج او زوال عوامل راښیي، شیطان او د هغه وسوسې را په ګوته کوي، دا زموږ د جد قصه ده، د دې قصې په هینداره کي باید خپل مخ وګورو او خپل ځان وپېژنو، مګر نه ګورئ چي د آدم علیه السلام له دغي قصې وروسته د بني اسرائیلو د عروج او هبوط قصه راغلې، مګر دا قصه د هغې لپاره شرح نه ده؟!

قرآن په جنت کي د آدم علیه السلام د ځای په ځای کېدو او د ممنوعه شجرې په یادولو سره یوه ستر علمي حقیقت او د انسان یوې ځانګړتیا ته اشاره کړې، خو د بایبل لیکوال له دې یوه خندونکې بې بنسټه قصه جوړه کړې او ځینو مسلمانانو د بایبل په دغو غلطو ویناوو استناد کړی او د قرآن آیتونه ئې د همدې پر بنسټ تأویل کړي!!

# انسان یوازینی بربنډ مخلوق

که تاسو د عالم ټولو ژوو ته ځېر شئ نو وبه ګورئ چي الله تعالی د زمکي په سر هر ژوي ته داسي لباس ورکړی چي هم ښایسته دئ، هم ئې په ځان برابر دئ، نه ګنډل غواړي او نه اوبدل، نه زړېږي او نه شړېږي، هم ئې په ژمي کي له یخنۍ ساتي او هم په دوبي کي له تودوخي. د ځینو لباس خو دومره ښایسته دئ چي که د نړۍ ټول انسانان راغونډ شي نو نه په دې ظرافت، لطافت، ښایست او رنګ کي داسي لباس اوبدلی شي او نه ئې ګنډلی. په ټولو ژوو کي یوازي انسان هغه مخلوق دئ چي بربنډ دئ، د نورو په څېر جامه نه لري، دې ته اړ دئ چي ځان ته به جامه جوړوي، د ژمي لپاره بېله او د دوبي لپاره بېله، راشئ وګورو چي آیا قرآن دې ستر او مشهود حقیقت ته اشاره کړې که نه؟ د قرآن دې آیت ته ځیر شئ:

**يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۚ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ إِنَّا جَعَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ٢٧** الاعراف: ۲۷

اې د آدم اولاده! پام چي شیطان تاسو ونه غولوي، همغسي لکه چي ستاسو مور پلار ئې له جنته وایستل، جامه ئې ترې ایستله چي بدن ئې وروښيي (بدن ئې ورته ښکاره او لوڅ کړي)، دی او قبیله ئې تاسو په داسي توګهویني چي تاسو ئې نشئ لیدلی، موږ شیطانان د هغو دوستان ګرځولي چي ایمان نه راوړي.

په دې مبارک آیت کي څو اساسي خبري تر سترګو کېږي:

- انسانانو ته ویل شوي چي د شیطان وسوسو ته تسلیم نشي.

- شیطان د دې باعث شو چې د انسانانو لومړني پلار مور له جنته ووځي.
- دوی ئې لومړی له جنته ایستلي بیا ئې جامه ترې ایستلې.
- دا جامه یو ځلي نه ده ترې ایستل شوې بلکې ورو ورو ترې ایستل شوې، د ینزع صیغه همدا مطلب افاده کوي.
- د شیطان هدف دا وو چې انسان لوڅ او بربنډ کړي، دی پوهېدو چې د دې کار پایلې انسان ته څومره خطرناکې دي، له ده سره د خپلو شیطاني منصوبو په عملي کولو کې څومره مر سته کوي، څومره فتنې وربانديې راولاړولی شي، د انسان د بې لارې کولو لپاره له دې څومره استفادې کولی شي!!
- هغه مو داسې خطرناك دښمن دئ چې په هر ګام کې ئې تاسو ته کمین نیولی، تاسو ئې نه ګورئ او هغه مو ویني.
- هغه کسان له شیطان سره دوستي کوي او د وسوسو تر اغېز لاندې ئې ځي چې ایمان نه راوړي، مؤمنان له شیطان سره دوستي نه پالي او نه غواړي د وسوسو تر اغېز لاندې ئې راشي.

د دې آیت د دغې فقرې إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ په اړه د محققو علماوو رأیه دا ده چې انسانان نشي کولی شیطان او د ده قبیله په خپلو سترګو وګوري، دوی هغه آراء او روایات ضعیف او بې اعتباره ګڼي چې د شیطان په لیدل کېدو ترکیز کوي. د دې آیت الفاظ هومره صریح او واضح دي چې نه شك ته کوم مجال پرېږدي او نه بلې توجیه ته. په قاطع او پرېکنده توګه وایي چې تاسو شیطان او د ده قبیله نشئ لیدی.

- د دې معنی دا ده چې انسان په لومړي سر کې داسې طبیعي جامه درلوده لکه ټول نور ژوي، دا جامه د ممنوعه ونې د مېوې د خوړلو په وجه ترې ایستل شوې، شیطان دا کار پرې کړی او د دې تر شا د شیطان یوه خطرناکه شیطاني منصوبه وه!!

راشئ دغو مطالبو ته لږ په دقیق او علمي نظر ځیر شو:

- د قرآن له وینا معلومېږي چي انسان په سر کې داسي نه وو، وروسته بربنډ شوی، له لوښېدو مخکي ئې داسي جامه وه چي هیڅکله به نه بربنډ کېدو، تل ئې دی پټ ساتو، نه د جامو اوبدلو ته اړ وو او نه ګنډلو ته، لکه چي قرآن فرمایي:

**فَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ إِنَّ هَٰذَا عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ ٱلْجَنَّةِ فَتَشْقَىٰٓ ١١٧ إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ ١١٨ وَأَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا۟ فِيهَا وَلَا تَضْحَىٰ ١١٩** طه: ١١٧-١١٩

نو ومو ویل: اې آدمه! یقیناً چي دا (شیطان) ستا او ستا د مېرمني دښمن دئ، نو داسي نه چي له جنته مو وباسي که نه نو په مصیبت کې به پرېوځې. یقیناً چي په دې کې به تا ته دا درپه برخه وي چي نه به وږی کېږې او نه به بربنډ کېږي. او ته به نه په کې تږی کېږې او نه به دي ګرمي کېږي.

لکه چي ګورئ په ۱۱۸ او ۱۱۹ آیتونو کې ویل شوي: الله تعالی آدم علیه السلام ته ویلي چي په جنت کې به ستا حالت داسي وي چي نه به وږی کېږې، نه به بربنډ کېږې، نه به تږی کېږې او نه به دي ګرمي کېږي. یعني لوږه او تنده به نه ګالې، تل به دي پرېمانه خوراک څښاک په برخه وي، نه به له یخنۍ ځورېږې او نه له تودوخې، داسي جامې دي په برخه شوې چي هم دي له یخني ساتي او هم له تودوخې.

د یو سل اتلسم آیت له وروستۍ فقرې په ډېر وضاحت او صراحت سره معلومېږي چي دا جامه کومه مصنوعي جامه نه وه، ځکه په مصنوعي جامه کې انسان حتماً او په وار وار بربنډ کېږي، د غسل په وخت کې، د زړښت په صورت، د شړېدو او شلېدو په نتیجه کې، په بلې د بدلولو په وخت کې، خو دا آیت وایي چي ته به په جنت کې هیڅکله نه بربنډ کېږي، نو د دې معنی یوازې دا کېدی شي چي

دا جامه يوه داسي طبيعي جامه وه چي د دوی له بدن سره نښتې وه، همغسي لکه چي الله تعالی ټولو نورو ژوو ته ورکړې، دا جامه د ممنوعه مېوې د خوړلو په نتيجه کي ترې ايستل شوې، له همدې کبله اوس گورو چي په ټولو ژوو کي يوازينی بربنډ مخلوق انسان دئ چي مصنوعي جامې ته ضرورت لري، په ژمي کي تودو جامو ته او په دوبي کي سړو ته. دې ته مو پام وي چي مصنوعي جامه انسان په خپل لاس جوړوي، کله د حيواناتو له پوستکي، کله د دوی له وړيو، کله له سونډو او ورېښمو او کله له نيلون، الله تعالی چي کومه جامه مخلوق ته ورکوي هغه مصنوعي نه بلکي طبيعي جامه وي، چي نه خيرنېږي، نه شړېږي، نه زړېږي او نه بدلولو ته ضرورت لري.

- د قرآن د وينا له مخي انسان له دې جامې د يوې اشتباه په نتيجه کي محروم شو، د ممنوعه شجرې مېوه ئې وخوړه او په دې سره هغه جامه ترې وايستی شوه او بربنډ شو، لومړی ئې د ونو له پاڼو ځان ته جامه جوړه کړه او وروسته ئې نوري جامې، ځيني ئې يوازي د ځان پټولو لپاره، ځيني ئې د ښايست او سينگار لپاره او ځيني ئې د تقوی لباس، سنگين، باوقاره له گناه مانع لباس. له کومي ورځي چي انسان له لومړنۍ الهي جامې محروم شوی او په خپل لاس د جامو جوړولو ته اړ شوی، نو همدا جامه د انسانانو ترمنځ د تفريق، تبعيض او يو پر بل د لويي او تېري وسيله گرځېدلې، نه گورئ چي په دغه جامه کي څومره ظلمونه کېږي، په عسکري او پوليسي جامو کي هره ورځ څومره بې گناه انسانان ځورول کېږي، څومره شريف انسانان د خړو جامو په سبب تحقير کېږي، څومره ذليل انسانان په فاخره جامو کي تر نورو ځان لوړ گڼي، نه گورئ چي يوه له خپلي جامې د گيدړي پوستکی جوړ کړی خلك پرې غولوي، بل له جامو د پسه په څېر بې آزاره برېښي خو په سينه کي ئې د لېوه زړه او هغه بل به په خپلو جامو سره ځان داسي ښيي چي زمری دئ خو تر گيدړ به زيات بې زړه او جبون وي. الله تعالی انسان ته د جامو جوړول

ورښودلي، د دې لپاره چي ځان له تودوخي او یخنۍ پرې وژغوري او د هغه لباس ئې په دريو ډولونو وېشلی: د ځان پټولو لباس، د ښايست لباس او د تقوی لباس، خو انسان له خپلي جامې يا د غولولو وسيله جوړه کړې، يا د ظلم او تېري وسيله، يا يو پر بل د لويي او تکبر ذريعه!! دا همغه څه وو چي شيطان غوښتل، د شيطان د خطرناکي منصوبې اصلي موخه همدا وه.

بايبل هم د آدم عليه السلام او د ده د مېرمني د بربنډېدو قصه کوي خو ډېره کچه، غير علمي، د واقعيتونو خلاف او افسانې ته ورته، وايي: کله چي حواء او آدم د ممنوعه وني مېوه وخوړه نو همدا وخت پوه شول چي دوی له وړاندي بربنډ ول خو خپل بربنډتوب ئې نه احساساوو، دا د معرفت مېوه وه، د دغي مېوې په خوړلو سره د دوی سترګي پرانيستل شوې، معرفت ئې په برخه شو او خپله بربنډتيا ئې احساس کړه!! خو هر عاقل انسان پوهېږي چي دا ډېره ډېره مسخره خبره ده چي د دغي مېوې له خوړلو مخکي دوی خپل بربنډتوب نه احساساوو او له خوړلو وروسته پوه شول چي بربنډ دي!! او دا څکه چي مخکي بې معرفته ول او د معرفت د مېوې له خوړلو وروسته ئې سترګي پرانيستل شوې او خپل لوڅوالی ئې احساس کړ!! حقيقت د دې خبري کاملاً عکس او دا دئ چي: الله تعالی د زمکي په سر هر ژوي ته داسي لباس ورکړی چي هم ښايسته دئ، هم ئې په ځان برابر دئ، نه ګنډل غواړي او نه اوبدل، نه زړېږي او نه شړېږي، هم ئې په ژمي کي له يخنۍ ساتي او هم په دوبي کي له تودوخي. په ټولو ژوو کي يوازي انسان هغه مخلوق دئ چي بربنډ دئ، د نورو په څېر جامه نه لري، دې ته اړ دئ چي ځان ته به جامه جوړوي، د ژمي لپاره بېله او د دوبي لپاره بېله، د قرآن له وينا معلومېږي چي انسان په سر کي داسي نه وو، وروسته بربنډ شوی، له لوڅېدو مخکي ئې داسي جامه وه چي هيڅکله به نه بربنډ کېدو، تل ئې دی پټ ساتو، نه د جامو اوبدلو ته اړ وو او نه ګنډلو ته، له دې جامو د يوې اشتباه په نتيجه کي محروم شو، د ممنوعه

شجرې مېوه ئې وخوړه او په دې سره هغه جامه ترې وایستی شوه او بربنډ شو، لومړی ئې د ونو له پاڼو ځان ته جامه جوړه کړه او وروسته ئې نورې جامې، ځیني ئې یوازې د ځان پټولو لپاره، ځیني ئې د ښایست او سینګار لپاره او ځیني ئې د تقوی لباس، سنګین، باوقاره له ګناه نه مانع لباس. د بایبل لیکونکي د آدم علیه السلام بربنډېدا هغسې توجیه کړې، له سره لوڅ ول، خو نه پرې پوهېدل، د معرفت د میوې په خوړلو سره پرې پوه شول!! په مسلمانانو کې د بایبل تر اغېز لاندې راغلي خلك د آدم علیه السلام له لومړني لباس داسې تعبیر لري چې ګواکې دا به له وړیو، ورېښمو، سنډو او یا مالوچو اوبدل شوې کومه جامه وه، چې د ده په قد قامت برابره ګنډل شوې وه، حال دا چې اوبدلې او ګنډل شوې جامه بني آدم جوړه کړې، الله چې کومه جامه ورکوې هغه اوبدل او ګنډل نه غواړي. دوی نه د قرآن الفاظو ته پام کړی او نه هغه څه ته چې هره شېبه ئې په خپلو سترګو ګوري، یوې خوا ته په ملیونو هغه ژوي ګوري چې په ښایسته الهي جامو پټ دي او بلې خوا ته یوازې بني آدم چې له دې جامې محروم او دې ته اړ شوی چې له وړیو، ورېښمو، سنډو، نیلون او یا مالوچو ځان ته جامه جوړه کړي، قرآن په دې سره یو ستر علمي حقیقت بیان کړی خو د اسرائیلي روایاتو په دام کې پرېوتو کسانو له دې افسانه جوړه کړې.

# انسان او زده کړه

په اصل کې انسان (بې علمه) دئ، په تدریج سره زده کړه کوي او علم ترلاسه کوي. د انسان د پوهې او علم تفاوت د نورو ژوو له شعور او پوهې سره په دې کې دئ چې نور ژوي ثابت او محدود علم لري، له مخکې د دوی په ختـه او دماغ کې ایښودل شوی، په فطري او الهامي توګه ورته تفهیم شوې چې څنګه ژوند وکړي، کوم کوم کارونه وکړي، څه وخوري او د څه له خوراکه ډډه وکړي، څنګه مفید او مضر سره بېل کړي، خو انسان کولی شي چې تر هغه څه زیات هم زده کړي چې په فطري او الهامي توګه ورښودل شوي او په ضمیر کې ئې ایښودل شوي. دی کولی شي زده کړه وکړي، د خپلې پوهې سطح لوړه کړي، اسرار کشف کړي او پټ حقائق ځان ته معلوم کړي، په (لوستلو)، (لیکلو) او له (قلم) په استفادې سره د خپلې حافظې ظرفیت لوړ او پراخ کړي او په هغه څه هم پوه شي چې نور پرې پوهېدلي او دی ترې غافل وو او له پېژندو ئې عاجز. که انسان ته له (قلم) د استفادې استعداد نه وی ورکړی شوی او په لیك او لوست نه پوهېدی نو د هر چا علم او پوهه به له ده سره پاتې کېده، نه به په دې توانېدو چې د نورو له پوهې او تجربو ګټه واخلي او نه به ئې خپل تجارب او علم نورو ته انتقالولی شو. دا د انسان د پوهې او علم په اړه یو دقیق او علمي انځور دئ. راشئ وګورو چې قرآن په دې اړه څه وایي، د قرآن دغو آیتونو ته ځیر شئ:

ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ٣ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ٤ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ٥ العلق: ١-٥

ولوله په نوم د خپل رب، هغه چې پیدا ئې کړ. انسان ئې له ځوړندو پیدا کړ. ولوله چې رب دې ډېر کریم دئ. آ چې په قلم ئې پوهه ورکړه. انسان ته ئې ورزده کړل څه چې نه پرې پوهېدو.

دا مبارك آيتونه چي پر رسول الله  صلی الله علیه و سلم نازل شوي لومړي آيتونه دي او د قرآن نزول په همدغو آيتونو پيل شوی، څو مهمي خبري ئې زموږ پام ځان ته جلبوي:

الف: د الله تعالی له لوري وحي د اقرأ (ولوله) په امر پيل شوې او دا ښيي چي د اسلام له نظره د (لوست) مقام او منزلت څومره لوړ دئ او څومره اهميت لري، دا د الله تعالی لومړی امر دئ، په دغه امر سره ئې د وحي لړل پيل کړي.

ب: لوستل د خپل رب په نامه او د هغه په مرسته پيل کړه، هغه رب چي هر څه ئې پيدا کړي، ته او دا هر څه يوازي يو رب لرئ، چي هم ستا رب دئ او هم د نورو ټولو مخلوقاتو رب.

ج: د (اقرأ) له امره معلومېږي چي د وحي فرشتې بايد دا لومړی وحي په ليکلې بڼي کي د پيغمبر علیه السلام مخي ته ايښې وي.

په دې اړه چي (انسان له ځوړندو پيدا شوی) څو خبري د توجه وړ دي:

الف: علق د علقة جمع ده، اصلي معنی ئې ځوړند ده او دلته په دې خاطر د جمع په صيغه راغلې چي له انسان مراد ټول انسانان دي، يعني ټول انسانان ئې له ځوړندو شيانو پيدا کړي.

ب: قرآن د ټولو ژوو پيدايښت له اوبو او د انسان د پيدايښت لومړی ماده خاوره او د جوړښت پيل ئې له نطفې ګڼي، دغه نطفه وروسته د علقې بڼه غوره کړي.

٣-٤ آيتونه وايي: ولوله چي ستا رب ډېر کريم دئ، دا د الله تعالی د کرم او پېرزويني څرګنده نښه ده چي انسان د يوه (ځوړند توکي) له حالته هغه ځای ته رسوي چي (کامل انسان) ترې جوړ شي، ليك او لوست ورښيي، انسان يوازينی مخلوق دئ چي کولی شي د (لوستلو) له لاري د بل په خبره پوه شي او د (ليکلو) له لاري خپل معلومات خوندي کړي او خپل پيغام نورو ته ورسوي او په دې سره د

خپل سلف له قیمتي تجاربو ګټه واخلي، د معلوماتو د ضایع کېدو مخه ونیسي او راتلونکي نسل ته ئې انتقال کړي، له انسانه پرته دا وړتیا او امتیاز په هیڅ ذیروح کې نه ګورو، الله تعالی په انسان کې دا استعداد او وړتیا اېښې ده چې له (قلم) د تعلیم او تعلم وسیله جوړه کړي، له دې اړخه ئې انسان ته پر ټولو نورو مخلوقاتو فضیلت ورکړی. له دې مبارك آیته څو اساسي مطالب استنباطولی شو:

الف: په (قرائت)، (علم) او (قلم) سره هم انسان ته پر نورو مخلوقاتو فضیلت ورکړی شوی او هم په خپله د انسانانو تر منځ یوه ته پر بل فضیلت.

ب: (قلم) د زده کړې او پوهې ډېره اغېزمنه وسیله ده، په دې سره انسان د دې مجال ترلاسه کوي چې په ډېرو هغو حقائقو پوه شي چې له بلې لارې پرې پوهېدل ورته ممکن نه وو.

ج: لکه څنګه چې دلته د (علم بالقلم) الفاظ په دې معنی دي چې انسان ته له قلم د استفادې استعداد ورکړی شوی، الله تعالی د هغه په فطرت کې دا ملکه اېښې چې قلم جوړ کړي، خپل ما في الضمیر ولیکي او نورو ته ئې انتقال کړي او له دې د زده کړې او تعلیم او تعلم وسیله جوړه کړي، همدا راز په نورو آیتونو کې دې ته ورته راغلي الفاظ لکه (علمه البیان) او (علم آدم الاسماء کلها) هم هغو استعدادونو ته اشاره کوي چې انسان ته ورکړی شوي، انسان ته د (بیان) ملکه ورکړی شوې، کولی شي خپل (مافالضمیر) اظهار کړي او له کلماتو او الفاظو په استفادې سره خپل قصد، هدف، نظر او پیغام تشریح او توضیح کړي، هغه ته د هر څه د پېژندو او په هر څه د یوه مناسب نوم اېښودو استعداد ورکړی شوی، هغه کولی شي خپله پوهه د نومونو په قالب کې ترتیب، تنظیم او حفظ کړي او نورو ته ئې انتقال کړي. دا د انسان یوه ځانګړتیا ده، دا صفت په نورو مخلوقاتو کې نشته، په دې سره الله تعالی انسان ته پر ټولو مخلوقاتو فضیلت او شرف ورکړی. هغه

محترم مفسرین چې د (علم آدم الاسماء کلها) آیه په بلې بڼې تفسیروي او وایي چې اسماء توقیفي دي، د الله له لوري وضع شوي او آدم علیه السلام ته ښودل شوي، سخته اشتباه ئې کړې، تفسیر ئې هم تفسیر بالرأی دئ، نه تفسیر قرآن بالقرآن او هم د واقع خلاف، عملاً ګورو چې ټول نومونه انسان په خپله وضع کوي، د هر نوي توکي لپاره نوی نوم غوره کوي، که د دوی دا تعبیر ومنلی شي د (علم بالقلم) او (علمه البیان) آیتونه به د دوی د اسلوب له مخې څنګه تفسیروو؟ که خبره داسې وی لکه دوی چې وایي، نو باید د ټولو شیانو نومونه، په ټولو ژبو کې سره ورته وی؟ خو عملاً ګورو چې خبره د دې عکس ده.

سره له دې چې قرآن (قلم)، (لیك) او (لوست) ته دومره اهمیت ورکړی او سره له دې چې پیغمبر علیه السلام ته د وحي په پیل کې لومړی لارښوونه د قرائت او قلم په اړه ده او ورته ویل شوي چې قلم د تعلیم او تعلم ستره وسیله ده، خو متأسفانه زموږ په زړو دیني مدرسو کې (قلم) هېر شوی، له دغو مدرسو چې څوك فارغېږي په لیکلو نه پوهېږي!!

له پنځم آیته څو مطالب ترلاسه کولی شو:

الف: د انسان پر مخ چې د معرفت هره دروازه پرانیستل کېږي او په هري نوې خبري چې د پوهېدو توفیق ترلاسه کوي، د ده هر( کشف) او په هر سر او راز پوهېدل ئې په حقیقت کې د الله تعالی یوه پېرزوینه ده، دا دروازه د ده له لوري ورته پرانیستل کېږي، په دغو حقائقو د پوهېدو توفیق دی ورکوي او د دغو اسرارو د کشف توان دی ورکوي، هر چا ته علم او پوهه دی ورکوي، سترګي، زړه، غوږونه، دماغ او اعصاب ئې د ده په اراده ورته کار کوي، لار ورته ښیي او د ښه او بد، مفید او مضر په پېژندلو کې ئې مرسته کوي، په هر څه چې انسان علماً احاطه کوي او په کوم څه د پوهېدو توفیق ترلاسه کوي نو دا ټول د الله په خوښه او اذن او په

همغه حد کې وي چې الله ئې وغواړي.

ب: د دې عالم يوه برخه داسې ده چې انسان ئې له وحې پرته له بلې هيڅ لارې نه شي پېژندی، الله تعالی د وحې په لېږلو سره انسان ته په هغه څه د پوهېدو امکان هم ميسر کړ چې له دې پرته ئې درك کول او پېژندل ورته ممکن نه وو.

اوس نو تاسو د قرآن دا علمي، دقيقه او په حقيقت او واقعيت ولاړه وينا د بايبل له دغې بې بنسټه ادعاء سره مقايسه کړئ چې وايي: انسان د معرفت د ونې مېوه وخوړه، سترګې ئې پرانيستل شوې، د ځان او خپل ماحول په حال پوه شو.

# موږ درد څنګه احساسوو؟

دا هم يوه علمي پوښتنه ده چې انسان دردونه څنګه او د بدن د کومې برخې په مرسته احساسوي، علم وايي چې د انسان په بدن کې له دوو تر څلورو مليونو د درد احساسولو نقطې شته، چې د حساسيت کچه ئې له يوې تر بلې ساحې توپير لري، دا نقطې اکثراً د انسان په پوستکي کې دي، د همدې لپاره موږ دردونه په پوستکي کې احساسوو. راشئ د علمي تحقيقاتو دا وينا د قرآن خوا کې کېږدو او وګورو چې قرآن په دې اړه څه وايي، د قرآن دې آيت ته ځير شئ:

**إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا سَوۡفَ نُصۡلِيهِمۡ نَارٗا كُلَّمَا نَضِجَتۡ جُلُودُهُم بَدَّلۡنَٰهُمۡ جُلُودًا غَيۡرَهَا لِيَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمٗا ٥٦**

النساء: ٥٦

يقيناً هغه چې زموږ په آيتونو کافران شوي، ژر به ئې په اور کې ننباسو، کله چې ئې څرمنې پخې شي نو په عوض کې به له دغو پرته نورې څرمنې ورکړو، چې عذاب

وځكي، بې شكه چې الله باحكمته عزيز دئ.

په دې آيت کې د قرآن يو بل علمي اعجاز زموږ مخې ته راځي: قرآن ويلي چې کافران به په اور کې سوزي، کله چې د دوی څرمن وسوزي، بله څرمن به ورکړو، ترڅو عذاب وځكي، يعني انسان په پوستکي سره د سوزېدو درد احساس کوي، که پوستکی نه وي نو دا درد نه احساسوي. او دا هغه حقيقت دئ چې څوارلس پېړۍ وروسته انسان ورباندې پوه شو. اوس پوه شو چې د درد د احساسولو ډېرې عصبي رشتې او نقطې په پوستکي کې دي.

# د ګوتو د سرونو ګارې

نن هر چا ته دا حقيقت جوت شوی چې د انسانانو د ګوتو د سرونو ګارې يو ډول نه دي، د همدې لپاره اوس د کشف او تحقيق ادارې، پوليسان او محاکم تر عکس د ګوتو د سرونو نښو ته اهميت ورکوي، له هر متهم تر هر څه وړاندې د ګوتو د سرونو نښه اخلي، د جرم په ځای کې د ګوتو په نښو پسې ګرځي، او په دې باور دي چې په دنيا کې د دوو انسانانو د ګوتو د سرونو ګارې يوه بل ته ورته نه دي!! راشئ وګورو چې آيا قرآن هم دې حقيقت ته اشاره کړې که نه! د قرآن دې آيتونو ته ځير شئ:

أَيَحْسَبُ ٱلْإِنسَٰنُ أَلَّن نَّجْمَعَ عِظَامَهُۥ ٣ بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُۥ ٤ القيامه: ٣-٤

آيا دا انسان انګېري چې د ده هډوکي به راغونډ نه کړو؟ ولې نه، په دې برلاسي يو چې د ګوتو سرونه ئې برابر کړو.

تر دې وړاندې آيتونو او دغو دوو آيتونو کې د قرآن هغه مخاطب ته چې د قيامت په راتلو باور نه لري داسې ويل شوي: نه؛ داسې نه ده چې ته ئې انګېرې، قيامت يو مسلم حقيقت دئ، حتماً به راځي، له قيامته ستا انکار خوشې بې بنسټه انکار دئ، ستا (نفس لوامة) په دې شهادت ورکوي چې د قيامت او محاکمې او محاسبې ورځ به حتماً راځي. که ستا په نفس کې داسې قاضي شته چې په هر غلط کار تا ملامتوي، آيا دا د دې خبرې شهادت نه ورکوي چې ستا هغه رب به هم تا په خپلو غلطو کارونو ملامتوي چې دغه قاضي ئې ستا په ضمير کې اېښې، تا ته ئې د ښه او بد په اړه د قضاوت ملکه او استعداد درکړی. په همدې سلسله کې فرمايي: آيا انسان دا ګمان کوي چې د ده وراسته هډوکي او په خاورو بدل شوي اندامونه د بيا راغونډولو نه دي او الله به بيا د ده جثه جوړه نه کړي او هغه ته به سا ورنکړي!! په داسې حال کې چې الله نه يوازې د ده په بيا راژوندي کولو قادر دئ بلکه په دې هم قادر دئ چې د ده د ګوتو د سرونو ليکې او ګارې په خپل مخکني شکل کې بيا جوړې کړي. د قيامت په اړه د انسان د انکار وجه دا نه ده چې هغه ته کافي او قانع کوونکي دلائل په لاس نه دي ورغلي او يا له دې حقيقته د ده انکار د جهل او ناپوهۍ په وجه دئ، داسې نه ده، برعکس د ګناه اراده او په راتلونکې کې د فجور او بدکارۍ عزم ئې دې ته هڅوي چې له قيامت عمداً انکار وکړي. په قيامت باور خو د ده د وجود په خته کې اېښودل شوی، د ده وجدان د قيامت او حساب کتاب يوه څرګنده بېلګه ده، د ده مشکل له دې راولاړ شوی چې (هوی او هوس) ئې دې ته اړ کوي چې د خپل (وجدان) او (عقل) پرېکړه تکذيب کړي، د ده قضاوتونه له هوس راخوټېږي، تل د خپل وجدان د حکم او غوښتنې خلاف ګناه ته ملا تړي. که دی د خپل هوس فرمان ته غاړه کښېنږدي، او د ګناه د ارتکاب اراده او عزم پرېږدي نو د ده او قيامت ترمنځ به ټول حجابونه له منځه ولاړ شي او په خپل نفس کې به د هغه لپاره شواهد ومومي.

ګورئ چي په دې مبارکو آيتونو کي د قرآن يو بل علمي اعجاز زموږ مخي ته راځي او وايي: آيا له قيامته منکر انسان داسي ګمان کوي چي وراسته هډوکي به ئې بيا راغونډ نه کړو؟ آيا بيا ژوندون ورته محال برېښي؟!! په دې دي پوه شي چي نه يوازي بيا به ئې ژوندی کړو بلکي د ګوتو د سرونو ګاري به ئې هم په مخکنۍ بڼه کي جوړي کړو؟ سره له هغو توپېرونو چي د يوه ګوتي ئې له بل سره لري.

# ژور خوب او نه اورېدا

علمي تحقيقات ښيي چي د خوب په دوران کي د انسان حواس ورو ورو او يو په بل پسي خپل اړوند کارونه متوقف کوي، ځيني وړاندي او ځيني وروسته وروسته له کاره ولوېږي، سترګي ژر بندي شي، غوږونه تر ډېره وخته نيم بند وي، ډېر وروسته او په ډېر ژور خوب کي د اورېدو دنده په بشپړه توګه بنده کړي، راشئ وګورو چي قرآن په دې اړه څه ويلي، د قرآن دغو آيتونو ته ځير شئ:

فَضَرَبۡنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمۡ فِي ٱلۡكَهۡفِ سِنِينَ عَدَدٗا ١١ ثُمَّ بَعَثۡنَٰهُمۡ لِنَعۡلَمَ أَيُّ ٱلۡحِزۡبَيۡنِ أَحۡصَىٰ لِمَا لَبِثُوٓاْ أَمَدٗا ١٢ الکهف: ١١-١٢

نو څو کاله مو په سمڅي کي د دوی غوږونه دپ کړل، بيا مو راپاڅول چي وګورو له دواړو ډلو کومه يوه ئې د دوی د پاته کېدا د مودې ښه شمېرونکې ده!!

په دې مبارکو آيتونو کي د اصحاب کهف د اورېده او ژور خوب په اړه ويل شوي چي څو کاله مو په سمڅي کي د دوی غوږونه دپ کړل!! دا پوښتنه راولاړېږي چي ولي د ژور خوب پر ځای د غوږونو د دپولو خبره شوې؟!! ولي نه دي ويل شوي چي څو کاله مو په ژور خوب ويده کړل؟! آيا د دې پوښتني بل ځواب موندلی شو

چي الله تعالی مورړ ته د ژور خوب او د غوږونو د دېېدو تر منځ ژور تړاو انځور کړی؟! په آيتونو کې مورړ ته ويل شوي چي د انسان د ډېر ژور خوب حالت هغه دئ چي غوږونه ئې له اورېدو ولوېږي، په سطحي خوب کې د انسان غوږونه په نسبي توگه ويښ وي او د غږ په وړاندي عکس العمل ښيي، هر څومره چي خوب ژور کېږي د غوږونو حساسيت هم کمېږي، او دا هم هغه حقيقت دئ چي علم اوس پرې پوه شوی، او دا ښيي چي قرآن د خپلو مطالبو په بيانولو کې څومره دقيق دئ!! يقيناً چي دا د قرآن يو علمي اعجاز دئ.

په دې اړه د رسول الله  صلى الله عليه و سلم يو حديث به د مطلب په پوهېدو کې مزيد ستاسو مرسته وکړي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلاَثَ عُقَدٍ، يَضْرِبُ كُلَّ عُقْدَةٍ مَكَانَهَا عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ فَارْقُدْ . فَإِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللَّهَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَإِنْ تَوَضَّأَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَإِنْ صَلَّى انْحَلَّتْ عُقَدُهُ كُلُّهَا، فَأَصْبَحَ نَشِيطًا طَيِّبَ النَّفْسِ، وَإِلاَّ أَصْبَحَ خَبِيثَ النَّفْسِ كَسْلاَنَ ». بخاري: ۳۲۶۹

له ابو هريره رضى الله عنه روايت دئ چي رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي: (کله چي څوک ويده شي شيطان ئې د سر په شاتنۍ برخي کې درې غوټې غوټه کړي، هره غوټه په خپل خپل ځای ووهي، له هري غوټي سره وايي: شپه دې اوږده، ويده شه، که دا سړی راويښ شي، د الله تعالی ذکر وکړي، نو يوه غوټه پرانيستل شي او که اودس وکړي بله غوټه پرانيستل شي او چي لمونځ وکړي نو بله غوټه پرانيستل شي او سحر تازه او پاك زړی راپاڅېږي، او که نه نو لټ، پرېشانه او بد حاله به راپاڅېږي).

که څه هم دا روايت په صحابه وو کې يو راوي لري خو دا مطلب په نورو

روایاتو کې هم له ځینو توپیرونو سره راغلی، نږدې ټولو مهمو کتابونو راوړی، د متن له پلوه داسې دئ چې یوې ژورې علمي موضوع ته اشاره کوي، داسې موضوع چې یوازې یو پیغمبر ئې ویلی شي، نن او له ډېرو علمي تحقیقاتو وروسته معلومه شوې چې د انسان خوب همداسې دئ لکه چې په دې مبارك حدیث کې ورته اشاره شوې، که د انسان خوب ته ځیر شو نو ګورو چې خوب په تدریجي توګه انسان ته راځي او په تدریجي توګه ترې ځي، داسې لکه چې د بدن د هغو برخو سویچونه ئې ورو ورو او یو په بل پسې وهل کېږي چې د انسان په واك کې دي او د ده له حکم او ارادې سره سم عمل کوي، لکه لاسونه، پښې، سترګې، شونډې او ژبه، دا سویچونه د ویدېدو په وخت کې یو په بل پسې بر وهل کېږي او د ویښېدو په وخت کې لاندې، د خوب پر مهال د انسان دماغ؛ په وینې کې د داسې توکي راپیدا کېدو پرېکړه وکړي چې د خوب باعث کېږي، دا ماده د دماغ هغو برخو ته درومي چې همدا غړي اداره کوي، لومړی سترګې پټې شي، بیا د لاس او پښو د خوزولو برخه خپل کار متوقف کړي، ورو ورو انسان په ژور خوب ویده شي، ویښېدا ئې هم همداسې تدریجي وي. د رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې حدیث کې دغې ژورې علمي موضوع ته اشاره شوې.

د حدیث شارحینو په دې اړه هم بحثونه کړي چې دلته د عقد معنی څه ده؟ په مجازي معنی راغلې که په حقیقي معنی؟ سمه رأیه دا ده چې دا الفاظ په مجازي معنی راغلي، چې له یوې خوا د انسان د خوب څرنګوالی انځوروي او له بلې خوا پر انسان د شیطان اغېز او د هغه له اغېز د خلاصون څرنګوالی، شیطان غواړي انسان له خپل ځان او له خپلو مسئولیتونو غافل شي، په ژور خوب ویده شي، که راپاڅېږي نو لټ، بد زړی او بدخوی وي، طبیعت ئې نیولی او تندی ئې تریو، په اوداسه او لمانځه سره هغه غوټې پرانیستل کېږي چې شیطان ئې د انسان ذهن ته اچوي.

# د حلال او حرام په اړه د قرآن وینا

قرآن د حلال او حرام په اړه دا اصل وضع کړی چي څه انسان ته ګټور وي هغه حلال دي او څه چي مضر وي هغه حرام دي. قرآن فرمايي:

**يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِۖ قُلۡ فِيهِمَآ إِثۡمٞ كَبِيرٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثۡمُهُمَآ أَكۡبَرُ مِن نَّفۡعِهِمَاۗ ... البقره: ۲۱۹**

د شراب او قمار په اړه تا پوښتي، ورته ووايه: په دوی کي ستره ګناه ده او څه ګټي د خلکو لپاره، خو ګناه ئې تر ګټي ډېره ستره ده.

ګورئ چي دلته د (اثم: ګناه) په مقابل کي د (منفعت :ګټي) ذکر شوی، له دې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي د حلال او حرام د ټاکلو په اړه دا اصل په پام کي نیول شوی چي څه انسان ته ګټه لري او څه تاوان، هر څه چي انسان ته ئې تاوان تر ګټي زيات وي، الله تعالی هغه حرام کړي او هر څه چي ګټه ئې تر تاوان زياته وي هغه ئې حلال کړي، شراب او قمار د دې لپاره حرام کړی شوي چي تاوان ئې تر ګټي زيات دئ، هم فرد ته او هم ئې ټولني ته، شراب انسان له خپل طبيعي حالت باسي، په خپلو حواسو او مشاعرو د ده واك کمزوری کوي، له سده ئې باسي او داسي کارونو ته ئې هڅوي چي په طبيعي حالت کي ترې ځان ساتي او قمار په ناحقه د بل د مال غصبولو وسيله ده، په دې سره هغه حريص انسان په دام کي اچول کېږي چي غواړي له آسانه لاري د ډېر مال او ثروت خاوند شي، د ده له دغه کمزورۍ په استفادې سره زرنګ او ماهر ټګماران د ده موجود ثروت هم ترې غارت کړي، اوس خو متأسفانه حکومتونه له خپلو ولسونو سره همدا دوکه کوي، د

لاټرۍ په غولونکو اعلاناتو کې وايي: خپل بخت وآزمويئ، د مليونر کېدو دا طلايي موقع له لاسه مه ورکوئ، کېدی شي د شلو روپو يو ټکټ تاسو ته هومره څه په لاس درکړي چې ټول آرمانونه مو ترسره کړي!! ناپوه او حريص کسان په دې غولوونکو اعلاناتو دوکه کړي، له زرګونو کسانو پيسې ترلاسه کړي او د هغه پنځه په سلو کې څو (په اصطلاح بختورو ګټونکو) ته ورکړي او باقي ئې د غلو او خائنو چارواکو د عيش عشرت سامان شي.

دا چې په اسلامي شريعت کې ولې د ځينو حيواناتو غوښه تحريم شوې، آيا دليل ئې دا دئ چې د دغو حيواناتو غوښه انسان ته له صحي پلوه تاوان لري؟ او که په تحريم کې ئې کوم بل غرض او حکمت په پام کې نيول شوی؟ د بقرې د سورې په(۲۱۹) آيت کې تاسو وليدل چې د (اثم: ګناه) په مقابل کې د (منفعت :ګټې) ذکر شوی، له دې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د حلال او حرام د ټاکلو په اړه دا اصل په پام کې نيول شوی چې څه انسان ته ګټه لري او څه تاوان، هر څه چې انسان ته ئې تاوان تر ګټې زيات وي، الله تعالی هغه حرام کړي او هر څه چې ګټه ئې تر تاوانه زياته وي هغه ئې حلال کړي. د غوښه خوړونکو حيواناتو او مرغانو د غوښې خوراك چې انسان ته کوم کوم تاوانونه او ضررونه لري، په دې باندې انسان هلته په دقيقه توګه پوهېدی شي چې هم د دغو غوښو د ترکيب او خاصيت په اړه کامل معلومات ترلاسه کړي او هم ئې په انسان باندې له اغيز پوره خبر شي، د علمي تحقيقاتو په ترڅ کې خو تر ډېره حده دا خبره معلومه شوې چې د دغو حيواناتو غوښه له صحي پلوه انسان ته ضررونه لري، يو مثال ئې د بيزو غوښه ده چې وايي د ايډز بيماري د دغې غوښې له خوړلو له بيزو انسان ته منتقل شوې، اما له روحي پلوه ئې په ټولو اضرارو پوهېدل انسان ته مقدور نه دي، د موضوع دا اړخ په لابراتوار کې نشي معلومېدی، دا به د تجاربو له مخې معلومېږي، تراوسه انسانانو په دې اړه هېڅ ندي کړي، د دې زحمت ئې ندی ايستلی چې وګوري کوم

څه له روحي پلوه انسان ته تاوان لري او کوم څه ګټه، دومره ویلی شو چي هر خوراك د انسان په مزاج او روحیې ځانګړی اغېز لري، ځیني د انسان یوه غریزه پاروي او ځیني ئې بله، ځیني د نشاط او تحرك باعث شي او ځیني د کسالت او خمود، د داړونکو او څیرونکو مرغانو او حیواناتو په غوښه کي د داړلو او څیرلو خاصیت شته، د دوی د غوښي په خوراك سره دغه خصلت په انسان کي راپیدا کېږي او وده کوي او دا معلومه ده چي که په انسان کي د دغو ځناورو دا خصلت راپیدا شي څومره خطرناك عواقب ورباندي مرتب کېدی شي، که په وسلو د مجهز انسان له زړه ترحم او عاطفه وایستی شي او ځای ئې د داړونکو او درنده ځناورو دغه خصلت ته خالي شي، په زمکي کي به څومره تباهي خوره کړي؟!! ځناور خو یوازي د خپل ضرورت په اندازه داړل او څیرل کوي، چي موړ شي له داړلو او څیرلو لاس واخلي، خو انسان بیا په دې حد کي توقف نه کوي، هغه د غچ، انتقام، قهر او غصې او پر نورو د خپلي لویي او برلاسي تپلو جذبات هم لري، که دا د څیرلو او داړلو خصلت هم له دغو ځناورو ترلاسه کړي، پایله به ئې څه وي؟ دغه ستر مصلحت او حکمت ته په پام سره د دغو حیواناتو غوښه تحریم شوې.

په زړو ادیانو او مذاهبو کي ځیني داسي دي چي یا د غوښي خوراك ناسم او ناروا کار ګڼي او یا خو هغه د روحي او معنوي ارتقاء مانع بولي او اوس داسي ډلي راپیدا شوې چي وایي انسان باید یوازي د حبوباتو، نباتاتو او میوو په خوړلو اکتفاء وکړي او د غوښي له خوړلو ځان وساتي، د دوی ځیني د حیوان ذبح کول د ترحم او عاطفې خلاف کار ګڼي او ځیني ئې د غوښي خوراك د انسان روغتیا او سلامتیا ته مضر شمېري. په دې اړه څو خبرو ته ستاسو پام راګرځوم:

- هر هغه مذهب چي حلال شیان تحریم کړي او د انسان روغتیا او سلامتیا ته ئې مضر او د ده د معنوي ارتقاء په وړاندي ئې خنډ وګڼي، هغه غلط او د اسلام له

دائرې وتلی مذهب دئ.

- انسان ته د غوښي د خوراك له جوازه معلومېږي چي قرآن په دې اړه هم ډېر دقيق او علمي دريځ لري او د انسان فطري جوړښت ئې دقيقاً په پام کې نیولی، د ژورو علمي تحقيقاتو په نتيجه کې ثابته شوې چي د انسان جسمي جوړښت او د هاضمې جهاز ئې نه هغو حيواناتو ته ورته دئ چي يوازي واښه خوړی او هضموی شي او نه هغو ته چي يوازي غوښه خوړی او هضموی شي، بلکې ځيني برخي ئې يوې ډلې او ځيني ئې بلې ته ورته دي، له غاښونو او د تريخي د موادو له ترکيب ئې معلومېږي چي هغه د غوښي خوړلو او هضمولو توان لري، د دې تحقيقاتو له مخي په قاطع توګه دا حکم کولی شو چي هر هغه دين، مذهب او مسلك چي په انسان باندي د غوښي خوراك منع کوي، هغه د انسان د فطرت خلاف غیر علمي خبره کوي. په دې اړه هم د هندو مذهب دريځ غلط دئ او هم هغه نظريه چي په اروپا کې نوې راټوکېدلې او يوازي د نباتاتو په خوړلو تأکيد کوي او هم د تصوف په نامه هغه عقيده چي وايي: د معنوي ارتقاء لپاره بايد د غوښي له خوړو ډډه وشي، ځکه د غوښي خوراك زړه سختوي!!

- که څوك د حيوان ذبح کول د ترحم او عاطفې ضد عمل ګڼي، هغه بايد د يوه بوټي پرې کول، وريتول او سوزول هم د ترحم خلاف عمل وګڼي، بوټي هم ژوند او احساس لري، په ژوند او احساس کې ئې له حيواناتو سره توپير ډېر لږ دئ.

- ولې بايد يوازي پر انسان باندي دا حکم جاري او نور حيوانات ترې مستثنی کړو، ناچار بايد دا پرېکړه ټولو حيواناتو ته وغزوو او ووايو چي يو د بل خوړل ظالمانه عمل دئ، خو که دا غلطه او غيرطبيعي نظريه ومنلی شي، د يوه ژوي لپاره د بل قرباني کېدل متوقف شي او د ژوو ترمنځ د ارتباط او تعلق د لويي کړۍ په کوم ځای کې دا رابطه قطع شي، ټول ژوي به له منځه ځي. هره هغه نظريه چي دا

خبره کوي هغه غیرعلمي نظریه ده او خبره ئې د طبیعت د عام قانون خلاف خبره ده. بیا خو به زمریان د پیلانو او اوښانو په څېر د وښو په خوړلو مکلف کوو!! که په صحرا کې دا کار نشو کولی په کور کې به پشۍ له غوښې منع کوو او د پالکو خوړو ته به ئې اړ کوو.

# د انسان د هاضمې نظام

کومو علماوو چې د انسان او نورو ژوو په اړه څېړنې کړې دي، دې نتیجې ته رسېدلي چې د انسان د هاضمې نظام نه هغو حیواناتو ته ورته دئ چې یوازې غوښه خوري او د وښو، دانو او مېوو له خوړلو ډډه کوي، لکه زمری او پړانګ؛ نه هغو حیواناتو ته ورته دئ چې واښه او دانه خوري او د غوښې له خوړلو ډډه کوي لکه فیل، اوښ، غویی، انسان هم غوښه خوړی او هضمولی شي، هم دانه، مېوه او واښه، د غاښونو جوړښت او تریخی ئې د غوښې خوړونکو ژوو په څېر دي، مېوه او ځینې شینیلي او دانې له کوم تغییر پرته خوړی او هضمولی شي، خو غوښه او ځینې نور شینیلي او دانې له پخولو او نرمولو وروسته هضمولی شي. راشئ وګورو چې آیا قرآن د انسان په اړه د بحث په دوران کې دا حقیقت هم په پام کې نیولی که نه؟ د دې پوښتني په ځواب کې باید ووایو: هو؛ یقیناً چې قرآن دا حقیقت په پام کې نیولی!! قرآن انسان ته د جنت وعده ورکړې، جنت د مېوو باغ ته وایي، د لومړي انسان آدم علیه السلام لومړی هستوګنځی هم جنت ګڼي، او دا په واضح توګه ښیي چې د انسان اصلي خواړه مېوه ده، د هاضمې نظام ئې د مېوه خوړونکو ژوو په څېر دئ، خو د دې تر څنګ ئې غوښه انسان ته حلاله ګرځولې او دا ښیي چې قرآن د حلال او حرام په اړه د انسان جوړښت په دقیقه توګه په پام کې نیولی.

# سپین لاسوندی

که تاسو دا نن یوه سروې او محاسبه وکړئ او وګورئ چې د نړۍ ځومره خلکو به داسې ګړۍ په لاس کړې وي چې د ژېړ، تور او بل رنګ ګړۍ او بند په ځای ئې سپینې (سپینو زرو ته ورته) ګړۍ په لاس کړې دي نو درته جوته به شي چې ډېری خلك سپینو زرو ته ورته ګړۍ او بند ئې خوښوي، ځینې ئې سرو زرو ته ورته ژېړ رنګ خوښوي، لږ ئې تور بند او هغه هم د ځینو خاصو وجوهاتو له مخې، دا ښیي چې د لاس په مړوند کې لاس وند اچول یو انساني تمایل دئ، ډېری انسانان سپینو زرو ته ورته رنګ خوښوي او لږ ئې سرو زرو ته ورته رنګ. راشئ وګورو چې آیا قرآن هم دغه انساني تمایل ته ګوته نیولې که نه؟! د قرآن دغو آیتونو ته ځیر شئ:

عَٰلِيَهُمۡ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضۡرٞ وَإِسۡتَبۡرَقٞۖ وَحُلُّوٓاْ أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٖ وَسَقَىٰهُمۡ رَبُّهُمۡ شَرَابٗا طَهُورًا ٢١ الدهر: ٢١

ملبس په پرېږ او نازك شین بخن حریر او د سپینو زرو په لاس وندیو مزین، او خپل رب به ئې په پاکیزه شرابو خړوبه کړي.

دا آیت وایي چې په جنت کې به جنتیانو ته د ورېښمو شنه جامه او د سپینو زرو لاس وندي ورواغوستل شي!! په جنت کې د سپینو زرو لاس وند ته اشاره هم د انسان دې تمایل ته اشاره ده چې غواړي د سپینو زرو لاس وند ئې په لاس وي، مګر نه ګورئ چې اوس اکثر لاسونه، که د نارینه دي که د ښځو، په لاس وند مخصوصاً د ګړۍ بند سره ښایسته شوي، او اکثراً ګورو چې سپینو زرو ته ورته تر نورو زیات خوښوي.

أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَيَلۡبَسُونَ ثِيَابًا خُضۡرٗا مِّن سُندُسٖ وَإِسۡتَبۡرَقٖ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِۚ نِعۡمَ ٱلثَّوَابُ وَحَسُنَتۡ مُرۡتَفَقٗا ٣١ الكهف: ٣١

دوی هغه وګړي دي چې داسې تلپاتې جنتونه به ئې په برخه وي چې ترې لاندې ویالې بهېږي، د سرو زرو په لاس وندو به سینګار کړی شي او د نریو او پرېړو ورېښمو شنې جامې به اغوندي په داسې حال کې چې پر تختونو به تکیه کوونکي وي، څومره غوره ثواب او ښایسته تکیه ځی!!

ګورئ چې په جنت کې به د انسان دغه تمایل ته هم ځواب ویل کېږي، د زړه دا غوښتنه به ئې هم ترسره کېږي، د سرو زرو لاس وندي به وروا‌غوستل شي او د نریو او پرېړو ورېښمو شنې جامې به اغوندي!!

که لږ ځیر شئ دلته د انسان یوه بل تمایل ته هم اشاره شوې، شین رنګ او نرم لباس، که دا نری وي او که پرېړ، دا اوس د نړۍ د ډېری خلکو لباس شین بخن دئ، د اکثرو هېوادو د فوځیانو لباس دغه رنګ دئ، د انسان هغه سیمه خوښېږي چې ډول ډول شنو بوټو او ونو پوښلې وې، په داسې ځای کې دا خوښوي چې د ده جامه هم د سیمي له رنګ سره نږدې والی ولري.

# د ګناه او تندي تر منځ تړاو

د علمي څېړنو په ترڅ کې معلومه شوې چې د انسان مغز په څلورو مهمو برخو وېشل شوی، هره برخه ئې ځانګړي وظائف لري، او د بدن د غړو، افعالو، اطوارو، او افکارو اداره ورسپارل شوې، یوه برخه ئې د انسان د تندي شا ته پرته

ده، دې برخي ته د پرېکړو د مهم مرکز په سترګه کتل کېږي، د انسان د شخصيت ډېري برخي د دغه مرکز له لاري اداره کېږي، د مغز په دغي برخي کي هغه مراکز راغونډ شوي چي د انسان حرکات، وينا، ذکاوت، فهم او بصيرت، تدبر، سلوك او اخلاق اداره کوي. ابتکار، تميز، رښتيا ويل، دروغ ويل، نېك او بد کار کول او دې ته ورته چاري په دغه برخي پوري تړلې دي، څېړونکو د ځينو تجربو په ترڅ کي دا نتيجې ترلاسه کړې چي د کوم انسان د مغز دغه برخه له طبيعي حالته ووځي او مختل شي نو دا انسان د تميز او ابتکار توانمني له لاسه ورکړي، په سلوك کي ئې ژور تغييرات راشي، د مسئوليت احساس ئې کمزوری شي، شرارت ته مخه کړي.

راشئ وګورو چي آيا قرآن دې خبري ته کومه اشاره کړې که نه، د قرآن دغو آيتونو ته ځير شئ:

كَلَّا لَئِن لَّمۡ يَنتَهِ لَنَسۡفَعَۢا بِٱلنَّاصِيَةِ ١٥ نَاصِيَةٖ كَٰذِبَةٍ خَاطِئَةٖ ١٦

العلق: ١٥-١٦

نه، داسي نه ده، که دی منع نه شو، حتماً به ئې راکښ کړو د تندي له وېښتو، له دروغجن او خطاکار تندي.

ناصيه د تندي هغه ځای ته وايي چي وېښتان پرې راټوکېدلي وي، قرآن وايي چي د قيامت په ورځ به دوزخيان د تندي له وېښتانو ونيول شي او د وزخ لوري ته به کښ کړی شي، خو تندي ته د (کاذبه) او (خاطئه) نوم ورکوي!! ښايي ډېرو مخالفينو به د دې آيتونو په اورېدو سره دا اعتراضونه کړي وي چي د تندي ئې له کذب او خطاء سره څه؟!! ولې قرآن ناصيه د کاذبه او خاطئه په نامه ياد کړی؟!! خو دا دئ نن علم همغه خبره کوي چي قرآن څوارلس پېړۍ وړاندي کړې وه.

په دې مبارکو آيتونو کي ويل شوي: داسي نه ده چي دوی ئې انګېري، الله تعالی د دغو ټولو دردوونکو صحنو شاهد او ناظر دئ، حتماً به له دغو ظالمانو سره

محاسبه کوي، که دوی د مؤمنانو له مخنیوي لاس وانه خلي او د حقیقت له تکذیب او د حق له مخالفت ډډه ونکړي، حتماً به ئې د تندي له وېښتانو کلك ونیسو او د دوزخ لوري ته به ئې راکښ کړو، هماغسي لکه په دنیا کي چي ذلیل او سپك مجرم تر وېښتانو نیول کېږي، محکمې ته راکښ او مجازات کېږي.

# د ادراك مرکز زړه دئ که دماغ؟

په قرآن کي ځیني خبري زړه ته منسوب شوې، لکه چي د کافرانو په اړه فرمایي: (لهم قلوب لایفقهون بها)، (ختم الله علی قلوبهم) ...، په ګڼ شمېر نورو آیتونو کي هم دې ته ورته مطالب راغلي. د زړه په اړه د قرآن له دغو څرګندونو داسي معلومېږي چي ګواکي زړه د احساس او ادراك مرکز دئ، حال دا چي علمي تحقیقات زړه نه بلکي د انسان دماغ د احساس او ادراك مرکز ګڼي، او زړه یوازي د وینې د پمپ کولو وسیله بولي، دغه توپیر ته په پام سره له حقائقو بې خبره خلك اعتراض کوي چي قرآن ولي هغه څه زړه ته منسوب کړي چي په اصل کي د زړه کار نه بلکي د دماغ کار دئ. ولي ئې دا خبري د انسان دماغ ته نه دي منسوب کړې؟!! دې پوښتني ته د ځواب او د دغو کسانو د تشویش د رفع کولو لپاره لاندي وضاحت کوو:

قرآن چي څه زړه ته منسوب کړي، دا د نړۍ په هر ګوټ کي، د هر قوم لخوا او په هره ژبه کي زړه ته منسوب شوي، تاسو به په هر ځای کي له هر چا واورئ

چې مینه او کرکه، جرأت او جبن، تصدیق او تکذیب، خوښي او خفګان، باور او انکار زړه ته منسوبوي، په دې اړه د قرآن وینا نه د تعجب وړ ده، نه اعتراض پرې وارد او معقول دئ او نه د علمي تحقیقاتو خلاف ده. دا خبري نه یوازي په تورات، انجیل، زبور او ټولو مذهبي کتابونو کې زړه ته منسوب شوې؛ بلکې د مارکس، انګلز او لینین په څېر د ملحدینو په کتابونو کې هم، شعراوو هم زړه ته منسوب کړې او لیکوالانو هم، عوامو هم او علماوو هم، دیندارو شعراوو او علماوو هم او بې دینه شعراوو او ساینس پوهانو هم! دا ولې او د څه لپاره؟ دلیل ئې دا دئ:

زړه د دماغ لپاره د سترګو، غوږونو، ژبې، پزې او پوستکي په څېر یوه وسیله ده، که دغه پنځه حواس ئې د پېژندو او احساس وسائل دي نو زړه ئې د خپلو پرېکړو د انعکاس لپاره داسې وسیله ده چې له دې لارې خپلې پرېکړې اعلانوي. موږ په خپلو سترګو کوم خطرناك شی وګورو، او یا په غوږونو کوم خطرناك غږ واورو، او یا د پزې له لارې د څه د سوزېدو بوی او په ژبه کوم تریخ او زهرجن خوند احساس کړو، دماغ مو خطر درك کړي، غواړي موږ له دې خطره خبر کړي، نو د خطر دا اعلان زموږ د زړه له لارې کوي، خپله پرېکړه د زړه له لارې منعکس کوي، موږ د خطر لومړی زنګ په خپل زړه کې احساسوو، ناڅاپه مو د زړه دربا زیاته شي، همدا وجه ده چې په ټولو انساني ژبو کې وېره او د خطر احساس زړه ته منسوب شوی. هیڅوک به له هیچا وانه ورئ چې ډاډ او وېره له زړه پرته بل څه ته منسوب کړي، جرأتمند ته زړه ور او ډارن ته بې زړه د همدې لپاره ویل کېږي. د مینې او کرکې احساس په زړه کې کېږي، د خپل ګران زوی، لور او کوم دوست څېره راپه یاد شي، او له همدې سره سم په خپل زړه کې خاص حرکت احساس کړو، د همدې لپاره وایو: په زړه کې مې ځای لري، د زړه سر مې دئ، زړه مې ورته پرېشانه دئ. او له چا چې کرکه لرو، د څېرې په رایادولو سره ئې په خپل زړه کې خاص حالت احساسوو، او وایو: زړه مې ترې موړ دئ، زما په زړه کې هیڅ ځای ورته نه دئ پاته.

يوه خبره واورې، سمه درته معلومه شي، فيصله دي دماغ کړې، د غوږ له لاري لومړی دماغ ته رسېدلې، هلته ورباندي غور شوی، خو د دې غور نتيجه په خپل زړه کي محسوسوې، د همدې لپاره وايې: دا خبره مي زړه ته ولوېده، زړه مي راته وايي چي دا خبره رښتيا ده، او د غلطي خبري په اړه وايې: زما زړه ئې نه مني، دا خبره مي زړه ته ونه لوېده، د زړه دړه مي ورته خلاصه نه شوه.

زړه ته د دې خبرو منسوبول داسي دي لکه موږ چي لېدل سترګو ته منسوبوو، حال دا چي سترګي فقط دوه عدسيې دي چي له دې لاري نور دماغ ته انتقالېږي، د ليدل شوي شي په اړه پرېکړه په دماغ کي کېږي، ليدل په حقيقت کي د دماغ کار دئ نه د سترګو، که ستا د دماغ هغه برخه صدمه وګوري چي کار ئې ليدل او د سترګو له لاري د وررسيدلو وړانګو په اړه پرېکړه ده، نو ته به په خپلو روغو سترګو هم څه نه شې ليدلی. همدا راز زموږ غوږونه په حقيقت کي دوه کړکۍ دي چي له دې لاري غږ تر دماغ پوري رسېږي، د غږ تشخيص د دماغ کار دئ نه د غوږونو، همدا رنګه زموږ نور حواس هم چي هر يو ئې يوازي د دماغ لپاره د يوې وسيلې حيثيت لري، خپل راپور دماغ ته انتقالوي، تشخيص د دماغ کار دئ، نه د دغو حواسو. خو هيڅوك داسي نه وايي چي ما په خپل دماغ سره ليدلي، يا اورېدلي، يا څکلي، يا بوی کړي، يا لمس کړي، که داسي خبره وکړي نو هرڅوك به ورباندي خاندي، حال دا چي ده غلطه خبره نه ده کړې، د ده اشتباه او غلطي دا ده چي د خلکو د معمول او عادت خلاف خبره ئې کړې.

ما ته ووايئ: تاسو وېره چېري احساسوئ، په زړه کي که په دماغ کي؟ د ميني احساس د خپل وجود په کومي برخي کي کوئ، په زړه کي که په دماغ کي؟ د يوې خبري په حقانيت د قانع کېدو احساس مو په زړه کي وي که په دماغ کي؟ دا او دې ته ورته ډېر نور څه موږ په خپل زړه کي احساسوو او د همدې لپاره ئې زړه ته

منسوبوو، قرآن همدا کار کړی، او ټول انسانان همدا کار کوي.

په قرآن کې زړه ته منسوب شوي امور نه یوازي د حقیقت او واقعیت مطابق دي بلکې د انسانانو د عام عادت او معمول سره سم، او په ټولو ژبو کې زړه ته منسوب شوي امور دي.

# په ډېر زړښت کې حافظه له منځه ځي

د علمي څېړنو په ترڅ کې ثابته شوې چې د عمر په زیاتېدو سره د دماغ ځیني شرائین ورو ورو تنګېږي او خبره داسي ځای ته ورسېږي چې دا شرائین د دماغ هغي برخي ته وینه نشي رسولی چې وظیفه ئې حفظ او په یاد ساتل دي، دغه مهال د انسان حافظه په بشپړه توګه له کاره ولوېږي. قرآن دې حقیقت ته په دې الفاظو سره اشاره کړې:

**وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ ثُمَّ يَتَوَفَّىٰكُمۡۚ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡ لَا يَعۡلَمَ بَعۡدَ عِلۡمٖ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٞ قَدِيرٞ ٧٠** النحل: ٧٠

او دا خو الله دئ چې تاسو ئې پیدا کړئ بیا مو وفات کوي، او ستاسو ځیني تر ټولو ناکاره عمر ته رد کړی شي، داسي چې له پوهي وروسته په څه نه پوهېږي، بې شکه چې الله قدرتمن پوه دئ.

دا مبارك آیت له یوې خوا موږ ته وایي: چا چې تاسو پیدا کړي یئ او ستاسو د مرګ پرېکړه کوي هغه الله تعالی دئ، هغه ځینو ته دومره اوږد عمر ورکوي چې د

کمزوری او کمعلمی داسي حالت ته ورسېږي چي هر څه ترې هېر شي، زده کړی علم هم هېر کړي، ولي نه شئ کولئ د خپل مرګ مخنيوی وکړئ؟ ولي له دې عاجز يئ چي د زړښت په ځانګړې توګه د داسي زړښت مخه ونيسئ؟ آيا دا نه ښيي چي د يوه قدرتمن ذات د ارادې په وړاندي خاضع او خاشع يئ او د پرېکړو مخالفت ئې نه شئ کولی؟!! ستاسو پوهه او علم هم د الله تعالی يوه عطيه او ورکړه ده، د هغو استعدادونو په طفيل د زده کړي او په څه د پوهېدا توان ترلاسه کوئ چي الله تعالی درکړي، دا دئ ګورئ چي زړښت درباندي راشي او هغه استعدادونه کمزوري شي نو شته پوهه او زده علم مو له لاسه ورکړئ او په هيڅ نه پوهېږئ، په دې ټولو امورو کي د خالق رب د علم بې شمېره مظاهر له ورايه ځلېږي، ټول په دې ګواهي ورکوي چي د دې عالم خالق ښه پوه ذات دئ.

له بلي خوا په دې مبارك آيت کي د قرآن يو علمي اعجاز ځلېږي، د علمي څېړنو په ترڅ کي ثابته شوې چي د عمر په زياتېدو سره د انسان حافظه ورو ورو کمزورې کېږي او داسي پړاو ته ورسېږي چي په بشپړه توګه له کاره ولوېږي. او تاسو ګورئ چي قرآن دلته د (ينسی: هېروي) پر ځای لايعلم بعد علم شيئا الفاظ کارولي، که يوازي هېرول مراد وی نو د (ينسی) لفظ ورته کافي وو، خو قرآن د يوې لنډي صيغې پر ځای يوه فقره راوړې او په همدغي فقرې کي د قرآن يو ستر علمي اعجاز ځلېږي، ځکه د هېرولو دوه حالته دي: يو عام هېرول چي موقتاً د انسان حافظه يو څه هېر کړي، دا هېرېدا موقتي وي، اعاده ئې ممکن وي، ځيني عوامل هم د دې باعث شي چي هېره شوې خبره بېرته ورپه ياد شي، خو بل حالت ئې هغه دئ چي قرآن په دغه آيت کي ورته اشاره کړې، او دا هغه حالت دئ چي حافظه په بشپړه توګه له کاره لوېږي!!

# آیا خدای د انسان په څېر دئ؟

مسیح علیه السلام یوازینی هغه څوك نه دئ چي جاهلو قومونو د مغرضو او ټګمارو مذهبي مشرانو په وینا له هغه خدای او د خدای زوی جوړ کړی، ډېرو نورو جاهلو قومونو خدای انسان ته او انسان خدای ته ورته ګڼلی او له خپلو محبوبو شخصیتونو ئې خدایان جوړ کړي، یهودانو، بودایانو او هندوانو دا کار کړی، ډېرو نورو همداسي د زمکي او آسمان خالق خدای د انسان په څېر ګڼلی، زمکي ته او خپل کلي ته ئې راکوز کړی او په یوې مجسمې او حتی په یوه قبر کي ئې ځای پر ځای کړی، هغه ئې خدای ګڼلی او ځان ئې د خدای محبوب او نازولی قوم او خپله خاوره مقدسه خاوره، داسي ډېر مصلح شخصیتونه او د الله پیغمبران تېر شوي چي یوه امپراطور باغي ګڼلي او په مرګ ئې محکوم کړي خو د ده رقیب راغلی او له همدې باغي ئې معبود جوړ کړی، دا سیاست دئ چي له پیغمبره باغي جوړوي او له باغي معبود.

په مسلمانانو کي هم یوه داسي ډله راپیدا شوه چي الله له انسان سره او انسان له الله سره تشبیه کوي، دوی هم د ادریان روجرز کشیش خبره کوي او وایي چي الله انسان د خپل صورت په بڼه کي پیدا کړ، دا عقیده ئې له اسرائیلي روایاتو اخیستي ده خو د هغه لپاره ئې په روایاتو کي داسي تأویلونه کړي چي دې خرافي عقیدې ته اسلامي رنګ ورکړي، دوی د پیغمبر علیه السلام په دې حدیث استناد کوي چي فرمایي:

إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْتَنِبِ الْوَجْهَ وَلَا يَقُلْ قَبَّحَ اللَّهُ وَجْهَكَ وَوَجْهَ مَنْ أَشْبَهَ وَجْهَكَ فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ خَلَقَ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَام عَلَى صُورَتِهِ * رواه احمد

که چا بل څوك وهلو نو بايد په مخ ئې ونه وهي او داسي ونه وايي چي خدای تعالی دي ستا او تا ته د ورته کس مخ تور کړي، ځکه الله تعالی، آدم علیه السلام د ده په بڼه او شکل کې پيدا کړ.

په دې حديث کې چي مفهوم ئې ډېر روښانه دئ او د صافو زړونو خاوندانو ته په هغه کې د هيڅ اشتباه مجال نشته، خو هغه کسان چي رنځور زړونه لري او له اسرائيلي رواياتو متأثره شوي، وايي: په (صورته) کې ضمير الله تعالی ته راجع دئ، ګواکې الله تعالی؛ آدم علیه السلام خپل ځانته ورته پيدا کړ!!!

که تاسو لږ پورتني حديث ته ځير شئ، په واضح توګه ګورئ چي دلته د دوو کسانو ترمنځ شخړي ته اشاره شوې، رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حکيمانه لارښوونه کوي چي د جګړی په وخت کې يو بل په مخ مه وهئ، داسي مه وايئ چي خدای تعالی دي ستا او تا ته ورته مخ تور او قبيح کړي، ځکه چي الله تعالی، آدم علیه السلام هغه ته په ورته شکل او صورت کې پيدا کړی، او په دې سره ته خپل جد ته ښکنځل کوې. په دې پوهېږو چي د دښمنۍ او جګړي په وخت کې هر انسان د مقابل لوري له مخ او څېرې په خپل زړه کې د نفرت،کينې او کرکې احساس کوي، د مقابل طرف د نفرت او کرکې آثار هم د هغه په څېرې او مخ کې راڅرګند شي، په سترګو کې ئې د قهر او غصی نښې راښکاره شي، نو ځکه د ده غصه او کرکه د مقابل لوري او دښمن مخ او سترګو ته متوجه کېږي، همدې برخې ته پام اړوي او خپل داخلي قهر داسي څرګندوي: سترګي دي راباسم، پزه دي پرې کوم، مخ دي تور، سترګي دي ړندې شه، دا مردار مخ دي داسي او داسي شه، په دې الفاظو هم اکتفا نه کوي بلکې لاس پورته کوي او غواړي پر مخ ئې يوه کلکه څپېړه ورکړي، خوله ئې

په سوك ورماته کړي. رسول الله صلى الله عليه وسلم په جګړه د بوختو افرادو روحي حالت ته په پام سره او د دوی د قهر او غضب د سړولو لپاره فرمايي: خدای تعالی خپل بنده او ستاسو ټولو پلار آدم عليه السلام په داسي څېرې او شكل كي پيدا کړی وو لكه دا ستا مقابل لوری، دا له تاسره په جګړه او شخړه بوخت ستا ورور، خپل پلار ته د احترام په دود بايد هغه پر مخ ونه وهې او د مخ په اړه ئې سپکي خبري ونه کړې. كه د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا حكيمانه لارښووني مراعات شي او د شخړو او مشاجرو په وخت كي په پام كي ونيول شي، نو د ډېرو فتنو او جګړو مخنيوی به وشي. خو ګورئ چي دغه حكيمانه ارشاد د كږو زړونو خاوندانو څومره کوږ تعبير کړی او څنګه كږه معنی ئې ترې ايستلې؟!!

# د انسان غږ او حرکات ثبتېږي

قرآن وايي چي د انسان هر څه، هره وينا او هر عمل، د زړه هره خبره، اراده او نيت ثبت كېږي او د قيامت په ورځ به ده ته په ليكلې او مجسمه بڼه كي وروښودل شي، په دې اړه د قرآن دغو آيتونو ته ځير شئ:

**إِذَا زُلْزِلَتِ ٱلْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ١ وَأَخْرَجَتِ ٱلْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ٢ وَقَالَ ٱلْإِنسَٰنُ مَا لَهَا ٣ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ٤ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ٥**

الزلزال: ١-٥

كله چي دا زمكه په خپلې لړزېدا سره ولړزي. او دا زمكه خپل درانه راوباسي. او انسان ووايي چي څه پرې شوي؟ په دې ورځ به خپل اخبار بيانوي. دا ځكه چي ستا رب به ورته وحي کړې وي.

باید وگورو چي څه به په دې ورځ د انسان د حیرانتیا سبب شي؟! د زمکي کوم حرکت به دی په حیرت کې واچوي او دې ته به ئې مجبور کړي چي ووایي: په دې زمکي څه شوي؟ آیا د زمکي هیبتناکه زلزله به ئې حیران کړي؟ یا له قبرونو د انسانانو راپاڅېدا او یا د انسان په خلاف د زمکي شهادت؟

په لږ دقت سره په دې خبري پوهېدی شو چي په دې آیت کې ښودل شوی حیرت به نه خو د زمکي د سختي زلزلې په وجه وي، ځکه چي دا زلزله به مخکي او له قبرونو نه د انسانانو له راپاڅېدو د مخه وي او نه به له قبرونو د انسانانو د راوتو په سبب وي، ځکه چي دوی په خپلو سترګو له قبر نه خپل راوتل نه ګوري او نه پرې پوهېږي، داسي لکه چي له میندو خپل راپیدا کېدا نه ګوري او نه وروسته ور په یاد وي. دا هم سمه نه ده چي ووایو ځیني به د ځینو نورو بیاراپاڅېدا ګوري، ځکه د دې خبري لپاره هم څه دلیل نشته. د یس د سورې ۵۲ آیت ښیي چي د آخرت منکران به له راژوندي کېدو وروسته یو له بله پوښتنه کوي چي موږ چا له خپلو قبرونو راپاڅولو؟ من بعثنا من مرقدنا؟ په ځواب کې به ورته ویل کېږي: هذا ماوعدالرحمن و صدق المرسلون: دا همغه څه دي چي رحمان خدای ئې وعده کړې وه او پیغمبرانو رښتیا ویلي وو. دا آیت ښیي چي د قیامت په ورځ به انسانان په دې نه پوهېږي چي څنګه بیاراژوندي شوي. مؤمنان به نورو ته وایي چي دا خو د الله تعالی همغه وعده وه چي د پیغمبرانو له لاري ئې له موږ سره کړې وه او دا ده نن ثابته شوه چي پیغمبرانو علیهم السلام رښتیا ویلي وو.

له دې ټولو معلومېږي چي د انسان د حیرت سبب به د زمکي هغه شهادت وي چي د انسانانو د کړو وړو په اړه به ئې ورکوي. قرآن فرمایي چي په دې ورځ به د زمکي تر څنګ د انسان سترګي، غوږونه، لاس او پښې او پوستکی هم د ده په عملونو شهادت ورکوي:

حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ عَلَيۡهِمۡ سَمۡعُهُمۡ وَأَبۡصَٰرُهُمۡ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٢٠ وَقَالُواْ لِجُلُودِهِمۡ لِمَ شَهِدتُّمۡ عَلَيۡنَاۖ قَالُوٓاْ أَنطَقَنَا ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنطَقَ كُلَّ شَيۡءٖۚ وَهُوَ خَلَقَكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٢١ فصلت ٢٠-٢١

تر هغه چي (اور ته) نږدې ورشي، غوږونه، سترګي او پوستکي به ئې په عملونو شهادت ورکوي. او خپلو پوستکو ته به وايي: ولې زموږ په ضد شهادت ورکوئ؟ ورته وايي به: هغه الله په خبرو راوستي يو چي هر څه ئې په خبرو راوستي او هغه په اول ځل پيدا کړئ او د هغه لوري ته ورګرځول کېږئ.

دا آيت ښيي چي د زمکي هر څه به هغه ورځ شهادت ورکوي. ابوهريره رضى الله عنه روايت کوي چي پيغمبر عليه السلام دا آيت (يومئذ تحدث أخبارها) تلاوت کړ او وئې فرمايل: آيا پوهېږئ چي زمکه به کوم اخبار بيانوي؟ صحابه وو وويل: الله او رسول ئې ښه پوهېږي، پيغمبر عليه السلام وفرمايل: د زمکي اخبار بيانول هغه شهادت دئ چي زمکه به ئې د بندګانو د هغو عملونو په اړه ورکوي چي د زمکي پر سر ئې کړي، وايي به: په فلانۍ ورځ ئې فلانى فلانى کار وکړ، دا د زمکي اخبار دي چي هغه به ئې بيانوي.

عن أبي هريرة قال: قرأ رسول الله صلى الله عليه وسلم هذه الآية "يومئذ تحدث أخبارها" قال "أتدرون ما أخبارها؟" قالوا الله ورسوله أعلم. قال "فإن أخبارها" أن تشهد على كل عبد أو أمة بما عمل على ظهرها أن تقول عمل كذا وكذا يوم كذا فهذه أخبارها" رواه النسائي

عن ربيعة الجرشي أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال تحفظوا من الأرض فإنها أمكم وإنه ليس من أحد عامل عليها خيرا أو شرا إلا وهي مخبرة. رواه الطبراني

له ربيعة الجرشي رضي الله عنه روايت شوی چي پيغمبر عليه السلام وفرمايل: له

زمکي سره په خپل چلن کې احتیاط کوئ، ځکه چې زمکه ستاسو مولد او بنسټ دئ (چې ترې پيدا شوي يئ) او هيڅ داسي عمل کوونکی نشته چې د زمکي پر سر ئې ژوند کړی وي او دا دي د ده په ښه او بد عمل شهادت ورنکړي.

د على رضي الله عنه په اړه راځي چې کله به ئې د بيت المال اموال په مستحقينو ووېشل او هغه به ئې تش کړ نو دوه رکعته لمونځ به ئې هملته اداء کړل او بيت المال ته به ئې په خپل خطاب کې وويل: ته شاهد يې چې ما په حقه ډك او په حقه تش کړې (يعني نه مي څه حرام مال درکي واچاوو او نه مي ستا کوم څه په حرامه لار مصرف کړ).

پيغمبر عليه السلام فرمايي: (چې کله د لمانځه وخت راورسېږي په لوړ غږ آذان وکړئ، د غرونو او زمکي څه ئې چې واوري د قيامت په ورځ به شهادت ورکوي.

دغه زمکه چې ته ئې مړه او بې حسه ګڼې او په بې باکۍ سره ئې پر سر ګناهونه کوې، د قيامت په ورځ به ستا ټول ښه او بد عملونه بيان کړي.

ما ته ووايئ: ۱٤۰۰ کاله مخکي به د دې وينا په اړه د مخالفينو عکس العمل څنګه وو ( چې زمکه به خپل ټول اخبار بيان کړي)؟ آيا په دې خبري به ئې په خپلو کې ډېر ډېر نه وي خندلي او په ټوکو ټوکو به يوه بل ته نه وي ويلي چې دا دئ محمد (عليه السلام) دا ادعاء هم وکړه چې دا مړه زمکه به په خبرو راشي او د انسان په ښه او بد عمل به شهادت ورکوي؟!! خو راشئ د قرآن دا وينا نن يوه داسي ساينس پوه ته وکړئ چې د علمي څېړنو په نتيجه کې دا ورته معلومه شوې چې د زمکي سطح او فضاء د انسان هر هر غږ او هر هر حرکت ثبتوي، هغه ساينس پوه چې نن په ډېر قاطعيت سره وايي: د انسان د غږ او خوځښت څپې د زمکي په سطح او فضاء کې داسي ثبت کېږي چې د تل لپاره دوام کوي او زرګونه کاله

وروسته هم کولی شو دا امواج او اثرات په پرمختللو وسائلو کشف او ترلاسه کړو. که دغه ساینس پوه ته ووایئ چي قرآن څوارلس پېړۍ مخکي دا خبره کړې، عکسل العمل به ئې څه وي؟ آیا کېدی شي له دې پرته بل څه ووایي چي قرآن حتماً له داسي مرجع راغلی چي په ټولو اسرارو پوه دئ؟

ستا ژبه او شونډې، ستا ستونی او حنجره چي ستا د تکلم وسائل دي او په دې سره د خپل زړه خبري بیانوې، ټول له دغو خاورو جوړ شوي، همدا خاوره ده چي ستا د ژبې، شونډانو او حنجرې مالیکولونه ترې جوړ شوي او د ما في الضمیر په بیانولو کې ستا مرسته کوي، د قیامت په ورځ به په خپلواکه او مستقله توگه په خبرو راشي او شهادت به ورکوي.

ولي به زمکه په هغه ورځ خپل اسرار راباسي، ټولي خبري به بیانوي او هر هغه څه به په ډاگه کوي چي د دې پر سر تېر شوي؟ دا ځکه چي الله تعالی ورته وحي کړې چي نن هر څه ثبت او د قیامت په ورځ ئې بیان کړه.

د (یوحی) په ځای د ( اوحی) د صیغې راوړل ښیي چي زمکي ته له مخکي (الهام) شوی چي ټول جریانات به ثبتوي او د قیامت په ورځ به ئې بیانوي، یعني زمکه دا اوس اوس د ټولو جریاناتو شاهده او ناظره ده، هر څه احساسوي، حفظ کوي ئې او د قیامت په ورځ به ئې د انسان مخي ته ږدي.

# حیوانات، مرغان او خزندې قبیلې دي

کومو څېړونکو او علماوو چي د ژوو په اړه څېړني کړې دي ورته جوته شوې

چي دوی هم د انسانانو په څېر ډلې ډلي او قبیلې قبیلې دي، تر منځ ئې هم له نسبي پلوه مضبوطي اړیکي وي او هم د عاداتو او خصلتونو له پلوه ژور شباهتونه او ورته والی. د خپل اجتماعي ژوند لپاره خاص نظام، ضوابط او مقررات لري، ټول د دغو ضوابطو مراعات کوي، په دې اړه ګڼ شمېر کتابونه لیکل شوي، فیلمونه جوړ شوي، د مېږیو، موچیو، زاڼو، ډول ډول ایلیو، او ګڼ شمېر نورو ژوو په اړه تحقیقات شوي چي دا لړۍ روانه ده، هره میاشت د ژوو د اجتماعي ژوند په اړه نوي فیلمونه او نوي کتابونه خپرېږي، چي ښه ډېر لیدونکي او لوستونکي لري. قرآن په دې اړه څوارلس پېړۍ مخکي هغه څه ویلي چي انسان اوس پرې پوه شوی. دې آیت ته ځیر شئ:

**وَمَا مِن دَآبَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا طَٰٓئِرٖ يَطِيرُ بِجَنَاحَيۡهِ إِلَّآ أُمَمٌ أَمۡثَالُكُمۚ مَّا فَرَّطۡنَا فِي ٱلۡكِتَٰبِ مِن شَيۡءٖۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يُحۡشَرُونَ ٣٨** الانعام: ٣٨

او نه په زمکي کي داسي هیڅ خوځېدونکی شته او نه (په هوا کي) په دواړو وزرونو الوتونکی مرغه، چي ستاسو په څېر دي ټولی ټولی نه وي، په دې کتاب کي مو هیڅ څه نه دي پرېښي، بیا به د خپل رب لوري ته ورټول کړی شي.

په دې مبارك آیت کي له یوې خوا ویل شوي چي الله تعالی هر مخلوق له ځانګړو خصوصیاتو سره پیدا کړی، ژوي ئې د بېلو بېلو ځانګړتیاوو سره ټولی ټولی پیدا کړي، لکه دا چي ځیني حیوانات پر زمکه خوځېږي او لکه مرغان چي پر خپلو وزرونو الوځي، انسان ئې هم له خاصو ځانګړتیاوو سره پیدا کړی، د ده ستره ځانګړتیا دا ده چي انتخاب کولی شي، که دا د انتخاب ځانګړتیا ترې واخیستل شي او د کومي خبري په منلو مجبور کړی شي، بیا خو د ده امتیاز له منځه ځي او د نورو مجبورو او بې اختیارو حیواناتو په څېر ګرځي، الله تعالی نه غواړي له انسان سره داسي معامله وکړي. له بلې خوا ویل شوي چي دا ټول ژوي د انسانانو په څېر قبیلې

قبیلې پیدا شوي!! او دا همغه څه دي چي محققین اوس پرې پوه شوي.

د آیت په پای کې ویل شوي چي په قرآن کې ټول هغه دلائل ویل شوي چي عقلمن او د هدایت په لټه کې انسان ته کفایت کوي.

# نور ژوي هم د افهام او تفهیم لپاره الفاظ او اشارې لري

هغه محققین چي د ژوو په اړه ئې څېړني کړې دي دې نتیجې ته رسېدلي چي نور ژوي هم د انسانانو په څېر د افهام او تفهیم لپاره خپلي خپلي ژبې او الفاظ لري، په خاصو غږونو سره یو بل پوهوي، یو بل وربلي، ځینو د ژوو د خاص ډول ګڼ شمېر الفاظ ثبت کړي چي هر یو ئې په خاص حالت کې خاصه معنی لري او یو بل ته په هغه سره خاص مطلب انتقالوي. قرآن په دې اړه فرمایي:

**حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَوۡاْ عَلَىٰ وَادِ ٱلنَّمۡلِ قَالَتۡ نَمۡلَةٞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمۡلُ ٱدۡخُلُواْ مَسَٰكِنَكُمۡ لَا يَحۡطِمَنَّكُمۡ سُلَيۡمَٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ١٨** النمل: ١٨

تر هغه چي (سلیمان او لښکري ئې) د مېږیو سیمي ته ورسېدل، یوې مېږۍ وویل: اې مېږیو! خپلو هستوګنځیو ته ننوځئ، داسي نه چي سلیمان او د ده لښکري تاسو تر پښو لاندي کړي په داسي حال کې چي هغوی به نه پوهېږي.

دا مبارک آیت نه یوازي دا خبره کوي چي مېږي په خپلو منځونو کې خبري کولی شي بلکي پر دې سربېره څو نورو مهمو خبرو ته اشاره کوي: دوی مشر لري، مشره ئې ملکه ده، هغې ورته امر وکړ چي خپلو هستوګنځیو ته ننوځئ، هغه

پوهېده چي د سليمان لښکر راروان دئ، که مېږي خپلو کورونو ته داخل نشي تر پښو لاندي کېږي!!

د موريس ميترلينګ په نامه يوه غربي محقق د ځينو حشراتو پر ژوند څېړني وکړې، څو کتابونه ئې وليکل، دې ليکنو ده ته د ټولي نړۍ په کچه شهرت ورکړ، ما د ده ځيني ليکني هغه مهال لوستلې دي چي لا محصل وم، د مېږيو د ژوند په اړه د ده کتاب ډېر جالب وو، د هغه په کتاب کي مي لوستلي وو چي مېږي په خپل کور کي د غذا د ساتلو لپاره نه يوازي خوندي ځايونه جوړوي بلکي داسي دوا پرې وهي چي له ګنده کېدو ئې مخنيوی وکړي، ډاکټران لري چي بيماران تداوي کوي، کله کله ناروغ مېږی له کوره راباسي او لمر ته ئې اچوي او بيا ئې بېرته کور ته ننباسي، ځيني نباتات کري، يو ډول خړه حشره (کوخۍ) چي په پسرلي کي د ونو په پاڼو کښېني او ډېره سوکه سوکه خوځېږي دا اهلي کوي او پالي ئې چي دوی ته يوه خوندوره عصاره جوړوي او په بدل کي ئې دوی ورته خوراك ورکوي، د خوراك موندلو ځانګړی ټولګی لري، کله چي چېري خوراکي توکي ومومي نورو ته اطلاع ورکوي او په يوه ليکه ځان هغه ځای ته رسوي، د ګډ کار پرېکړه کوي او په ګډه پرې لګيا کېږي، دقيق نظام لري، د هر کار لپاره بېل بېل ټولګی موظف وي، د هري ډلي وظيفه مشخصه وي، يو د بل په کارونو کي تشبث نه کوي، يو پر بل ظلم نه کوي، فقير او غني نه لري، ټول د يوې کورنۍ د برابرو غړو په توګه ژوند کوي، ځان ته خوندي کور جوړوي، که تر زمکي لاندي وي، يا د کوم دېوال اړخ کي يا کومي ستني کي نو داسي ئې جوړوي چي له اوبو خوندي وي، حتي که سيمه اوبه ونيسي د دوی کور ته اوبه نه ننوځي، ځان ته لار جوړوي، تګ راتګ ئې په همدغي ثابتي لاري وي، کله چي دوه په لار کي سره مخامخ شي د خپلو ښاخونو له لاري تماس نيسي او له همدې لاري يو بل وپېژني، خپله خبره سره رد و بدل کړي، که پردی وي مخه ئې نيسي، که په دغي لاري کي د کوم مېږي مړی ومومي، فوراً شا ته ځي، نور

خبروي، اړوند مېږي راځي او د مړي جسد انتقالوي، منظم جنګونه لري، د جګړې له میدانه خپل ټپیان انتقالوي، د معالجې لپاره مؤظف ډاکټران لري، او دې ته ورته ډېر نور عجائب چي انسان په حيرت کي غورځوي، وايي: يو ځل د انګلستان په يوې سيمي کي له انسانانو سره د مېږيو جګړه پيل شوه، انګرېزان ئې پسي واخيستل، دومره چي مجبور شول د دوی په وړاندي خندق وکني او له اوبو ئې ډك کړي چي مخه ئې ونيسي!!

همدا راز که پورتني آيت ته ځېر شئ نو وبه ګورئ چي قرآن د مېږيو مشره د نملة په نامه يادوي او وايي قالت نملة: يوې مېږۍ وويل، د څېړنو په ترڅ کي څرګنده شوې چي د مېږيو د کورنۍ مشره د موچيو په څېر ملکه (ښځينه مشره) وي، دنده ئې د هګيو اچول او د ټولي کورنۍ پالل او اداره کول وي، د کورنۍ کارګراني ښځينه مېږۍ دي خو ټولي شنډې وي او هګۍ نه اچوي!! همداراز د څېړنو په ترڅ کي جوته شوې چي په يوې کورنۍ کي تر لسو پوري مشري وي، دوی د همدې مشرۍ او هګيو اچولو لپاره غوره کېږي، قرآن دلته ويلي چي يوې مېږۍ وويل، داسي الفاظ نه دي راغلي چي يوازينۍ مشره افاده کړي، بلکي له څو يوې ته اشاره شوې، او دا يقيناً چي له هره پلوه د څېړونکو له وينا سره په دقيقه توګه تطابق لري. اوس نو تاسو ووایاست چي د مېږيو په اړه د قرآن دغه وينا يو ستر علمي اعجاز نه دئ؟! آيا پر قرآن د ايمان راوړو لپاره دغه اعجاز کافي نه دئ؟!! که تاسو د قرآن دا وينا د هغه چا په وړاندي کېږدئ چي د مېږيو د ژوند په اړه ئې ژوري څېړني کړې دي او لنډه موده وړاندي ورته جوته شوې چي د مېږيو مشره ښځينه وي؛ ما ته ووايئ د دې وينا په وړاندي به ئې غبرګون څنګه وي؟ په ځانګړې توګه که تاسو د عنکبوت (غڼه) او موچيو په اړه هم د قرآن هغه يناوي ورته تشريح کړئ چي هره يوه ئې يو ستر علمي اعجاز دئ، آيا له دې پرته بله چاره لري چي ووايي: د قرآن دا ويناوي زموږ د ژورو تحقيقاتو له نتائجو سره په بشپړه توګه

ورته دي، او که ترې پوښتنه وکړئ چې نو رسول الله  صلى الله عليه و سلم څنګه دا حقائق درك کړل؟ ځواب به ئې يا دا وي چې ووايي: دا ويناوي حتماً الهي منشأ لري، د يوه عادي انسان له توانه ډېره لوړه ده چې د څوارلسو پېړيو وړاندي شرائطو کې په داسي حقائقو پوه شي، او که د ايمان راوړو سعادت ئې په برخه نشي نو حتماً به په حيرت کې لوېږي او لږ تر لږه دا به د رسول الله  صلى الله عليه و سلم په لوړ نبوغ حمل کوي.

# د غڼې ځاله

قرآن هغه څوك له غڼې سره تشبيه کوي چې له الله تعالى پرته بل څه ته پناه وړي، د فرعون، قارون او هامان او د ګڼ شمېر نورو ځواکمنو قومونو د بدو پايلو له يادولو وروسته دا خبره کوي: د هغو خلکو چې له الله پرته نور مرستندويان نيسي مثال د هغې غڼې په څېر دئ چې ځان ته ئې کور ونيو، دا په داسي حال کې چې تر ټولو سست کور د غڼې کور دئ، کاش پوهېدی.

مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡلِيَآءَ كَمَثَلِ ٱلۡعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتۡ بَيۡتٗاۖ وَإِنَّ أَوۡهَنَ ٱلۡبُيُوتِ لَبَيۡتُ ٱلۡعَنكَبُوتِۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٤١ العنكبوت: ٤١

په دې مبارك آيت کې د (اتخذت) صيغه راغلې، چې د مؤنث صيغه ده او ښيي چې دا کور ښځينه غڼې جوړوي، او دا هغه خبره ده چې نن ئې محققين کوي، نه

يوازي د قرآن د نزول په وخت کې هيڅوك په دې حقيقت نه پوهېدل بلکې تر نولسمي پېړۍ وړاندې څوك له دې حقيقته خبر نه وو، چا چې د غڼو د ژوند په اړه څېړنې کړې دي ورته جوته شوې چې د ځالې د جوړولو دنده د ښځينه غڼې په غاړه وي!! نارينه ئې د ځالې په جوړولو کې هيڅ لاس نه لري.

دې ته مو پام وي چې د غڼې ځاله يوازې د غڼې کور نه وي بلکې د ښکار دام هم وي، په همدې کې نور حشرات لکه مېږي، ماشي او مچان نښلي او دوی ئې خوري. ډېر نور ژوي هم داسې دي چې د ښکار دنده د ښځو په غاړه وي، د بېلګې په توګه د زمريانو نارينه په ځانګړې توګه هغه مهال چې ستړ او درونډ شي په ښکار کې برخه نه اخلي، ښځه ئې ښکار کوي او بيا ئې لومړی نارينه ځان پرې موړ کړي او وروسته ئې ښځه په خوراك پيل وکړي!!

د ځالې په جوړولو کې چې الله تعالی غڼې ته کوم استعداد ورکړی د ډېر حيرت وړ دئ، څومره منظمه ځاله جوړه کړي، د تارونو تر منځ ئې فاصله څومره دقيقه وي، يو ماهر او مسلکي انجنير ئې په آسانۍ او له پرمختللو وسائلو له استفادې پرته نشي جوړولی، هغه هم له داسې نازك تار چې په خپله ئې توليدوي!!

# د بليك هول په اړه د قرآن وينا

په شلمي پېړۍ کې ستور پېژاندو د قوي تلسکوپونو په مرسته داسې ستر ستر ستوري وموندل چې د جاذبې قوه ئې دومره زياته او ځواکمنه ده چې خپل نور ئې هم نه شي ترې وتلی، د نور وړانګې ئې د قوي جاذبې له منګولو بهر نه شي وتلی، موږ دا ستوري په عادي سترګو نه شو ليدلی، ځکه چې نور ئې نه خورېږي، دغو

ستورو ته ئې د بليك هول (black hole) توره سوړه يا توره کنده نوم ورکړی، دا توري کندي په حقيقت کې تش او تور ځايونه نه دي بلکې ستوري دي چې جرم ئې ډېر ستر او کتله ئې ډېره متکاثفه او درنه ده، د جاذبې قوه ئې دومره قوي او ځواکمنه ده چې د نور وړانگي ترې خوربېدی او تښتېدی نه شي، د نور هره وړانگه چې ترې وتل وغواړي د همدې جاذبې په وسيله بېرته جذب کېږي. تحقيقات وايي چې ستر ستر ستوري په خاص حالت کې په دې برخليك اخته کېږي. راشئ وگورو چې آيا په قرآن کې دې کشف ته اشاره شوې که نه؟ د قرآن دې آيت ته ځير شئ:

إِذَا ٱلشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ ١ وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتۡ ٢ التکوير: ١-٢

کله چې راتاو کړی شي دا لمر. او کله چې تياره شي دغه ستوري.

د دې مبارکو آيتونو په اړه لاندي خبري په پام کې ولرئ:

- دلته د لمر د تياره کېدو لپاره د (کورت) صيغه راغلې او د ستورو د تياره کېدو لپاره د (انکدرت) صيغه! تکوير په اصل کې په گرد شي د څه راتاوولو ته وايي او (کدر) تياره کېدا ته وايي، له دې معلومېږي چې د لمر رڼا به په خپله پر لمر راتاو او راغونډه شي او بهر به نه وځي، کله چې دا کار وشي نو ټول هغه ستوري به تياره شي چې خپله رڼا له لمر اخلي، لکه زمکه، سپوږمۍ، مريخ او مشتري.
- په دې آيتونو کې د قيامت د لومړۍ مرحلې څو ستري هيبتناکې صحنې انځور شوې:

١- هغه وخت چې لمر به په خپل ځان راتاو کړی شي، داسي لکه څوك چې خپله پگړۍ پر سر راتاو کړي. د لمر دا وړانگي چې نن د شمسي نظام هري خوا ته تر لرو لرو خورېږي، د قيامت په ورځ به ئې خورېدل بند شي او لمر به له سترگو پټ شي، د بيان دا انداز لږ عجيب غوندي برېښي، مفسرينو ئې بېل بېل تعبيرونه کړي، تر ټولو غوره تعبير هغه دئ چې وايي د لمر رڼا به پرې راتاو شي، بيا به ئې رڼا نه

خورېږي، د دې تعبير په اهميت هلته ښه پوهېدی شو چې د لمر او نورو ځلانده سترو ستورو په اړه د کائنات څېړونکو هغه تحقيقي نظريه واورو چې د شلمي پېړۍ په پای کې او له ډېرو تحقيقاتو وروسته وړاندې شوه. له دې آيته دوه تعبيره درلودی شو:

الف - زموږ لمر چې نن، ځلانده، روڼ او تود دئ، ورو ورو به سوړ شي، ځلا او رڼا به ئې کمه شي، په پای کې به په سوړ او تياره ستوري بدل شي، داسې لکه ډېر نور ستوري چې په سر کې ځلانده ول خو ورو ورو تياره شوي، لکه زموږ زمکه چې له لمر او نورو ستورو د راجلا کېدو په وخت کې توده، ځلانده او روښانه وه، ورو ورو سړه شوه، چې نن خپله رڼا او تودوخه له لمره اخلي، يوازې په زړه او تل کې ئې خپل مخکنی حرارت ساتلی او هر څه په کې ويلې دي، خو بهرنۍ برخه ئې سړه او تياره ده، لمر به هم په همدې برخليك اخته شي، رڼا او تودوخه به ئې ختمه شي.

ب- کائنات څېړونکو د هغو تحقيقاتو په لړ کې چې د شلمي پېړۍ په وروستيو لسيزو کې ترسره شول، داسې ستر ستر ستوري وموندل چې د جاذبې قوه ئې دومره زياته او ځواکمنه ده چې خپل نور ئې هم نه شي ترې وتلی، د نور وړانگې ئې بهر نه شي خورېدی او د قوي جاذبې له منگولو ئې بهر نه شي وتلی، موږ دا ستوري په عادي سترگو نه شو ليدلی، دغو ستورو ته ئې د بليك هول (توره کنده) نوم ورکړی، دا توري کندې په حقيقت کې تش او تور ځايونه نه دي بلکې ستوري دي چې جرم ئې ډېر ستر او کتله ئې ډېره متکاثفه او درنه، د جاذبې قوه ئې دومره قوي چې نور ترې تښتېدی نه شي. تحقيقات وايي چې ستر ستر ستوري په خاص حالت کې په دې برخليك اخته کېږي. د قرآن له دغو الفاظو معلومېږي چې لمر به هم يو وخت له داسې حالت سره مخامخ شي چې رڼا به ئې په خپل ځان راتاوېږي او د خورېدو مخه به ئې نيول کېږي!! که لږ دقت وکړو نو گورو چې په دې مبارکو آيتونو کې

لومړی د لمر او بیا د ستورو تیاره کېدو ته اشاره شوې، خو د لمر لپاره د تکویر (راتاوول) لفظ کارول شوی او د ستورو لپاره د انکدار (تیاره کېدل) لفظ، له دې په واضح توګه معلومېږي چې لومړی به په لمر کې داسي بدلون راشي چې پلوشې به ئې له خپلي جاذبې بهر نه شي وتلی او د وړانګو خورېدل به ئې متوقف شي، خو داسي چې په خپله به د لمر په سر راتاو شي او بیا به ستوري له دې کبله تیاره شي چې د لمر وړانګي به نه وررسي.

دا مبارك آیتونه د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي او له یوه داسي ژور او ستر علمي حقیقت پرده اوچتوي چې کائنات پوهان، له پېړیو پېړو تحقیق وروسته اوس او د شلمي پېړۍ په دغو وروستیو لسیزو کې پرې پوه شول او دا ئې د راتلونکو نورو تحقیقاتو لپاره د یوې دقیقي علمي نظریې په توګه ومنله. که دغو آیتونو ته په سطحي نظر وګورو او د لمر او ستورو تیاره کېدل د قیامت نښه وګڼو، خو د مطلب ټولو ابعادو او د آیتونو ټولو الفاظو ته عمیقاً توجه ونکړو او مخصوصاً د یوه کائنات څېړونکي په سترګه ورته ونه ګورو، د دې وړاند ویني په اهمیت نه شو پوهېدی، خو که یوه محقق، حساس او زیرك څېړونکي ته ووایو چې زموږ قرآن څوارلس پېړۍ د مخه ویلي چې یو وخت به د لمر پلوشې په خپله د لمر په سر راتاو شي او خورېدل به ئې ودرېږي، هغه ته د قرآن د دغو آیتونو هر لفظ دقیقاً ترجمه او توضیح کړو او ورته ووایو چې قرآن د لمر د تیاره کېدو لپاره د تکویر لفظ کارولی او د ستورو د تیاره کېدو لپاره ئې د انکدار لفظ کارولی، د دې الفاظو معنی ورته بیان کړو، هرومرو به حیران شي او په ډېر دقت سره به ستا خبرو ته ځیر شي او حتماً به اعتراف وکړي چې په دې کې خامخا کوم ژور راز او سر پروت دئ، دا هغه حقیقت دئ چې ساینس پوهان له ژورو تحقیقاتو او له پېړیو پېړیو څېړنو وروسته پرې پوه شوي او لا د څېړنو په مقدمه کې دي او د قضیې په نورو اړخونو د پوهېدو لپاره په شدت سره مصروف دي، دا څنګه یوه انسان د

ځوارلسو پېړيو مخکې شرائطو کې داسې خبره کړې، څنګه په دې حقيقت پوه شوی، څنګه ئې دا ادعاء کړې چې يو وخت به د لمر هغه ځلانده وړانګې چې هرې خوا ته خورېږي، په خپله د لمر پر سر راتاو او لمر به تياره شي، هغه څنګه پوه شو، چا پوه کړ، له کومې مرجع ئې دا پوهه ترلاسه کړه چې دا لمر به يو وخت زموږ زمکې ته نه رڼا ورکولی شي او نه تودوخه؟!!

۲- د قيامت په رارسېدو او د لمر د ځلا له بندېدو سره سم به ستوري تياره شي، دا ګڼ شمېر ستوري چې نن ئې تاسو په آسمان کې ځلانده او روښانه ګورئ، ډېر ئې په اصل کې تياره دي، خپله رڼا له نورو منابعو اخلي، نور ځلانده شمسي منظومې رڼا ورکوي او د دوی د ځلانده او روڼ معلومېدو باعث کېږي، د ستورو په يوې کړۍ کې يو ستر او ډېر ځلانده ئې په خپلې شا و خوا کې نورو تيارو ستورو ته رڼا ورکوي، لکه چې سپوږمۍ په اصل کې بې نوره ستوری دئ، د لمر وړانګې ئې روښانه کوي، کله چې د نور او رڼا دا ځلانده سرچينې له ځلا ولوېږي، ستوري به ئې له سترګو پټ شي. قرآن د دې مطلب په ويلو سره چې لومړی به لمر له سترګو پټ او وړانګې به ئې پر ده راتاو شي او ورپسې به ستوري تياره شي، يوه ستر علمي حقيقت ته اشاره کړې، داسې يو حقيقت ته چې انسان ډېر وروسته او په شلمې پېړۍ کې ورباندې پوه شو. ځوارلس سوه کاله وړاندې څوک په دې پوهېدی شو چې د سپوږمۍ او ډېرو نورو روڼو ستورو نور او رڼا خپله نه ده، بلکې له نورو سرچينو ئې اخلي؟ د دې وړاندويني، د بيان اسلوب او د هغو الفاظو چې د دې مطلب د بيان لپاره کارول شوي، په اهميت يوازې حساس او منصف محققين او پوهان پوهېدی شي.

# لمر او سپوږمۍ به سره یو ځای شي!!

که دا ومنو چي لمر به د بلیك هول په برخلیك اخته شي نو د دې معنی دا ده چي جاذبه به ئې تر اوسني حالت ډېره ځواکمنه شي!! باید وگورو چي آیا قرآن دې مطلب ته هم څه اشاره کړې او داسي څه ئې ویلي چي د لمر د جاذبې پر زیاتېدو دلالت کوي؟ دې پوښتني ته د ځواب لپاره د قرآن دې مبارکو آیونو ته ځیر شئ:

**فَإِذَا بَرِقَ ٱلۡبَصَرُ ٧ وَخَسَفَ ٱلۡقَمَرُ ٨ وَجُمِعَ ٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ ٩**

**القیامه: ٧-٩**

نو کله چي سترگي رډي رډي شي. او سپوږمۍ تکه توره شي. او یوځای کړی شي لمر او سپوږمۍ.

دا مبارك آیتونه څو اساسي مطالب زموږ په وړاندي ږدي:

الف: د چا چي خپل غرض او مرض په حقائقو باندي د اعتراف مانع شي، په استدلال سره ئې نه شو قانع کولی، له عمدي انکار ئې نه شو منع کولی، باید پرې ئې ږدو چي حقائق په خپله راشي، د سترگو مخي ته ئې ودرېږي، سترگي ئې ورپرانیزي، څوك چي قیامت نه مني، عمداً ترې انکار کوي، ده ته باید ووایو: لږ صبر وکړه، په خپلو سترگو به ئې وگورې، یوازي د قیامت هولناکي صحنې کولی شي د ده سترگي ورپرانېزي.

ب: په دې ورځ به سپوږمۍ تیاره شي او د دې معنی دا ده چي لمر به له ځلېدا ولوېږي، سپوږمۍ ته به رڼا نه شي ورکولی.

ج: لمر او سپوږمۍ به سره یو ځای شي، یعني د لمر جاذبه به دومره زیاته شي چي سپوږمۍ به د زمکي له جاذبې وشکوي.

دا دئ گورئ چي د قرآن په دغو آیتونو کي په ډېر صراحت او وضاحت سره

هغه حقیقت ته اشاره شوې چې ساینس پوهان د شلمې پیړۍ په پای کې پرې پوه شول، له ژورو او اوږدو څېړنو وروسته دوی ته څرګنده شوه چې د خاصو عواملو په وجه په ځینو سماوي اجرامو او ستورو کې داسې تغییرات رامنځته شي چې په نتیجه کې ئې جاذبه دومره زیاته او ځواکمنه شي چې د نور وړانګې ئې ترې ببلېدی او تښتېدی نه شي، په اصل کې روڼ وي، رڼا او نور ترې وځي خو د قوي جاذبې په سبب ترې جلا کېدی نه شي، د ستورو دې حالت ته ئې د **black hole** (تیاره سوړه) نوم ورکړی، دا داسې حالت دئ چې یو ستر ځلانده ستوری ناڅاپي له سترګو غائب شي، پرته له دې چې له منځه تللی وي، شته وي خو رڼا ئې نه تر سترګو کېږي، په ټول به دغسې حالت راشي، د جاذبې قوه به ئې ډېره لوړه لاړه شي، دومره چې له یوې خوا به د نور وړانګې نه ترې ساطع کېږي، نو سپوږمۍ به هم تیاره شي او له بلې خوا به سپوږمۍ ځان ته جذب کړي. که تاسو نن یوه منصف ستور پوه ته چې له ژورو څېړنو وروسته د دغو تیارو کندو په حقیقت پوه شوی، ووایئ: (قرآن څوارلس پېړۍ مخکې ویلي چې یو وخت به ټول له ځلېدو ولوېږي، ورپسې به سپوږمۍ تیاره شي او بیا به ئې ټول ځان ته جذب کړي) یقیناً چې هغه به په ډېر حیرت او ژور تعجب کې لوېږي او په دې به اعتراف کوي چې دا وړاندوینه د یوه عادي انسان له لوري ممکن نه ده. دا هغه ستر حقیقت دئ چې موږ اوس پرې پوه شوي یو. د دې موضوع تفصیل د قرآن پلوشې تفسیر د تکویر په سوره کې مطالعه کولی شئ.

# د ځمکې او غرونو تصادم

په همدې لړ کې قرآن د ځمکې او غرونو تر منځ د ټکر او تصادم خبره کوي او

وايي:

**فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ نَفۡخَةٞ وَٰحِدَةٞ ١٣ وَحُمِلَتِ ٱلۡأَرۡضُ وَٱلۡجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةٗ وَٰحِدَةٗ ١٤ فَيَوۡمَئِذٖ وَقَعَتِ ٱلۡوَاقِعَةُ ١٥** الحاقة: ١٣-١٥

نو هغه وخت چي په شپېلۍ کې به پو شي، يو وار پو. او زمکه او غرونه به اوچت کړی شي، نو سره وبه ټکول شي، په يو وار ټکولو سره. نو واقع به شي په دې ورځ، هماغه واقع کېدونکې.

دلته د آيت په سر کي د (فإذا) لفظ مخاطب ته دا انتباه ورکوي چي په مخکنيو آيتونو کې د قيامت د راتلو دلائل بيان شوي او لار ئې په قيامت باندي باور ته پرانيستې ده. هو؛ قيامت به هم د هغو الهي عذابونو په څېر ناڅاپي راځي چي په تېرو ياغي او باغي قومونو نازل شوي، آني او په شپېلۍ کې يوه پو سره به راځي.

په همدې مبارك آيت کې څو نور مهم ټکي توجه جلبوي:

الف: دا آيت وايي چي زمکه او غرونه به له خپل خپل ځايه پورته او په خپلو کې به سره وټکول شي. د غرونو د پورته کېدو په معنی خو پوهېدل آسانه دي خو د زمکي د پورته کېدو په څرنگوالي پوهېدا لږ غور او دقت غواړي، بايد وگورو چي زمکه به څنگه او د څه له سره پورته کېږي؟ موږ اوس په دې حقيقت پوه شوي يو چي زمکه د لمر، سپوږمۍ او نورو آسماني اجرامو په څېر د آسمان په پراخي غېږ کي معلقه ده، د بل څه په سر نه ده ايښودل شوې چي ترې پورته کړی شي، خو دا آيت وايي چي زمکه او غرونه به له خپل خپل ځايه پورته کړی شي او بېرته به په خپلو کي سره ووهل شي، نو د دې معنی دا ده چي زمکه به د دوو ځواکمنو او سترو ستورو تر منځ راشي، د دوو ځواکمنو جاذبو تر منځ به داسي واقع شي چي د زمکي زړه به په يوه لوري او غرونه به ئې په بل لوري جذب شي، د دې قوي جاذبې په نتيجه کي به غرونه له زمکي بيل او له جرړو به وايستل شي، خو د دې په ځای چي

له زمکي په ډېر واټن لري او د جاذبې له منبع سره يو ځای شي، بېرته به د زمکي په لور جذب او په ډېر شدت سره به له زمکي سره تصادم وکړي.

ب: له دې پېړۍ وړاندي او مخکي له دې چي انسان د ستور ليکو، شمسي منظومو، په دوی کي له سترو سترو چاودنو او د يوې برخي له بلي سره د يو ځای کېدو په اړه کافي معلومات ترلاسه کړي، هيڅوك په دې خبري نه شو پوهېدی، خو نن او د قوي تلسکوپونو په ذريعه د داسي ټکر او تصادم د بې شمېرو بېلگو په ليدو سره په دې خبري پوهېدا ورته آسانه شوې.

په دغې مرحلې کي به هغه ستره پېښه واقع شي، د دې آيت له الفاظو په واضح توگه معلومېږي چي له (الواقعه: هماغه واقع کېدونکې) مراد هغه پېښه ده چي د سورې په سر کي د الحاقه په نوم ياده شوې.

# آسمان به دړي دړي او سست سست شي

قرآن وايي چي د آسمان دا اوسنی مضبوط او مستحکم نظام به سست شي، په هغه کي به چاودونه راپيدا شي، د ستورو تر منځ اوسنی تړاو به وشلېږي، هر لوري ته به خواره شي، او دا همغه حقيقت دئ چي ساينس او ستور پېژاندي ئې وايي، راشئ د قرآن دغو آيتونو ته لږ ځير شو:

وَٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَهِيَ يَوۡمَئِذٖ وَاهِيَةٞ ١٦ وَٱلۡمَلَكُ عَلَىٰٓ أَرۡجَآئِهَاۚ وَيَحۡمِلُ عَرۡشَ رَبِّكَ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ ثَمَٰنِيَةٞ ١٧ الحاقه: ١٦-١٧

او آسمان به شق شق شي، نو په دې ورځ به سست سست او شلېدلی وي. او فرشتې به ئې په ژيو کي وي، او ستا د رب عرش به په دې ورځ اته گونې په خپل سر نيسي.

په دې مبارکو آيتونو کې څو اساسي ټکي د زياتي توجه وړ دي:

- د قيامت په ورځ به د آسمان دا اوسنی دقيق نظام متلاشي شي، آسمان به دړې دړې او چاود چاود شي، ټول هغه سماوي اجرام به خواره واره شي چې نن آسمان په خپلي غېږ کې کلک نيولي.
- په هغه ورځ به دا فرشتې چې د عالَم چاري سمبالوي، خپل خپل ځای له لاسه ورکړي او د متلاشي شوي آسمان کنارو ته به منتقلي شي. له مَلَك دلته ټول ملائك مراد دي نه يوه فرشته.
- ستا د رب عرش چې ټول اوه ګوني آسمانونه ئې احاطه کړي او ټول کائنات ئې تر سيوري لاندي دئ، په دې ورځ به ئې اته فرشتې، يا د فرشتو اته ټولګي حمل کوي.
- په دې پوهېږو چې الله تعالی په دې عالَم کې خاص سنن او ضوابط وضع کړي، چې هر کار د دغو سننو او ضوابطو مطابق ترسره کېږي، او د دې عالَم د چارو د سمبالولو لپاره ئې د ملائکو په نامه مأموران ټاکلي چې د دغو سننو مطابق عمل کوي، د ټول کائنات له متلاشي کېدو وروسته به دا الهي سنن عاطل شي او دا مأمورين به ګوښه شي، يوازي اته ټولګي به چې د عرش حمله دي، پاتې شي.

# غرونه به وښويېږي

قرآن د قيامت په ورځ د غرونو د روانېدو خبره کوي او فرمايي:

وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ سُيِّرَتۡ ٣ التکوير: ٣

او کله چې دا غرونه روان کړی شي.

يعني دا دنګ دنګ او درانه غرونه چې لويه برخه ئې د زمکې زړه کې او کمه ئې د زمکې پر سر دي او د دوی لوړوالي او ستروالي ته په پام سره ځوك ګمان نه کوي چې دا به کله هم له خپله ځايه وخوځېږي، داسې ورځ به راشي چې دا به نه يوازې وخوځېږي، بلکې له خپل خپل ځايه به رابېل او روان شي. دلته هم د قرآن يو بل علمي اعجاز ترسترګو کېږي، د غرونو ښويېدل هم يوه نوې پېښه ده، چې وجه ئې د زمکې د هغه قشر او پوستکي زړښت دئ چې د ډبرې په څېر کلك دئ خو ورو ورو او د هغو پر له پسې چاودنو په سبب سست شوی چې د زمکې له زړه او له خوټېدونکې برخې ئې راولاړېدونکې فشار، برنې فشار او نورو عواملو په وجه رامنځته کېږي او د زلزلو او د غرونو د ښويېدو باعث کېږي. دا بهير او له هغه راولاړېدونکې پېښې به سوکه سوکه او د زمکې له مزيد زړښت سره متناسب زياتېږي، نن موږ په دې پوهېږو چې د زمکې تر برنې خاورين قشر څو کيلو متره لاندې، يوه کلك ډبرين قشر د زمکې زړه او منځنۍ برخه احاطه کړې، د زمکې په زړه کې د حرارت درجه ډېره اوچته او هر څه په کې ويلي دي، د دوی له خوټېدو ستر فشار راولاړېږي، غواړي دا کلك قشر مات کړي او بهر راووځي، د پوستکي ضعيفې برخې مقاومت ونکړی شي، وچوي او دا ويلي مواد په ډېر شدت سره د زمکې سر ته راووځي او موږ ئې د اور شيندونکو په څېر ګورو، ډېر غرونه د همدغو چاودنو په وجه راپيدا شوي، انسان اوس په دې پوه شوی چې غرونه او د زمکې دا برنۍ برخه او په هغه کې ټول جامد توکي په اصل کې د زمکې د زړه په ويلي او خوځېدونکو موادو پراته دي، داسې لکه د اوبو پر سر د لرګي يوه تخته، يا د کنګل يوه ټوټه. د خاصو عواملو په وجه ئې د ثبات او استقرار بڼه غوره کړې، د استقرار او ثبات اوسنی حالت به د قيامت په ورځ له منځه ولاړ شي او غرونه به له خپله ځايه وښويېږي. د قرآن د دې څرګندونې په اهميت هم هغه علماء او محققين پوهېږي چې له ډېرو څېړنو وروسته په دې حقيقت پوه شوي.

# سمندرونه به ډك شي او اوبه به ئې د وچې په لور وبهېږي

قرآن وايي چې د قيامت يوه نښه دا ده چې بحرونه به تر خولې ډك شي، اوبه به ئې د وچې لوري ته راوبهېږي، نن خو اوبه له وچې د بحر په لور درومي او سيندونه په بحر کې تشېږي، خو هغه مهال به د سمندر اوبه د وچې په لور رواني شي!! راشئ وگورو چې دا ادعاء له علم سره اړخ لگوي که نه؟ قرآن په دې اړه فرمايي:

وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ سُجِّرَتۡ ٦ التكوير: ٦

او کله چې سمندرونه تر ژۍ ډك شي.

دا مبارك آيت وايي چې تر قيامت وړاندې به داسې حالت رامنځته شي چې سمندرونه به له اوبو تر ژۍ ډك شي. د تسجير اصلي لغوي معنى تر ژۍ ډکېدا ده، که څه هم ځينو ژباړونکو تسجير دسوزېدو او ړمبه کېدو په معنى ترجمه کړی او له آيت ئې دا مطلب اخيستی: د قيامت په ورځ به په بحرونو اور گډ شي او اوبه به ئې اور واخلي. د دې ډلې وروستنيو محققينو ويلي چې په اوبو کې دوه عنصره شته، هايدروجن او آکسيجن، چې يو ئې په خپله سوزي او بل ئې د سوزېدو په عمليه کې مرسته کوي، هايدروجن سوزېدونکی عنصر دئ او آکسيجن د نورو توکيو په سوزېدو کې مرسته کوي، که آکسيجن نه وي نو د سوزېدو عمليه نه شي ترسره کېدی، د حرارت په لوړو درجو کې همدا اوبه چې په عادي حالت کې ئې موږ د اور د وژلو لپاره کاروو، په خپله به سوزېدونکې ماده شي. د دغو محققينو په نظر دا آيت د قرآن يو بل علمي اعجاز گڼل کېږي، انسان په شلمې پېړۍ کې په دې پوه شو

چي دا د اور د وژلو وسيله په خپله د سوزېدو ماده ده. خو د تسجير اصلي معنی ډکېدل دي او د دغي معنی له مخي د آيت مطلب دا دئ: تر قيامت وړاندي به بحرونه تر ژئ ډك شي اوبه به ئې وچي ته راوبهېږي او ټوله زمکه به تراوبو لاندي شي. موږ نن په دې پوه شوي يو چي الله تعالی د زمکي د اوبو نظام داسي برابر کړی چي يوه برخه ئې په بحرونو کي وي، بله ئې د پرېړو وربځو په بڼه کي د زمکي او آسمان تر منځ گرځي، بله ئې د واورو په شکل کي په لوړو لوړو غرونو، يخو سيمو او د شمال او جنوب قطبونو کي ذخيره وي او يوه برخه ئې تر زمکي لاندي بهېږي، که دا دقيق نظام متلاشي شي، وربځي خپلي ټولي اوبه پر زمکه وورَوي، د غرونو واوري او د سړو سيمو يخونه ويلي شي او اوبه ئې د بحرونو لوري ته وبهېږي، ټوله زمکه به تراوبو لاندي شي، زمکه په يوازي سر د دومره اوبو ظرفيت نه لري. قرآن دا حقيقت د نوح عليه السلام د طوفان په ترځ کي هم بيانوي، چي د زمکي يوه لويه برخه په کي غرقه شوه، دا دوهم تفسير هم دقيق دئ او هم د قرآن د علمي اعجاز يوه بله بېلگه، دا ځکه چي د تسجير اصلي معنی ډکېدل دي، نه سوزېدل او د سوزېدو معنی د تسعير صيغه افاده کوي نه د تسجير، تاسو به د انفطار په سوره کي هم وگورئ چي د بحرونو ډکېدو ته داسي اشاره شوې:

وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ فُجِّرَتۡ ٣ الانفطار: ٣

او کله چي سمندرونه روان کړی شي.

دا دواړه آيتونه د بحرونو تر ژئ ډکېدل او د وچي په لور بهېدل افاده کوي او دا هغه مطلب دئ چي تر شلمي پېړۍ وړاندي هيڅوك پرې نه پوهېدو، معلومه نه ده هغه وخت به څومره کسانو د پيغمبر عليه السلام په دې وينا استهزا کړې وي او په ملنډو ملنډو به ئې يوه بل ته ويلي وي: موږ خو تل اوبه په داسي حال کي گورو چي له وچي د بحر په لوري خوځي، خو محمد (عليه السلام) وايي چي يو وخت به

دا اوبه له بحرونو د وچي په لوري وخوځېږي!! خو دا حقائق نن انسان ته څرګند شوي، آیا دا یوه عاقل او باانصافه محقق ته کافي نه ده چي ووايي: دومره ژور علمي حقائق بیانول، د داسي یوه انسان له وسه ډېر ډېر اوچت کار دئ چي له اوسنۍ پېړۍ مخکي تېر شوی، که څه هم نابغه وي، له یوه پیغمبر پرته بل چا ته داسي خبره کول ممکنه نه ده.

نن د نړۍ ګڼ شمېر هغه هېوادونه له غرقېدو وېرېږي چي د سمندر خوا ته پراته دي، ګوري چي هر کال د اوبو سطح رالوړېږي، د شمالي قطب د واورو ویلي کېدا، د زمکي د هوا تودېدا ډېر په دې وېري کي اچولي دي.

# د زمکي په فضاء کي هغه پرده چي ډېر څه ئې رانه پټ کړي

قرآن وايي چي زموږ د زمکي پر سر آسمان کي داسي پرده ده چي ډېر څه ئې زموږ له نظره پټ کړي او د قیامت په ورځ به دا پرده لري شي!! په دې اړه د قرآن آیت دا دئ:

وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ كُشِطَتۡ ١١ التکویر: ١١

او کله چي دا آسمان له پوسته کړی شي.

یعني د قیامت په ورځ به د آسمان دا شنه پرده لري کړی شي، څه چي نن دغي پردې زموږ له سترګو پټ کړي، ټول به راڅرګند شي. دلته باید لږ توقف وکړو، الفاظ عجیب برېښي، آسمان به له پوسته شي!! یعني څه؟! آیا آسمان پوستکی لري؟

آیا زموږ او آسمان تر منځ داسي کومه پرده شته چي د آخوا شیانو لیدا ئې راته گرانه کړي؟!! راشئ دا پوښتنه هم له هغو محققینو وکړو چي په دې اړه څېړني کوي، هغوی ته به ووایو چي زموږ په قرآن کي د آسمان په اړه داسي ویل شوي چي د آسمان دا تر سترگو کېدونکي فضاء یوه پرده ده چي ډېر څه ئې زموږ له سترگو پټ کړي؟!! دا محققین موږ ته یو ځواب لري او هغه دا: هغه څه چي موږ او تاسو ئې د یوې فېروزه یي پردې په څېر گورو، دا د زمکي چاپېر فضاء ده، د یوې پردې په څېر ده، دا پرده د دې باعث شوې چي موږ د آسمان ډېر څه ونه گورو، د نور ډېري پلوشې داسي دي چي له دغي پردې نه شي تېرېدی، هغه ستوري چي دا وړانگي خوروي د دغي پردې په وجه ئې نن نه شو لیدی، که دا پرده نه وی نو موږ به نن دا ټول ستوري هم په څرگنده لیدل. د قرآن دې آیت یو بل ستر علمي اعجاز زموږ مخې ته اېښی او هغه حقیقت ئې بیان کړی چي انسان دا دئ اوس او په شلمي پېړۍ کي پرې پوه شو. د قیامت په ورځ به دا پرده څیري شي، دا خنډ به لري شي، د آسمان دا پوستکی به وشکول شي او هر هغه څه به راښکاره شي چي دغه پرده او پوستکی ئې د لیدو مانع گرځي.

# آسمان به وچوي، ستوري به خواره او سمندرونه به روان شي

قرآن وایي چي یو وخت به په آسمان کي چاودونه رامنځته شي، ستوري به خواره واره او سمندرونه به روان شي، اړوند آیتونه دا دي:

إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتۡ ١ وَإِذَا ٱلۡكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتۡ ٢ وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ فُجِّرَتۡ

[3] الانفطار: ۱-۳

هغه وخت چي دا آسمان چاود چاود شي. او كله چي دا ستوري ټول تيت تيت شي. او كله چي سمندرونه روان كړی شي.

قرآن د دې مطلب په بيانولو سره چي يو وخت به په آسمان كي چاودونه راپيدا شي او ورپسې به ستوري خواره واره شي، يوه داسي ژور علمي حقيقت ته اشاره كړې چي تر دې پيړۍ د مخه انسان ته نه وو معلوم او ډېره لنډه موده كېږي چي كائنات څېړونكي پرې پوه شوي. لكه څنگه چي قرآن د عالم د پرله پسې او مسلسل پراخېدو خبره كوي، كائنات څېړونكي هم دې نتيجې ته رسېدلي چي دا كائنات ورځ په ورځ د پراخېدو په حالت كي دئ، په هر ستور ليكي (كهكشان) كي ستوري يو له بله او په خپله ستور ليكي يو له بله لري كېږي، دا مسلسل پراخېدا به د دې باعث شي چي د ستورو او ستور ليكو ترمنځ دا د جذب او فرار اوسنی تعادل او توازن له منځه ولاړ شي او د دوی تر منځ اړيكي يا په دې دليل سستي شي او وشلېږي چي د مركز او لويو ستورو د جاذبې قوه كمزورې شي او يا له دې كبله چي د دوی تر منځ واټن زيات شي او مركز ئې نه شي كولی په خپل ماحول كي ستوري په خپل خپل مدار كي ټينگ وساتي او همدا به د ټولو ستورو د خورېدو باعث شي.

نو گمان مه كوئ چي د عالم دا موجود نظم تلپاته او دائمي دئ او هيڅ بدلون به په كي نه راځي، مگر نه گورئ چي كله دلته يو ستوری راپرېوځي او كله هلته بل له خپله مداره ووځي او د پراخي فضاء په غېږ كي د نامعلوم مسير په لوري وخوځېږي، د سماوي اجرامو دا هبوط او سقوط په ډاگه د داسي ورځي د راتلو خبر راكوي چي د ټولو ستورو ترمنځ به پيوندونه وشلېږي او په فضاء كي به خواره واره شي. د قرآن د دې وړاندويني په اهميت هغه څوك پوهېدی شي چي كلونه كلونه ئې په هغو رصدتونونو كي تېر كړي وي چي ستر ستر او په لويو لويو عدسيو مجهز

تلسکوپونه لري او د دغو تلسکوپونو په مرسته توانېدلي چي د دې پراخ عالم په ځینو اسرارو پوه شي، هغه چي د نومیالیو کائنات څېړونکو نظریات ئې لوستي او له کلونو کلونو تحقیق وروسته دې نتیجې ته رسېدلي چي د عالم مسلسل او سریع پراخېدا به د دې باعث شي چي د ستورو ترمنځ اړیکي کمزورې شي، له خپل خپل مداره ووځي، یو له بل سره تصادم وکړي او همغه حالت راشي چي قرآن ئې وړاندوینه کړې.

کله چي د دې عالم په فضاء کې موجود نظم مختل شي، د زمکي په نظم کې به هم اختلال راپیدا شي، د دې اختلال یوه نښه به دا وي چي د اوبو رسولو دا اوسنی نظم چي د انسانانو او ټولو نورو ژوو ژوند ورپوري تړلی دئ، دا به مختل شي اوسنی نظام د دې باعث دئ چي د زمکي د اوبو یوه برخه په بحرونو کې، بله د واورو په بڼه کې په غرونو او د شمال او جنوب قطبونو کې، یوه لویه برخه ئې د ورېځو په شکل کې د آسمان او زمکي ترمنځ وي، بله ئې تر زمکي لاندي او یوه برخه ئې د خلکو د استفادي لپاره په نهرونو، چینو او کارېزونو کې بهېږي، په دې دقیق نظام کې اختلال به د دې سبب شي چي ټولې اوبه بحرونو ته راکوزي شي، د بحرونو کاسې تر ژیه ډکي او د وچي په لوري ئې د اوبو رابهېدل پیل شي او ټوله زمکه تر اوبو لاندي شي. دا هم د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز دئ، د دې په اهمیت هم یوازي حساس ساینس پوهان ښه پوهېږي، هغه چي د یویشتمي پېړۍ تر ټولو لویه مسئله دا ګڼي چي د زمکي تودوخه له دې کبله ورځ په ورځ زیاتېږي چي د اوزون هغه پرده ځای ځای پرې شوې چي د زمکي د هوا په متوازن ساتلو کې هم لویه ونډه لري او زمکي ته د خطرناکو او تاواني وړانګو د راتلو په مخنیوي کې هم او دا د هغو ګازونو په وجه ده چي له ځینو فابریکو آسمان ته پورته کېږي. دوی وایي چي په تېرو سلو کلونو کې د زمکي حرارت څو درجې زیات شوی او که عاجل ګامونه وانه خیستل شي نو څو لسیزي وروسته به د زمکي پر سر ژوند ممکن نه وي، دوی د

وروستیو کلونو شدید بارانونه، سېلابونه، طوفانونه او د بحرونو د اوبو د سطحي لوړېدل هم د دغه اختلال پایلي ګڼې!!

# اوسنۍ زمکه د محشر د ورځي لپاره کفایت نه کوي

که له علمي پلوه په دې خبري غور وکړو چي آیا زموږ اوسنۍ زمکه د ټولو هغو انسانانو لپاره کفایت کوي چي د انسانانو د پیدایښت له لومړۍ ورځي تر قیامت پوري پیدا کېږي؟ آیا د زمکي مخ د دوی د راغونډېدا لپاره کفایت کوي؟ طبیعي ده چي د دې خبري ځواب منفي دئ!! نو دې اعتراض ته به څه ځواب وایو چي قرآن ولي دا خبره کړې چي د قیامت په ورځ به ټول خلك د الله تعالی په وړاندي راغونډ کړی شي؟! قرآن د دې اعتراض ځواب داسي وړاندي کوي: د قیامت په ورځ به دا زمکه او آسمان له منځه ولاړ شي، نوې زمکه او نوی آسمان به پیدا شي، په نوې زمکي کې به نه غرونه وي او نه لوړي ژوري، دومره به پراخه وي چي دا ټول انسانان به په کې راغونډ شي.

قرآن فرمایي:

♦يَوۡمَ تُبَدَّلُ ٱلۡأَرۡضُ غَيۡرَ ٱلۡأَرۡضِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُۖ وَبَرَزُواْ لِلَّهِ ٱلۡوَٰحِدِ ٱلۡقَهَّارِ ٤٨ ابراهیم: ٤٨

هغه ورځ چي دا زمکه به له دې پرته په بلي زمکي بدله شي او آسمانونه هم، او (ټول به) د یوازیني ډېر برلاسي الله په وړاندي راڅرګند شي.

یعني دا آسمانونه او زمکه به په بشپړه توګه له منځه ځي، الله تعالی به نوې زمکه او نوي آسمانونه راپیدا کړي، چي له اوسنۍ زمکي او اوسني آسمانونو سره به

توپیر لري، نوی عالم به وي له نوي نظم سره، ټول انسانان به بېرته راژوندي شي، د یوازیني ډېر برلاسي الله په وړاندي به راځرګند او په ښکاره میدان کې راغونډ کړی شي.

ګورئ چې د قرآن هره وینا څومره دقیقه ده، هیڅ پوښتني او اعتراض ته مجال نه پرېږدي!!

# دومره جنتونه به له کومه کېږي؟

قرآن وایي چې د یوه عادي مؤمن جنت به دومره پراخ وي چې سور به ئې د آسمانونو او زمکې په اندازه وي، قرآن په دې اړه فرمایي:

**وَسَارِعُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ أُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِينَ ١٣٣** آل عمران: ۱۳۳

او د خپل رب د بخښني او د هغه جنت په لوري تلوار وکړئ چې عرض به ئې آسمانونه او زمکه وي، د متقیانو لپاره تیار کړی شوی.

دا پوښتنه راولاړېږي چې دومره جنتونه به له کومه کېږي؟ ډېرو ته به دا خبره مبالغه معلومه شي، خو هغه څوك چې پوهېږي دا اوس د آسمان په غېږ کې د هغو ستورو شمېر څومره دئ چې هر یو ئې د زمکې په اندازه یا تر زمکې غټ دئ!! ستور پېژاندي وایي چې په آسمان کې شاوخوا یو سل شل ملیارده ستورلیکي دي، چې په هر ستورلیکي کې تر سل ملیارډه زیات ستوري دي!! آیا دا نه ښیي چې د قرآن په هیڅ وینا کې نه د حقیقت خلاف خبره شوې او نه غیر دقیقه او له مبالغې ډکه وینا؟!

دې ته مو هم باید پام وي چې په جنت کې به نه د انسان حواس اوسني

حواس وي او نه ئې د درك ساحه دومره محدوده لکه نن، هم به ئې لرې ليد ډېر پراخ وي او هم حواس دومره حساس چې له داسې جنت سره ښايي، قرآن د دغه حقيقت د بيانولو لپاره د هغه چا حالت په جنت کې انځوروي چې په دنيا کې ئې له يوه دوزخي سره پېژندل، هغه ئې د غولولو هڅه کوله خو دى د الله تعالى په فضل تري خوندي پاته شوى وو، په جنت کې به ورپه ياد شي، زړه به ئې وغواړي چې له حاله ئې خبر شي، خپلو ملګرو ته به ووايي زما داسې يو دوست وو، راشئ وګورو چې هغه چېرې دئ، په يو نظر سره به هغه د ټولو دوزخيانو له منځه د دوزخ په يوې کندې کې ومومي او له جنته به پرې غږ کړي، او د دوى تر منځ به څو خبرې تبادله شي:

**فَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَسَآءَلُونَ ٥٠ قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٞ ٥١ يَقُولُ أَءِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُصَدِّقِينَ ٥٢ أَءِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَدِينُونَ ٥٣ قَالَ هَلۡ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ ٥٤ فَٱطَّلَعَ فَرَءَاهُ فِي سَوَآءِ ٱلۡجَحِيمِ ٥٥ قَالَ تَٱللَّهِ إِن كِدتَّ لَتُرۡدِينِ ٥٦ وَلَوۡلَا نِعۡمَةُ رَبِّي لَكُنتُ مِنَ ٱلۡمُحۡضَرِينَ ٥٧** الصافات: ٥٠-٥٧

نو ځيني (جنتيان) به ځينو نورو ته مخ کړي په داسې حال کې چې يو به بل پوښتي، د دوى يو ويونکى به ووايي: زه خو داسې وم چې يو ملګرى مې وو، ويل به ئې: آيا ته له باور کوونکو يې؟، آيا کله چې ومرو او خاورې او هډوکي شو آيا موږ به محاسبه او مجازات کېږو، وبه وايي: تاسو کتونکي يئ، نو نظر به واچوي او د دوزخ په منځ کې به ئې وګوري، وبه وايي: قسم په خداى چې نږدې وه ما (په دوزخ کې) وغورځوې، او که زما د رب فضل او پېرزوينه نه وى نو زه به هم (په دوزخ کې) له حاضر کړى شوو سره وم.

دا داسې وګڼئ لکه څوك چې نن خپل کوم ملګرى زموږ په شمسي نظام يا

ستورليکي کې ولټوي او د سترګو په رپ کې ئې په يوه لرې ستوري کې وموميږ!! له دې معلوميږي چې هلته به د انسان حواس څومره ځواکمن وي!!

خو آيا پوهيږئ چې په داسې خبرو به يو مهال د اسلام مخالفينو څومره ملنډې وهلې وې او هغه به ئې دروغجنې او د حقيقت خلاف او له مبالغو ډکې ګڼلې وې؟!! خو دا دئ نن د افغانستان له يوه لرې پراته کلي يو کس د يوه وړوکي مبايل په مرسته د نړۍ په لرې ګوټ کې له خپل دوست سره داسې خبرې کوي چې هم ئې غږ اوري او هم ئې مخ ګوري!! دا نن د يوه قوي او ستر تلسکوپ خوا ته ناست ستور پېژاندی د ستور ليکي په لرې اړخ کې يو ستوری ګوري او وايي: دا ستوری زموږ له زمکې په دومره واټن کې پروت دئ، حجم ئې زموږ د زمکې په پرتله دومره ځله زيات دئ!! آيا د قرآن دا وينا داسې نه ده چې د ساينس د نننۍ معيارونو له مستوی هم وړاندې ده؟!!

# د فرعون د جسد په اړه د قرآن وينا

قرآن وايي چې د فرعون د غرقېدو پر مهال الله تعالی وفرمايل: نو نن به دې بدن وژغورو تر څو هغو کسانو ته (د عبرت) نښه وې چې له تا وروسته (راځي او پاتې) دي او د خلکو ډېری زما له آيتونو غافل دي!! اړوند آيت دا دئ:

وَلَقَدۡ بَوَّأۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ مُبَوَّأَ صِدۡقٖ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ فَمَا ٱخۡتَلَفُواْ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُۚ إِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِي بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ٩٣ يونس: ٩٣

تر دې وړاندي آيتونه وايي:

- بني اسرائيلو هجرت وکړ او له سيند واوښتل،
- فرعون او لښکري ئې د ظلم او تېري په قصد ورپسې شول، غوښتل ئې پر دوی ظلم او تېری وکړي او سخته سزا ورکړي،
- خو په اوبو کې غرق شو،
- د غرقېدا په وخت ئې ويل: په دې ايمان راوړم چي له هغه معبود پرته بل معبود نشته چي بني اسرائيلو پرې ايمان راوړی، له سرغړاوي لاس اخلم او خدای ته تسليم يم!!
- په ځواب کې ورته ويل شوي: اوس! او په داسي حال کې چي مخکي دي سرکشي کوله او له مفسدينو وې؟!! نو نن به دي بدن وژغورو تر څو هم هغو ته د عبرت نښه وې چي له تا وروسته پاتي کېږي او هم راتلونکو نسلونو ته.
- په ورپسې آيت کې ويل شوي: دا پېښه ښيي چي الله تعالی د فرعون په څېر مفسدينو ته سزا ورکوي خو د خلکو ډېری د الله تعالی له آيتونو غافل دي!!

د قرآن له دغي وينا سره سم د دغه فرعون موميايي شوی جسد تر اوسه روغ رمټ پاته دئ او دا د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ، ډېرو د فرعون پر دې جسد تحقيقات کړي چي دا څنګه څو زره کاله روغ رمټ پاته شوی؟ په موميايي کولو کې له کومو توکو استفاده شوې؟ او د ده د مرګ سبب څه وو؟ يو له دغو تحقيق کوونکو ډاکټر موريس بوکل وو چي په خپله مسيحي دئ، دی د فرعون په موميايي

شوي جسد له تحقيق وروسته پوه شو چي هغه په اوبو کې د غرقېدو په وجه مړ شوی، کله چي نوموړي ډاکټر له مسلمانانو واورېدل چي په قرآن کې ويل شوي: فرعون په اوبو کې غرق شو او د ده جسد به د خلکو د عبرت لپاره خوندي وساتو، حيران شو، پرېکړه ئې وکړه چي قرآن مطالعه کړي، په پنځوس کلنۍ کې ئې عربي د دې لپاره زده کړه چي قرآن مطالعه کړي!!!

# د مکې د فتحي وړاندوينه

قرآن د حديبيې له تړون وروسته وړاندوينه کړې وه چي مؤمنان به ډېر ژر مکې ته په ډاډ او اطمئنان سره ننوځي، او د رسول الله صلی الله عليه و سلم خوب به تحقق ومومي، دا په داسي حال کې چي مسلمانان د دې تړون له کبله سخت ناراض او خفه ول او ډېرو د دې هيلي ترسره کېدا محال او لې تر لږه گرانه گڼله، خو د قرآن له وړاندويني سره سم په راتلونکي کال کې مکې ته ننوتل او لنډه موده وروسته مکه د مسلمانانو په لاس فتح شوه. قرآن په دې اړه فرمايي:

**لَّقَدۡ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءۡيَا بِٱلۡحَقِّۖ لَتَدۡخُلُنَّ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمۡ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَۖ فَعَلِمَ مَا لَمۡ تَعۡلَمُواْ فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتۡحٗا قَرِيبًا ٢٧** الفتح: ٢٧

يقيناً چي الله د خپل رسول خوب رښتينی کړ، حتماً به مسجدالحرام ته په داسي حال کې خوندي او په امن سره ننوځئ چي (له عمرې وروسته به) خپل وېښتان يا خريئ يا لنډوئ، نه به وېرېږئ، نو په هغه څه پوه شوی چي تاسو پرې پوه نه ياست، تر دې وړاندي ئې بله نږدې بريا او فتح مقدر کړې.

# پر فارسيانو د روميانو د بري وړاند وينه

په ٦١٩ م کال کې، هغه مهال چې روميان د فارس په وړاندې له سختې ماتې سره مخامخ شول، د شام او فلسطين په څېر ډېرې سيمې ئې له لاسه ووتې، فارسيان د مصر تر وروستيو پولو پورې ورسېدل، قريش د فارسيانو په دې برياوو خوشحال شول، خو مؤمنان سخت غمجن، روميان اهل کتاب ګڼل کېدل او فارسيان مشرکان ول، دغه مهال د الروم د سورې څو آيتونه نازل شول چې په هغوی کې دا وړاندوينه شوې وه چې روم به له دې ماتې وروسته په راتلونکو څو کلونو کې بېرته پر خپل دښمن برلاسي شي، او دغه مهال به مؤمنان د الله تعالی په نصرت خوشحاله شي. دا داسي وړاندوينه وه چې ښايي ډېرو قريشو به په خپلو مجلسونو کې کټ کټ پرې خندلي وي، په دې کې دوه وړاندويني شوې وې: يوه د روميانو د بيا غلبې او بله ئې د مؤمنانو د يوې بريا، همدا دواړه وړاند ويني ترسره شوې، په همغه کال چې قريشو په بدر کې سخته ماتې وخوړه روميان وتوانېدل چې د هرقل تر مشرۍ لاندې د ارميا په لورې وړاندې ولاړ شي او آذربايجان ته ورسېږي. ارميا د زردشت د زېږېدو ځای دئ چې فارسيانو ته ئې ارزښت دومره وو لکه مسلمانانو ته مکه او مدينه.

**غُلِبَتِ ٱلرُّومُ ٢ فِيٓ أَدۡنَى ٱلۡأَرۡضِ وَهُم مِّنۢ بَعۡدِ غَلَبِهِمۡ سَيَغۡلِبُونَ ٣ فِي بِضۡعِ سِنِينَۗ لِلَّهِ ٱلۡأَمۡرُ مِن قَبۡلُ وَمِنۢ بَعۡدُۚ وَيَوۡمَئِذٖ يَفۡرَحُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٤ بِنَصۡرِ ٱللَّهِۚ يَنصُرُ مَن يَشَآءُۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ٥** الروم: ٢-٥

روم مغلوب شو، په هغه نږدې سيمي کې، او دوی به له خپلې مغلوبېدا وروسته ژر غالب شي، په څو کلونو کې، کارونه وړاندې او وروسته د الله په واك کې دي، او دغه

ورځ به مؤمنان د الله په نصرت خوشحالي کوي، هغه چا ته برى ورکوي چې دى ئې غواړي، او دى مهربان عزتمن دئ.

# د اودس او تيمم علمي ارزښت

که تاسو مرغانو او حيواناتو ته ځير شئ وبه ګورئ چې که اوبه پيدا کړي نو ځان په کې اچوي، په خپلو وزرونو ځان ته اوبه شيندي او که اوبه ونه مومي نو په خاورو کې رغړي، په خپلو ښکرونو او وزرونو ځان ته خاوري شيندي، دا د ژوو يو فطري ضرورت دئ، د دوى پر پوستکي هره شېبه په مليونونو جراثيم کښېني، دا جراثيم هم په اوبو سره مري او هم په خاوري سره، د همدغو جراثيمو د وژلو لپاره الله تعالى د دوى په فطرت کې دا غريزه اېښي چې خپل پوستکي ته وخت په وخت يا اوبه ورسوي او يا خاوره، دوى ته د غسل او تيمم دغه فطري لارښوونه شوې او موږ ته شرعي، الله تعالى موږ د غسل او تيمم په اړه په هغه څه مکلف کړي يو چې ټول ژوي ئې د خپل فطرت په حکم کوي. الله تعالى تا ته دا وړه مرغۍ په داسي حال کې درښيي چې هره ورځ څو څو ځله په خاورو کې رغړي، په ډېر شوق او مستۍ سره او د رغړېدو په وخت کې د دې هڅه کوي چې د خپلې هري بڼکي بېخ ته خاوره ورسوي، دا ئې يو ضرورت دئ، په دې سره ئې ځرمن له ډېرو جلدي امراضو خوندي پاته کېږي، دا ئې د علاج ذريعه ده، اکثر مکروبونه هم په اوبو مري او هم په خاوره، که اوبه وروړسېږي، دومره اوبه ئې وجود ته ننوځي چې له پړسېدو وچوي او که له خاوري سره په تماس کې شي، خاوره ئې د وجود ټول مايعات جذب کړي او ومري.

نن انسان ته جوته شوې چې د ده پر پوستکي په هر ساعت کې نږدې ډېرش

مليونه مکروبونه کښېني، خو له هرو دوو ساعتونو وروسته نور ټول مري او يوازي اووه زره پاتي کېږي، د انسان د بدن لوځي برخي لکه مخ، لاسونه، پښې او سر د دغو جراثيمو تر برید لاندي راځي، د همدې لپاره الله تعالی مونږ پر اودس مکلف کړي يو.

نن طب مونږ ته همدا توصيه کوي چي که له خپل لاس، خولې، پزي او پوستکي سره احتیاط ونه کړو او پاك ئې ونه ساتو، نو په ډول ډول بيماريو اخته کېدی شو، تر خوراك وړاندي د لاسونو مينځلو سپارښتنه کوي، تر خوراك وروسته د خولې مينځلو او مسواك وهلو سپارښتنه کوي، په خولې او پزي کي د ناولو ګوتو له وهلو ممانعت کوي، له قضاء حاجت وروسته د لاسونو ښه مينځلو باندي ټينګار کوي، او دا همغه څه دي چي قرآن ئې مونږ ته لارښوونه کړې. مونږ ته ئې امر کړی چي تر لمانځه وړاندي اودس وکړو، مخ، لاس او پښې ومينځو او پر سر مسح وکړو، که اوبه ونه مومو تيمم وکړو، زمونږ اودس او تيمم هم يو با حکمته تعبدي عمل دئ، په هر يوه کي ئې حکمتونه او مصلحتونه مضمر دي، اسلام مونږ ته ويلي چي د خوراك لپاره خپل لاسونه ومينځو، له مينځلو وروسته ئې په لاس پاك وچ نه کړو، له خوراك وروسته ئې ومينځو، دا هغه څه دي چي نن ئې هر ډاکټر سپارښتنه کوي، الله تعالی تا په هغه څه مکلف کوي چي ګټه ئې تر هر څه د مخه تا ته رسي، که ته ئې مکلف کړی نه وی نو پخپله د دې په ضرورت او اهميت دومره هم نه پوهېدې لکه هغه وړه مرغۍ، د اوبو د نشتوالي په صورت کي ئې په تيمم مکلف کړی يې، ډېر آسان کار، د هغي مرغۍ تر کار آسان او لنډ، لاس په خاورو ووهه او مخ او لاسونه پرې مسح کړه، دا خاوره همغه کار کوي چي اوبه ئې کوي، خاوره پاکه ده او د پاکوالي سبب، ستا دا اوبه هم پر زمکه وربېدلې او د زمکي پر سر بهېدلې، د خاورو ډېر مواد ئې له ځان سره اخيستي او ستا خوا ته رارسېدلې دي.

# حیض د اذیت باعث دئ

قرآن حیض ته د اذیت او تکلیف نوم ورکوي، او د دې سپارښتنه کوي چې د مېرمني د حیض په دوران له مجامعت ډډه وشي، لکه چې فرمايي:

وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡمَحِيضِۖ قُلۡ هُوَ أَذٗى فَٱعۡتَزِلُواْ ٱلنِّسَآءَ فِي ٱلۡمَحِيضِ وَلَا تَقۡرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطۡهُرۡنَۖ فَإِذَا تَطَهَّرۡنَ فَأۡتُوهُنَّ مِنۡ حَيۡثُ أَمَرَكُمُ ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلۡمُتَطَهِّرِينَ ٢٢٢ نِسَآؤُكُمۡ حَرۡثٞ لَّكُمۡ فَأۡتُواْ حَرۡثَكُمۡ أَنَّىٰ شِئۡتُمۡۖ وَقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُمۡۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُم مُّلَٰقُوهُۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٢٢٣ البقره: ٢٢٢- ٢٢٣

او د حیض په اړه تا پوښتي، ورته ووایه: دا یوه ستونزه ده، نو له مېرمنو په حیض کې ډډه وکړئ او تر هغه نږدې والی مه ورسره کوئ چې (له حیضه) پاکې شي، خو کله چې پاکې شوې، نو له هغه لوري ورته راتګ وکړئ چې الله درته امر کړی، بې شکه چې الله توبه کوونکې خوښوي او له ځان پاك ساتونکو سره محبت کوي. مېرمني مو ستاسو لپاره یو کرځی دئ، نو چې څنګه مو خوښه وي همغسي خپل کرځي ته ورشئ او د ځان لپاره څه وړاندي ولېږئ او له الله ووېرېږئ او په دې پوه شئ چې له هغه سره مخامخ کېدونکي يئ او مؤمنانو ته (ئې) زېری ورکړه.

حیض ته اذیت او بیماري ویل شوې، یقیناً چې دا د ښځې لپاره یوه ستونزه او بیماري ده، په دې حالت کې له خاص نږدې والي ممانعت شوی، له جماع پرته نور هرنوع مشروع مباشرت او یو ځای ملاسته او ناسته ولاړه جائزه ده، له حیض له وتلو او طهارت وروسته، د مباشرت اجازه شوې، خو څو شرطونه ایښودل شوي: له مېرمنو سره ستاسو نږدې والی به داسي وي لکه بزګر چې خپل کرځي ته ورځي، د

فصل او حاصل په غرض او نیت، چې په دې سره له یوې خوا نیت او موخه په ګوته کوي او له بلې خوا طبیعي او د انسان د فطرت مطابق مباشرت ته اشاره کوي. په دې مبارکو آیتونو کې همداراز د مباشرت او نږدې والي مقصد او هدف هم په ګوته شوی، دا باید یوازې د نفساني حظ او د جنسي غریزې د اشباع لپاره نه وي، د نکاح اصلي مقصد او هدف د اولاد پیدا کول او د نسل دوام دئ، که څوك په دې خاطر او له دغې تلوسې سره د خپلو مېرمنو خوا ته ځي، نو دا داسې ګڼل شوی لکه چې له وړاندې ئې ځان ته غوره ثواب لېږلی وي، اسلام د انسان هغه کارونه هم د ثواب مستحق شمېري چې په حلاله طریقه او په نېك نیت ترسره شوي وي که څه هم دا په خپله د ده د یوه نفسي غوښتنې ترسره کېدل وي، په دغه مباشرت سره که څه هم هغه خپله جنسي غریزه اشباع کړې خو چې په نېك نیت او مشروع طریقه ئې ترسره کړې، د الله په دین کې د ثواب مستحق ګڼل کېږي.

علم نن همدا خبره کوي چې د حیض په دوران کې هم د ښځو صحي وضعیت له عادي حالت سره توپیر لري او هم ئې روحي او مزاجي حالت، په دې حالت کې د عدم مجامعت سپارښتنه کوي او مجامعت مېړه او مېرمنې ته مضر ګڼي.

# آیا په قرآن کې د ساینس خلاف خبره شته؟

دا خو څه عادي خبره نه ده چې د اسلام ډېر کینه کښ دښمنان تر ننه نه دي توانېدلي په ټول قرآن کې داسې مورد په ګوته کړي چې د علم او عقل خلاف وي او ساینس او انساني علومو داسې څه ویلي وي چې د قرآن له ویناوو سره تعارض ولري!! آیا عجیبه نه ده چې پر یوه دیني کتاب څوارلس پېړۍ تېرې شي، خو نه یوازې د ادب په نړۍ کې خپل لوړ او معیاري ارزښت او مقام همداسې خوندي

وساتي، هیڅوك ونه توانېږي چي د هغه په ادبي ترکیب د اعتراض ګوته کېږدي او هیڅوك ونه توانېږي چي د قرآن اړوند عربي ژبي ته داسي ارتقاء ورکړي چي د قرآن لوړ ادبي اسلوب ئې په وړاندي کمرنګه شي، همغه کار چي د نړۍ له هري ژبي سره شوی، هیڅ ژبه نه ده توانېدلي چي څو پېړۍ خپله مخکنۍ بڼه خوندي وساتي، همداراز هیڅوك ونه توانېږي چي د عالم او طبیعت په اړه د قرآن په ویناوو کې کوم نقص او اشتباه ومومي، او د حق او عدالت په اړه د هغه پر معیارونو او قضاوتونو باندي انتقاد وکړی شي، آیا دا کافي نه ده چي ووایو: قرآن د الله تعالی کتاب دئ او د دې کتاب حامل محمد علیه السلام د الله تعالی رښتینی پیغمبر دئ؟!!

# قرآن کافي دئ چي ومنو محمد صلی الله علیه و سلم د الله پیغمبر دئ

الله تعالی فرمایي چي قرآن د رسول الله صلی الله علیه و سلم پر پیغمبرۍ شهادت ورکوي، قرآن ښیي چي دی د الله تعالی له لوري لېږل شوی دئ، دا د ده معجزه ده، دا قرآن تر ټولو معجزو ستره معجزه ده، هم د موسی علیه السلام تر عصا او ید بیضاء او هم د عیسی علیه السلام تر سترو سترو معجزو، قرآن د پیغمبر

علیه السلام ستره معجزه ده، هغه په داسي حال کي دا له معجزو ډك د عظمتونو خاوند قرآن وړاندي کړی چي په لیك لوست نه پوهېدو. قرآن وايي:

**وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ ٢**

**قسم په حکیم قرآن.**

د قسم ځواب دا دی:

**إِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٣ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٤ تَنزِيلَ ٱلۡعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ٥**

**یس: ۳-۵**

**بې شکه ته له پیغمبرانو يې، په مستقیمي لاري برابر، د عزتمن رحیم خدای رالېږنه.**

**په څو نورو سورتونو کي هم دې ته ورته په قرآن لوړه شوې، په ټولو کي ځواب ورته دئ او پدې تأکید شوی چي دا کتاب د الله له لوري دئ، د دې کتاب په اړه د پیغمبر کار لدې پرته بل څه نه دئ چي هغه په امانت سره خلکو ته ورسوي، هغه فقط یو امین استازی دئ. لکه چي د الزخرف په سوره کي راغلي:**

**وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ٢**

**قسم پدې خرګند کتاب.**

**او ځواب ئې دا:**

إِنَّا جَعَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ٣ **الزخرف: ۲-۳**

**یقیناً چي موږ دا یو عربي قرآن ګرځولی ترڅو تاسو تعقل وکړئ.**

**یعني دا مبین کتاب موږ لېږلی، دا د محمد علیه السلام په خپلو افکارو مشتمل کتاب ندئ، د الله کتاب دئ، په عربي کي ئې راتګ تاسو پدې شك مبتلا نکړي چي شایي دا به د محمد عربي علیه السلام خپل کتاب وي، دا خو د دې لپاره موږ په**

عربي کې لیږلی چې تاسو ئې په مطلب پوه شئ. د دې مبین کتاب هرڅه شهادت ورکوي چې الله رالیږلی.

پدې ټولو قسمونو کې دا ویل شوي چې د قرآن عظمت او شأن، د قرآن حکیمانه لارښووني، ذکر او پند ئې، پدې شهادت ورکوي چې محمد علیه السلام د نورو پیغمبرانو په څېر یو پیغمبر دئ، د ده د پیغمبرۍ د اثبات لپاره قرآن کافي دئ، د ده لار سمه ده او د عزیز رحیم خدای له لوري ښودل شوې لار ده. که څوك قرآن ته رجوع وکړي، په شفاف او صاف ذهن سره هغه مطالعه کړي، په هغه کې له ژور حکمته ډکو لارښوونو ته ځیر شي، حکیمانه دعوت ته ئې دقیقاً پام وکړي، علمي څېړني ئې او د طبیعت په اړه د هغه دقیق او عمیق علمي بحثونو ته ځیر شي او بیا دا کتاب د یوه ستر لیکوال، لوی عالم، معروف حکیم او نومیالي محقق له کتاب او لیکني سره مقایسه کړي، ډېر ژر او په آسانۍ سره به پوه شي چې د کوم انسان له خوا د قرآن جوړېدا محال ده، خبري ئې، لارښووني ئې، مواعظ ئې، پرېکړي او قضاوتونه ئې، احکام او قوانین ئې، استدلال ئې، د طبیعت او هستي په اړه دقیق علمي بحثونه ئې، دا ټول په څرگنده توگه ښیي چې دا یوه پیغمبر ته د الله له لوري ورکړی شوی کتاب کېدی شي نه د یوه انسان د ذهن زېږنده، که هرڅومره انسان پوه وي او د ډېر اوچت نبوغ خاوند، دا ورته ممکنه نده چې داسي کتاب جوړ کړی شي.

راشئ په دې اړه لاندنیو څو آیتونو ته ځیر شئ او وگورئ چې کفارو کومي معجزې غوښتې او الله تعالی څه ځواب ورکړی:

**وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعًا ٩٠ أَوۡ تَكُونَ**
**لَكَ جَنَّةٞ مِّن نَّخِيلٖ وَعِنَبٖ فَتُفَجِّرَ ٱلۡأَنۡهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفۡجِيرًا ٩١ أَوۡ تُسۡقِطَ**
**ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمۡتَ عَلَيۡنَا كِسَفًا أَوۡ تَأۡتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ٩٢ أَوۡ**

يَكُونَ لَكَ بَيۡتٞ مِّن زُخۡرُفٍ أَوۡ تَرۡقَىٰ فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤۡمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا كِتَٰبٗا نَّقۡرَؤُهُۥۗ قُلۡ سُبۡحَانَ رَبِّي هَلۡ كُنتُ إِلَّا بَشَرٗا رَّسُولٗا ٩٣ الاسراء:٩٠-٩٣

او وئې ویل: تر هغه دربانديٍ ایمان نه راوړو چې له زمکې کومه چینه راته ونه بهوې. او یا دې د خرما او انګورو داسې باغ نه وي چې په منځ کې ئې ویالې رواني کړې. او یا لکه څنګه چې ګمان کوې دا آسمان پر موږ ټوټې ټوټې راپرې باسې او الله او ملائکې موږ ته مخامخ راحاضر کړې، او یا دې د سرو سپینو زرو کور وي او یا آسمان ته وخېژې او ختل دې هم تر هغه نه منو چې کوم داسې لیکلی کتاب راته راوړې چې موږ ئې لوستی شو، ورته ووایه: سبحان الله! مګر زه له یوه لېږل شوي انسان پرته بل څه یم؟!

که الله تعالی غوښتی چې پیغمبر علیه السلام داسې معجزې وښيي نو دغو کافرانو ته به ئې ورښودلې وې، ځکه معجزه په اصل کې د مخالفینو د عاجزولو او پر کولو لپاره وي، د همدې لپاره د پیغمبرانو علیهم السلام خارق العاده کارونو ته د معجزې نوم ورکړی شوی. د موسی علیه السلام د عصا په یوه ګوزار سره له تېږې دولس چینې راوخوټېدې، خو هغه معجزه د همغه وخت لپاره وه، اوس هغه چینې نشته، که الله تعالی غوښتی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د مخکنیو پیغمبرانو علیهم السلام په څېر معجزې ورکړې نو دا معجزې به هم تر مخکنیو ستري وې او هم تلپاتې، دا ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم رسالت د همدې تقاضاء کوي، دا معجزې باید تر قیامته لیدل کېدی، که ئې غوښتی چې د موسی علیه السلام په څېر معجزه ورکړي نو له یوې ډبرې به ئې داسې چینه ورته راخوټولې وه چې تر قیامته به اوبه ترې راخوټېدې، له آسمانه به ئې داسې لیکلی قرآن پرې نازل کړی وو چې د خلکو په وړاندې به په فضاء کې ولاړ وو، هر چا به

په خپلو سترګو ليدو، دا کار الله تعالى ته ډېر آسان دئ، که لمر، سپوږمۍ او دا ټول بې شمېره ستوري په فضاء کې ساتلی شي د يوه کتاب ساتل به څه ګران کار وي!! که ئې غوښتي وی چې د عيسى عليه السلام په څېر کومه معجزه ورکړي او مړي ورته راژوندي، ړانده سترګور او بيماران روغ کړي نو د قرآن په لوستلو سره به ئې په حقيقي معنى تل مړي راژوندي کول، او ناروغان به ئې روغول، الله تعالى ته دا ټول کارونه آسان دي، ځوك چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وړې وړې معجزې ثابتوي هغوی په حقيقت کې د هغو خلکو د تبليغاتو تر اغېز لاندې تللي چې ويل ئې: ولې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د مخکنيو پيغمبرانو په څېر معجزې نه دي ورکړی شوې؟ خو دې ته ئې پام نه دئ چې الله تعالى د کافرانو د دغې غوښتنې څه ځواب ورکړی؟ ځواب دا دئ: که له آسمانه مو داسې کتاب درباندې نازل کړی وی چې کافرانو په خپل لاس لمس کولی شوی، مړي پرې راژوندي شوي وی، بيا هم دوی ايمان نه راوړ.

قرآن د دې خبرې د اثبات لپاره چې د پيغمبر عليه السلام ويناوې نه د ده ذاتي او شخصي ويناوې دي، نه د کوم شاعر وينا او نه د کوم کاهن، دی د الله تعالى استازی دئ او وينا ئې الهي پيغام، هغه پيغام چې د عالمونو رب رالېږلی، د دې ادعاء د اثبات لپاره د الحاقة سورې په ۳۸ او ۳۹ آيتونو کې په "ما تبصرون: څه چې تاسو وينئ" او " ما لاتبصرون: څه چې تاسو نه وينئ" لوړه شوې او ورپسې ويل شوي:

إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ٤٠ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍۚ قَلِيلًا مَّا تُؤْمِنُونَ ٤١ وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ٤٢ تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ٤٣

الحاقه: ٤٠-٤٣

بې شکه چې دا حتماً د مخور رسول وینا ده. او هغه د کوم شاعر وینا نه ده، لږ ایمان راوړئ، او نه د کوم کاهن وینا ده، لږ پند اخلئ، د رب العالمین له لوري نازل شوی دئ.

لکه چې ګورئ دلته له قسمونو وروسته ویل شوي چې دا د یوه مخور پیغمبر وینا ده، نه د شاعر وینا ده او نه د کاهن، د رب العالمین له لوري رالېږل شوی قول دئ.

د دې معنی دا ده چې: ولاړ شئ د قرآن څېړنې او بحثونه د هر هغه څه په اړه په ځیر او دقت سره وڅېړئ چې (مشهود) دي یا (غائب)، چې تاسو ئې وینئ او ستاسو له نظره پټ دي، حتماً به درته ثابته شي چې دا قرآن د هغه رب العامین له لوري پر پیغمبر علیه السلام نازل شوی چې په ټولو اسرارو خبر دئ. د دې کتاب عظمت، د عالم د اسرارو په اړه ئې دقیق علمي بحثونه، ژوري څېړنې ئې د ټولو هغو شیانو په اړه چې تاسو ئې دا اوس اوس ګورئ، او هغه چې تراوسه ئې لا په حقیقت نه پوهېږئ او ورو ورو به پرې پوه شئ، ښیي چې دا کتاب هغه ذات رالېږلی چې عالم الغیب و الشهاده دئ، هیڅ انسان ته ممکنه نه ده چې داسې باعظمته او دقیق کتاب له خپله ځانه وړاندې کړی شي او د قرآن په څېر، د شاهد او غائب په اړه داسې دقیق او علمي بحثونه ولري، مګر نه ګورئ چې د قرآن د نزول له ورځې تر نن پورې، له هرو څو کلونو وروسته انسانانو ته په سلګونو داسې حقائق راڅرګندېږي چې قرآن لا د مخه او هغه وخت بیان کړي وو چې د هیچا په خیال کې هم نه ګرځېدل، خو خلك د وخت په تېرېدو سره او د ژورو تحقیقاتو په نتیجه کې پرې پوه شوي او همغه خبره ئې کړې چې قرآن لا د مخه کړې وه!! د قرآن دا ویناوې ښیي چې پیغمبر علیه السلام د الله تعالی استازی او کتاب ئې د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب دئ.

د دې قسمونو او څواب تر منځ ئې د تړاو په اړه يو بل تعبير هم زموږ مخې ته څلېږي او هغه دا چې: د دې کريم او لوړ شخصيت د ژوند ټولو ابعادو او اړخونو ته ځير شئ، له اخلاق او ويناوو ئې چې څه تاسو ته څرګند دي، هغه د نورو عادي انسانانو او د خپلو شعراوو او مذهبي مشرانو له اخلاق او ويناوو سره مقايسه کړئ، له شکه پرته به درته واضح شي چې دی د الله تعالی دروند پيغمبر دئ، لاړ شئ د ده د ژوند هغه برخې وڅېړئ چې ستاسو له نظره پټې دي او يوازې نږدې دوستان ئې پرې خبر دي، حتماً به درته ثابته شي چې دی د الله تعالی استازی دئ، نه شاعر دئ او نه کاهن، مګر نه ګورئ چې د ده مېرمن خديجه رضي الله عنها، دا په پاك لمنۍ، عقلمنۍ او درايت کې نوميالۍ ښځه، دا د پيغمبر عليه السلام له ټولو پټو اسرارو باخبره انسان، لومړی کس دئ چې پر ده ايمان راوړې او د ده پيغام الهي پيغام مني.

# د قرآن عجائب پای نه مومي

دا کتاب پای ته نږدې شوی، د کتاب په پای کې بايد ووايم چې دلته ما د قرآن ځيني علمي اعجاز راغونډ کړي نه ټول، ټول ئې ژورو علمي څېړنو او ډېر فرصت ته ضرورت لري، اميد دئ زما دغه وړوکی کتاب د هغو محققينو د تشويق باعث شي چې غواړي په دې پراخ ميدان کې ژورې څېړنې وکړي، که څوك همت وکړي او د ژورو علمي څېړنو فرصت او توفيق ترلاسه کړي نو يقيناً چې د قرآن ډېر نور څلانده علمي اعجاز به کشف کړي. زه دا کتاب د علي رضی الله عنه په هغه روايت پای ته رسوم چې وايي: رسول الله  صلی الله عليه و سلم راته وويل: د قرآن

عجائب دومره زيات دي چي پای او انتهاء نه لري، روايت دا دئ:

قَالَ: أَمَا إِنِّى سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ :« سَيَكُونُ فِتَنٌ ». قُلْتُ : وَمَا الْمَخْرَجُ مِنْهَا؟ قَالَ :« كِتَابُ اللَّهِ كِتَابُ اللَّهِ، فِيهِ نَبَأُ مَا قَبْلَكُمْ، وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ، وَحُكْمُ مَا بَيْنَكُمْ هُوَ الْفَصْلُ لَيْسَ بِالْهَزْلِ، هُوَ الَّذِى مَنْ تَرَكَهُ مِنْ جَبَّارٍ قَصَمَهُ اللَّهُ، وَمَنِ ابْتَغَى الْهُدَى فِى غَيْرِهِ أَضَلَّهُ اللَّهُ، فَهُوَ حَبْلُ اللَّهِ الْمَتِينُ، وَهُوَ الذِّكْرُ الْحَكِيمُ وَهُوَ الصِّرَاطُ الْمُسْتَقِيمُ وَهُوَ الَّذِى لاَ يَزِيغُ بِهِ الأَهْوَاءُ وَلاَ تَلْتَبِسُ بِهِ الأَلْسِنَةُ، وَلاَ يَشْبَعُ مِنْهُ الْعُلَمَاءُ، وَلاَ يَخْلَقُ عَنْ كَثْرَةِ الرَّدِّ، وَلاَ تَنْقَضِى عَجَائِبُهُ، وَهُوَ الَّذِى لَمْ يَنْتَهِ الْجِنُّ إِذْ سَمِعُوهُ أَنْ قَالُوا (إِنَّا سَمعنى قُرْآناً عَجَباً) هُوَ الَّذِى مَنْ قَالَ بِهِ صَدَقَ، وَمَنْ حَكَمَ بِهِ عَدَلَ، وَمَنْ عَمِلَ بِهِ أُجِرَ، وَمَنْ دَعَا إِلَيْهِ هُدِىَ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ... سنن الدارمي

وئې ويل: خو ما له رسول الله صلى الله عليه و سلم اورېدلي چي فرمايل ئې: ژر به داسي فتنې رامنځته شي لکه د تيارې شپې توري برخي، ومي ويل: يا رسول الله! له دې فتنو به د وتلو لار کومه وي؟ وئې فرمايل: د الله تعالی کتاب، د الله تعالی کتاب، په دې کې ستاسو د وړاندينيو د حالاتو بيان دئ او ستاسو د وروستنيو اخبار، ستاسو د خپلمنځيو منازعاتو په اړه حکم، هغه پرېکنده وينا ده، هسي هوايي خبره نه ده، هر جابر چي ئې ترك کړي الله به ئې وځپي، څوك چي له دې پرته په بل څه کې هدايت ولټوي الله به ئې لاروركی کړي، هغه د الله مضبوطه رسۍ، د ده ځلانده رڼا، او حکيمانه پند دئ، او همدا مستقيمه لار ده، او همدا هغه څه دئ چي په دې سره زړونه نه کږېږي، او ژبې نه پرې ګډوډې کېږي، او آراء نه پرې خواره واره کېږي، علماء نه ترې مړېږي، په ډېرو ويلو نه زړېږي، عجائب ئې پای نه مومي، دا همغه کتاب دئ چي کله پېريانو واورېدو نو له دې ئې ډډه ونه کړه چي وواييې: يقيناً چي موږ عجيب قرآن واورېدو، دا همغه څه دئ چي چا پرې ژبه وخوځوله رښتيا ئې وويل، او چا چي پرې حکم وکړ عدالت ئې وکړ، او چا چي عمل پرې وکړ

اجر ئې په برخه شو، او چا چي د هغه لوري ته بلنه وکړه په خپله په سمي لاري هدايت شو.

(۱)- يادونه: که څه هم ځيني محققين د دې روايت په اسنادو څه ملاحظات لري خو د روايت په متن کي د ملاحظې او اعتراض وړ خبره نشته، د قرآن په اړه هغه څه په کي گورو چي په خپله په قرآن کي ويل شوي.

دا هم د قرآن يو ستر اعجاز دئ چي د نزول له نېټې تر ننه په مليونهاوو خلکو هغه حفظ کړی، تاسو به په ټولي نړۍ او ټول بشري تاريخ کي هيڅ داسي مذهبي او غيرمذهبي، د شعر يا د نثر کوم کتاب ونه مومئ چي د قرآن په اندازه حافظان ولري!! پوښتنه کوو: دا ولي د بايبل په شمول نور مذهبي کتابونه په خپل اوږده تاريخ کي محدود شمېر حافظان هم نه لري؟!! ځواب ئې څرگند دئ؛ انسان هغه کلام ژر حفظ کولی شي چي د زړه دړه ئې ورته پرانيستل شي، له عقل سره ئې اړخ ولگوي، محتوی ئې لوړه او د الفاظو ترکيب ئې خوندور وي، يقيناً چي قرآن له دې پلوه هم يو معجز کتاب دئ.

# بايبل د عالم او انسان د پيدايښت په اړه څه ويلي

راشئ وگورو چي بايبل د عالم او انسان د پيدايښت په اړه څه وايي، آيا وينا ئې له قرآن سره ورته ده؟ آيا د قرآن په څېر جامع او دقيقه ده؟ آيا زموږ هغو پوښتنو ته ځواب ويلی شي چي قرآن ځواب کړې؟ ساينس د بايبل د ويناوو په اړه څه قضاوت کوي؟

بايبل له دې پرته چې د آسمانونو او زمکې د پيدايښت د څرنګوالي په اړه څه ووايي او هغه مطلب ته اشاره وکړي چې قرآن توضيح کړی او ساينس پرې د تأييد مهر لګوي له دې ځايه خپل بحث پيلوي چه په پيل کې زمکه تشه وه!! د بايبل د پيدايښت د کتاب په پيل کې د عالم د پيدايښت په اړه داسې لولو: (په سر کې کله چې خدای زمکه او آسمان پيدا کړل، زمکه تشه او بې شکله وه، د خدای روح د تورو بخاراتو پر سر خوځېده، خدای وفرمايل: (رڼا دې شي، نو رڼا شوه، خدای رڼائي خوښه کړه او له تيارې ئې بېله کړه، ده روښنايي د ورځې په نامه او تياره د شپې په نامه ونوموله، شپه تېره او سبا شوه او دا لومړۍ ورځ وه!!)

د بايبل په دې وينا کې څو خبرې د غور وړ دي:

- دا خوشې او بې معنی خبره ده چې زمکه تشه او بې شکله وه!! له دې جملې هيڅوك څه مطلب نه شي اخيستی، له هر چا سره دا پوښتنه راولاړېږي چې زمکه څنګه او له څه تشه وه؟ هر شته شی شکل لري، زمکه څنګه بې شکله وه؟
- دلته د عالم د پيدايښت د بېلابېلو مرحلو لپاره همدا زموږ شپه او ورځ معيار ګڼل شوی، يعني د لومړۍ ورځې په لومړيو دولسو ساعتونو کي الله تعالی رڼا پيدا کړه، دا رڼا ئې په لومړي ځل وليده او خوښه ئې شوه او د ورځې په نامه ئې ياده کړه!! که تاسو د بايبل دا خبره د يوه ساينس پوه او هغه څېړونکي په وړاندې کېږدئ چې د عالم د پيدايښت په اړه څېړنې کوي نو تاسو ته به ووايي:
- دا هسې يوه خوشې، زړه او بې بنسټه قصه ده، هيڅ علمي ارزښت نه لري.
- د عالم د پيدايښت بېلې بېلې مرحلې په ساعتونو او ورځو نه بلکې په سلهاوو مليونو کلونو اندازه کولی شو.
- رڼا او روښنائي له اجسامو بېل مخلوق نه دئ چې په مستقله توګه پيدا شوې وي، رڼا همغه وخت پيدا شوې چې د لمر په څېر روښانه او ځلېدونکي ستوري

راپیدا شول، زمکه هم په سر کې روښانه او ځلېدونکې وه، وروسته وروسته او ورو ورو سړه او تیاره شوه، خپله رڼا ئې له لاسه ورکړه او له ملره ئې رڼا او روښنايي اخیستل پیل کړل.

- د زمکې پر سر شپه او ورځ هغه وخت راپیدا شوې چې زمکې خپله اصلي رڼا او ځلا له لاسه ورکړه او تیاره شوه!!

- د ورځې او شپې نومونه انسانانو په خپله وضع کړي، په هر ځای او هر قوم کې ئې بېل بېل نومونه دي، څوك ئې ورځ، څوك يوم، څوك روز، څوك ئې days په نامه يادوي، که دا نومونه د الله تعالی له لوري اېښودل شوي وی نو په ټولو ژبو کې به سره ورته وو. د بایبل له لیکونکي پوښتنه کوو چې الله تعالی ورځ په کوم نامه یاده کړې وه، دا نوم عبري وو، عربي وو، انګلیسي، چینائي که جاپاني وو؟!!

د بایبل د پیدایښت باب چې چا لیکلی په دې وینا سره ئې هڅه کړې چې د خدای د هغې سرګرداني روح لپاره د اوسېدو مناسب ځای جوړ کړي چې د تیارو بخاراتو پر سر خوځېده، په دې سره ئې غوښتلي د یهودانو د دې عقیدې لپاره کوم بنسټ جوړ کړي چې خدای پر زمکه او د بني اسرائیلو په منځ کې اوسېږي، د کائناتو د پیدایښت په لومړۍ ورځ ئې د زمکې پر سر ځان ته مناسب ځای جوړ کړ او سرګردانه روح ئې له تورو بخاراتو راکوزه شوه!!

تاسو د دې کتاب په لومړیو پاڼو کې ولیدل چې قرآن د بایبل د دې غلطي وینا په مقابل کې څو خبري لري:

- زمکه او آسمان سره جوخت او یو وو، په یوه وخت او د یوې چاودنې په ترځ کې سره بېل شول.

- الله تعالی آسمانونه او زمکه په شپږو ورځو کې پیدا کړي خو دا شپږ ورځې زموږ د معیارونو مطابق شپږ ورځې نه دي چې دوه اویا ساعته کېږي، بلکې د الله

تعالی له عظمت سره مناسب شپږ مرحلې دي، قرآن موږ ته وايي چي دا ورځ کله د زرو او کله د پنځوسو زرو کلونو معادل وخت لپاره کارول شوې او دا ځکه چي د انسانانو لپاره د وخت معيار ورځ وه او الله تعالی همدا لفظ کارولی خو دا د داسي اوږدې مودې لپاره چي يوه طبيعي مرحله احتواء کوي. له دې په واضح توګه معلومېږي چي د اصلي تورات او انجيل الفاظ به حتماً داسي وو لکه د قرآن الفاظ، هلته به هم د ورځ لفظ د يوې طبيعي مرحلې د بيانولو لپاره کارول شوی وي، په حقيقي او متداولي معنی نه بلکي په مجازي معنی، خو د بايبل ليکونکي اشتباه کړې او دا لفظ ئې په متداولي معنی اخيستی او له دې ئې همغه د زمکي د سر ورځ جوړه کړې.

د پيدايښت د باب شپږمه او اومه فقره وايي:

(بيا خدای وفرمايل: د بخاراتو کتلې دي سره بېلي شي، تر څو پورته آسمان او لاندي بحر جوړ شي!! نو خدای د بخاراتو کتلې د زمکي له اوبو بېلي کړې او آسمان ئې ترې جوړ کړ، شپه تېره او سحر شو او دا دوهمه ورځ وه!! )

که دې وينا ته لږ ځير شئ نو څو حقائق به ستاسو مخي ته راشي:

- دلته ويل شوي چي لومړی زمکه، بيا د اوبو بخارات پيدا شوي او بيا له دغو بخاراتو بر آسمان جوړ شوی او لاندي بحر. چي دا له علمي پلوه بې بنسټه خبره ده.

- دلته د آسمان او اوبو بنسټ يو ګڼل شوی او ويل شوي چي بخارات سره بېل شول له يوې برخي ئې آسمان جوړ شو او له بلي د زمکي د سر اوبه!! او دا د آسمان په اړه د يوه داسي ناپوه انسان انګېرنه کېدی شي چي د آسمان او اوبو د رنګ ورته والي ته په پام سره ئې ګمان کړی چي کېدی شي د دې دواړو بنسټ او بنياد يو وي او دواړه له بخاراتو جوړ شوي وي، هغه په دې نه پوهېدو چي دا آسمان زموږ د

زمکي په څېر په ملياردونو ملياردونو ستوري او اجرام په خپلې غېږ کې لري، څه چي زموږ پر سر د يوې شنې پردې په څېر په نظر راځي دا آسمان نه دئ، بلکي زموږ پر زمکي راتاو د اوبو بخارات دي چي يوازي څو کيلو متره د زمکي له سره واټن لري، له دې پردې آخوا بې انتهاء فضاء ده خو نه ئې رنګ شين دئ او نه اوبو او بخاراتو ته ورته!!

د آسمان د پيدايښت په اړه د دې غير علمي او عاميانه نظر په مقابل کې د قرآن وينا څومره دقيقه او علمي ده چي وايي: په سر کې آسمان او زمکه سره يو وو او د يوې زوروري چاودني په ترڅ کې سره بېل شوي او دا هغه خبره ده چي د يووېشتمي پېړۍ کائنات څېړونکي او ساينس پوهان ئې کوي.

د بايبل له نهمي تر ديارلسمي فقرې پوري دا مطالب راغلي:

(بيا خدای وفرمايل: د آسمان لاندي اوبه دي په يو ځای کې راغونډې شي تر څو وچه پيدا شي، همداسي وشول، خدای وچه د زمکي په نامه او د اوبو ډنډ ئې د بحر په نامه ياد کړل او دا ئې خوښ شول، بيا ئې وفرمايل: ډول ډول نباتات او دانه لرونکي بوټي او مېوه لرونکې وني دي په زمکي کې راوټوکېږي او هر يو دي خپله خپله نوع پيدا کوي. همداسي وشول او خدای پرې خوښ شو، شپه تېره شوه او سحر شو او دا دريېمه ورځ وه.)

څوک چي د طبيعت په اړه ډېر سطحي او بسيط معلومات هم ولري دا خبري بې بنسټه او غلطي ګڼي، په څو دلائلو:

- له ورپسې ١٤ او ١٥ جملې معلومېږي چي د بايبل ليکونکی په دې عقيده دئ چي لومړی اوبه، بوټي او وني پيدا شوي او بيا لمر او سپوږمۍ؛ خو دا خبره نه عقل مني او نه علمي تحقيقات، عقل او مشاهده وايي چي د لمر له وړانګو او تودوخي پرته نه بوټي راټوکېږي او نه وني، که لمر نه وي نو د زمکي پر سر به هيڅ ژوی راپيدا

نه شي، دا لمر دئ چي زمکي ته د ژوو د پيدايښت او د بقاء دوه ضروري شيان: رڼا او تودوخه ورکوي، که ومنو چي لمر، سپوږمۍ وروسته پيدا شوي نو هغه بوټي او وني څنگه راپيدا شوي، رڼا او تودوخه ئې له کومه ترلاسه کوله؟!! علمي تحقيقات وايي چي زمکه، لمر او سپوږمۍ په يو وخت کي پيدا شوي او د دوی له پيدايښته يوه ورځ وروسته نه بلکي په مليونهاوو کلونه وروسته د زمکي پر سر د ژوندون شرائط برابر شول. د بايبل ليکوال هم له دې پلوه غلطي کړې چي د بوټو او ونو پيدايښت ئې د لمر او سپوږمۍ له پيدايښته مخکي گڼلي او هم له دې پلوه چي د لمر او سپوږمۍ پيدايښت ئې له زمکي سره په يو وخت نه دئ گڼلی!!

په څوارلسمي او پنځلسمي فقرې کي داسي ليکي:

(بيا خدای وفرمايل: په آسمان کي دي ځلانده اجسام وي چي زمکه روښانه او ورځ له شپې بېله کړي او ورځې، فصلونه او کلونه رامنځ ته کړي او همداسي وشول، نو خدای دوه ستري رڼاوي پيدا کړې ترڅو زمکي ته خپلي وړانگي ولېږي، لويه رڼا ئې پر ورځي د حکومت لپاره او وړه رڼا ئې پر شپې د حکومت لپاره، ده همدا راز ستوري راپيدا کړل، خدای دا ستوري په آسمان کي ځای په ځای کړل تر څو زمکه روښانه کړي، پر شپې او ورځې حکومت وکړي او رڼا او تياره سره بېل کړي، خدای په دې خوښ شو، شپه تېره او سحر شو او دا څلورمه ورځ وه!! )

د دې وينا له ډېرو برخو معلومېږي چي دا د يوه کمعلمه او د طبيعت له اسرارو د بې خبره انسان وينا ده، په څو دلائلو:

- سپوږمۍ د نورو ځلاندو ستورو په پرتله يو ډېر وړوکی ستوری دئ، دې ته د لوی او ځلانده جسم نوم ورکول يوه ستره غلطي ده، له دې کبله هغه موږ ته ستره برېښي چي موږ ته تر ټولو نورو ستورو رانږدې ده، سپوږمۍ ځلانده جسم نه دئ، رڼا ئې خپله نه ده، هغه برخه ئې موږ ته روښانه برېښي چي د لمر رڼا پرې لگېږي،

که تاسو دا خبره یوه عالِم ته وکړئ چې سپوږمۍ یو ستر او ځلانده جسم دئ نو په دې خبرې به وخاندي او دا به یوه ستره غلطي او عامیانه انګېرنه وګڼي.

- د بایبل لیکوال په دې نه پوهېدو چې لمر نه یوازې تر ټولو ستر او ځلانده جسم نه دئ بلکې د دې لمر په څېر په آسمان کې په ملیاردونو ځلانده او تر دې ستر ستر اجرام شته، چې هم ئې رڼا ترې زیاته ده او هم ئې تودوخه، خو له دې کبله چې لمر تر هغوی موږ ته رانږدې دئ نو ځکه ئې د یوازیني ستر او ځلانده جرم په توګه انګېرو، که تاسو د بایبل دا خبره کوم ساینس پوه ته وکړئ نو ټمسخر به پرې کوي.

- د بایبل دا خبره هم بې معنی خبره ده چه لمر پر ورځې، سپوږمۍ پر شپې او ستورې پر دواړو حکومت کوي، دا نه معقوله خبره ده او نه کومه خاصه معنی افاده کوي، نه دوی حکومت کولی شي او نه شپه او ورځ داسې شیان دي چې حکومت پرې کېدی شي.

د پیدایښت د باب له ۲۰ تر ۲۳ پورې جملې داسې دي:

(بیا خدای وفرمایل: اوبه دې له ژوو ډکې شي او مرغان دې د آسمان له پاسه الوتنې پیل کړي، بیا خدای په اوبو کې ژوند کوونکې ستر ستر حیوانات او ژوي او ډول ډول مرغان پیدا کړل، خدای په دې هم خوښ شو او برکت ئې ورپه برخه کړ او وئې فرمایل: د بحر ژوي دې زیات او اوبه دې ډکې کړي او مرغان دې هم د زمکې پر سر زیات شي، شپه تېره شوه سحر شو او دا پنځمه ورځ وه.)

په دې جملو کې څو د اعتراض ټکي په نظر راځي:

- د ژوو د پیدایښت په اړه دا رأیه سمه او دقیقه نه ده چې لومړی ډول ډول بوټي او ونې پیدا شوې او بیا په اوبو کې ژوند کوونکې حیوانات، دقیقه رأیه دا ده چې لومړی د اوبو ژوي او بیا د وچې ژوي پیدا شوي.

- د مرغانو په اړه دا ویل چې د آسمان د پاسه دې الوتنې پیل کړي، صحیح او دقیقه وینا نه ده، ځکه دوی د آسمان د پاسه الوتنې نه کوي، زموږ د سر د پاسه او د زمکې او آسمان ترمنځ الوتنې کوي. ممکن نه ده چې یو کلام دې د الله تعالی له لوري وي او په هغه کې دې داسې ټکيو ته پاملرنه نه وي شوې.

له ۲٦ تر ۳۱ پورې جملې داسې دي:

(بالآخره خدای وفرمایل: انسان به د ځان په څېر جوړوم، تر څو د زمکې پر حیواناتو، د اوبو پر کبانو او د آسمان پر مرغانو حکومت وکړي)، (نو خدای انسان خپل ځان ته ورته پیدا کړ، هغه انسان د نارینه او ښځې په بڼه کې پیدا کړ او برکت ئې ورپه برخه کړ او وئې فرمایل: د اولاد خاوند او زیات شئ او زمکه ډکه کړئ، پرې مسلط شئ، د سمندر پر کبانو، د آسمان پر مرغانو او پر ټولو حیواناتو حکومت وکړئ، (ټول دانه لرونکې بوټې او ټولې مېوه لرونکې ونې مې ستاسو د خوراك لپاره درکړل او ټول شنه واښه مې حیواناتو، مرغانو او خزنده وو ته وبخښل)

په دې جملو کې څو داسې سترې غلطې خبرې ګورو چې د الله تعالی له کلامه او له حقیقته په فرسخونو واټن لري:

- نه خدای د انسان په څېر کېدی شي او نه انسان د خدای په څېر، هغه خدای چې د انسان په څېر وي حقیقي خدای نه بلکې د انسان د ذهن زېږنده خدای دئ، دا یوازې بایبل نه دئ چې وایي خدای د انسان په څېر دئ، د نوح علیه السلام له قومه بیا تر نن پورې ټولو جاهلو قومونو د انسان مجسمه جوړه کړې او هغې ته ئې د خدای نوم ورکړی، د هندوانو او بودایانو خدایان هم د انسانانو مجسمې دي، هغوی هم له خدایه داسې یو انځور په خپل ذهن کې جوړ کړی چې انسان ته ورته دئ، د زمکې او آسمانونو خالق خدای نه په شکل، صورت او هیئت کې انسان یا بل مخلوق ته ورته کېدی شي او نه په خپلو صفاتو او افعالو کې، قرآن د الله تعالی په

اړه د مسيحيانو او يهودانو دا غلطه انګېرنه په ډېر قاطعيت او صراحت سره ردوي او فرمايي چې الله تعالی د دې عالم هيڅ څه ته ورته نه دئ او په دې ټول پراخ عالم کې هيڅ داسې څه نشته چې الله تعالی ته ورته وي:

... لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١١ الشورى: ١١

د ده مثال ته ورته څه نشته او دی ليدونکی اورېدونکی دئ.

يعني الله تعالی هغه خبرې اورې چې جاهل وګړي ئې د ده په اړه کوي او دی له خپل مخلوق سره تشبيه کوي او ټول مخلوقات د ده تر نظر لاندې دي او ګوري چې هيڅ څه ده ته ورته نه دي.

- دا خبره بې معنی ده چې انسان د اوبو پر کبانو، د آسمان پر مرغانو او پر ټولو حيواناتو حکومت کوي، حکومت کول خو دې ته وايي چې حاکم امر کوي او محکوم د ده امر پر ځای کوي، نه حيوانات زموږ تر امر لاندې دي، نه کبان او نه مرغان، اکثر ئې له موږ وېرېږي او تښتي، د دې وينا بر عکس د قرآن وينا څومره دقيقه ده چې فرمايي:

أَلَمۡ تَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَأَسۡبَغَ عَلَيۡكُمۡ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةٗ وَبَاطِنَةٗۗ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَلَا هُدٗى وَلَا كِتَٰبٖ مُّنِيرٖ ٢٠ لقمان:٢٠

آيا پام مو نه دئ کړی چې يقيناً الله تاسو ته ټول هغه څه مسخر کړي چې په آسمانونو کې دي او ټول هغه څه چې په ځمکې کې دي، او پر تاسو ئې خپل نعمتونه په څرګند او پټه توګه بشپړ کړي، او له خلکو ځيني له علم، هدايت او روڼ کتاب پرته د الله په اړه مجادله کوي؟

وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مِّنۡهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ١٣ الجاثية: ١٣

او تاسو ته ئې هغه څه ټول مسخر کړل چې په آسمانونو او زمکې کې دي، یقیناً چې په دې کې د هغو وګړو لپاره څرګندې نښې دي چې تفکر کوي.

په دې آیتونو کې د حکومت کولو پر ځای د تسخیر لفظ کارول شوی، او وایي: د زمکې او آسمان هر څه مو ستاسو لپاره مسخر کړي، یعني ستاسو د خدمت لپاره مو ګمارلي، شپه ورځ لګیا دي تاسو ته ګټه رسوي، د دوی شته والی ستاسو د شته والي ضامن دئ، که دوی نه وي ستاسو ژوند له ګواښ سره مخامخ کېږي. موږ پر لمر او سپوږمۍ حکومت نه کوو، خو دواړه زموږ په خدمت کې لګیا دي، زموږ زمکې ته رڼا او تودوخه راکوي. په دې اړه به د اصلي تورات وینا حتماً د قرآن دغو آیتونو ته ورته وه خو د بایبل لیکونکي په ناسمو الفاظو غلطه تعبیر کړې.

- دا دواړه خبرې هم ناقصې او غلطې دي او هم د واقع خلاف چې ((ټول دانه لرونکي بوټي او ټولې مېوه لرونکې ونې مې ستاسو (انسانانو) د خوراك لپاره درکړې او ټول شنه واښه مې حیواناتو، مرغانو او خزنده وو ته وبخښل)، دا ځکه چې نه هغه یوازې د انسانانو د خوراك لپاره دي او نه دا یوازې د حیواناتو، مرغانو او خزنده وو لپاره، موږ له دانه لرونکو بوټو پرته ډېر بوټي خورو او دوی پر وښو سربېره دانه او مېوه خوري، په مرغانو کې ډېر داسې دي چې یوازې دانه خوري او واښه نه شي خوړی او په حیواناتو کې ډېر داسې چې د وښو پر ځای غوښه خوري. د بایبل دا تقسیم نه موږ مراعاتوو او نه دوی، دا تقسیم د واقع خلاف دئ، کوم هوښیار او پوه انسان به دا غلطه او د واقع خلاف وینا د الله تعالی د کتاب وینا وګڼي؟

د پیدایښت د باب د لومړي فصل وروستۍ جمله دا ده:

(په دې وخت کې خدای ټول هغه څه له نظره تېر کړل چې ده پیدا کړي وو، د

پيدايښت كار ئې ډېر په زړه پوري او عالي وموندو، شپه تېره شوه سحر شو او دا شپږمه ورځ وه)

د پيدايښت د باب دوهم فصل په دې مسخره خبري پيل كېږي:

(په دې ترتيب آسمانونه، زمكه او څه چي په دوی كې دي تكميل شول، د اومي ورځي په رارسېدو سره خدای د پيدايښت كار تمام كړ او له كاره ئې لاس واخيست، خدای اومي ورځي ته بركت ورپه برخه كړ او هغه ئې مقدسه وبلله، دا ځكه چي دا هغه ورځ وه چي خدای د پيدايښت د كار له بشپړولو وروسته آرام وكړ. په دې توگه آسمانونه او زمكه پيدا شول)!!

په دې خبرو هر باشعوره انسان څو جدي اعتراضات كولی شي:

- بايبل په دې وينا سره له خدايه داسي څوك جوړ كړی چي په خپل ټول عمر كې ئې شپږ ورځي كار كړی، په همدغو شپږو ورځو كې ئې د پيدايښت كار بشپړ كړی او د اومي ورځي په رارسېدو سره له خپل كار فارغ شوی، د زمكي او آسمانونو ټول كارونه ئې خپلي مخي ته پرېښي او ده د خپلي ستړيا رفع كولو لپاره آرام كړی، بايبل دا هم نه وايي چي دا آرام يوازي د همدغي ورځي دولس ساعته وو كه تر ننه دوام لري، د بيان له الفاظو خو داسي معلومېږي چي د خدای كار په شپږو ورځو كې بشپړ شوی، له كاره ئې لاس اخيستی، داسي كوم كار نه دئ پاته چي د بايبل خدای ئې د كولو لپاره راپورته شي او خپله رخصتي پای ته ورسوي!!
- دوی خدای په انسان قياس كړی، لكه څنگه چي انسان د خپلي ستړيا رفع كولو لپاره په اونۍ كې يوې ورځي رخصتۍ ته ضرورت لري همدا راز د بايبل خدای هم بايد انسان ته ورته وي، شپږ ورځي ئې كار كړی او اومه ورځ آرام!! آيا كوم عقلمن انسان به هغه څوك د خدای په حيث ومني چي ستړی كېږي او آرام ته ضرورت لري؟!

- موږ خو عملاً ګورو چې د پیدایښت لړۍ په مسلسل او پر له پسې توګه روانه ده، یوه شېبه په کې توقف نه راځي، د دې هستۍ هري خوا ته چې مخ اړوو، ګورو چې هر څه له هیڅ پیل شي، ورو ورو ستر شي، د کمال په لوري وده ورکړی شي، د خپلي ارتقاء او کمال آخری پوړ ته ورسولی شي، یو ضروري او لازم کار ورباندي ترسره شي، یو ضرورت ورباندي رفع کړی شي، یوه تشه او خلأ ورباندي ډکه کړی شي، بیا ئې زوال پیل شي، په زړښت او مرګ محکوم شي او ځای ئې بل ته تش کړی شي، زوړ او کمزوری ختم شي او ځوان او ځواکمن ته خپل ځای پرېږدي، دا کار هره شېبه، هري خوا ته تکرارېږي، د دې مظاهرو تر شا خو موږ ته د خالق او پیدا کوونکي ذات د مسلسل تصرف، ربوبیت او پالني نښې او آثار په نظر راځي، د بایبل پلویان دي موږ ته ووایي چې دا کارونه څوك کوي؟ په خپله ترسره کېږي، که ئې الله تعالی ترسره کوي؟

تاسو د بایبل دا کچه وینا د قرآن له دې وینا سره مقایسه کړئ چې د الله تعالی په اړه فرمایي:

يَسۡـَٔلُهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ كُلَّ يَوۡمٍ هُوَ فِي شَأۡنٖ ٢٩ الرحمن:٢٩

د آسمانونو او زمکي هر څه ده ته خپلي غوښتني وړاندي کوي (له ده د خپلو غوښتنو ترسره کېدا غواړي)، دی هره ورځ په یوه کار کې لګیا دئ (یعني هغه هره شېبه په چارو کې د تصرف په حالت کې دئ)

الله تعالی د زمکي او آسمانونو د ټولو مخلوقاتو اړتیاوو ته په خپله ځواب وایي، دی ئې ضرورتونه رفع کوي او اړتیاوي ئې پوره کوي. د دې عالم هر کار، هره شېبه، په خپله مالك الملك خدای ترسره کوي، الله تعالی داسي نه دئ چې د دنیا کارونه ئې خپلي مخي ته پرېښي وي او دی هیڅ تصرف پکې نه کوي، بلکې هر کار، که ستر وي او که ووړ، د ده په اراده، إذن، حکم، قدرت او مخامخ تصرف سره

ترسره کېږي، هغه یوه شېبه هم د عالم د چارو له اداري، پالني او ساتني نه غافله کېږي،

همدا راز د البقرة سورې په۲۵۵ آیت کې فرمایي:

**... وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ٢٥٥**

(د قدرت او واکمنۍ) کرسۍ ئې پر آسمانونو او زمکې حاوي ده او د دوی دواړو (زمکې او آسمان) ساتنه ئې نه ستومانه کوي او هغه ستر لوړ ذات دئ.

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَ يَطۡلُبُهُۥ حَثِيثٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتِۢ بِأَمۡرِهِۦٓۗ أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٥٤
**الاعراف: ٥٤**

یقیناً چې ستاسو رب هغه ذات دئ چې آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې پیدا کړل، بیا ئې پر عرش استوی وکړه، شپه پر ورځ راکاږي (پرې پټوي ئې)، داسې چې په تلوار ئې لټوي او لمر، سپوږمۍ او ستوري ئې امر ته منقاد دي، په دې پوه شه چې هم (خلقت یعني پیدایښت) ده لره دئ او هم (امر یعني چارې سمبالول)، د عالمونو پالونکی الله برکتناك دئ.

بایبل وایي چې الله تعالی له شپږو ورځو کار وروسته ستومانه شو او په اومه ورځ ئې آرام وکړ، خو قرآن د بایبل د دې غلطې خبرې په ځواب کې فرمایي چې الله تعالی د آسمانونو او زمکې له پیدا کولو وروسته د چارو واگې په خپل لاس کې ونیولې، د ټول کائنات د سلطنت پر عرش ئې استوی وکړه، هغه هم خالق دئ او هم ټولواك، لکه څنگه چې د مخلوقاتو پیدایښت د ده ځانگړتیا ده همدا راز واکمني او د عالم د چارو سمبالول د ده کار دئ، شپه او ورځ د ده په امر ځي

راځي، لمر، سپوږمۍ او ستوري دی اداره کوي، الله تعالی هم خالق دئ او هم پالونکی او ساتونکی.

ګورئ چي قرآن دا عالم داسي معرفي کوي چي د الله تعالی ملك دئ، دی ئې واکمن دئ، هر څه د ده په امر او حکم ترسره کېږي، که لمر راخېژي او لوېږي، که ورېځي په آسمان کي خوځي، باران او واوره ترې ورېږي، که ونه او بوټی له زمکي راټوکېږي او دانه او مېوه ورکوي، که ژوي پيدا کېږي، ستر کېږي او مري، هر څه او هرکار الله تعالی کوي، د ده په امر او توفيق ترسره کېږي. د بايبل دا خبره له بنسټه ردوي چي الله تعالی د عالم له پيدايښته وروسته د نوي پيدايښت لړۍ متوقف کړه، ستومانه شو او آرام ئې وکړ!! ګورئ چي د الله تعالی په اړه د بايبل وينا څومره ناقصه او د واقع خلاف ده او د قرآن وينا څومره جامع او د حقيقت مطابق، آيا يو عقلمن انسان به هغه خدای ومني چي ستومانه کېږي او آرام کولو ته اړ کېږي او د خپل ملك چاري او واګي خپلي مخي ته پرېږدي؟!!

د دې فصل له پنځمي تر پنځلسمي پوري فقرې داسي دي:

(کله چي خدای زمکه او آسمان پيدا کړل، هيڅ بوټی او واښه د زمکي پر سر نه وو شنه شوي، دا ځکه چي نه خدای باران ورولی وو او نه کوم انسان وو چي په زمکي کي څه وکري، خو اوبه له زمکي راخوټېدې او ټولي وچي ئې خړوبولې!! دغه وخت خدای آدم له خاوري جوړ کړ او بيا ئې د ده په پزه کي د ژوند روح پو کړه او ده ته ئې ژوندون ورپه برخه کړ او له آدمه يو ژوندی موجود جوړ شو! له دې وروسته خدای په عدن کي چي په ختيځي سيمي کي پروت دئ يو باغ پيدا کړ او هغه آدم ئې په کي ځای په ځای کړ چي مخکي ئې پيدا کړی وو!! خدای ډول ډول ښايسته وني په دې باغ کي راپيدا کړې تر څو خوندوري مېوې ورکړي، ده د باغ په منځ کي (د حيات ونه( او همدا راز (د ښه او بد د پېژندو ونه) پيدا کړه، د عدن له سيمي د

باغ په لوري يو سيند وبهېدو تر څو ئې خړوبه کړي، بيا دا رود په څلورو وړو رودونو تقسيم شو، لومړی رود ئې "فيشون" دئ چې د خويله له سيمي تېرېږي او هلته خالص سره زر، مرغلري او د جزع ډبري موندل کېږي، دوهم ئې (جيحون) دئ چې د کوش له سيمي تېرېږي، درېيم ئې (دجله) دئ چې د آشور ختيځ ته درومي او څلورم ئې (فرات) دئ!! خدای آدم د عدن په باغ کې پرېښود تر څو هلته کار وکړي او د باغ ساتنه او پالنه وکړي او ده ته ئې وويل: د دې باغ د ټولو ونو مېوې خوره پرته د يوې ونې "د ښه او بد د پېژندا ونه" دا ځکه چې که دا مېوه وخورې مطمئن اوسه چې حتماً مرې!!

راشئ دا جملې لږ په دقت سره له نظره تېرې کړو او وګورو چې دا څومره بې معنی، مبهمې، د حقيقت خلاف او افسانې ته ورته خبري دي!!

- موږ هره شېبه په خپلو سترګو ګورو چې الله تعالی ژوندي مخلوقات څنګه پيدا کوي، څنګه ئې له مړې خاوري جوړوي، څنګه روح په کې پو کوي او ژوندی مخلوق ترې جوړوي، آيا دغه څه چې موږ ئې په خپلو سترګو ګورو له هغه څه سره مطابقت لري چې بايبل ئې د آدم عليه السلام د پيدايښت په اړه وايي؟! آيا د ژونديو شيانو په پيداکولو کې د الله تعالی سنت همداسې دئ چې لومړی د يوه شي مجسمه جوړوي، بيا ئې په پزه کې روح ور پو کوي او ژوندی مخلوق ترې جوړوي؟! آيا د بايبل ليکونکي او منونکي همداسې پيدا شوي؟! که دوی داسې نه وي پيدا شوي نو د دوی جد آدم عليه السلام به ولې داسې پيدا شوی وي؟! الله تعالی خو انسانان، حيوانات او بوټي داسې پيدا کوي چې په سر کې وړوکې نطفه وي، ورو ورو ستره شي او يو بشپړ ژوندی مخلوق ترې جوړ شي، څنګه ومنو چې لومړی الله تعالی د ټولو ژوو مجسمې جوړي کړې بيا ئې د دوی په پزو کې روح پو کړې او ژوند ئې ورپه برخه کړی!! دا انګېرنه خو نه له انساني عقل سره اړخ لګوي او نه په پيدايښت

کي د الله تعالی له مشهود او نه بدلېدونکي سنت سره.

- د پیدایښت د باب په لومړي فصل کې ویل شوي چې د آدم علیه السلام له خلقته مخکې ټول نور ژوي د بوټو او ونو په شمول پیدا شوي وو، خو دلته ویل شوي چې د ده د پیدایښت په وخت کې د زمکې پر سر هیڅ واښه او بوټي نه ول، د ده له پیدایښته وروسته خدای په عدن کې یو باغ پیدا کړ!! دا صریح تناقض دئ.
- د بایبل له دې وینا معلومېږي چې آدم علیه السلام د زمکې پر سر یوه باغ کې ځای په ځای شوی، خو د دې تر څنګ وایي چې په دې باغ کې خدای د نورو ونو تر څنګ او د باغ په منځنۍ برخې کې د (حیات ونه) او د (ښه او بد پېژندا ونه) هم پیدا کړه!! خو نه د زمکې پر سر په ونو کې د حیات ونه شته او نه د ښه او بد پېژندا په نامه کومه ونه!! د بایبل لیکوال او پلویان دې ووایي چې دا دوه ونې چېرې دي؟ تاسو کومې ونې په دې نامه پېژنئ؟ د نړۍ په هیڅ ګوټ کې داسې ونې نشته!! د حیات ونه، د معرفت ونه، د حیات اوبه او دې ته ورته نوري خبرې بې بنسټه او د خیال په عالم کې جوړې شوې خبرې دي، انسان داسې پیدا شوی چې خامخا به مري، الله تعالی داسې اوبه او مېوه نه ده پیدا کړې چې د هغې په خوړو سره انسان دائمي او ابدي ژوند ترلاسه کړي، د انسان معرفت اکتسابي دئ، ورو ورو زیاتېږي، د تعلیم، تعلم، زده کړي او تجربې په نتیجه کې ئې د معرفت او د ښه او بد د پېژندا سطح لوړېږي، الله تعالی داسې مېوه نه ده پیدا کړې چې د هغې په خوراك سره انسان ته د ښه او بد د پېژندو معرفت ورپه برخه شي!! د بایبل د دې وینا په خلاف، د قرآن په هغو آیتونو کې چې تر ټولو د مخه پر پیغمبر علیه السلام نازل شوي او په همدې آیتونو د قرآن د نزول لړۍ پیل شوې داسې راغلي:

ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ٣ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ٤ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ٥

العلق : ۱-۵

ولوله په نوم د خپل رب، هغه چي پيدا ئې کړ. انسان ئې له ځوړندو پيدا کړ. ولوله چي رب دي ډېر کريم دئ. آ چي په قلم ئې پوهه ورکړه. انسان ته ئې ورزده کړل څه چي نه پرې پوهېدو.

تاسو د قرآن دا علمي، دقيقه او په حقيقت او واقعيت ولاړه وينا د بايبل له دغي بې بنسټه ادعاء سره مقايسه کړئ چي وايي: انسان د معرفت د وني مېوه وخوړه، سترگي ئې پرانيستل شوې، د ځان او خپل ماحول په حال پوه شو.

- بايبل دلته ويلي چي لومړی آدم عليه السلام ته د عدن په سيمي کې يو باغ جوړ کړی شو، بيا د دې باغ د خړوبولو لپاره د همدې عدن له سيمي يو دومره ستر سيند جاري کړی شو چي د دجلې او فرات په څېر څلور رودونه ترې جلا شوي وو، خو دا باغ دومره ووړ وو چي آدم عليه السلام يوازي په هغه کې کار کاوو او د هغه ساتنه به ئې کوله!! او دا ستر سيند له هغه وروسته د عدن له سيمي په بهېدو شو چي خدای دا باغ تيار پيدا کړی او جوړ کړی وو!! دا ټولي خبري هم د عقل خلاف دي او هم د واقع خلاف، معمول خو دا ده چي لومړی په يوې سيمي کې اوبه پيدا کېږي بيا په کې بوټي او وني، خو بايبل د دې عکس خبره کوي!! نه د دې څلورو رودونو سرچينه يوه ده، نه له يوه سينده سره جلا شوي، نه د دجلې او فرات شاوخوا کې داسي بل ستر رود شته چي دجله او فرات ترې بېل شوي وي، د بايبل دا خبره ډېره عجيبه ده چي وايي دجله او فرات له يوه ستر سينده بېل شوي، حال دا چي دجله او فرات په سر کې نه بلکي په پای کې سره يو ځای شوي، ښايي د بايبل ليکونکي ته چا ويلي وو چي دا دواړه رودونه په فلانۍ سيمي کې سره يو ځای دي او بر سره بېل، ده گمان کړی چي له بره سره يو ځای دي او په پای کې سره بېل!! که دا رودونه له جنوب شرقه د شمال غرب په لوري بهېدی نو بيا د بايبل خبره سمه وه،

خو خبره برعکس ده، دا رودونه د عراق له شمال غربه د جنوب شرق په لوري بهېږي او د خليج خولې ته نږدې سره يوځای کېږي!!! يقيناً چې د بايبل دا وينا د ډېري خندا وړ ده. د بايبل دا خبره هم نامعقوله ده چې د يوه کس تر څارنې او ساتنې لاندې يو ووړ باغ دې په دومره ستر سيند خړوب شي، که د دجلې او فرات ترڅنګ د فيشون او جيحون په نامه رودونه هم وی، چې نشته او په نقشه کې هم نه ترسترګو کېږي، نو داسې څلور رودونه خو دومره ستر ملك ته اوبه ورکولی شي چې ټول عراق او ايران احتواء کړي، الله تعالی به څنګه داسې ستر رود د آدم عليه السلام تر څارنې لاندې د يوه واړه باغ د خړوبولو لپاره پيدا کوي؟!! او که له جيحون مراد د آمو دريا وي چې سر چينه ئې د پامير له لوړو ده او د دجلې او فرات له سرچينو نږدې پنځه زره کيلو متره فاصله لري، نو بيا خو به د بايبل د ليکونکي هغه د عدن باغ هومره ستر وي چې يوه څنډه ئې په افغانستان، تاجکستان او اوزبکستان کې او بله ئې په عراق کې!! او که جيحون کوم داسې رود وي چې له کوش تېرېږي نو کوش اوس د ايران مربوطه سيمه ده!! دا خبره هم صحيح نه ده چې د سيند سرچينه او د باغ موقعيت دې يوه سيمه (عدن) وي، معمولاً خو د سيند سرچينه له هغو زمکو ډېره لرې وي چې خړوبوي ئې.

- د بايبل له منونکو پوښتنه کوو: آدم عليه السلام ته د کومې مېوې د نه خوړلو توصيه شوې وه او ګواښل شوی وو چې که دا مېوه وخورې حتماً مرې؟ د حيات د ونې که د معرفت د ونې؟ بايبل دلته په دې اړه څه نه وايي خو ډېر وروسته د دې وضاحت کوي، طبيعي ده چې دا د حيات د ونې مېوه نه شي کېدی دا ځکه چې هغه خو په مرګ نه بلکې په دائمي ژوند منتج کېږي!! او د دوهمې خبرې معنی خو دا ده چې که ته د معرفت ترلاسه کولو هڅه وکړې او (د ښه او بد پېژندو د ونې) مېوه وخورې نو هرو مرو مرې، يعني په پټو سترګو ژوند کوه، د معرفت د ونې مېوه مه خوره، دا مېوه ستا د مرګ باعث کېږي!! په دې اړه څو پوښتنې لرو:

- آدم علیه السلام خو دا مېوه وخوړه، ولې مړ نه شو؟ ولې د بايبل د خدای خبره غلطه وخته؟ هغه خو ورته ويلي وو چې که دا مېوه وخورې مطمئن اوسه چې حتماً مرې!!

- د انسان د مرگ يو ستر عامل خو د بايبل د خبرې برعکس د ده عدم معرفت دئ، هغه که له بيمارۍ مري وجه ئې دا ده چې د دې بيمارۍ د علاج دوا نه پېژني، هغه که د کوم دښمن په لاس مغلوبېږي او په قتل رسېږي سبب ئې دا دئ چې معرفت ئې ناقص دئ، د دښمن د پرځولو او د ده له شره د ځان ژغورلو په چل او چم نه پوهېږي، معرفت خو د ده د ژوند د اوږدوالي باعث دئ نه د مرگ باعث، الله تعالی به څنگه ده ته وايي چې د معرفت د ونې مېوه ستا د مرگ باعث کېږي؟!!

د دې فصل له ۱۸تر ۲٤ پورې جملې دا دي:

(خدای وفرمايل: مناسبه نه ده چې آدم يوازې وي، بايد ده ته کوم مناسب يار او ملگرى پيدا کړم، نو دغه وخت خدای ټول هغه حيوانات او مرغان د آدم خوا ته راوړل چې له خاورو ئې جوړ کړي وو، ترڅو وگورې چې آدم به څه څه نومونه پرې ږدي، په دې توگه ټول حيوانات او مرغان ونومول شول، نو آدم ټول حيوانات او مرغان ونومول، خو د ده لپاره مناسب يار ونه موندل شو، دغه وخت خدای آدم ويده کړ، د ده يوه پښتۍ ئې راوايسته او د هغې تش ځای ئې په غوښې ډك کړ او له دې پښتۍ ئې يوه ښځه جوړه او د آدم خوا ته ئې راوسته، آدم وويل: دا زما د هډوکو يو هډوکى او زما د غوښې يوه غوښه ده، نوم دې (نسا) وي ځکه چې له (انسان) اخيستل شوې)، (په همدې وجه ده چې انسان له خپل مور پلار بېلېږي او له خپلې مېرمنې سره جوخت کېږي او له دې وروسته دواړه سره يو کېږي)!!

په دې څو لنډو جملو کې څو عجيبې او د خندا وړ خبرې گورو:

- دا وينا داسې ده لکه چې څوك ووايي: خدای خپلې اشتباه ته متوجه شو چې

آدم ئې یوازې پیدا کړی او دا مناسب کار نه وو اوس غواړي دا اشتباه جبران کړي او ده ته کومه جوړه او ملګرې راپیدا کړي.

- دا ملګری باید دی په خپله او د حیواناتو او مرغانو له منځه غوره کړي، نو ځکه ئې ټول حیوانات او مرغان د ده خوا ته راوستل، ده د ځان لپاره کوم مناسب (یار) په دوی کې ونه موندو، هیڅ یو ئې د ملګرتیا لپاره غوره نه کړ، صرف دا کار ئې وکړ چې په هر یوه ئې یو نوم کېښود او په دې توګه د ټولو شیانو لپاره همغه وخت او د آدم علیه السلام له لوري نومونه غوره شول!!

- نو کله چې آدم علیه السلام له حیواناتو او مرغانو کوم (یار) ځان ته غوره نه کړ، الله تعالی د دې لپاره خوب پرې راوست چې یوه پښتۍ ئې ترې راوباسي، پرته له دې چې درد احساس کړي او له هغې ده ته یو (یار او ملګرې) جوړه کړي، آدم علیه السلام په ژور خوب ویده وو چې پښتۍ ئې ترې وایستی شوه، تش ځای ئې په غوښي ډك کړی شو، له پښتۍ ئې یوه ښځه جوړه کړی شوه، د آدم علیه السلام له راویښېدو مخکې د ده خوا ته حاضره کړی شوه، کله چې هغه له خوبه راویښ شو په خپلې خوا کې ئې وموندده او فوراً ئې وویل: دا زما د هډوکو یو هډوکی او زما د غوښي یوه غوښه ده، نوم دې (نسا) وي ځکه چې له (انسان) اخیستل شوې)!!

ډېره عجیبه ده چې یو هوښیار او عقلمن انسان داسي خبري په خوله راوړي یا ئې له بله واوري او وئې مني!! آیا داسي ناپرتې او خوشې خبري د الله تعالی کتاب ته منسوبول لویه بې باکي او جسارت نه دئ؟!! مګر الله تعالی خپل مخلوقات دغسي پیدا کوي لکه بایبل چې وایي؟ مګر دا هره شبېه چې الله تعالی حیوانات او د دوی جوړې پیدا کوي دغسي ئې پیدا کوي لکه بایبل چې ادعاء کوي؟ آیا کوم عاقل انسان به دا خبره ومني چې د ژوو د جوړه جوړه پیدا کولو په اړه د الله تعالی سنت همداسي دئ لکه په بایبل کې چې لیکل شوي؟ آیا سمه ده چې ووایو:

لومړی د ټولو حیواناتو نارینه پیدا شوي بیا ئې له پښتیو د دوی ښځینه پیدا شوې؟!
د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: آدم علیه السلام څنګه پوه شو چې دا زما د هډوکو یو هډوکی او زما د غوښې یوه غوښه ده؟ د بایبل د ادعاء په اساس خو دی ویده وو او په دې هم نه دئ پوه شوی چې د جراحي عملیات پرې ترسره شوي او یوه پښتۍ ترې ایستل شوې!! چا تاسو ته ویلي او څنګه به دا خبره ثابتوئ چې د آدم علیه السلام ژبه عبري یا عربي وه او پر خپلې ملګرې ئې د نسا نوم اېښی؟!! که د بایبل له ادعاء سره سم په ټولو شیانو باندې نومونه د آدم علیه السلام له لوري اېښودل شوي وي ولې دا نومونه په ټولو انساني ژبو کې سره ورته نه دي؟ ستاسو پر لور، زوی، خور، مور او پلار چا نومونه اېښي؟ په موټر، کمپیوټر، سیکل، تلویزیون، راډیو او ... دا نومونه آدم علیه السلام اېښي که د ده اولاد؟

- دا خبره له مخکنیو سره څه ارتباط لري چې بایبل وایي: (په همدې وجه ده چې انسان له مور او پلاره بېلېږي او له خپلې مېرمنې سره جوخت کېږي او له دې وروسته دواړه سره یو کېږي)!! موږ خو د مخکنیو جملو په هیڅ ځای او هیڅ لفظ کې داسې څه نه وینو چې له مور او پلاره د انسان بېلیدا او له خپلې مېرمنې سره یو ځای کېدا توجیه کړي!! دا بې ربطه خبرې ښیي چې د بایبل لیکوال له ادبي لحاظه هم ډېرې ستونزې درلودې.

د بایبل په دریيم فصل کې، د انسان سقوط تر عنوان لاندې په لومړیو ۱۹ جملو کې دا مطالب لولو:

مار تر ټولو هغو حیواناتو ډېر زیرك وو چې خدای پیدا کړي وو، یوه ورځ مار د ښځې خوا ته راغی او هغې ته ئې وویل: آیا رښتیا ده چې خدای تاسو د باغ د ټولو ونو د مېوو له خوړلو منع کړي یئ؟ ښځې په ځواب کې ورته وویل: موږ ته اجازه راکړی شوې چې د ټولو ونو مېوه وخورو پرته د یوې ونې چې د باغ په منځ کې ده،

خدای امر کړی چي د دې ونې مېوه ونه خورو او حتی لاس ورنه وړو که نه نو مرو. مار ورته وویل: "مطمئن اوسه چي نه مرئ، بلکي خدای ښه پوهېږي چي کله تاسو دا مېوه وخورئ سترګي مو پرانیستل کېږي، د خدای په څېر کېږئ او ښه له بده بېلولی شئ"، هغه ونه ښځي ته ښایسته وبرېښېده او له ځان سره ئې فکر وکړ چي "کېدی شي د دې ښایسته ونې مېوه خوندوره وي او پوهه مي په برخه کړي، نو د دې ونې مېوې ئې راوشکولې، وئې خوړلې او خپل خاوند ته ئې هم ورکړې او هغه هم وخوړلې" په همدې سره د دوی دواړو سترګي پرانیستلې شوې، په خپلې بربنډتیا پوه شول، نو د انځر له پاڼو ئې د ځان پټولو جامه جوړه کړه، د همدې ورځي په مازدیګر کي، آدم علیه السلام او ښځي ئې د خدای غږ واورېدو چي په باغ کي ګرځېدو، نو په ونو کي پټ شول، خدای آدم ته غږ کړ: اې آدمه! چېري یې، ولې پټېږې؟ آدم ځواب ورکړ: ستا غږ مي په باغ کي واورېدو، ووېرېدم، دا ځکه چي لوڅ وم، نو ځکه پټ شوم، خدای وفرمایل: چا درته وویل چي لوڅ یې؟ آیا د هغي ونې مېوه دي خوړلې ده چي ترې منع کړی مي وې؟ آدم ځواب ورکړ: دغي ښځي چي زما ملګرې دي ګرځولې، ما ته ئې دا مېوه راکړه او ما هم وخوړه، دلته نو خدای له ښځي وپوښتل: دا څه کار وو چي تا وکړ؟ ښځي وویل: مار وغولولم!! نو خدای مار ته وویل: د دغه کار د کولو په سبب به د زمکي تر ټولو وحشي او اهلي حیواناتو زیات ملعون وې، تر څو چي ژوندی وې په خپلې سینې به خوځې، خاوري به خورې، ستا او د ښځي او ستا د نسل او د ښځي د نسل تر منځ به تلپاتې دښمني اچوم، د ښځي نسل به ستا سر ځپي او ته به د ده پنډۍ چیچې، دغه وخت خدای ښځي ته وفرمایل: ستا د زېږولو د وخت درد به درته زیات کړم، ته به په درد او کړاوو سره خپل اولاد زېږوې، د خپل مېړه مشتاقه به وې او هغه به پرتا برلاسی وي، بیا خدای آدم ته وفرمایل: له دې کبله چي د خپلي ښځي خبره دي ومنله او د هغي ونې مېوه دي وخوړله چي درته ویلي مي وو مېوه ئې مه خوره، زمکه به تر لعنت

لاندي راشي او ته به په خپل ټول عمر کې په زحمت او کړاو سره خپل معاش ترې ترلاسه کوې، له زمکې به اغزي او خاشاك درته راټوکېږي او د بېديا بوټي به خورې، د عمر تر پايه به د تندي په خولو سره ډوډۍ خورې او په پای کې به همغي خاوري ته بېرته ورگرځې چي ترې واخيستی شوې، دا ځکه چي ته له خاورو جوړ شوی يې او خاورو ته به بېرته ورگرځې، آدم خپله ښځه حوی (يعني ژوندون) ونوموله، ځکه چي دا بايد د ټولو ژونديو مور شي!!!

په دې برخي کې دومره بېهوده او د خندا وړ خبري دي چي انسان ورته حيران شي، نه پوهېږو يهودان او مسيحيان څنگه دا خبري د الله تعالی له لوري او د يوه مقدس آسماني کتاب خبري گڼي!! لاندي څو خبرو ته ئې متوجه شئ:

- وايي: مار تر ټولو حيواناتو زيات زيرك دئ، حال دا چي د مار زيرکتيا تر ډېرو ډېرو حيواناتو لږ ده.
- وايي: مار د ښځي د غولولو لپاره باغ ته ورغی!! نه پوهېږو د مار ئې د ښځي له غولولو سره څه؟ کوم عاقل انسان به دا خبره ومني چي مار کولی شي ښځه وغولوي!!
- وايي: مار ښځي ته وويل: خدای تاسو ته حقيقت نه دئ ويلی، دا سمه نه ده چي د دې مېوې په خوړلو سره تاسو مرئ، حقيقت دا دئ چي د دې مېوې په خوړلو سره تاسو په ښه او بد پوهېږئ، خدای د دې لپاره نه غواړي چي تاسو دا مېوه وخورئ چي په دې سره تاسو د خدای په څېر معرفت ترلاسه کوئ او په ښه او بد پوهېږئ او د ده رقيبان درنه جوړېږي، هغه نه غواړي چي رقيب ولري!! د همدې لپاره ئې تاسو د دغي مېوې له خوړلو منع کړي يئ!! بايبل وايي چي د مار خبره سمه وخته او د خدای خبره ناسمه او د حقيقت خلاف، دوی دواړو دا مېوه وخوړه، مړه نه شول، برعکس په ښه او بد پوه شول!!

• بايبل په دې بحث سره ښځه د ګناه اصلي عامل او باعث معرفي کوي، د ګناه پيل د دې لخوا شوی، د ځمکې پر سر لومړۍ ګناه د دې له لوري وه، نارينه هم د دې په لاس ګناه ته هڅول شوی! او دا د حقيقت او واقع کاملاً خلاف خبره ده، د ګناه په کولو کې د ښځې جسارت تر نارينه ډېر لږ دئ، په نارينه وو کې د مجرمانو شمېر تل تر ښځو زيات وي، ښځه غالباً د نارينه تقليد کوي، په هغه پسې اقتدا کوي، د ښځو جوړښت داسې دئ چې تر نارينه ئې ښېګڼو ته تمايل زيات وي، قوي عاطفه ئې د بدو په ځای ښو ته هڅوي، تل ګورو چې نارينه د ګناه لپاره په ښځو پسې ورځي.

• په جنت کې د ممنوعه مېوې په اړه به د اصلي تورات او انجيل وينا حتماً هغسې وي چې په قرآن کې راغلې، قرآن دا موضوع د يوې ډېرې ژورې علمي موضوع په توګه څېړلې او يوه ستر علمي حقيقت ته ئې اشاره کړې او هغه دا چې د عالَم په ټولو ژوو کې يوازې انسان داسې پيدا شوی چې مجبور دئ د مفيد او مضر خوراك په اړه له بله معلومات ترلاسه کړي، نور ژوي داسې پيدا شوي چې د پيدايښت له لومړيو شېبو په دې پوهېږي چې کوم څه وخوري او کوم څه نه، په دماغ کې ئې د مضر او ګټور بوټي او دانې د تشخيص استعداد اېښودل شوی، د دغه استعداد په مرسته د پيدايښت له لومړۍ ورځې سم او ناسم خوراك معلوموله شي، د غرڅه بچی، وری، سېرلی، وزګوری، سخوندر، جونګی او ټول نور ژوي او بچيان ئې هغه بوټي نه په خوله کوي چې ورته مضر وي، خو د انسان بچی ډېره، خاوره، سکروټه او هر څه په خوله کوي، تر اوږدې مودې ئې بايد مور سمبال کړي او د تاواني شيانو له خوړلو ئې وساتي، قرآن په جنت کې د آدم عليه السلام د ځای په ځای کېدو او د ممنوعه شجرې په يادولو سره دغې اساسي او مهمې خبرې ته اشاره کړې، خو د بايبل ليکوال له دې نه يوه خندونکې بې بنسټه قصه جوړه کړې!!

• دا ډېره ډېره مسخره خبره ده چي د دغي مېوې له خوړلو مخکي دوی خپل بربنډتوب نه احساساوو او له خوړلو وروسته پوه شول چي بربنډ دي!! او دا ځکه چي مخکي بې معرفته ول او د معرفت د مېوې له خوړلو وروسته ئې سترګي پرانیستلې شوې او خپل لوڅوالی ئې احساس کړ!! حقیقت د دې خبري کاملاً عکس او دا دئ چي: الله تعالی د زمکي په سر هر ژوي ته داسي لباس ورکړی چي هم ښایسته دئ، هم ئې په ځان برابر دئ، نه ګنډل غواړي او نه اوبدل، نه زړېږي او نه شړېږي، هم ئې په ژمي کي له یخنۍ ساتي او هم په دوبي کي له تودوخي. د ځینو لباس خو دومره ښایسته دئ چي که د نړۍ ټول انسانان راغونډ شي نو نه په دې ظرافت، لطافت، ښایست او رنګ کي داسي لباس اوبدلی شي او نه ئې ګنډلی. په ټولو ژوو کي یوازي انسان هغه مخلوق دئ چي بربنډ دئ، د نورو په څېر جامه نه لري، دې ته اړ دئ چي ځان ته به جامه جوړوي، د ژمي لپاره بېله او د دوبي لپاره بېله، د قرآن له وینا معلومېږي چي انسان په سر کي داسي نه وو، وروسته بربنډ شوی، له لوڅېدو مخکي ئې داسي جامه وه چي هیڅکله به نه بربنډ کېدو، تل ئې دی پټ ساتو، نه د جامو اوبدلو ته اړ وو او نه ګنډلو ته، له دې جامو د یوې اشتباه په نتیجه کي محروم شو، د ممنوعه شجرې مېوه ئې وخوړه او په دې سره هغه جامه ترې وایستی شوه او بربنډ شو، لومړی ئې د ونو له پاڼو ځان ته جامه جوړه کړه او وروسته ئې نوري جامې، د بایبل لیکونکي د آدم علیه السلام بربنډېدا هغسي توجیه کړې، له سره لوڅ ول، خو نه پرې پوهېدل، د معرفت د مېوې په خوړلو سره پرې پوه شول!! په مسلمانانو کي د بایبل تر اغېز لاندي راغلي خلك د آدم علیه السلام له لومړني لباس داسي تعبیر لري چي ګواکي دا به له وړیو، وریښمو، سنډو او یا مالوچو نه اوبدل شوې کومه جامه وه، چي د ده په قد قامت برابره ګنډل شوې وه، حال دا چي اوبدلې او ګنډل شوې جامه بني آدم جوړه کړې، الله چي کومه جامه ورکوي هغه اوبدل او ګنډل نه غواړي. دوی نه د قرآن الفاظو ته پام کړی او نه هغه څه

ته چي هره شېبه ئې په خپلو سترګو ګوري، یوې خوا ته په ملیونهاوو هغه ژوي ګوري چي په ښایسته الهي جامو پټ دي او بلي خوا ته یوازي بني آدم چي له دې جامې محروم او دې ته اړ شوی چي ځان ته جامه جوړه کړي، قرآن په دې سره یو ستر علمي حقیقت بیان کړی خو د اسرائیلي روایاتو په دام کي پرېوتو کسانو له دې افسانه جوړه کړې.

- بایبل الله تعالی داسي معرفي کوي: په یوه وړوکي باغ کي ګرځي، د ګامونو غږ ئې آدم علیه السلام واورېدو، ترې پټ شو، خدای نه پوهېدو چي آدم چېري دئ، غږ ئې ورته وکړ: اې آدمه! چېري یې؟ له دې هم خبر نه وو چي دوی دواړو هغه ممنوعه مېوه خوړلې ده!!! له آدم علیه السلام پوښتنه کوي: څنګه پوه شوې چي لوڅ یې؟ آیا هغه مېوه مو خوړلې چي ترې منع کړي مي وئ؟!! له دې هم نه وو خبر چي ښځي دا کار کړی!! او له دې هم چي مار غولولې وه!!

- په دې سزا هم لږ غور وکړئ چي مار ته د دغه غولولو په وجه ورکړی شوه: تل دي په سینه خوځېږې، خاوري دې خوراك شه!! پوښتنه کوو: آیا مار له دې د مخه په سینه نه په پښو خوځېدو؟ دا نور ډېر حیوانات او خزندې چي په سینه خوځېږي هغوی ته د کومي ګناه سزا ورکړی شوې؟! دا څومره نامعقوله او غلطه خبره ده چي د مار خوراك خاوره ده!! هیڅ مار خاوره نه خوري، د مار خوراك خاوره نه بلکي د مرغانو، موږکانو او چنګښو په څېر حیوانات دي!!

- ښځي ته چي کومه سزا ورکړی شوې په دې هم لږ غور وکړئ: د زېږولو د وخت درد دي زیات شه!! د خاوند د اشتیاق په اور وسوځې، هغه دي پر تا برلاسی وي!! پوښتنه کوو: دغو بې شمېره حیواناتو ته چي د اولاد زېږولو په وخت کي همداسي د درد احساس کوي، د کومي ګناه سزا ورکول کېږي؟! د مېړه اشتیاق خپلي مېرمني ته زیات دئ که د مېرمني خپل مېړه ته؟ مګر دا اشتیاق سزا ده؟ په ټولو

ژوو کې دا اشتیاق شته، دوی ته د کومې ګناه په وجه دا د اشتیاق سزا ورکړی شوې؟ دا اشتیاق خو سزا نه بلکې د الله تعالی یوه لویه پېرزوینه ده، د انسان او حیوان د نسل د دوام یوه ستره وسیله ده، تاسو ولې دې اشتیاق ته د سزا په سترګه ګورئ؟ قرآن خو د ښځې او مېړه ترمنځ دا الفت، مینه او اشتیاق د الهي رحمت او پېرزوینې یوه ستره بېلګه ګڼي!! آیا دا سمه ده چې د نارینه سلطه او برلاسی پر خپلې مېرمنې ښځې ته سزا وګڼو؟! دا برلاسی یوه طبیعي مسئله ده، په اکثرو حیواناتو کې هم د دې شاهد یو، داسې چې نارینه د ښځې ساتنه او څارنه کوي، ترې دفاع کوي، بل ئې خوا ته نه پرېږدي، اداره کوي ئې، ... دا برلاسې نه یوازې ښځې ته سزا نه شو ګڼلی بلکې د ښځې لپاره یوه ستره الهي پېرزوینه ده، چرګ له خپلو چرګو دومره دفاع کوي چې پرې زخمي زخمي شي، همداسې بې شمېره نور مرغان او حیوانات، هیڅ عاقل انسان به د بایبل دا وینا د منلو وړ ونه ګڼي.

له ۲۰تر ۲٤ پورې د دې فصل جملې داسې دي:

(خدای د حیوان له پوسته لباس جوړ کړ او آدم او مېرمنې ته ئې ورواغوست، بیا خدای وفرمایل: اوس چې آدم زموږ په څېر شوی او ښه او بد پېژني، باید پرې ئې نږدو چې د "حیات د ونې" مېوه هم وخوري او تر ابده ژوندی وي، نو خدای دی د عدن له باغه وایست، تر څو ولاړ شي او په هغې زمکې کې کار وکړي چې له خاورې ئې جوړ شوی، په دې توګه ده آدم د عدن له باغه وایست او د عدن د باغ په شرقي برخې کې ئې د اور په داسې سرو تورو سمبال فرشتې وګمارلې چې هرې خوا ته څرخې، ترڅو د حیات د ونې لاره خوندي وساتي!!)

د دې کرښو د مطالبو په اړه څو پوښتنې راولاړېږي:

- مخلوقاتو ته د لباس په ورکولو کې د الله تعالی سنت داسې نه دئ چې د کوم درزي په څېر چا ته لباس جوړ کړي او ورواغوندي، د بایبل لیکوال په دې نه

پوهېږي چې د الله تعالی له لوري د لباس ورکولو معنی څه ده!! الله تعالی ټولو حیواناتو، ونو او بوټو ته مناسب مناسب لباس ورکړی، چې هم ئې له یخنۍ ساتي، هم له ګرمۍ او هم له حشراتو او مکروبونو، آدم علیه السلام ته هم د نورو په څېر مناسب لباس ورکړی شوی وو، خو د ممنوعه میوې په خوړلو سره له هغه لباسه محروم شو، لومړی ئې په پاڼو ځان پټ کړ، بیا د حیواناتو په پوستکي او وروسته وروسته د ده اولاد له وړیو او تاره اوبدل شوې جامې ځان ته جوړې کړې.

- د بایبل لیکوال کله د عدن باغ په زمکې کې ګڼي او کله ئې له زمکې بهر، مخکې ئې ویلي وو چې دا د زمکې شرقي لوري ته واقع دئ، خو دلته وایي چې آدم د عدن له باغه وایستی شو او هغې زمکې ته ولېږلی شو چې ترې جوړ شوی!!
- دی خدای داسي معرفي کوي چې نه غواړي د ده په مخلوقاتو کې داسې څوك وي چې په ښه او بد پوهېږي، غوښتل ئې چې آدم علیه السلام د معرفت د ونې مېوه ونه خوري، خو د ده د ارادې خلاف آدم علیه السلام د هغې مېوې په خوړلو موفق شو!! اوس نو دا تدابیر سنجوي چې څنګه د دې مخه ونیسي چې آدم علیه السلام د حیات د ونې مېوه هم ونه خوري او د ده لپاره یو تلپاته حریف او رقیب نه شي!! نو ځکه ئې له یوې خوا آدم علیه السلام د عدن له باغه وایست او له بلې خوا ئې دغې ونې ته د رسېدو په لار کې داسې فرشتې وګمارلې چې په تورو سمبال وې او دا توري هم د اور توري چې هرې خوا ته څرخي او نه پرېږدي څوك ترې تېر شي!! پوښتنه کوو: که دا باغ آسمان کې وي طبیعي ده چې له آسمانه د آدم له راکوزېدو وروسته هغه باغ ته د ده ننوتل ممکن نه وو، نو په سرو تورو سمبال فرشتې د څه لپاره ګمارل کېدې؟ او که دا په زمکې کې وو نو موږ ته ووایئ چې چېرې دئ، اوس خو له داسې پهره دارانو تېرېدل آسانه شوي، که آدم علیه السلام نه شو تېرېدی اولاد ئې اوس کولی شي د حیات ونې ته د رسېدو لپاره په هلیکوپټرو

سره هلته ځان ورسوي. که عادي خلك دا كار نه شي كولی پاپ ته خو ډېره آسانه ده!!

- له دغو بېهوده او چټي خبرو هر څوك په دې پوهېدی شي چي د بايبل ليكوال څوك او د څنګه شخصيت خاوند دئ او د الله تعالی په اړه د ده انګېرنې څومره بې بنسټه دي!!

قرآن د بايبل د دغو غلطو خبرو د ترديد او تصحيح لپاره فرمايي چي الله تعالی آدم عليه السلام د داسي مخلوق په څېر پيدا کړ چي معرفت ئې تر فرشتو ډېر لوړ وو، په هر څه د پوهېدو توان او استعداد ئې ورکړ، په هغه څه ئې د پوهېدو توفيق ورکړ چي فرشتې پرې نه پوهېدې او د همدې معرفت او پوهې په سبب ئې د زمکي خلافت ده ته وسپارو، د معرفت په وجه ئې دی رټلی نه دئ، د ځان رقيب او حريف ئې نه دئ ګڼلی بلکي د زمکي خلافت ئې ورسپارلی او فرشتو ته ئې امر کړی چي ده ته سجده وکړي، بايبل وايي چي فرشتې په سرو تورو د آدم مقابله کوي او قرآن وايي چي فرشتو آدم عليه السلام ته سجده وکړه او الله تعالی د زمکي او آسمان هر څه آدم عليه السلام ته مسخر کړل.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# فهرست

عنوان

صفحه

د ناشر مقدمه---------------------------------------------------- ۱
سریزه------------------------------------------------------------- ۳
ساینس او د قرآن علمي اعجاز ------------------------------------- ۹
قرآن او د عالم پیدایښت------------------------------------------ ۱۱
قرآن او د زمکي د زړه ویلي مواد--------------------------------- ۱۵
اوبه د زمکي د سر لومړی مرکب ---------------------------------- ۱۸
اوبه او بوټي له زمکي راپیدا شوي-------------------------------- ۲٤
د غرونو پیدایښت ---------------------------------------------- ۲٦
غرونه د زمکي مېخونه دي------------------------------------------ ۲۸
په شپږو ورځو کي د عالم پیدایښت-------------------------------- ۳۰
د ټول عالم او کائنات یو رنګوالی--------------------------------- ۳٤
کائنات ګرد دئ که مسطح؟------------------------------------------ ۳٦
په عالم کي د تفاوت نشتوالي معنی-------------------------------- ۳۸
اوه آسمانونه او اوه زمکي------------------------------------------ ٤۰

د آسمان غیر مرئي ستني-------------------------------------------------------------------------------------------------- ٤٢
د زمکي بېلي بېلي ټوټې -------------------------------------------------------------------------------------------------- ٤٣
د اوبو د ذخیره کولو انتظام ------------------------------------------------------------------------------------------- ٤٥
غرونه او خوندوري اوبه------------------------------------------------------------------------------------------------ ٤٦
هر څه د ضرورت په اندازه پیدا شوي------------------------------------------------------------------------------ ٥١
د زمکي او آسمان تر منځ تنسیق------------------------------------------------------------------------------------ ٥٢
آسمان زموږ د کور محفوظ چت دئ ------------------------------------------------------------------------------- ٥٣
د ورېځو په اړه د قرآن علمي وینا-------------------------------------------------------------------------------- ٥٥
ډبري سوزي--------------------------------------------------------------------------------------------------------- ٥٩
په ډبرو کي اوبه----------------------------------------------------------------------------------------------------- ٦١
تریو سمندر د خوږ سمندر په څنگ کي---------------------------------------------------------------------------- ٦١
د نړۍ تر ټولو تیاره ځای------------------------------------------------------------------------------------------ ٦٥
لمر هم د حرکت ځانگړی مسیر لري-------------------------------------------------------------------------------- ٦٧
په سپوږمۍ کي د ژوند آثار ونه موندل شول---------------------------------------------------------------------- ٦٩
لمر نشي کولی سپوږمۍ جذب کړي ------------------------------------------------------------------------------- ٧٠
سپوږمۍ خپله رڼا له لاسه ورکړې --------------------------------------------------------------------------------- ٧٣
د آسمان او زمکي له اقطارو وتل ممکن نه دي------------------------------------------------------------------- ٧٥
لمر رڼا او تودوخه لري او سپوږمۍ د لمر نور منعکسوي--------------------------------------------------------- ٧٧
زمکه کروي او گرده ده-------------------------------------------------------------------------------------------- ٧٩
په زمکي کي پاکي او صافي اوبه څنگه پیدا کېږي؟------------------------------------------------------------- ٨٣

د اوسپني اهميت---------------------------------------------------------٨٤

د اوسپني د کشف نېټه----------------------------------------------------٨٥

ستوري د لار موندو علامات دي--------------------------------------------٨٦

آسمانونه ولې د لارو په نامه ياد شوي؟-----------------------------------٨٧

د فضاء په لوړو کې نفس تنګي--------------------------------------------٨٩

د عالم تېزه او سريع پراخېدا---------------------------------------------٩١

شپه او ورځ د ځمکې له حرکته راپيدا کېږي که د لمر؟---------------------٩٤

زمان نسبي معيار دئ نه مطلق--------------------------------------------٩٨

سپوږمۍ د لمر په رڼا سره روښانه کېږي--------------------------------- ١٠٠

سيوري هم د ضوابطو تابع دي------------------------------------------- ١٠٢

د عالم هر څه ټاکلی او ثابت مقدار لري---------------------------------- ١٠٤

د هر څه سم او په ټاکلې اندازه پيدايښت او لارښوونه ئې------------------ ١٠٥

د هر څه ځانګړی جوړښت او ځانګړې دنده------------------------------ ١١٤

د وزن په اړه د قرآن علمي وينا----------------------------------------- ١١٥

د مياشتو تقويم------------------------------------------------------- ١١٧

مېوې جوړه جوړه پيدا شوې--------------------------------------------- ١٢٠

د مېوو تر منځ توپير---------------------------------------------------- ١٢٥

بادونه او د نباتاتو القاح------------------------------------------------ ١٢٥

بادونه ورېځې القاح کوي----------------------------------------------- ١٢٦

زوج زوج نباتات------------------------------------------------------- ١٢٧

د عالم هر څه جوړه جوړه پیدا شوي ---------------------------------------- ۱۲۸
سمندر، تازه غوښه، ګاڼې او کښتۍ---------------------------------------- ۱۲۹
سمندر د تازه غوښې ستره ذخیره---------------------------------------- ۱۳۰
قرآن او د انسان پیدایښت---------------------------------------- ۱۳۲
په مسلمانانو کې د انسان د پیدایښت اړوند غلط باورونه -------------------- ۱۳۶
انسان څنګه پیدا شوی؟---------------------------------------- ۱۳۹
انسان تر نورو ژوو وروسته پیدا شوی---------------------------------------- ۱۴۷
شیعه د آدم علیه السلام د پیدایښت په اړه څه وايي؟-------------------- ۱۴۹
آیا یو ژوندی نفس په دوو بدلیدی شي؟---------------------------------------- ۱۵۰
د ژوندون پسرلی---------------------------------------- ۱۵٤
آیا د مور له رحم بهر پیدایښت ممکن دئ؟---------------------------------------- ۱۵۵
نطفه د مني له خلاصې جوړېږي---------------------------------------- ۱۵۹
نطفه د علقه په نامه یادول یو علمي اعجاز دئ---------------------------------------- ۱٦۰
د انسان نطفه څنګه جوړېږي---------------------------------------- ۱٦۲
د انسان د خلقت بېل بېل پړاوونه---------------------------------------- ۱٦٦
انسان له مختلطي نطفي پیدا کېږي---------------------------------------- ۱٦۹
د ماشوم د غوړونو جوړېدا تر سترګو وړاندي پیل شي-------------------- ۱۷٤
آیا د انسان پیدایښت ځانګړی پیدایښت دئ؟---------------------------------------- ۱۷۵
انسان د مضر خوړو په اړه لارښوونې ته اړ دئ---------------------------------------- ۱۷۸
انسان یوازینی بربنډ مخلوق---------------------------------------- ۱۸٤

انسان او زده کړه ---------------------------------------------- ۱۹۰
موږ درد څنگه احساسوو؟---------------------------------------------- ۱۹٤
د گوتو د سرونو گاري---------------------------------------------- ۱۹۵
ژور خوب او نه اوریدا---------------------------------------------- ۱۹۷
د حلال او حرام په اړه د قرآن وینا---------------------------------------------- ۲۰۰
د انسان د هاضمې نظام ---------------------------------------------- ۲۰٤
سپین لاسوندی ---------------------------------------------- ۲۰۵
د گناه او تندي تر منځ تړاو---------------------------------------------- ۲۰٦
د ادراك مرکز زړه دئ که دماغ؟---------------------------------------------- ۲۰۸
په ډېر زړښت کې حافظه له منځه ځي---------------------------------------------- ۲۱۱
آیا خدای د انسان په څېر دئ؟---------------------------------------------- ۲۱۳
د انسان غږ او حرکات ثبتېږي---------------------------------------------- ۲۱۵
حیوانات، مرغان او خزندې قبیلې قبیلې دي---------------------------------------------- ۲۱۹
نور ژوي هم د افهام او تفهیم لپاره الفاظ او اشارې لري---------------------------------------------- ۲۲۱
د غنې ځاله---------------------------------------------- ۲۲٤
د بلیك هول په اړه د قرآن وینا---------------------------------------------- ۲۲۵
لمر او سپوږمۍ به سره یو ځای شي!!---------------------------------------------- ۲۳۰
د زمکې او غرونو تصادم---------------------------------------------- ۲۳۱
آسمان به دړې دړې او سست سست شي---------------------------------------------- ۲۳۳
غرونه به وښوییږي---------------------------------------------- ۲۳٤

سمندرونه به ډك شي او اوبه به ئې د وچي په لور وبهېږي ------------------ ۲۳۶
د زمکي په فضاء کې هغه پرده چي ډېر څه ئې رانه پټ کړي ----------------- ۲۳۸
آسمان به وچوي، ستوري به خواره او سمندرونه به روان شي ---------------- ۲۳۹
اوسنۍ زمکه د محشر د ورځي لپاره کفایت نه کوي------------------- ۲۴۲
دومره جنتونه به له کومه کېږي؟------------------------------ ۲۴۳
د فرعون د جسد په اړه د قرآن وینا-------------------------------- ۲۴۵
د مکې د فتحي وړاندوینه------------------------------------- ۲۴۷
پر فارسیانو د رومیانو د بري وړاند وینه------------------------------ ۲۴۸
د اودس او تیمم علمي ارزښت---------------------------------- ۲۴۹
حیض د اذیت باعث دئ------------------------------------- ۲۵۱
آیا په قرآن کې د ساینس خلاف خبره شته؟--------------------------- ۲۵۲
قرآن کافي دئ چي ومنو محمد صلی الله علیه و سلم د الله پیغمبر دئ ------- ۲۵۳
د قرآن عجائب پای نه مومي----------------------------------- ۲۵۹
بایبل د عالم او انسان د پیدایښت په اړه څه ویلي----------------------- ۲۶۱